# سیګار

ځانګړی عمومي پلټونکی د افغانستان
بیارغونې لپاره

د 2013 کال
د جولای 30



## د افغانستان د بیارغونې لپاره ځانګړی عمومي پلټونکی د 2008 مالي کال د ملي دفاع واکمنی (P.L. 110-181) لایحې لخوا تاسیس شو.

د سیګار څارونکی ماموریت د قانون لخوا داسې تعریف شوی دی چې د هغو بسپنو، پروګرامونو او عملیاتونو

- په اړه چې د افغانستان بیارغونې لپاره تخصیص شوي یا هم په کومه بله لاره ورکړ شوي دي، پلټنې او تحقیقات په خپلواکه توګه په لاره واچوي او ترې نظارت وکړي.
- د هغو وړاندیزونو او پالیسیو مشري او همغږي کول چې د پروګرامونو او عملیاتونو د اقتصاد، موثریت او ګټې زیاتولو لپاره په پام کې نیول کیږي، او په داسې پروګرامونو او عملیاتونو کې د پیسو ضایع کیدو، چل، او ناوړه کارونې موارد کشف کړي.
- داسې وسیلې چې د یادو پروګرامونو او عملیاتونو د نیمګړتیاو او ستونزو په اړه د بهرنیو او دفاعي چارو وزارتونه په بشپړ ډول خبرداره وساتل شي، او د اصلاحي کړنو ضرورت او پرمختګ ورته په ګوته کړي.

د افغانستان په بیارغونه کې هر هغه لوی قرارداد، مرسته، هوکړه لیک، یا د مرستې هر هغه میکانیزم شامل دی چې د متحده ایالاتو کوم وزارت یا ادارې لخوا د افغانستان د بیارغونې لپاره د تخصیص شوو یا په هر ډول چمتو شوي پیسو په کارولو سره پلي کیږي.

سرچینه: P.L. 110-181، ”د 2008 مالي کال لپاره د ملي دفاع واکمنۍ لایحه،“ 1/28/2008.

(د دې رپوټ د هغو منځپانګو د لست لپاره چې د کانګرس لخوا تصویب شوي دي، 3 برخه وګورئ).

**د پوښ تصویر:**
د افغانستان پروان ولایت د قضایي مرکز یوې ودانۍ د رغونیزه پروژې کاږه ستنې او قات شوي سیخبندي لیدل کیږي سیګار د یادې پروژې په اړه یوه پلټنه پیل کوي. (د سیګار انځور)

# په افغانستان کې د سيګار د نظارت شتون



# د افغانستان بیا رغونې
# لپاره ځانګړی عمومي مفتش

زه خوشهاله یم چې په افغانستان کې د امریکا د بیا رغونې د هڅو د دې ربع راپور وړاندې کړم. دا د ربعونو زما څلورم راپور دی او د ولسمشر اوباما له لورې زما د ټاکلو لمړی کلیزه په نښه کوي.

کله چې ما د افغانستان د بیا رغونې لپاره د ځانګړې عمومي مفتش مقام ومانه، ما سپینې ماڼی او کانګرس ته د افغانستان د بیارغونې لپاره د برابر شویو میلیاردونو ډالرو چټکه، څیرکه او لا زیات کلک نظارت وعده ورکړه. په افغانستان کې د نظارت مهم ماموریت لدې نوي ژمنې سره، له هغه وخته چې په 2008 کې دا اداره جوړه شوه سیګار تر ټولو ګټور ربع درلود. مونږ له 30 څخه زیاتې پلټنې، تفتیشونه، د خبرتیا مکتوبونو، او نور راپورونه خپاره کړي.

د تیر کال په ترځ کې، سیګار خپل کارکوونکي ډیر کړي، او مونږ د خپلو کارکوونکو زیاته برخه په افغانستان کې ګمارلي دي. سیګار د نړیوال نظارت تر ټولو زیات کارکوونکي لري ځکه چې د امریکا د بیارغونې د مرستو د پروګرامونو د عملي نظارت لپاره بل بدیل نشته. ځکه چې په ساحه کې د نظارت د ماهرو کارکوونکو شتون د بیا رغونې د نږدې 20 میلیاردو امریکایي ډالرو د ساتنې لپاره چې تر اوسه توزیع شوې ندي ښه لار ده.

د سیګار د نظارت د تجربه لرونکو متخصیصینو له کبله، په اوس وخت کې د بیا رغونې په هڅو کې مونږ له فساد سره د مبارزې د قرارداد په اړوند د جنایي فعالیتونو د لټون اصلي لوبغاړي ګڼل کیږو. د سیګار تحقیق کوونکي، پلټوونکو، او مفتیشین په دوامداره توګه هغې مهمې ستونزې پیدا کوي چې د بیا رغونې موخې تهدیدوي. د بیلګې په توګه، پدې ربع کې، د سیګار پلټوونکو له 2 میلیاردو امریکایي ډالرو څخه د زیاتو لګښتونو او قیمتونو په اړه سوالونه وکړل. په افغانستان کې د سیګار د تیلو د غلاو دوامدارو تحقیقونو د دې ربع د راپور ورکولو په موده کې د مالیه ورکوونکو لپاره نږدې 800,000 امریکایي ډالر سپمولي.

دا تحقیقونه، د سیګار له پلټنو، تفتیشونو، او ځانګړو پروژو سره، د امریکا د قراردادونو په نظارت کې مهمې کمزورې په ګوته کوي: کمزوری پلان کول، ځنډني یا غیر مناسبه تفتیشونه، نیمګړي اسناد، شکمنې پریکړې، او هغه څه چې ډیر ستونزمن دي، هغه دوامداره نه حساب ورکولو دي.

د سیګار ډیری اندیښنې او سپارښتنې د فیدرال ادارو په پام کې نیولي او هڅه کوي ترڅو مالیه ورکوونکي خوندې کړي، مګر کیدای شي نور کار هم ترسره شي ترڅو د قرارداد نظارت ته لمړیتوب ورکړ شي. په ځانګړې توګه، سیګار د امریکا د ټولیزې پالیسی او په ساحه کې د تطبیق د ممکنه بیلتون د ډیروالې تر منځ اندیښنه لري. داسې ښکاري چې د واشنګټن د پالیسی د موخو، او په حقیقت کې په افغانستان کې د موخو لاسته راوړنو تر منځ واټن د ډیریدو په حال کې دی، په ځانګړې توګه په هغه وخت کې چې حکومت د خپل ماموریت د ترسره کولو لپاره باید قراردادیان په اجاره ونیسي او نظارت یې وکړي.

زه باور لرم چې امریکا نشي کولای خپلو موخو ته ورسیږي مګر دا چې لږ تر لږه د پالیسو تطبیقول یې لکه اراده په ورته توګه پاملرنه لاسته رواړي. د بیلګې په توګه، هغه پالیسی چې موخه یې د افغانستان لپاره ځواکمن اردو جوړول دي چې وبه کولای شي ترڅو د ایتلاف د ځواکونو پر ځای ملي امنیت برابر کړي، که څه هم دا کار د تقدیر وړ دی، مګر ترڅو چې واشنګټن مناسب قرارداد کولو او تدارکاتي فعالیتونو ته ورته پاملرنه ونکړي ترڅو دا ځواکونه دوام ومومي، دا کار کمزوری ښکاري. سیګار د افغانستان د جنګ په چاپیریال کې د قراردادیانو له عملیاتو څخه ښه خبر دی، مګر دا نشي کولای چې یا بیلتون او یا د ناکامی عذر تشریح کړي.

په هر ربع کې افغانستان ته زما د سفر په وخت کې، ما پخپله دا بیلتون لیدلی دی. دا سفرونه له امریکا څخه بهر د بیا رغونې د هڅو په ساحه کې عملي لیدنه برابروي، په کابل کې د سفارت او اردو ودانی چې

کیدای شي ځینې وختونه په هیواد کې له فعالیتونو او ستونزو څخه هم لرې اوسې. زما په وروستي سفر کې، زما کارکوونکو او ما په 50 غونډو کې برخه واخیستله او بګرام، هرات، مزارشریف، حیراتان، کمپ لیدرنیک، د کجکي بند، او کابل او شاوخوا سیمو ته مو سفرونه وکړل. په ځانګړې توګه، د کجکي بند او حیراتان ته زما سفرونو دا شواهد برابر کړل چې د پالیسیو د پلان کوونکو لپاره باید د قرارداد نظارت لوړ لمړیتوب شي یا که دا کار ونشي مونږ به تیرې غلطی تکرار کړو او د مالیه ورکوونکو پیسې به ضایع کړو.

په کجکي کې د بریښنا د اوبو بند د امریکا او د افغانستان د دوستی او دا چې زمونږ هیواد د افغانستان خلکو ته لرغونې ژمنه ورکړي، استازیتوب کوي. له بده مرغه، دا د یوې مهمې ستونزې ثبوت هم دی چې مونږ په بیا رغونه کې ورسره مخامخ شوې یو. دا بند د امریکا د انجنیرانو له لورې د 1950 په لسیزه کې جوړ شوی، په پای کې د 1970 په لسیزه کې یې دوه توربینونو نصب شول ترڅو د افغانستان جنوب ته بریښنا برابره کړي. پدې پروژه کې چې دریم توربین او د اوبو لګلولو ښه ورتیاوې پکې شاملې وي، د شوروي د 1979 له یرغله وروسته پریښودل شوه؛ مګر، کله چې په 2001 کې امریکا افغانستان ته بیرته راغله د امریکا انجنیرانو بیا هڅې پیل کړي. له بده مرغه، وروسته لدې چې له څو اصلي او فرعي قراردادیانو څخه کار واخیستل شو، په میلیونهاو ډالر ولګول شول، د امریکا او د ایتلاف ډیرو ژوند له لاسه ورکړ، دمګر ا کار اوس هم بشپړ ندی. لکه څنګه چې ځینې وایي، لرغونو مصریانو په لږ وخت کې له 25-20 کلونو شاوخوا کې د ګیزې ستر اهرام جوړ کړ.

سږ کال، امریکا نا ببره دا پلان پریښود ترڅو د امریکا د نړیوالې پراختیایي (USAID) قراردادي دریم توربین نصب کړي او د کندهار ښار ته بریښنا راوړي. په ځای یې دا موافقه وکړه چې د افغانستان بریښنا شرکت (DABS) ته $75 میلیونه امریکایي ډالر ورکړي او په پای کې هغه کار ترسره کړي چې امریکا، د ایتلاف ملګرو یې، او د امریکا تجربه لرونکو قراردادیانو ونشو کړای ترسره کړي.

امریکا به د DABS کار د مستقیمې مرستې له لارې تمویل کړي، چې دا له حکومت څخه و حکومت ته مرسته ده او د څو اړخیز مرستو وجهي صندوق او دوو اړخیزو موافقو له لارو برابریږي. د افغانستان حکومت د کارکوونکو معاشونه ورکول تر پراختیایي قراردادیانو په اجاره نیول، کیدای شي لدې مرستو څخه د پراخو موخو لپاره کار واخیستل شي. د امریکا حکومت ژمن دی ترڅو د مستقیمې مرستې له لارې په میلیاردونو ډالر برابر کړي. د سیګار تیرو کارونو د افغانستان د حکومت چمتووالې په اړه چې لدې مرستو کار واخلي اندیښنې راپورته کړي وي، څکه نو مونږ اوس هم د کجکي د بند د بریالیتوب په وړاندوینه کې اندیښنه لرو.

د دې لپاره ترڅو دا وکتل شي چې د امریکا د مالیه ورکوونکو ډالرونه ضایع نشي، پدې ربع کې سیګار یوه ځانګړې پروژه پیل کړه ترڅو DABS ته د USAID د مستقیمې مرستې آزموینه وکړي. سیګار غواړي چې تاسې د امریکا د مالیه ورکوونکو د میلیونهاو ډالرو په اړه چې د افغانستان حکومت ته ورکول کیږي ترڅو د کجکي د بند پروژه بشپړه کړي، په بشپړه توګه خبر وساتي.

حیراتان ته له ازبکستان سره په سرحد کې زمونږ د سفر په ترځ کې مونږ د قرارداد کولو بله مهمه ستونزه پیدا کړه. حیراتان چې د ریل اړیکه لري یو مهم سرحد دی. هلته مونږ د ریل ډیره شمیره ټانکونه ولیدل چې دا خوا سیمه یې نیولې وه او مونږ ته د امریکا د چارواکو او قراردادیانو له لورې دا وویل شول چې په سرحد کې د افغانستان له مالیې وزارت سره د مالیې د جنجال له کبله د امریکا اردو لپاره تیل په غیر قانوني توګه ساتل شوي. دا د بیا رغونې او د اردو د مرستو د مالیو او تعرفو د کارونو د ستونزو یووازې یوه بیلګه ده چې دا په دوه اړخیزې امنیتي موافقه کې چې اوس د افغانستان او امریکا د حکومتونو ترمنځ ورباندې خبري کیږي، باید حل شي.

پدې ربع کې سیګار یوه پلټنه خپره کړي چې د سوداګریزې مالیې او جریمو نږدې 1 میلیارده امریکایي ډالر یې مستند کړي چې د افغانستان حکومت له لورې په هغو قراردادیانو وضع شوي چې په ا فغانستان کې د امریکا د عملیاتو ملاتړ کوي، سره لدې چې رسمي موافقې شتون لري ترڅو د امریکا له لورې تمویل شوي قراردادیانو څخه د مالیې اخیستلو مخه ونیسي. پدې قضیه کې، د امریکا حکومت ونشو کولای چې د هغو قراردادیانو لپاره چې ورڅخه یې مرسته غوښتې وه یو قطعي او متحد ځواب ورکړي. د مالیې پدې ستونزو کې د روښوالې نشتون د دې سبب شو چې د امریکا لپاره د قراردادیانو ځینې کارکوونکي ونیول شي، د امریکا د حکومت د قراردادونو لګښت ډیر شي، او کیدای شي د امریکا د اردو د عملیاتو او د بیا رغونو د هڅو د ملاتړ قرارداد د ځنډ سبب شوی وي.

د سیګار نورې پلټنې چې پدې ربع کې خپاره شوي په افغانستان کې د قرارداد کولو او تدارکاتو په اړه نورې اندېښنې راپورته کړي:

- د امریکا دفاع وزارت غواړي چې د 771.8 میلیونه ډالره په ارزښت طیارې واخلي چې د افغانستان ملي اردو نشي کولای ورڅخه کار واخلي او وساتي.
- د USAID د ثبات اصلي پروګرام له دوامدارو ځنډونو څخه زیانمن شوی او نشي کولای چې د قرارداد مهمې موخې بشپړې کړي.
- د امریکا د بهرنیو چارو وزارت او USAID ځواکمن صلاحیت ته اړتیا لري که کله د دښمن اړیکي وپېژندل شي قرارداد فسخه کړي.
- ځکه چې د افغانستان د عامه محافظت ځواک (APPF) د امنیت د خدماتو د برابرولو انحصار لري، د USAID تطبیق کوونکي ملګري چې وسلوال امنیت ته اړتیا لري بله چاره نلري مګر د APPF تر ډېرې کچې توپیر لرونکې او غیر مناسب فیسونه ورکړي، او مونږ دا وموندل چې USAID د دې فیسونو له ارزونې سره ستونزه لري ترڅو دا وګورو چې APPF یووازې د عرضه شویو خدماتو فیس واخلي.

د راپور ورکولو پدې دوره کې، سیګار د امریکا له لورې تمویل شویو د بیار رغونو قراردادونو 11 مالي پلټنې ترسره کړي او دا یې وموندل چې د لګښتونو 49 میلیونه ډالره څخه ډېر تر پوښتنې لاندې دي چې د امریکا د حکومت قراردادي افسران یې باید ارزونه وکړي ترڅو دا وګوري چې هغه اندازه پیسې چې د بیلابیلو قراردادیانو له لورې بیل شوي سمې دي. وروسته لدې چې کانګرس او د نظارت ټولنې د قراردادونو او د نغدې مرستې چې د بهرنیو بیړنیو عملیاتو د ملاتړ لپاره د نظارت د واټنونو او د پلټنو د لګښتونو په اړه اندېښنې څرګندې کړې، سیګار خپله مالي پلټنه په 2012 کې پیل کړه.

زمونږ د مرستې یوه برخه دا ده ترڅو د امریکا ادارې او د هغوی قراردادي کارکوونکي د مالیه ورکوونکو په خوندیتوب کې لا نور اغیزمن شي او د دې راپور له راپورته شویو ستونزو څخه زده کړې، سیګار پلان لري ترڅو یو نوی نوښت پیل کړي، چې د "سیګار د لوړ خطر لست" دی. دا به په افغانستان کې پروګرامونو، پروژو، او کارونو ته پاملرنه وهڅوي چې سیګار فکر کوي د ضایعاتو، تقلب او ناوړه ګټې اخیستنې لپاره کمزوري ښکاري، یا کیدای شي د امریکا د حکومت د بیارغونې موخو لپاره مهم خطر وي.

په راتلونکي کې د امریکا د ځواکونو کمیدل او د افغانستان سیاسي او امنیتي سپارلو ته له یوه کال څخه لږ وخت پاتې دی، بیارغونه دوام لري او د قرارداد کولو او تدارکاتو د ننګونو له کبله په ملیاردونو ډالر له خطر سره مخامخ دي. د فیدرال ادارو د 2014 مالي کال په بودیجه کې د افغانستان د بیا رغونې پروګرامونو لپاره له 10.7 ملیاردو امریکایي ډالرو څخه زیاتو غوښتنه کړې، او د راتلونکو کلونو لپاره امریکا په ملیاردونو د نورو امریکایي ډالرو ژمنه کړې ده. د دې مرستو ډېره برخه به قراردادیانو ته ورکړ شي، که د امریکا حکومت د قرارداد د نظارت خپلې پالیسي او کارونه ښه نکړي، ډېره برخه به یې ضایع شي. لکه څنګه چې سیګار په افغانستان کې په خپلو پلټنو، تفتیشونو، تحقیقونو او ځانګړو پروژو کار کوي، مونږ به بیداره اوسو ترڅو د کمزورې مدیریت او د قرارداد نامناسب نظارت په اړه آواز پورته کړو، او هغه وړاندیز وکړو چې کیدای شي حساب ورکوونه ښه شي.

په پای کې، زه غواړم چې په هغو اندېښنو چې مونږ په تیر راپور کې راپورته کړې وې او اردو نه غوښتل د سیګار په سپارښتنو باندې عمل وکړي، هم ټینګار وکړم، ترڅو د حکومت د قراردادونو له اخیستلو د مخالفینو د ملاتړ کوونکو پشمول د طالبانو، د حقاني شبکې، او القاعدې مخه ونیسي. سیګار 43 ورته قضیې تعلیق او بندیز ته راجع کړې، چې د ملاتړ کوونکو پراخو معلوماتو په اساس دي او د دې ښکارندوی دي چې انفرادي کسان او شرکتونه د افغانستان مخالفینو ته مادي ملاتړ برابروي. مګر اردو ټولې 43 قضیې رد کړې. داسې ښکارې چې د اردو د تعلیق او بندیز دفتر باور لري چې د دې انفرادي کسانو او شرکتونو تعلیق او بندیز به د هغوی د حقونو څخه سرغړونه وي، که دا معلومات د محرمو اسنادو په اساس وي یا که د امریکا د سوداګرۍ د موندنو په اساس وي.

زه پدې ډېره اندیښنه لرم چې د امریکا اردو کولای شي چې تروریستان او د هغوی ملاتړ کوونکي تعقیب کړي، حمله وکړي، او حتی ووژني، مګر د امریکا په حکومت کې ځینې باور ولري چې مونږ نشو کولای چې د حکومت د قرارداد له اخیستلو د دې ورته خلکو مخه ونیسي. زه احساس کوم چې داسې دریځ نه دا چې له قانوني پلوه غلط دی، دا د ښه عامه پالیسی مخالف دی او په افغانستان کې زمونږ د امنیتي موخو مخالف دی. زه په دوامداره توګه تاسې هڅوم چې دا ناسمه پالیسی بدله کړی او د اردو د تعلیق او بندیز په پروګرام کې منطقي مقررات پلي کړی.

زما کارکوونکي او زه هیله مند یو چې له کانګرس او ادارې سره کار وکړو ترڅو په افغانستان کې د امریکا مالیه ورکوونکي خوندي کړو. اوس تر بل هر وخت زیات، لکه څنګه چې مونږ په افغانستان کې نویو ټولټاکنو ته نږدې کیږو او د افغانستان حکومت ته د ورځنیو عملیاتو سپارلو مسولیت بشپړو، مونږ باید د خپلو لسو کلنو د بیا رغونو د هڅو کلک او خپلواک نظارت تظمین وکړو.

په درناوې،

جان اف ساپکو
د افغانستان د بیا رغونې لپاره ځانګړی عمومي مفتش

# د **محتویاتو** جدول

## 1 برخه




**1 قرارداد نظارت**
4 قراردادیان او مسولیتونه، دواړه شتون نلري
5 په بت خاک کې یو بام چې کیدای شي د مرگ سبب وگرځي
6 د نظارت ستونزې: پراخې او ستونزمنې
8 نورو ادارو د نظارت نیمگړتیاوې مستند کړي
11 ننگونې زیاتوې
12 څه باید وشي؟


## 2 برخه




**17 د سیگار د نظارت فعالیتونه**
20 وړاندیز شوي قوانین د سیگار سپارښتنې ضمیمه کوي
21 سیگار د امریکا دفاع وزارت هڅوي ترڅو د سیگار سپارښتنې تطبیق کړي
21 سیگار د خپلو کارکوونکو ارزونه کوي
22 پلټنې
49 تفتیشونه
53 ځانگړې پروژې
58 تحقیقونه
68 د سیگار بودیجه
68 د سیگار کارکوونکي


## 3 برخه




**71 د بیارغونې تازه خبرونه**
73 لنډیز
77 د مرستو حالت
91 امنیت
119 حکومتوالي
143 اقتصادي او ټولنیزه پراختیا

# د **محتوياتو** جدول

## 4 برخه



### 177 د نورو ادارو نظارت


180 بشپړ شوي نظارتي فعاليتونه
184 روان نظارتي فعاليتونه


### ضميمې او پايليكونه


198 ضميمه A: قانوني شرايطو ته د رپوټ متقابل ماخذ
202 ضميمه B: د افغانستان د بيارغونې لپاره د متحده ايالاتو مرسته
204 ضميمه C: د سيګار ليکلي رپوټونه
208 ضميمه D: د سيګار تحقيقات او د شکايتونو شميره
212 ضميمه E: مخففات او لنډيزونه
216 پايليکونه

”د فیدرال په هره اداره کې زموږ عمومي مفتشین
د مالیه ورکوونکو سترګې او غوږونه دي — هغوی
هغه کسان دي چې زموږ د مالیې ډالرونه له
ضایع کیدلو ساتي، او هغوی هغه کسان دي چې
له ځواک څخه د ناوړې ګټې اخیستنې په اړه
د فیدرال چارواکي خبروي. د هغوی کارونه هغه
څه دي چې کولای شي د متحده ایالاتو خلکو ته
ډاډ ورکړي چې د هغوی حکومت په هغه توګه
کار کوي چې باید ویې کړي.“

—سناتور کلیر مک کاسکیل

سرچینه: د سناتور کلیر مک کاسکیل دفتر، خپور شوی خبر، د 2013 د مۍ 10.

# 1 قرارداد نظارت



# د قرارداد د نظارت محتويات


| | |
|---|---|
| قراردادیان او مسولیتونه، دواړه شتون نلري | 4 |
| په بت خاک کې یو بام چې کیدای شي د مرګ سبب وګرځي | 5 |
| د نظارت ستونزې: پراخې او ستونزمنې | 6 |
| نورو ادارو د نظارت نیمګړتیاوې مستند کړي دي | 8 |
| ننګونې زیاتوې | 11 |
| څه باید وشي؟ | 12 |


**عکس په تیره پاڼه کې**
په افغانستان کې د سیګار ټیم د بیارغونې د څو ساحو د لیدنو لپاره هلیکوپټر ته پورته کیږي، د 2013 می. (د سیګار عکس)

# د قرارداد نظارت:
# د اوږدې مودې ننګونه له سپارلو ځخه ستونزمنه شوې

د افغانستان په شبرغان کې د متحده ایالاتو له لورې تمویل شوی ښوونځی، هیله مند ښوونکي روزي، او د متحده ایالاتویانو لپاره د قرارداد د اغیزمن نظارت د اړتیاوو لپاره درسونه برابروي.

د سیګار مفتیشینو کارکوونکي او زده کوونکي ولیدل چې په خپلو کارونو بوخت وو، مګر په هغه ځای کې چې پیسې یې ضایع شوې، وخت تیر شوی، ناسم نظارت شوی، کمزورې حساب ورکوونه شوې، او دا احتمال شته چې د دوی صحت او خوندیتوب له تهدید سره مخامخ وي.

د شبرغان ښوونځی د میلیونونو ډالرو د قرارداد په بنسټ جوړ شوی، چې د متحده ایالاتو او نورو نړیوالو مرستندویانو د هڅو یوه کوچنی برخه ده ترڅو خوار، تر ډیرې کچې بې سواده، منزوي، او په جنګ لړی هیواد بیا ورغوې او پراختیا ورکړي.

د متحده ایالاتو د بیا رغونې د مبارزې یوه ډیره برخه چې په 2002 کې پیل شوې د لیکل شویو موافقو بنه لري. پدې ژمنو کې مهم پروګرامونه لکه د افغانستان ملي امنیتي ځواکونو تجهیز او وروزنه، او واړه فعالیتونه ترڅو ښوونځي او کلینیکونه جوړ کړي یا د محکمې کارکوونکي وروزي شامل دي. که دا د قرارداد، نغدو مرستو، یا د همکاریو د موافقو په بڼه اداره کیږي (دا خبري به له قرارداد ځخه د ټولو دریو لپاره د اصلي اصطلاح په بڼه کار واخلي) دا پریکړه د سترې هڅې استازیتوب کوي. د قرارداد ټول مکلفیتونه لسګونو میلیاردونو ډالرو ته رسیږي. څکه چې تر اوسه د متحده ایالاتو هیڅ کومې ادارې د پای شمیره نده برابره کړې، سیګار کار کوي ترڅو معلومات تشریح کړي.[1]

په افغانستان کې د بیارغونې د قراردادونو اغیزمن نظارت یوه مهمه مسله ده ترڅو د دې هیواد لپاره د متحده ایالاتو سیاسي، امنیتي، بشري، او د پراختیایي موخو ملاتړ وکړي. د متحده ایالاتو د اردو او ملکي کارکوونکو کمول چې له وړاندې پیل شوې کیدای شي د قرارداد د کار مدیریت او نظارت ستونزمن کړي. څکه نو سیګار د عملي فعالیت، مالي پلټنو، تفتیشونو، او ځانګړو پروژو له لارو، د قرارداد مسلو ته ډیره پاملرنه کوي. پداسې حال کې چې د بدلون لپاره وخت شته، او وړاندې تر دې چې په ساحه کې د سمون اقدامونه لا هم پیچلي شي، موخه دا ده ترڅو د نظارت د ننګونو په اړه کانګرس ته عملي معلومات برابر شي.

# د قرارداد **نظارت**



**زده کوونکي** د شبرغان د ښوونکو د روزنې په ښوونځي کې په غير روښانه صنف کې درس لولي. (د سيګار عکس)

شبرغان په شمال کې د شاوخوا 150,000 خلکو ښار، د جوزجان د سفيد درياب په غاړه پروت دی، له ترکمنستان سره سرحد لري او د ولايت پلازمينه ده. دا ښار له مزارشريف څخه د لويديځ خوا ته په موټر کې دوه ساعته او له کابل څخه 10 ساعته واټن لري.[2] دا ولايت د وريښمو د لرغونې لار په وخت کې فعال وو، او اوس په عصري حلقوي سرک پورې تړلی دی، د ريل د پټلی او طبيعي ګاز د پراختيا لپاره يې وړانديز شوی.[3] مګر لکه نور افغانستان د دې ولايت د خلکو دوه دريمه برخه بې سواده دي. ځکه نو د ښوونکو روزنه د هيواد د بيارغونې او پراختيا يوه مهمه برخه ده.[4]

د 2008 په مې کې، د متحده ايالاتو نړيوالې پراختيايي ادارې (USAID) او د متحده ايالاتو د اردو د انجنيرانو قول اردو (USACE) موافقه کړې چې USACE به د قرارداد اداره کول، د ساختماني کارونو مديريت، او اړوند خدمات برابروې ترڅو د افغانستان د لوړو زده کړو په بنسټونو کې د روزنې درې تاسيسات، په شبرغان کې د ښوونکو د روزنې ښوونځی او په دوو نورو ښارونو کې جوړ کړي. د 2009 په فبروری کې، USACE د عراق ميرکوري پراختيايي شرکت ته د 2.9 ميليونه ډالرو يو قرارداد ورکړ ترڅو د 2010 د جنوری تر 12 پورې په هر موقعيت کې د لسو صنفونو يوه دوه پوړيزه وداني جوړه کړي چې کتابتون او د ادارې دفتر هم ولري. له نهو بدلونو وروسته، د قرارداد ارزښت 3.4 ميليونه ډالرو ته پورته شو او د بشپړيدو نيټه د 2011 جون مياشت ته وغزيدله.[5]

لکه د هغو نورو تاسيساتو په څير نه چې د متحده ايالاتو په افغانستان کې جوړ کړي دي، په حقيقت کې د شبرغان د ښوونکو د روزنې له ښوونځی څخه د خپلې موخې لپاره ورڅخه کار اخيستل کيږي. مګر د ودانولو له پيل څخه تير څلور کلونه وروسته، اوس هم بشپړ ندی او په بشپړه توګه ورڅخه کار نه اخيستل کيږي.

د ژمي په وخت کې له ښوونځي څخه ليدنې، د سيګار مفتيشينو وموندل چې زده کوونکي له خپلو بالاپوښونو سره په خپل صنف کې ناست و ځکه چې ګرم حرارت شتون ندرلود، او د لمر په رڼا چې له کړکی راتله تکيه کوله، او له تشنابونو څخه يې کار نشو اخيستلای ځکه چې هلته اُوبه نه وې.

د برېښنا يو جنراتور په ساحه کې وو، مګر فعاله نه وو. دا هم ډېر بد نه وو. د سيګار مفتيشينو وموندل چې د ښوونځي د برېښنا ويرونه د قرارداد په بنسټ د ځانګړې کود د اړتياو په اساس نه وو، او دا احتمال شته چې کوم کس د برېښنا په جين بکس کې خطرناکه لاسوهنه کړې او د اور د منځ ته راتلو او د برېښنا د نيولو د خطرونو يې منځ ته رواړي. د USACE انجنيرانو هم دا ستونزه وپيژندله او جنراتور يې قطع کړ، چې ونشي کړای برېښنا د برېښنا د ټيټ ستندرد سرکټونو ته ورکړي. په عين وخت کې، د مکتب کارکوونکو وويل چې د جنراتور بطری او د کنترول تخته غلا شوي دي. که جنراتور فعاله وای، د ښوونځي اوسيدونکو به له د متحده ايالاتو څخه دا تمه درلوده چې د تيلو د هرې مياشتي نږدې 50,000 امريکايي ډالر لګښت ورکړي، ځکه چې د افغانستان حکومت د سپارلو تر وخته پورې دا مکلفيت نلري چې د عملياتو د لګښت پيسي ورکړي.

د سيګار مفتيشين پدې هم پوه شول چې د USACE د انديښنو لپاره د حل هيڅ لار پيدا نشوه چې کيدای شي د بدرفت پيپونه به د ښوونځي د څښولو د اوبو څاه ته ډېر نږدې جوړ شي.[6]

## قراردادیان او مسولیت، دواړه شتون نلري

USACE ښه کار کړی او د ميرکوري پراختيايي شرکت ته يې د 2009 له جون څخه 62 مکتوبونه ليږلي دي، د قراردادي د کار په اړه يې آواز پورته کړی، او د خونديتوب سرغړونې،

فرعي قراردادیانو ته پیسې نه ورکول، د ایران له ښېښو څخه د کړکیو لپاره کار اخیستل، د کارکوونکو ډېره شمیره،او نورې مسلې یې هم یاددښت کړې. وروسته لدې چې یې د متحده ایالاتو د مالیه ورکوونکو 3.1 میلیونه ډالرو واخیستل، د 2009 په سپتمبر کې میرکوري د ښوونځي د پروژې کار پرېښود.

هغه ښه کار چې USACE ندی کړی هغه دا وو چې USACE د 2011 د نومبر په 19 قرارداد په تطبیق شوې بڼه ترلی، او میرکوري یې له نورو مسولیتونو څخه خلاص کړی. که څه هم تر ننه پورې ښوونځی بشپړ شوی ندی، د ترلو اسنادونو ویلي چې ټولې مسلې حل شوي دي. USACE چاراواکو د سیګار مفتیشینو ته وویل چې دوی د ترلو د تصمیم او له مسولیت څخه د خلاصولو لپاره کومه توضیح ندرلوده.[7]

د میرکوري له تللو وروسته، USACE له افغاني ساختماني شرکت ظفرخیل سره قرارداد وکړ ترڅو په شبرغان کې پاتې کار بشپړ کړي، او د 2012 په جنوری کې یې د 153,000 امریکایي ډالرو قرارداد ورکړ ترڅو د 30 ورځو په ترڅ کې د بریښنا ستونزې حل کړي او تاسیسات بشپړ کړي. مګر له اتو میاشتو وروسته، ظفرخیل د خپل کار له دوه دریمې څخه لږ بشپړه کړې پرته لدې چې په ښوونځي کې د بریښنا د سیستم له کود څخه سرغړونې سمې کړي.

وروسته لدې چې یې قراردادي ته 130,000 امریکایي ډالر ورکړل او قراردادي له نورو مسولیتونو څخه خلاص شو USACE، د 2012 په دسمبر کې دا قرارداد فسخه کړ. د یوه دریم قرارداد د تیارولو تمه کېږي. مګر USACE د دې پروژې مدیریت نور نه کوي؛ دا مسولیت بیرته USAID ته ورکړ شوی دی.

په عین وخت کې، د متحده ایالاتو حکومت د شبرغان د ښوونځي د عملیاتو او ساتنې د لګښت مسولیت لرې ځکه چې بشپړ شوی ندی او USAID نشي کولای د افغانستان حکومت ته یې وسپاري.[8]

## په بت خاک کې یو بام چې کیدای شي د مرګ سبب وګرځي

د شبرغان دا کیسه د پام وړ ده، مګر بې سارې نده. په افغانستان کې د متحده ایالاتو ځواکونو (USFOR-A) د 2012 په اګست کې د اعمار امارات ساختماني شرکت ته د 263,000 امریکایي ډالرو په ارزښت یو قرارداد ورکړ ترڅو د کابل ولایت په بت خاک کې



**یو ښوونځي په بت خاک** کې چې د پلاستیکي کړکیو او د قرارداد په اساس د بلوکونو د دیوالونو په ځای د لرګیو له کړکیو او د خښتو له دیوالونو څخه جوړ شوی. (د سیګار عکس)

په یوه ښوونځي کې 10 اضافي صنفونه جوړ کړي. د سیګار مفتیشیونو وموندل چې قراردادي د اړتیا وړ ودانی په ځای دوې کوچنی ودانی جوړې کړي، او د دیوالونو لپاره یې د کانکریټي بلوکونو په ځای له خښتو، او د پلاستیکي کړکیو په ځای یې له لرګي څخه کار اخیستی وو. دوی دا هم یاددښت کړی چې پروژه تر مهال ویش شاته وه، لمړی لیدنه یې د ساختماني پروژې د پروسې په شپږو میاشتو کې ترسره شوی او اسنادونه یې بشپړ نه وو ډک شوي.

هغه څه چې ډیر ستونزمن دي، د زلزلې په ساحه کې د ښوونځي موقیعت ته په پام سره، قراردادي د لرګي د بام په ځای کانکریټي بام جوړ کړی. بې اجازې بدلون، او نورې ستونزې لکه د ګول بربنډه سیخونه، کمزورې ګډ شوي او د خرابیدلو په حال کې کانکریټ او کمزوري ځایونو ته په اشارې سره، مفتیشین دې پایلې ته ورسیدل چې د "بټ خاک نوی ښوونځی د ډیزاین او ساختمان مهمې نیمګړتیاوې لري او کیدای شي دا به یو ناورین وي چې منځ ته راشي."[9]

بټ خاک او شبرغان دواړه د متحده ایالاتو د قرارداد د فعالیت د نظارت نیمګړتیاوې، پشمول د ځنډني یا نا مناسبه تفتیش، کمزوري اسناد، شکمنې پریکړې، او د حساب ورکولو نشتون بربنډه کوي. دا ځانګړې بیلګي ندي. د متحده ایالاتو د حکومت د حساب ورکولو دفتر (GAO)، د بیلګې په توګه، "په ا فغانستان کې د USAID د پروژو په نظارت او د پروګرام په فعالیت کې یې سیستماتیکې کمزوری موندلي دي."[10]

د USAID بیلګي ګټورې دي، مګر په افغانستان کې د قرارداد ډیری فعالیتونه د متحده ایالاتو دفاع وزارت تر لارښوونې لاندې دي، چې ستونزې هم مني. د 2012 د اپریل په میاشت کې، د متحده ایالاتو دفاع وزارت د قرارداد د عملیاتي ملاتړ لپاره یو عملي پلان خپور کړ چې په 10 "مهمو ظرفیتي نیمګړتیاو" کې یې دا هم لست کړي:

> ګډ ځواک پوره ظرفیت نلري ترڅو په اغیزمنه توګه قراردادونه اداره، نظارت او وترې او دا وګوري چې د قراردادي فعالیت په مناسبه توګه تعقیبیږي او د لاس رسی وړ دی او د خوښې وړ پایلې لاسته رواړل شوي.[11]

دا په دوو دلیلونه یو ستونزمن اعتراف دی. لمړی، د قرارداد د ډیرې اندازې هڅو ته په پام سره، په افغانستان کې د متحده ایالاتو د دفاع وزارت قراردادیان تر ځواکونو دوه په یو ډیر دي. د متحده ایالاتو مرکزي قوماندانی د 2013 د مارچ د میاشتي معلوماتو 107,796 قراردادیان او 65,700 ځواکونه ښودلي.[12] دویم، سره لدې چې د یو شمیر پرمختګونو په اړه هر اړخیز راپور ورکړ شوی، له 1992 څخه د متحده ایالاتو د دفاع وزارت د قرارداد مدیریت د متحده ایالاتو د حکومت د حساب ورکولو د دفتر د لست د لوړ خطر په پروګرامونو کې وو.[13]

## د نظارت ستونزې: پراخې او ستونزمنې

د سیګار وروستې کارونه د نظارت د نیمګړتیاو ډیري نورې بیلګې لري.

د بیلګې په توګه، سیګار دا ناممکنه وګڼله ترڅو په افغانستان کې د پلچکونو د جالیو لپاره د قراردادونو شمیره پیدا کړي، او دې پایلې ته ورسید چې د نږدې 2,500 موقعیتونو اسناد دا نه ښیې چې په حقیقت کې دا وسیلې په مناسبه توګه نصب شوي. دا ستونزمن دي، ځکه چې د هغو 32 میلیونه ډالرو چې د سړکونو د کارونو لپاره یې له 2009 څخه ژمنه شوې د پلچکونو تر لاندې د جالیو اړتیا پکې شاملې دي ترڅو د افغانستان مخالفین ونشي کولای د سړکونو ترلاندي انفجاریه مواد کیږدي.[14]



**Mi-17 هلیکوپټر** د کابل د SMW په هنګر کې تر ساتنې لاندې تیریږي. (د سیګار عکس)



**د افغانستان د ملي پولیسو** تخریب شوې وسایط د ګردیز د سیمیزې ساتنې په مرکز کې. (د سیګار عکس)

د سیګار د 772 میلیونه ډالرو د پروژې وروستی پلټنه ترڅو د افغانستان د ځانګړو ځواکونو د ځانګړې ماموریت وزر (SMW) لپاره نوې طیارې برابرې کړي ترڅو د مخدره توکو او تروریزم په وړاندې له عملیاتو سره مرسته وکړي، دې پایلې ته ورسید چې "افغانان د دوارو کارکوونکو د شمیرې او متخصصینو په کچه هغه وړتیا نلري ترڅو د شته او پلان شویو SMW د طیارو عملیات او ساتنه وکړي." پلټنې دا یاددښت هم کړی وو چې وظیفوي فرمایشات د فعالیت اندازه کول ندرلودل، او قراردادیانو په مناسبه توګه د ساتنې ساعتونه نه و شمیرلي او چمتووالي یې په سمه توګه نه و ښودلی، او په کابل کې د متحده ایالاتو د دفاع وزارت کارکوونکو هغه صلاحیت او تجربه ندرلوده ترڅو د قراردادي د فعالیت لپاره اغیزمن نظارت برابر کړي.[15]

د وسایطو د مدیریت له خدماتو FZE سره د افغانستان د امنیت د سپارلو د ګډې قوماندنی (CSTC-A) په قرارداد کې ترڅو د متحده ایالاتو له لورې اخیستل شوې وسایط د افغانستان د ملي اردو لپاره وساتي، د سیګار په پلټنه کې د نظارت مسلې هم راپورته شوې. CSTC-A په غیر ضروري توګه په 2011-2012 کې له 6 میلیونه ډالرو څخه ډیر تادیه کړې وو ځکه چې هیڅ چا د هغو 7,324 وسایطو لست له منځه نه و وړی چې تخریب شوې وو یا له یوه کال څخه ډیر په خدمت کې نه وو. پلټونکو دا هم وموندل چې له 453 څخه 121 د قرارداد کولو د افسرانو د استازو راپورونه له دوسیو څخه ورک وو، او دا چې 121 نور د تیلفون کولو یا ایمیل پر اساس و نه دا چې له ساحې څخه لیدنه شوې وي. په لرو پرتو سیمو کې د نظارت ځینو فعالیتونو لوجیستیکي او امنیتي ستونزدې ښودلې، "مګر ډیریو هغه ملاتړ ندرلود چې ولې [CSTC-A کارکوونکو] نشو کولای پلټنه ترسره کړي." CSTC-A د سیګار له بیلابیلو سپارښتنو سره موافقه کړې.[16]

د سیګار د کارکوونکو له لورې مالیي پلټنو د افغانستان په قراردادونو کې نورې ستونزې، پشمول د کمزورې اسناد ساتل او ساتنه، د طرزالعملونو د نه په پام کې نیول، غلط یا نا مناسب لګښتونه، د تجهیزاتو او فالتو سامونونو لپاره د تعقیبولو د سیسټم نشتون، ستونزې هم وموندلې.

د بیلګې په توګه، د سیګار د متحده ایالاتو د کرنې وزارت د اقتصادي پراختیا د ایتلاف د رضا کارانو د 17.2 میلیونه ډالرو د قرارداد د مالي پلټنې یوې برخې 720,501 امریکایي ډالر یې له نه ملاتړ کوونکو اسنادو سره موندلي، چې نشو ویلای غیر مشروع وو، مګر په سمه توګه مستند شوي نه وو.[17] بل قراردادي، د افغان متحد ملاتړ خدمات (AISS) چې د متحده ایالاتو د دفاع وزارت قرارداد لري ترڅو د وسایطو لپاره ساتنه، روزنه، او د افغانستان اردو لپاره د ظرفیت وده برابره کړي. سیګار د پلټنې یو شرکت ګمارلی ترڅو د نږدې 32 میلیونه ډالرو لګښتونو ارزونه وکړي. دې پلټونکو د کورني کنترول څلور نیمګړتیاوې، د نه اطاعت پنځه قضیې، او له 2.8 میلیونه ډالرو څخه زیات، پشمول د 217,643 امریکایي ډالرو تر پوښتنو لاندې لګښتونه وموندل، چې د قرارداد په اساس غیر مستحق وو نورې مالي پلټنې ورته پایلې ښيې.[18]

د سیګار د 2013 د جون د میاشتې په خبرتیا کې سفیر جیمز ب کنینګهام او د USAID لوړ پوړو چارواکو ته له نړیوالې سوکالی او پراختیا شرکت (IRD) سره د USAID د همکارۍ د موافقې د نږدې 70 میلیونه ډالرو د خپلې آزموینې د یاددښتونه په اړه مشوره ورکړه. د IRD دا پروژې د کرنې د پراختیا، د بې ثباتی د کمولو، او "په خپل حکومت باندې د افغانانو د ډاډ زیاتولو" لپاره وې. د خبرتیا مکتوب دا ویلي وو چې USAID د IRD کاري پلان تر څلورو میاشتو پورې نه وو ارزولی او تایید کړی، کله چې 44 میلیونه ډالرو لا وړاندې ورکړل شوې وو. د خبرتیا مکتوب دا مسله یاددښت کړې وه:

> د مرسته کوونکو ادارو له لورې کلک نظارت، او دلته USAID د دفاع په لمړي خط کې راځي کله چې د متحده ایالاتو د حکومت ډالرونه مطرح وي. د افغانستان په ډول چاپیریال کې، کلک نظارت په ځانګړې توګه مهم دی. مګر، دلته [IRD پروګرام تطبیق کړی]، او USAID په هغه توګه چې کولای شول او باید ترسره کړې وای، نظارت ندی کړی. په پایله کې، هغه تجهیزات اخیستل شوي چې کیدای شي ورڅخه کار وانخیستل شي یا غلا شي؛ د کرنیزو محصولاتو لپاره احتمالاً لوړ قیمتونه تادیه شوي؛ او د ساتنې، پرزه کولو او د [اوبو پمپونو] د غیر ضروري توزیع له کبله لګښتونه منځ ته راغلي.[19]

## نورو ادارو د نظارت نیمګړتیاوې مستند کړې دي

سیګار یوازې ندی چې د قرارداد د نظارت، د نغدو مرستو او د همکاریو د موافقو چې معمولاً USAID ورڅخه کار اخلي د نظارت نیمګړتیاوې موندلې.

د متحده ایالاتو د دفاع وزارت د عمومي مفتش له لورې د کار یوه وروستی نمونه، د بیلګې په توګه، داسې موندنې پکې شامل دي:

- USACE یو قراردادي منلی چې د افغانستان په پروان کې د توقیف تاسیسات جوړ کړي، "که څه هم ډیرو نیمګړتیاوو شتون درلود." د USACE چارواکو "مناسب نظارت ندی برابر کړی... او د قراردادي د ورنتیي د نظارت په اړوند یې د خپلو کورنیو پالیسیو اطاعت ندی کړی."[20]
- د هوایي ځواکونو د انجنیرۍ او چاپیریال مرکز (AFCEE) "په افغانستان کې د اردو د [څلورو] ساختماني پروژو لپاره اغیزمنه نظارت ندی برابر کړی،" چې ارزښت یې 36.9 میلیونه ډالرو وو. "د AFCEE چارواکو ویلي چې دا کار ځکه شوی چې هغوی په بشپړه توګه د خپل قراردادي د کارکوونکو په مهارت باندې تکیه کړې وه." [ټینګار اضافه

شوی.] د متحده ایالاتو د دفاع وزارت عمومي مفتش "په یوه قرارداد کې د بریښنا توپیر لرونکي ستندردونه" او په نورو دوو قراردادونو کې یې د اور د خوندیتوب غلط ستندردونه، او "له هغو څلورو تاسیساتو څخه چې د دوو ارزونه یې شوې او د ایتلاف ځواکونه پکې ژوند کوي، ژوند او خوندیتوب ته جدي او ډېریدونکي خطر موندلی."[21]

- د متحده ایالاتو اردو، ناتو، CSTC-A، او د اردو د قرارداد د مدیریت اداري د افغانستان د ملي پولیسو د روزنې د 1.2 میلیارده ډالرو "مناسب نظارت ندی تطبیق کړی." د نظارت د طرزالعملونو همغږي نده شوې، د کیفیت د ډاډ (QA) اړتیاوې ندې تطبیق شوې، او د قرارداد د افسر د استازو (CORs) مناسبه روزنه نده ترسره شوې یا د هغوی کار ندی ارزول شوی.[22]
- د بګرام په هوایي ډګر کې د اردو د څلورو ساختماني پروژو د مدیریت په وخت کې چې ارزښت یې نږدې 50 میلیونه امریکایي ډالرو و، د USACE د کیفیت د ډاډ کارکوونکو "د قراردادي له فعالیت څخه مناسب نظارت ندی کړی." په نیمګړتیاو کې: د USACE کارکوونکو د قراردادي د کیفیت د ډاډ پلان وړاندې تر دې چې کار پیل شي نه و تایید کړی، د کیفیت د ډاډ اسناد یې نه و ساتلي، او د تخنیکي متخصیصینو غوښتنه یې نه وه کړې چې تخنیکي تفتیش ترسره کړي. کارکوونکو د متحده ایالاتو د دفاع وزارت عمومي مفتش ته وویل چې دوی ته مناسبه روزنه او لارښوونه نه وه ورکړ شوې.[23]

د USAID عمومي مفتش او د متحده ایالاتو د بهرنیو چارو وزارت عمومي مفتش هم په قراردادونو، نغدو مرستو، یا د همکاریو په موافقو کې نیمګړتیاوې ثبت کړې دي. د بیلګې په توګه:

- د افغانستان د USAID د نظارت او ارزونې د سیستم 2012 د ارزونې یوه نمونه، چې د 95 فعالو پروژو چې ارزښت یې 4.5 میلیارده ډالرو دی د تعقیبولو لپاره ورڅخه کار اخیستل کیږي، دا وموندل چې د USAID ماموریت د افغانستان حکومت ته د پروژو د نظارت یا د بودجې په اساس مرستې لپاره هیڅ لارښوونه نده کړې، د تخنیکي



**د افغانستان د ملي پولیسو محصلینو** ته هغې لارښوونې ورکول کیږي وړاندې تر دې چې هغوی د لورو زده کړو کورسونو ته پرمختګ وکړي. (د متحده ایالاتو د هوایي ځواک عکس)

افسرانو لپاره يې تازه روزنه نده برابره کړې، دا يې ندي کتلي چې تطبيق کوونکي ملګري د افغانستان د معلومات په بانک کې خپل فعاليتونه ثبتوي، او په منظمه توګه يې د هغو معلوماتو ارزونه نده کړې چې دوی ته راپور ورکړ شوی.[24]

- د USAID د پنځو کلونو 150 ميليونه ډالرو په شمال، ختيځ، او لويديځ کې د اقتصادي بديلو چارو د هڅولو يوې پلټنې هيڅ مستند شواهد ندي موندلې چې د USAID ماموريت له کاري ساحو څخه ليدنه کړې او د هغو هڅو ملاتړ وکړي چې دوی د افغانستان بزګرانو ته د کوکنارو د کرلو په ځای قانوني او عملي بديل ورکړی وي. پلټونکو دا هم وموندل څکه چې د موافقې د افسر استازې (چې له COR سره برابر دی) يا يې د پرمختګ د راپورونو نه تحليل کړی او نه يې دقيقوالی تاييد کړی، څکه نو غلطی او نيمګړتياوو له پاملرنې پرته دوام درلود.[25]

د متحده ايالاتو د حکومت د حساب ورکولو دفتر د بيلابيلو ادارو د قرارداد د نظارت د تصيح شويو پاليسيو، د اخيستلو د ډيرو او ښه روزل شويو کارکوونکوو، او د معلوماتو د ډيرو اغيزمنو سيستمونو، ياددښت نيولی دی. مګر د 2013 په فبروری کې د حکومت د حساب ورکولو دفتر د نورو شيانو په منځ پدې اړه راپور ورکړی:

- "د متحده ايالاتو دفاع او بهرنيو چارو وزارتونو، او USAID په افغانستان کې د قرارداد د مديريت او نظارت له ننګونو سره مخامخ دي، او د متحده ايالاتو له قراردادونو څخه د دوی نظارت نورو پرمختګونو ته اړتيا لري."
- "دا درې ادارې اوس هم په افغانستان کې د خپلو قراردادونو او د قرارداد د کارکوونکو په اړه د با اعتباره راپور ورکولو په برخه کې ستونزې لري."
- "د متحده ايالاتو د دفاع وزارت د نظارت کارکوونکو په افغانستان کې تل مناسبه روزنه نده لاسته رواړې او... د متحده ايالاتو دفاع وزارت اوس هم په مناسبه توګه د نظارت کارکوونکي نلري."
- "د متحده ايالاتو د بهرنيو چارو وزارت او د USAID انفرادي دفترونو ډيری وختونه د نغدو مرستو او د قرارداد د مديريت لپاره له قراردادي څخه کار اخيستل د هرې قضيې په اساس پريکړه کړې، او خطرونه، لکه د د دوو اړخيزو ګټو احتمالي ټکرونه يا نيمګړې نظارت لپاره تل د حل لار نده موندل شوې."[26]

پدې وروستيو کې، د عراق د بيا رغونې لپاره ځانګړي عمومي مفتش د نهو کلونو د کار په ترڅ کې له 220 پلټنو او 170 تفتيشونو وروسته له "عراق څخه د پای اوه درسونه" خپاره کړې. د ثبات او بيار رغونې د عملياتو (SRO) په اړه دوه درسونه دلته اړوند دي:

- د قرارداد کولو، کارکوونکوو، او معلوماتو اداره کولو دوامدارو سيستمونو تاسيسول چې د SRO ټول برخه اخيستونکې ورڅخه کار واخلي.
- د عملياتو له پيل څخه د SRO فعاليتونه کلک نظارت ته اړتيا لري.[27]

د نيمګړې او غير مناسب معلوماتو سيستمونه، د اخيستلو د کارکوونکو کموالی، نيمګړې روزنه، ځنډنی انتخاب او د قرارداد کولو د افسرانو د استازو ډيروالی، د کار لنډه موده چې د سيميزې پوهې د اخيستلو او رسولو مخه نيسي، د نظارت د فعاليتونو په پيلولو کې ځنډ، مقرراتو او پاليسی ته نه پاملرنه کول، او د اطاعت له وسايلو لکه تعليق او بنديز څخه د کار

اخیستلو نه لیوالتیا په عراق او افغانستان کې قرارداد کولو ته رسمي پاملرنه جلب کړي. هغه څه چې په دغو ټولو باندې برسیره ده هغه د بنسټیز کلتور اندیښنه ده. لکه څنګه چې په عراق او افغانستان کې د جنګ په وخت کې د قرارداد کولو فیدرال کمیسیون د 2011 د خپل پای په راپور کې ویلي:

> د متحده ایالاتو د دفاع او بهرنیو چارو وزارتونه او USAID په ستراتیژیکي او عملیاتي کچه چې په اخیستلو اغیز لري کلتوري بدلون ته اړتیا لري. تیري لسیزې د اخیستلو اهمیت په ډاګه کړی او که دا کار د هرې ادارې په لمړیتوب کې رواړل نشي دا به کمزورې پلان کول اغیز من کړي، د روزل شویو مختصیصینو کمولای به لا هم زیانمن شي، او د نه پاملرنې او کمزورې او غیر منظمو پریکړو له کبله به لګښتونه ډیر شي.[28]

د دې کمیسیون له راپور څخه نږدې دوه کاله او په افغانستان کې د متحده ایالاتو د اردو له عملیاتو څخه له 11 کلونو څخه زیات، په ډاګه ښکاري چې د فیدرال بنسټیز کلتور نشي کولای په هغه توګه چې د ماموریت لپاره یې مهم دی او لګښتونه یې وړتیا لري په پاملرنې سره قرارداد کول پلان کړي او سرته یې ورسوي، او نشي کولای چې د ادارو پالیسی او مقرارات په اغیزمنه توګه د نظارت د هرې ورځې له جزییاتو سره همغږې کړي.

## ننګونې زیاتوي

قراردادیان او هغه اړتیا چې په دوامداره توګه ورځخه په اغیزمنه توګه نظارت وشي، د متحده ایالاتو د انقلاب له وخته د متحده ایالاتو د هر جنګ، او د وروستیو کلونو د ډیرو ګډو عملیاتو لکه د هایتي د زلزلې، د جنوب ختیځې آسیا د سونامې، او د جاپان د زلزلې سونامي د وروستیو کلونو د مرستو دعملیاتو، مهمې برخې دي.[29]

قراردادیان کولای شي تخصصي مهارتونه وړاندې کړي، لنډ مهالې غوښتنې پوره کړي چې د فیدرال کارکوونکو له ظرفیت څخه ډیر وي، مدیرانو ته په مناسبه توګه کارکوونکي برابر کړي، او یا د حکومت عملیاتو باندې ارزښت زیات کړي. مګر لکه څنګه چې تجربې ښودلې، قرارداد کول کولای شي خپل ستونزې هم ولري. اغیز من نظارت نه یووازې د مالیه ورکوونکو د پیسو ظایعاتو د مخنیوی لپاره مهم دی، مګر دا باید هم تظمین شي چې د فیدرال ملکي ماموریتونه هغه شیان او خدمات چې ورته اړتیا لري لاسته رواړي، او د عملیاتو د موخو ملاتړ وشي، او د متحده ایالاتو شهرت او اعتبار ته ضرر و نه رسیږي.[30]

لکه افغانستان او عراق ځایونو کې د هرې ورځې خطرونه، سخت کار، او د عملیاتو د هرې ورځې ستونزې باید په کم نظر ونه نیول شي. د متحده ایالاتو د اردو او ملکي کارکوونکي، او د هغوی د قرارداد د ملاتړ او تطبیق کوونکي ملګري، پدغو ځایونو کې له عادي دندې څخه ډیر کار په اوږه اخلي. داسې ښکاري چې کیدای شي د متحده ایالاتو د بوختیا بیلابیلې برخې په افغانستان کې او کورنی سیاست به د قرارداد کولو اوسنی ستونزې تعریف کړي.

- له هیواد او له خپلو پایګاو څخه د متحده ایالاتو د اردو ځواکونه په منظمه توګه وځي او د هغوی پایګاوې تړل کیږي، چې دا دواړه د چټک غبرګون د ځواکونو او د هلیکوپټر د امبولانس د ماموریتونو تر یوې کچې د خوندې سفر د "امنیت پاړسوب" کموي.
- د افغانستان لمړی پالیسي چې د اخیستلو ډیر ډالرونه د افغانستان قرارداد کوونکو ته د اخیستلو او قرارداد کولو لپاره راګرځوي، په افغانستان کې د متحده ایالاتو د دفاع

وزرات 40,314 یا 37% قرارداد کارکوونکي د 2013 تر مارچ پورې سیمیز وګړي وو[31]، چې د نظارت په عنعنوي خنډونو باندې د لیدنې، ارزونې، تاییدولو، او حساب ورکولو نورې نوې مسلې زیاتوي.

- د پالیسی ژمنې ترڅو د افغانستان وزارتونو لپاره زیاتې مرستې په مستقیمه توګه برابرې شي د متحده ایالاتو د نظارت لپاره نوې ننګونې وړاندې کوي. لکه څنګه چې د متحده ایالاتو د بهرنیو چارو وزارت عمومي مفتش کانګرس ته وویل، "فساد او پیچلتوب د هرې نړیوالې مرستې پروګرام لپاره مهمې ننګونې دي، په ځانګړې توګه د هغو عملیاتو لپاره چې له حکومت څخه حکومت ته مرستې د هغو هیوادونو لپاره انتقالوي چې بې ثباته سیاسي چاپیریال لري."[32]
- د بودجې کموالی یا د بودجې د کنټرول اغیز لکه د کارکوونکو له کاره ایستل کولای شي د فیدرال د اخیستلو د کارکوونکو توان ته ضرر ورسوي ترڅو د قرارداد لپاره په وخت او اغیزمن نظارت برابر کړي، که څه هم د هغوی شمیر کم شوی ندی، لکه څنګه چې ډیری وختونه له جنګه وروسته او د بودجې د محدویت په چاپیریالونو کې منځ ته راځي.

خو په بهرنیو بیړنیو عملیاتو کې ځانګړې ننګونې نباید د ادارو لپاره د وړیا ټکټ په توګه وي ترڅو د قراردادونو بې پروا نظارت وزغمي. او په افغانستان کې د قرارداد د نظارت ستونزې نباید د یوې بې سارې قضیې یا یوې محدودې ستونزې په توګه ولیدل شي. د متحده ایالاتو حکومت لپاره د قرارداد نظارت د اوږدې مودې او هر اړخیزه ستونزه ده، که چاپیریال سولیز یا د دښمنی، بهرنی یا کورنی، د اردو یا ملکي وي.

لکه څنګه چې وړاندې ویل شوې، د متحده ایالاتو حکومت د حساب ورکولو دفتر له 1992 څخه د متحده ایالاتو د دفاع وزارت د قرارداد مدیریت د "لوړ خطر" په لست کې رواړی. مګر پدې لست کې د متحده ایالاتو د انرژۍ وزارت (DOE) د دې وزارت د اتمي ملي امنیت ادارې او د چاپیریال د ادارې د دفتر له لورې د قرارداد مدیریت هم شامل دی. د متحده ایالاتو د حساب ورکولو دفتر د مهمو پرمختګونه په اړه راپور ورکوي، مګر د DOE د قرارداد مدیریت یې له 1990 څخه د لست په لوړ خطر کې ساتلی دی. د حکومت د حساب وروکولو دفتر وایي چې د DOE د بودجې ډیری برخه په قراردادونو او د شتمنیو په سترو پروژو باندې لګیږي، ځکه نو "د DOE تیر نامناسب مدیریت او د قراردادیانو نظارت دا وزارت د تقلب، ضایعاتو، ناوړې ګټې اخیستنې او غلطې ادارې ته کمزوری پریښی."[33]

## څه باید وشي؟

د فیدرال کمیسیونونو، غیر حکومتي بنسټونو، او د نظارت ادارې لکه سیګار د کلونو په ترڅ کې یې دقیقاً په سلهاوو سپارښتنې کړي دي ترڅو د قرارداد نظارت ښه شي. پدې کې د معلوماتو د سیستم، د حساب ورکولو ستندردونه، د کارکوونکو د شمیر زیاتوالی او روزنه، د پالیسیو او کارونو څواکمن کول، د اندازه کولو ښه سیستم منځ ته رواړل او په پاملرنه یې ارزونه کول، او لیوالو ادارې کدرونو او د نظارت متخصیصینو تاسیسول چې د بیړنیو عملیاتو په پیل کې به دنده وګمارل شي.[34]

د هغوی په ویاړ، د فیدرال ادارو دا اندیښنې او سپارښتنې په زړه منلي او د افغانستان د افغانستان د چاپیریال له اړتیاوو سره ځانونه آشنا کوي. د متحده ایالاتو دفاع وزارت، د بیلګې په توګه وایي چې که کله د وسلوالو محافظینو نشتون CORs ته اجازه نه ورکوي چې

د قرارداد د تطبیقولو له ساحې څخه لیدنه وکړي، "داسې ښکارې چې د پروګرام مدیر او [ملاتړه سیمیزه قوماندانی] COR ته حرکت ورکړي، دا د قرارداد د دې برخې اړتیاوې کمې کړي، یا هغه خطر په غاړه واخلي چې د قرارداد لپاره مستقیماً نظارت برابر نکړي."[35]

USAID، که څه هم دا وايي چې "افغانستان د USAID د نورو ماموریتونو په منځ کې چې په ساحه کې کوم شتون لري بې ساري دی،" په تیر کال کې له 68 څخه تر 70 COR، وايي چې ګامونه اخلي ترڅو له بدلیدونکي چاپیریال سره ځان آشنا کړي. د دې لپاره چې د هر نظارت کمیدونکی توان آسانه شي، د افغانستان USAID د قراردادونو د تدارک په پروسې کار کوي چې موخې یې په لرو پرتو سیمو کې د نظارت د توان برابرول دي، پداسې حال کې چې د کوربه هیواد یا دریم هیواد د وګړو ونډه هم په نظارت کولو کې زیاته شي.[36]

مګر د کارکوونکوو شمیره هم زیاتوي، نوي تیکنالوجي په کار اچوي، نوي مقررات وضع کوي، او هغه نور سپارښت شوي عادي عملي ګامونه به د قرارداد د نظارت د اصلي ستونزو لپاره د حل لار پیدا نکړي: هغه خلک چې کارونه باید ترسره کړي نه یې ترسره کوي.

هغې پلټنې او تفتیشونه چې پدې لیکنه او ډیرو نور کې راغلي، هغه پیښې شمیرې چیرته چې د متحده ایالاتو د قرارداد مدیریت او د قرارداد نظارت چارواکو ونشو کولای د کار تفتیش وکړي، ونشو کولای چې په تصیح کولو ټینګار وکړي، ونشو کولای چې فعالیت تایید کړي وړاندې تر دې چې قراردادونه وتړي، ونشو کولای چې په مناسبه توګه اسناد راټول کړي، یا په بل عبارت، خپله دنده نه ترسره کوي یا په سمه توګه یې پرمخ نه وړي.

د 2012 د پسرلي په پلټنه کې، چې پاملرنه یې په افغانستان باندې نه وه، مګر د پام وړ وو، د متحده ایالاتو د دفاع وزارت عمومي مفتش د فیدرال د اخیستلو له لنډ مهاله مقرراتو (FAR) سره د هوایي ځواک د قرارداد د کارکوونکو اطاعت کتلی، چې د لګښت د بیرته اخیستلو له قرارداد څخه د کار اخیستلو مقررات مظبوطوي.

د لګښت د بیرته اخیستلو قرارداد اساساً داسې یو ترتیب دی چې حکومت د قراردادي د وړاندې شویو لګښتونو پیسې ورکوي، او دا د قرارداد د محدودیتونو او د مستحق کیدلو او دقیقوالې د ارزونې په اساس ترسره کیږي. د فیدرال د بودجې او مدیریت دفتر (OMB) دا د "لوړ خطر قرارداد کول" ګڼي چې د ضایعاتو او زیاتو لګښتونو خطر یې ډیر دی. "دا په ځانګړې توګه د لګښت د بیرته ورکولو په قرارداد کولو کې حقیقت لري،" OMB وايي، "د مالي، محاسبې، لګښت او د قیمت تحلیل، صنعتي انجنیري مسلو په اساس، د سیالی په اساس د معین قیمت تر قرارداد، دا د لوړې کچې او پراخو مهارتونه اړتیاو غوښتنه کوي."[37]

مګر کله چې د متحده ایالاتو د دفاع وزارت عمومي مفتش د 156 د لګښت د بیرته ورکولو قراردادونو آزموینه ترسره کړه، دا یې وموندل چې د هوایي ځواک کارکوونکو په دوامداره توګه د FAR لنډ مهاله مقررات د 75 قراردادونو لپاره چې د ټول 10.5 میلیارده ډالرو د نمونې له ارزښت څخه د نږدې 8.8 میلیارده ډالرو استازیتوب کوي ندي تطبق کړي.[38] ولې؟

> ...ځکه چې هغوی له مقرراتو خبر نه وو، داسې ګمان یې کاوه چې کله اساسي قرارداد له مقرراتو وړاندې ورکړ شوی، دا په دندې یا سپارلو پورې اړوند نه وو، یا هغه ګامونه یې ندې اخیستې چې له مقرراتو سره مطابقت وکړي. په پایله کې، د هوایي ځواک د قرارداد کولو کارکوونکي کیدای شي د هوایي ځواک خطر ډیر کړي ځکه چې د لګښت د بیرته ورکولو قراردادونه د هغو قرادادیانو لپاره چې غواړي لګښت کنترول کړي کمه انګیزه برابروي.[39]

نصيحت، لارښووني، او روزنه نشي کولای پخپله په پوره توګه اغيزمن نظارت برابر کړي که ګمارل شوي تطبيق کوونکي په ساده توګه هير کړي يا عمل ونکړي، پريکړه وکړي چې نورې دندې مهمې دي، يا عمل وکړي مګر پايلې مستندې نکړي. دا روښانه ده چې د قرارداد په نظارت کې، ګناوې او اعتراف معمولي دي. هغه څه چې روښانه ندي هغه دا دي چې آيا ګناه کار لورې په دوامداره توګه د خپلو ناکاميو له کبله له کوم حقيقي شخصي يا پروګرامي جريمو سره مخامخ کيږي، پرته لدې چې د پلټنې يا د تفتيش په رسمي راپور کې د خبرو لنډه ملامتيا جريمه ترلاسه کړي.

لکه څنګه چې له افغانستان څخه کانګرس د نظارت راپورونه او زده ښوې درسونه په پام کې نيسي ترڅو هلته د تحول په لسيره کې له وړاندې پايلې پراخې کړي او د راتلونکو عملياتو لپاره د قرارداد نظارت ښه کړي، کيدای شي کانګرس به د دې معلوماتو غوښتنه کوي چې آيا تطبيق کوونکي ادارې په پراخه او دوامداره توګه د حساب ورکولو غوښتنه کوي، پشمول د اصلي جريمو، د هغو کارکوونکو لپاره چې نشي کولای په مناسبه توګه د قرارداد کولو د نظارت د دندو په ترسره کولو کې مناسبه پاملرنه وښيې. يوه لار چې داسې تفتيشونه سيستماتيک شي کيدای شي د دې اړتيا به وي چې د وزارتونو او ادارو مشران په منظمه توګه د خپلو حساب ورکولو د پاليسيو او کارونو په اړه راپور ورکړي، ترڅو د هغو زده شويو درسونو ارزونه وشي چې بدلون ته اړتيا لري، او له ارزونې وروسته د تحميل شويو جريمو ارزونه وشي.

له هغو پريکړو څخه چې په ښکاره توګه د اخيستلو په وخت کې غير مناسب يا غير مسولانه وو، د پيژندل شويو اړتياوو، معلوماتو، او خطرونو ته په پام سره، د دې مسلې په راپورته کولو سره، سيګار دا مني چې د هغو پريکړو توپير ستونزمن کار دی چې په هغه وخت کې مناسب ښکاريدل. مونږ پدې هم پوهيږو چې د ماموريت مهمې موخې، اهميت، امنيتي تهديد، يا د سفر محدوديتونه کولای شي په ځينو چاپيريالونو کې د نظارت د کارولو په کچه کې معاملې يا مصلحتونه رامنځ ته کړي. مونږ په هغه خطر پوهيږو چې کيدای شي سازمانونه به داسې تمايل پيدا کړي چې د بې طالعې يا غير مشهورو انفرادي کسانو ملامتيا باندې بنستيز يا طرزالعملي نيګړتياوې پټې کړي. دا ټول منطقي خبرداری دي، مګر دا د اوسنيو کارونو د عذر په بڼه نشي زغمل کيدلای.

د سيګار او د نورو بنسټونو د نظارت کارونه دا په ډاګه کوي چې د بې مسوليته، بې فکره، لټ، يا غير منظمې پريکړې لپاره کلک او اجباري شخصي حساب ورکول، د فيدرال مديريت د کلتور ښکاره بڼې ندي، مګر کيدای شي دې ته به اړتيا وي که مونږ د فيدرال له قراردادونو څخه د ښه فعاليت تمه ولرو. ماليه ورکوونکي او ملي ماموريت تر دې د کم لياقت نلري. لکه څنګه چې سيګار په افغانستان کې پلټنې، تفتيشونه، تحقيقونه، او ځانګړې پروژې په مخ وړي، مونږ به بيداره اوسو ترڅو د کمزورې مديريت، او قرارداد کولو د نظارت په اړه آواز پورته کړو، او هغه وړانديزونه وکړو چې کولای شي حساب ورکول ښه کړي.

سيګار د يوې پيچلې دندې د پوره ترسره کولو تمه نلري او پدې فکر کې هم ندی چې له عمله وروسته د جزا ورکولو په لټه کې شي. مګر مونږ په کلکه باور لرو چې ډير دقيق حساب ورکول کولای شي راتلونکي قضاوتونه او پريکړې د نظارت د ډيرو قيمتي خطاوو مخه ونيسي.

په عملياتي ملاتړ قرارداد باندې اغيزمن نظارت تحميلول په اوږده مبارزه کې يو نوی فصل ندی. په 1784 کې توماس جيفرسن لنډ مهاله متقاعد جورج واشنګټن ته وليکل

ترڅو هغه د اوهایو او پوتوماک د دریابونو د وړاندیز شوې استقامت موندنې د "مدیریت" لپاره وهڅوي.

جیفرسون فکر کړی و چې د واشنګټن لوړ شهرت او کلک نظارت کولای شي د داسې نوي پروژې لپاره "یو ډیر ځواکمن اعتراض" له منځه یوسي: "عامه ځمکې په بې اعتنایي سره اداره شوي او د کم نیت لپاره ډیرې پیسې لګول شوي."[40]

مګر له دوو پیړیو وروسته او نیمی دنیا لري، د جیفرسن اندیښنه اوس هم ژوندی ده.

”تاسو باید خپله ستړیا وباسئ. تاسو باید دا موضوع یقیني کړی چې کوم سړی مونږ پرې اعتبار کوو او خپلې پیسې ورته سپارو نو هغه هم دا پیسې په سمو ځایو کې مصرفوي. تاسو باید دا خبره روښانه کړی چې کومې پیسې د تیلو د اخیستلو لپاره ورکوی نو پر هغې تیل اخیستل شوي دي.“

— ځانګړی مفتش جان ایف سوپکو

سرچینه: جان ایف سوپکو، د فیسکل ټایمز سره مرکه، د 2013 کال د اپریل 26.

# 2 د سیګار ځارنه



# د سیګار د څارنې منځپانګې


د سیګار د سپارښتنو په اساس وړاندې شوي قوانین 20

سناتورانو پر دفاع وزارت فشار راولي تر څو د سیګار سپارښتنې عملي کړي 21

سیګار دقیقه بیاکتنه ترسره کوي 21

پلټنې 22

تفتیشات 49

ځانګړې پروژې 53

څېړنې 58

د سیګار بودیجه 68

د سیګار کار کونکي 68


**د تیر مخ انځور**

ځانګړی مفتش او کارکونکو یې د څارنې او ارزونې له کمیټې سره لیدنه کوې،
د 2013 کال مې میاشت. (د سیګار انځور)

# د سیګار څارونکي فعالیتونه

د 2008 کال نه چې سیګار د کانګرس لخوا تاسیس شو تر اوسه پورې تیره ربعه د سیګار لپاره تر ټولو نه زیات حاصل لرونکې ربعه وه. پدې ربع کې سیګار 30 د پلټنې، تفتیشاتو، خبردارۍ لیکونو، او نور راپورونه خپاره کړل. په یاده شمیره کې شپږ پلټنې، د قراردادونو مصارفو په اړه 11 مالي پلټنې، دوه تفتیشات، د مدیریت او مصونیت په اړه نهه د خبردارۍ لیکونه، او د یوې ځانګړې پروژې ریوټ شامل دي. د دې ربعې ډیر کار د قرارداد پر مسایلو او د پروګرامونو د مدیریت پورې تړاو درلود. د کار په جریان کې کمزورۍ پلان جوړونه، د پروژو تاخیر، کمزورۍ حساب ورکونه، او ناقصه څارنه موندل شوه. همدارنګه په پروژو کې د پام وړ ضایعات، تقلبي رغونه، او د روغتیا او مصونیت بالقوه خطرونه په ګوته شول.

همدارنګه د دې ریوټ په دوره کې په افغانستان کې د تیلو د غلا په اړه د سیګار رواني څیړنې د متحده ایالاتو تقریبا 800,000 ډالرو د خوندي کیدو لامل شو. برسیره پردې، د سیګار څیړنو د دوه کسانو بندي کیدو، دوه کسانو تورن کیدو، دوه جرمیخبرتیا، په نظامي محکمه کې د دوه کسانو تورن کیدو، او د دوه کسانو د مدافعې وړاندې کولو لامل شو.

په شپږو پلټنو کې چې سیګار دا ربعه خپرې کړې د افغان امنیتي ځواکونو، غوره حکومتولي، او د اقتصادي او ټولنیزه پراختیا په برخو کې د امریکا دفاع وزارت، د بهرنیو چارو وزارت، او د نړیواله پراختیا لپاره د امریکایي اداري د پروګرامونو بیاکتنه شوې ده. یوه پلټنه په ډاګه کړه چې د امریکا دفاع وزارت، افغان ملي پوځ لپاره د 771.8 میلیون ډالرو په ارزښت داسې یوه چورلکه اخلي چې دوی یې د ساتلو او کارولو جوګه ندي. یوه بله پلټنه وموندله چې د USAID د باثباته کولو اصلي پروګرام څو څو واري له تاخیر سره مخ شوی او د قرارداد د اساسي موخو په تر لاسه کولو کې پاتې راغلي ده. همدارنګه سیګار په ګوته کړه چې د بهرنیو چارو وزارت او USAID د هغو قراردادونو په بندولو کې ځواکمن صلاحیت ته اړتیا لري چې د دښمن لاسونه پکې موندل شوی وي. علاوه پردې، سیګار د افغان عامه محافظت ځواکونو د ورتیاو او مصارفو په اړه هم اندیښنې پورته کړې، چې د متحده ایالاتو په فنډ قرارداد کونکي باید د امنیتي خدماتو په چمتو کولو کې دې ټکو ته پام وکړي. په پای کې، سیګار کشف کړه چې د بیارغونې په برخه کې د بهرنیو چارو وزارت بلاعوضه مرستې او تعاوني موافقت لیکونه ندي تفتیش شوي. د سیګار مالي پلټنې چې د 942 میلیون ډالرو په اړه یې تحقیقات کوله د 49 میلیون ډالرو په ارزښت یې مشکوک مصارف په ګوته کړل.

د تعلیمي ودانیو په اړه د سیګار تفتیش وموندله چې په یادو ودانیو کې دوموره درغلي شوې ده چې د ښونکو او زده کونکو ژوند یې له خطر سره مخ کړې ده. سربیره پردې، سیګار د خپل خبردارۍ لیکونو له لارې د امریکا دفاع وزارت او USAID ته خبر ورکړ چې د متحده ایالاتو د پام وړ فنډونه له ضایع کیدو سره مخ دي. د بیلګې په توګه، سیګار د 64,000 فوټ مربع په ساحه کې د یوې ودانۍ په اړه خبر ورکړ چې هیڅکله هم شاید و نه کارول شي،

## د پلټنې خبردارۍ لیکونه

- 13-2 خبرداری: د جنوبي سیمې د کرهنیزې پراختیا پروګرام
- 13-3 خبرداری: د افغان حکومت لخوا وضعه شوي جریمې، فیسونه او تاوانونه
- 13-4 خبرداری: د لیدرنیک کمپ سونځایونه او سر خلاصې کندې
- 13-5 خبرداری: کیمونکس انترنیشنل
- 13-6 خبرداری: دقانون د نړیواله پرمختیا موسسې سره د بهرنیو چارو وزارت موافقت لیک

## بشپړې شوې پلټنې

- 13-8 پلټنه: په افغانستان کې پر قرارداد کونکو وضعه شوي سوداګریز مالیات
- 13-12 پلټنه: د بهرنیو چارو وزارت کومکي قراردادونه
- 13-13 پلټنه: افغان د ځانګړې ماموریت څانګه
- 13-14پلټنه: د دښمن سره قرار داد کول
- 13-15پلټنه: د افغانستان عامه محافظت ځواک
- 13-16پلټنه: په مهمو سیمو کې د ثبات پروګرامونه

## بشپړ شوي تفتیشات

- 13-9 تفتیش: د شبرغان د ښوونکو د روزنې ودانۍ
- 13-10 تفتیش: د بېځاک ښوونځی

## د بشپړې شوې ځانګړې پروژو ریوټونه

- 13-8 ځانګړې پروژه: د پلچکونو مخه نیونکي سیستمونه

## د ځانګړي پروژو خبردارۍ لیکونه

- 13-4 اداري خبرداری: فرعي قرار داد کونکي د تادیه نه ورکولو مسایل
- 13-5 د خوندیتوب خبرداری: د بېځاک ښوونځی
- 13-6 د خوندیتوب خبرداری: د شبرغان د ښوونکو د روزنې ودانۍ
- 13-7 اداري خبرداری: په لیدرنیک کمپ کې د قوماندې او کنترول ودانۍ

او همدارنګه داسې یو کرهنیز پروګرام یې په ګوته کړه چې کمزوری پلان جوړونه او نامناسبه څارنه یې درلوده.

د دې رپوټ په دوره کې ، سیګار د پارلمان د دولتي اصلاحاتو او څارنې کمیټې ته د کابل بانک د بحران په اړه یو ځانګړی لنډ راپور وړاندې او یوه دقیقه بیاکتنه یې ترسره کړه چې په ترڅ کې یې د تطبیق کونکو ادارو څخه غوښتنه وکړه چې د خپلو غوره پروژو څخه یو تحلیل چمتو کړي.

د ضیاع، درغلي، او ناوړه کارونې د موندلو او مخنیولو سربیره، سیګار هڅه کوي د متحده ایالاتو ادارو او کانګرس ته داسې سپارښتنې وړاندې کړي چې په مرسته یې د بیارغونې په برخه کې د متحده ایالاتو تقریباً 97 میلیارډ ډالرو په موثریت او کارونه کې وده رامنځته شي. د کانګرس غړو په دې ربعه کې د سیګار د کارونو په اساس وړاندې شوې قوانین په خپل پلان کې ونیو.

## د سیګار د کارونو په اساس وړاندې شوي قوانین

د رپوټ پدې دوره کې سنا او پارلمان دواړه د 2014 مالي کال د دفاع ملي واکمنۍ د صلاحیت د قوانینو په مسوده کې د سیګار موندنو او سپارښتنو ته ځای ورکړې دې. پارلمان چې د NDAA د 2014 مالي کال نقل یې د 2013 کال د جون په 14 تصویب کړې وه، 841 برخه یې تمدید کوي کوم چې د مرکزي قوماندې له قوماندان څخه غوښتنه کوي څو د دښمن سره د قرارداد مخه نیولو لپاره اړین ګامونه پورته کړي، او همدارنګه دفاع وزارت ته واک ورکوي تر څو هغه قراردادونه لغو کړي کوم چې د متحده ایالاتو یا ایتلافي ځواکونو د مخالفینو او جنګیالیو ډلو سره مرسته کوي.

د دې قانون نور شرایط د دفاع وزارت څخه غوښتنه کوي تر څو خپل هغه معیارات رابرسیره کړي چې له مخه یې دا تضمین کوي چې د متحده ایالاتو په پیسو او د متحده ایالاتو د تحریماتو پر خلاف د ایران څخه تیل نه پیرودل کیږي، هغه مالیات بیرته واخلي چې د افغان حکومت لخوا برآورد شوي و، او د 2015 کال د جنوري له 1 څخه وروسته د زیربناو د کارولو او ساتلو په اړه د افغان امنیتي ځواکونو د ظرفیت په اړه معلومات ورکړي. دا شرایط د سیګار د لاندې څلورو رپوټونو په اساس وړاندې شوي دي:

- د دښمن سره قرارداد تړل: د امریکا دفاع وزارت ډیر محدود تضمین ورکولی شي چې له دښمن سره تړاو لرونکي قراردادیان په نښه او قراردادونه یې لغوه کړي (13-6 پلټنه)
- افغان ملي امنیتي ځواکونه: د وارد شوي تیلو محدوده څارنه دا خطر زیاتوي چې د متحده په فنډ اخیستل شوي تیل د متحده ایالاتو لخوا پر ایران د لګول شوي اقتصادي تحریماتو پر خلاف وي (د ځانګړي پروژې رپوټ 13-2)
- مالیات: افغان حکومت پر هغو قراردادیانو چې په افغانستان کې د متحده ایالاتو څخه قراردادونه اخلي نږدې یو میلیارډ ډالر مالیه وضعه کړې ده (13-8 پلټنه)
- د افغان ملي امنیتي ځواکونو تسهیلات: د تسهیلاتو د کارونې او ساتنې د فنډونو، څارنې، او پایښت په اړه اندیښنې (13-1 پلټنه)

د سنا د پوځي خدماتو کمیټه هم چې د NDAA د 2014 مالي کال نقل یې د 2013 کال د جون په 20 تصویب کړې وه، 841 برخه یې تمدید کوي. لکه څنګه چې سیګار سپارښتنه کړې وه، یاده کمیټه به د دفاع وزارت څخه وغواړي تر څو په افغانستان کې د فاضله موادو

د سوځولو لپاره د سرخلاصه کندو د نه کارولو په اړه د خپلو هڅو رپوټ وړاندې کړي. یادې کمیټې د سیګار لاندې رپوټونه په پام کې نیولې ده:

- د دښمن سره قرارداد ترل: د امریکا دفاع وزارت ډېر محدود تضمین ورکولی شي چې له دښمن سره تړاو لرونکي قراردادیان په نښه او قراردادونه یې لغوه کړي (13-6 پلټنه)
- فاروړد آپریټینګ بیس سالیرنو: د ناسمه پلان جوړونې له امله 5 میلیون ډالر د فاضله موادو نه کاریدونکي سونځای په جوړولو مصرف شو او اضافي مواد لا تر اوسه هم په سرخلاصه کندو کې سوځول کیږي (13-8 تفتیش)

## سناتورانو پر دفاع وزارت فشار راولي تر څو د سیګار سپارښتنې عملي کړي

وروسته له هغه نه چې د افغان ځانګړی ماموریت د څانګې څخه د متحده ایالاتو د ملاتړ په اړه د سیګار رپوټ په تیره ربعه کې خپره شوه، نو د سنا یوه دوه حزبې ډله چې د نهه تنه سناتورانو څخه جوړه وه د دفاع پر وزیر چک هیګل فشار راوست تر څو د 48 روسي الوتکو اخیستلو لپاره د دفاع وزارت پر پلان بیا نظر وکړي. افغان حکومت SMW د دې لپاره تاسیس کړه چې د افغان ملي پوځ د ځانګړو عملیاتونو ځواک سره په بحراني هوایي عملیاتونو کې مرسته وکړي کوم چې اساسي ماموریت یې د مخدره توکو د قاچاق او تروریزم په وړاندې مبارزه ده. متحده ایالاتو د 771 میلیون ډالرو په ارزښت قراردادونه لاسلیک کړي تر څو 48 نوي الوتکې واخلي او په پلان کې لري چې د دې الوتکو د څارلو، ساتلو، ترینګ، او لوجیستیکي مرستې لپاره په سلهاو میلیونه ډالر مصرف کړي. د سیګار پلټنه وموندله چېSMW د دې الوتکو د کارولو او ساتلو ظرفیت نلري او د دفاع وزارت څخه یې غوښتنه وکړه ترڅو د 48 نوي الوتکو د اخیستلو ټول قراردادونه تر هغه وخته پورې شاته واچوي چې SMW ټاکل شوي شرایطو ته ورسیږي. د دې پلټنې د بشپړ لنډیز لوستلو لپاره 30 مخ وګورئ.

د کانګرس ګڼو غړو د سیګار د یو خبرداری لیک په ځواب کې چې په افغانستان کې یې د پوځیانو لخوا په سرخلاصه کندو کې د فاضله موادو د سوځولو په اړه دفاع وزارت او کانګرس ته استولې وه، د دفاع وزارت څخه یې غوښتنه وکړه څو په افغانستان کې د سرخلاصه کندو کارونه بنده کړي. دوی اشاره وکړه چې په سرخلاصه کندو کې د فاضله موادو سوځول په بالقوه ډول د هغو امریکایي سرتیرو او ملکي وګړو روغتیا له ګواښ سره مخ کوي چې په افغانستان کې د بادوامه خپلواکي له عملیاتونو سره مرسته کوي. د یاد خبرداری لیک خلاصه د دې رپوټ په 21 مخ کې وګورئ.

## سیګار دقیقه بیا کتنه ترسره کوي

د ځانګړی مفتش د عامه چارو دفتر مسولیت لري چې د پروفیشنلزم او همغږې لوړ معیارونه او بیا په سر کې یې ښه حکومتولي ته لاره هواره کړي تر څو د عامه خلکو اعتماد لاسته راوړي. د همدغه مسولیت پر بنیاد، د همغږۍ او موثریت لپاره د ځانګړو مفتشینو ټولنه د سیګار څخه غوښتنه وکړه تر څو د ځانګړی مفتش په دفتر کې د پنشن بینیفیټ ګارنټي کارپوریشن په اړه یوه دقیقه بیاکتنه په لاره واچوي. د سیګار مسولیت دا دی چې د PBGC-OIG د کیفیت کنترول کولو سیسټم او همدارنګه د حکومت د پلټنې له منل شوو معیارونو سره یې د توافق په اړه خپل نظر وړاندې کړي.

سیګار پدې ربع کې د خپل بیاکتنې له پای ته رسولو څخه وروسته نتیجه ګیري وکړه چې PBGC-OIG د کامیابۍ نمبر اخلي خو ځینې نواقص لري. سیګار د پلټنې پلان جوړولو، د پلټنې د نتایجو په اړه رپوټ ورکول، او د کیفیت د کنټرول او تضمین په سیستمونو کې نیمګړتیاو ته اشاره وکړه. د دې لپاره چې PBGC-OIG عامه خلکو ته د اعتماد وړ او هدف لرونکې معلومات وړاندې کړي حتماً باید دا نواقص لرې کړي.

PBGC-OIG د سیګار دا نمبر ونه منله. د دې اداري غبرګون د PBGC-OIG لخوا د پلټنې رپوټونو کې د خپلواکۍ د بالقوه نشتوالی په اړه د اندیښنو د زیاتیدو لامل شو. سناتور چارلز ګرسلې PBGC ځانګړی مفتش ته په خپل یو خط کې لیکلي و، "غواړم تاسو ته خبر درکړم چې خپلواکي د ځانګړی مفتش د لایحې او د تفیش د دندې لپاره د زړه او روح حیثیت لري." یاد سناتور همدارنګه غوښتنه وکړه چې PBGC ځانګړی مفتش د هغو ملاحظاتو وضاحت ورکړي کوم چې د ځانګړی مفتش د خپلواکۍ په اړه وارد شوي او دا معلومات دې هم ورکړي چې د ده اداره هغو ستونزو ته څنګه رسیدګي کوي چې په دقیقه بیاکتنه کې ورته اشاره شوې ده.

## پلټنې

دا ربعه سیګار د کړنو څخه د پلټنې په اړه شپږ رپوټونه، د قراردادونو د مالي پلټنې 11 رپوټونه، او په څنګ کې یې پنځه د پلټنو خبرداری لیکونه چې د پلان جوړونې، د قرارداد څخه نظارت، او حساب ورکونې په شمول د مصونیت ځینې جدي ستونزو ته پکې اشاره شوې وه، خپرې کړي. سیګار د دوه مالي پلټنو په شمول چې د افغانستان د بیارغونې په برخه کې د متحده ایالاتو د فنډونو پلټنه کوي، اووه نوې پلټنې اعلان کړې.

## د خبرداری لیکونه

د امنیتي، سیاسي، او اقتصادي مسایلو د لیرد له بشپړیدو سره د متحده ایالاتو پوځي قوماندانان او ملکي چارواکو له سیګار څخه غوښتنه وکړه چې د بیارغونې پروګرامونو په برخه کې دمتحده ایالاتو د فنډونو د ضیاع مخه نیولو او د موثریت زیاتولو لپاره د وضعیت په اړه پرله پسې او پرته ځنډه معلومات چمتو کړي. د سیګار یوه مهمه موخه دا ده چې تطبیق کونکو ادارو او کانګرس ته په داسې وخت کې د عملي کیدو وړ معلومات چمتو کړي چې لاهم د تغیر راوستو لپاره وخت پاته وي. د دې رپوټ په دوره کې، سیګار دفاع وزارت، د بهرنیو چارو وزارت، او USAID ته د مهمو مسایلو په اړه چې بیړنی توجه ته یې اړتیا درلوده نهه خبرداری لیکونه واستوله. د پلټنو او تفتیشاتو ریاست د دې خبرداری لیکونو څخه پنځه یې د دې لپاره استولې وه چې د USAID یو زراعتي پروګرام کې د 70 میلیونه ډالر ضایع کیدو او ناسم مدیریت ته د یادو ادارو پاملرنه جلب کړي، تقریبا 1 میلیارډ ډالر مالیاتو ته دوی متوجه کړي چې افغان دولت د متحده ایالاتو پر قراردادیانو وضعه کړي، او همدارنګه په دوو قراردادونو کې د حساب ورکولو ستونزو ته اشاره کړې ده. د سیګار د ځانګړو پروژو دفتر هم د مدیریت او مصونیت په اړه څلور خبرداری لیکونه استولي دي. په 53–56 مخونو کې د دې لیکونو لنډیز موندلی شی.

### 2-13 خبرداری: د جنوبي سیمې د کرهنیزې پراختیا پروګرام کمزوری همغږي، د ضیاع خطر او کمزوری مدیریت درلوده

د 2013 کال د جون په 27 سیګار په کابل کې د متحده ایالاتو چارواکو ته خبر ورکړ چې د USAID په فنډ یو زراعتي پروګرام کې د ضایع کیدو او کمزوری مدیریت په اړه یې لویې ستونزې موندلې دي. سیګار خپله بیاکتنه وروسته له هغه شروع کړه چې د نړیواله

### د پلټنې خبرداری لیکونه

- 2-13 خبرداری: د جنوبي سیمې د کرهنیزې پراختیا پروګرام کمزوری همغږي، د ضیاع خطر او کمزوری مدیریت درلوده.
- 3-13 خبرداری: افغان حکومت اضافي جریمې، فیسونه او تاوانونه وضعه کوي چې کیدی شي د متحده ایالاتو حکومت ته یې لګښت میلیونو ډالر ته ورسیږي
- 4-13 خبرداری: د لیډرنیک کمپ سونځایونه، سر خلاصه کندې اوس هم کارول کیږي
- 5-13 خبرداری: د کیمونکس انټرنیشنل، انکارپوریشن په اړه اندیښنې د فیدرالي قرارداد تر واک لاندې خپل مسولیت پوره کول
- 6-13 خبرداری: دقانون د نړیواله پرمختیا موسسې سره د بهرنیو چارو وزارت موافقت لیک جدي نواقص لري



**د اوبو نه کاريدونکې پمپونه** چې د د کرهنيز اصلاحاتو پروژې لخوا چمتو شوي، د باندې په ذخيره کې ليدل کيږي. (د سيګار انځور)

سوکالي او پراختيا سره د 70 ميليونه ډالرو په ارزښت د يوه تعاوني موافقت ليک په اړه يې د شکاياتو يوه لړۍ ترلاسه کړه. IRD په جنوبي سيمه کې د USAID د کرهنيزه پراختيايي پروګرام (S-RAD) پلي کوي. د S-RAD پروګرام په 2011 کال کې د دې لپاره شروع شوی و چې (1) په سيمه کې بې ثباتي کمه کړي، (2) د زراعتي کارونو او عايداتو موقې زياتې کړي، (3) د سيمې د ليرد سره د يوه نيکبخته او پايداره زراعتي اقتصاد په راوستو کې مرسته وکړي، او (4) د افغان خلکو اعتماد پر خپل حکومت زيات کړي. د دې موخې ترلاسه کولو لپاره ياد پروګرام د کندهار او هلمند ولايتونو په 17 ولسواليو کې افغان بزګرانو او زراعتي همکارانو ته تجهيزات، زراعتي مرستې، او ترينګونه وړاندې کړ.

سيګار د دې پروګرام په تطبيق کې ځينې ستونزې معلومې کړي دي:

- IRD د S-RAD د پروژې هغو فعاليتونو په اړه چې سيګار کتلې ده موثره همغږي او اجرات نه درلوده.
- IRD د وسايلو —ټکټران، شمسي تختې، او زراعتي مرستې— د ويش په برخه کې دخپل کاري پلان څخه انحراف کړې ده، پدې معنا چې يا يې په پلان کې د ښودل شوي وسايلو څخه قيمتي شيان اخيستي يا هم داسې وسايل يې اخيستي چې له سره په پلان کې يادونه نده شوې.
- USAID د پروګرام څخه سمه څارنه نده ترسره کړې.

په اصلي کاري پلان کې د دوه ټيره ټکټرانو اخيستلو ته اشاره شوې وه پداسې حال کې چې IRD د 1.68 ميليون ډالرو په ارزښت 95 څلور ټيره ټکټران يې اخيستي دي. د IRD چارواکو سيګار ته ويلي چې دوی د څلور ټيره ټکټرانو پريکړه ددې لپاره اخيستې ده چې ځينې افغاني چارواکو دوی ته ويلي چې دوی نور دوه ټيره ټکټران چې د فارم همکارانو ته ورکول شوي، نه غواړي. پهرصورت، دوه ټيره ټکټران د ځمکې وړو ټوټو لپاره چې ساحه يې تنګه وي، ډيره مناسبه بلل کيږي. يوه تعقيبي څيړنه معلومه کړه چې د 95 ټکټرانو دريمه برخه چې په کندهار کې ويشل شوي و، په ساحه کې د ځاييدو وړ ندي.

امريکايي او افغاني چارواکو په وار وار سره د IRD د لوړ لګښت او مشکوکه قيمتونو په اړه يې چې د شمسي تختو او زراعتي مرستو په برخه کې کاروي، انديښنې څرګندې کړي. IRD د شمسي تختو اخيستلو ته سره له دې ادامه ورکړه چې امريکايي چارواکو د غلا، بيرته خرڅولو، او ناوړه کارونې خطر ته اشاره کړې وه. امريکايي او افغاني چارواکو وايي چې د دانو، نيالګيو، او کيمياوي کوډ د ويشلو په برخه کې د IRD کړنلاره اداري فساد، د بازار د بيو خرابيدنه، او په داسې بحراني سيمو کې بې ثباتي ته لاهم زمينه برابره کړې ده، حال دا چې پروګرام په دې سيمو کې د ثبات راوستو لپاره پيل شوی دی.

که څه هم ياد پروګرام پای ته رسيدلې ده، سيګار خپلې موندنې د خبرداری ليک په بڼهUSAID ته وسپارله تر څو په راتلونکې کې د زراعتي پراختيا په پروګرامونو کې ورته پام وکړي.

## 13-3 خبرداری: افغان حکومت اضافي جريمې، فيسونه او تاوانونه وضعه کړي چې کيدی شي د متحده ايالاتو حکومت ته يې لګښت ميليونو ډالر ته ورسيږي

د 2013 کال د جون په 28، سيګار د خپل يوې پلټنې په تعقيب چې د دې ربعې په سر کې يې خپره کړې وه، کانګرس ته د يو ليک په بڼه خبر ورکړ چې افغان حکومت د متحده ايالاتو پر قراردادیانو باندې اضافي فيسونه، جريمې او تاوانونه وضعه کوي. ياده پلټنه معلومه کړه

چې افغان حکومت پر هغو قراردادیانو باندې چې د متحده ایالاتو د عملیاتونو څخه ملاتړ کوي نږدې 1 میلیارډ ډالر سوداګرې مالیات او تاوانونه وضعه کړي. (13-8 پلټنه وګورئ، مالیات: افغان حکومت پر هغو قراردادیانو چې په افغانستان کې د امریکا دولت د هڅو څخه ملاتړ کوي نږدې یو میلیارډ ډالر سوداګریز مالیات وضعه کړي، د دې بهیر لنډیز د همدې رپوټ په 27 مخ کې موندلی شئ.)

دا خبرداری لیک څلور ډوله اضافي لګښتونه په ګوته کړي: د ګمرکي بهیر فیسونه، د ګمرکي اسنادو په جوړولو کې د تاخیر له امله وارد شوي جریمې، د ویزه او د کار د جواز فیسونه، او د سوداګرۍ د جواز او ثبت کولو فیسونه. دا اضافي لګښتونه، جریمې او تاوانونه کیدای شي دغه قراردادیان او په نهایت کې د متحده ایالاتو حکومت په سلهاوو ډالره تاوانې کړي. برسیره پردې، کوم اقدامات چې د افغان دولت لخوا د یادو پریکړو د پلي کولو لپاره په پام کې نیول شوي دي، کیدای شي د امریکا د پوځ په عملیاتونو ناوړه اغیزه وکړي.

د متحده ایالاتو حکومتي ادارې، لکه دفاع وزارت، د افغان دولت سره داسې نړیواله موافقت لیکونه لاسلیک کړي چې له مخه یې په افغانستان کې د متحده ایالاتو پوځي ماموریت څخه د ملاتړ لپاره ټول هغه مواد چې افغانستان ته واردیږي د افغان ګمرکي تعرفو او مالیاتو څخه معاف شمیرل کیږي. پهرصورت، افغان دولت د دفاع وزارت د تجارتي ناقلینو څخه د هر کانټینر په بدل کې چې د متحده ایالاتو د پوځي عملیاتونو څخه د ملاتړ لپاره افغانستان ته داخلیږي، ګمرکي مالیات اخلي، که څه هم دا کانټینرونه د مالیاتو څخه معاف منل شوي و.

د امریکا او افغان حکومتونو تر منځ د شوي موافقت لیک څخه د واضحه سرغړونې په توګه افغان دولت دګمرکي تعرفو د "ناوخته" اخیستو له امله هم جریمې وضعه کړي. د متحده ایالاتو د پوځ د پوځي خدماتو د استخدام او ویشلو د قوماندې یو چارواکی وایي چې افغان دولت د 2009 کال څخه د 2013 کال تر مې پورې د ګمرکاتو د اعلامیې فورمو په نه ډکولو یې د 150 میلیون ډالرو په اندازه ناسمې جریمې وضعه کړې دي. برسیره پردې، افغان حکومت پر تجارتي ناقلینو بندیز لګولې ده چې خپل باري موټرونو ته —هغه خوراکي شیان چې دمتحده ایالاتو ځواکونو او نړیوال سوله ساتي ځواکونو ته وړل کیږي— په ازادانه ډول حرکت ورکړي، چې دا کار د امریکا دولت جنګي ماموریت او د بیارغوني هڅو ته په افغانستان کې شدید زیان رسولې ده.

افغان حکومت له قرارداد کونکو څخه غواړي چې د خپل هر غیر افغاني کارکونکي لپاره په کلنۍ ډول ویزه او د کار جواز ترلاسه کړي. د افغان دولت او امریکایي ادارو تر منځ ځینې موافقت لیکونه په څرګند ډول ځینې امریکایي پرسونل د ویزې له اخیستلو معاف کوي خو ځینې نور موافقت لیکونه بیا پدې اړه کوم نظر نده ورکړی. سیګار د ویزې او د کار د جواز اخیستلو په اړه یوه تجزیه ترسره کړه او په ترڅ کې یې وموندل چې دا کارونه په کلنۍ ډول د هر کار کونکي په سر تقریبا 1,138 ډالر مصرف لري.

د ټولو قرارداد کونکو څخه چې په افغانستان کې د امریکا حکومت ملاتړ کوي غوښتل شوي چې هر کال د افغانستان د پانګه اچونې څخه د ملاتړ ادارې سره ځان ثبت او د سوداګرۍ جواز تر لاسه کړي. د سوداګرۍ د جواز اخیستو لپاره هر کال د صنعتي سکټور په اساس د 100 ډالرو څخه تر1,000 ډالرو پورې لګښت راځي. په 2012 کال کې لږ تر لږه 1,138 شرکتونه په افغانستان کې د متحده ایالاتو د عملیاتونو څخه په ملاتړ بوخت و.

لکه څنګه چې کانګرس د افغانستان لپاره راتلونکی تخصیصات معلوموي، سیګار باور لري چې د دې مصارفو او د متحده ایالاتو پر عملیاتونو یې د اغیزې په پام کې نیول ډېر ضروري دي.

## 4-13 خبرداری: په لیدرنیک کمپ کې د جامدو فاضله شیانو د لرې کولو اوسنی میتودونو ته کتنه

سیګار په جولای میاشت کې د CENTCOM او دمتحده ایالاتو قوماندانۍ-افغانستان، قوماندانانو ته په سرخلاصه کندو کې د جامدو فاضله شیانو د صحي خطرونو په اړه خبرداری ورکړ کوم چې د هلمند ولایت په لیدرنیک کمپ کې کارول کیده. هغه زهري مواد چې هره ورځ د جامدو شیانو د سوځولو څخه هواته پورته کیږي په اوږدمهال کې د کمپ پرسونل ته روغتیایي خطرونه زیاتوي.

دا کمپ چې اوسمهال 13,500 امریکایي پوځیان او ملکي وګړي پکې اوسیږي، د خپل 54 ټنه فاضله موادو د منځه وړلو لپاره چې هره ورځ یې تولیدوي د سرخلاصه کندو او سونځایونو څخه په ګډه استفاده کوي. که څه هم لیدرنیک کمپ د 11.5 میلیون ډالرو په ارزښت دوه 12-ټنه او دوه 24-ټنه ظرفیت لرونکي سونځایونه اخیستي او نصب کړي دي، خو د سیګار مفتیشونه معلومه کړه چې 12-ټنه ظرفیت لرونکي سونځایونه د خپل پوره ظرفیت په اندازه نه کارول کیږي، او 24-ټنه ظرفیت لرونکي لاتراوسه بالکل ندي کارول شوي د دې لپاره چې تراوسه یې د کارولو قرارداد ندی لاسلیک شوی. په نتیجه کې، د لیدرنیک کمپ د دفاع وزارت د لارښود څخه په ښکاره سرغړونې د خپل جامدو فاضله موادو د منځه وړلو لپاره د سرخلاصه کندو څخه کار اخلي.

د کمپ چارواکو سیګار ته وویل چې د 24-ټنه ظرفیت لرونکی سونځای د کارولو او ساتنې لپاره یو قرارداد په نژدې کې لاسلیک کیږي، او د 2013 کال د جولای تر پایه به د سیمې یوې کندې ته د خزلو د انتقال لپاره د 1.1 میلیون ډالرو په ارزښت یو قرارداد لاسلیک شي. د سیګار تحلیل اشاره کوي چې د سونځایونو موثریت او ګټورتیا باید دې کچې ته ورسیږي چې کمپ نور د سرخلاصه کندو د کارونې څخه بې نیازه شي او همدارنګه د خزلو د انتقال لپاره باید نور قرارداد تړلو ته اړ نشي.



**په لیدرنیک کمپ** کې د سرخلاصه کندو د اور لوګی. (د سیګار انځور)

سیګار پوځي قوماندانان هڅوي تر څو تضمین کړي چې سونځایونه په خپل پوره ظرفیت کارول کیږي، او همدارنګه د سیمې یوې کندې ته د خزلو انتقال لپاره د قرارداد ترلو پر اړتیا له سره غور وکړي.

## 5-13 خبرداری: د کیمونکس انترنیشنل، انکارپوریشن مالي پلټنه

د 2013 د جولای په 2، سیګار USAID ته یو لیک واستوله چې د کیمونکس انترنیشنل په نوم د امریکا یو قراردادي د انکار کولو خبره یې پکې روښانه کړې وه. (کیمونکس) باید مفتشینو ته ټول غوښتل شوي معلومات چې د مالي پلټنې په ترځ کې یې غواړي چمتو کړي. سیګار د USAID څخه غواړي چې د 13.5 میلیون ډالر مشکوک مصارفو په اړه ځانګړی توجه وکړي، کیمونکس ته د فیدرالي مفتشینو سره د همکارۍ په برخه کې خپل مسولیتونه په یاد کړي، او د راتلونکي قراردادونو او د قرارداد د تغیراتو په ارزولو کې چې کیمونکس پکې دخیل وي، د مالي پلټنې په نښه کړي موارد په پام کې ونیسي. د کیمونکس د مالي پلټنې خلاصه په 41 مخ کې وګورئ.

## 6-13 خبرداری: دقانون د نړیواله پرمختیا موسسې سره د بهرنیو چارو وزارت موافقت لیک جدي نواقص لري

سیګار د بهرنیو چارو وزارت ته د افغانستان د قضایي ترینګ د لیږد پروګرام د نواقصو په اړه خبرداری ورکړ کوم چې د بهرنیو چارو وزارت د نړیوالو مخدره توکو او د قانون پلي کولو د چارو د اداري لخوا پلي کیږي. د قانون د حاکمیت پروګرامونو په برخه کې د بهرنیو چارو وزارت په روان تفتیش کې سیګار ومونده چې INL د افغانستان د قضایي سکتور ټول ترینګونه یې په انحصاري ډول د قانون د نړیواله پرمختیا موسسې سره لاسلیک کړي دي. په داسې یو قراداد کې چې کیدای شي لګښت یې د امریکا مالیه ورکونکو ته 50 میلیون ډالرو پورې ورسیږي، داسې اساسي شرایط ندي ذکر شوي کوم چې له مخه یې INL مناسبه څارنه او ارزونه تضمین کړي. سربیره پردې، د هغو ابتدایي معلوماتو د مخې چې د سیګار مفتشینو ټول کړي معلومیږي چې IDLO د JTTP په برخه کې د امریکا د مالیه ورکونکو د فنډونو اداري او حساب ورکونې ته کافي چمتو والی نلري.

سیګار د بهرنیو چارو وزارت څخه غوښتنه کوي څو د IDLO سره د INL په قرارداد کې نواقص وڅاري او همدارنګه هغه شرایط معلوم کړي چې د هغې پر بنا د JTTP د یوې برخې تطبیق د IDLO سره قرارداد شوی. علاوه پردې، سیګار د بهرنیو چارو وزارت څخه غواړي څو د افغانستان د بیارغونې په برخه کې ټول ورته قراردادونه، بلاعوضه مرستې، او موافقت لیکونه تر بیاکتنې لاندې ونیسي او یقیني کړي چې د څارنې لپاره مناسب اهتمامات په پام کې نیول شوي دي.

## د پلټنې خپاره شوي رپوټونه

سیګار پدې ربعه کې د پلټنې شپږ رپوټونه خپاره کړل، چې پر قراردادیانو باندې د افغان دولت مالیات، د بهرنیو چارو وزارت لخوا د بلاعوضه مرستو او تعاوني موافقت لیکونو څارنه، د دښمن سره د قرارداد مخه نیولو لپاره د بهرنیو چارو وزارت او USAID هڅې، د مخدره توکو او تروریزم سره د جګړې لپاره د افغان ځانګړی ماموریت ځانګې د جوړولو لپاره د دفاع وزارت پروګرام، د افغان عامه محافظت ځواک وضعیت، او د USAID د ثبات راوستلو پروګرام یې پکې څیړلي و.

### بشپړې شوې پلټنې

- 8-13 پلټنه: مالیات: افغان دولت پر هغو قرارداد کونکو چې په افغانستان کې د متحده ایالاتو د هڅو ملاتړ کوي شاوخوا یو میلیارډ ډالر تجارتي مالیه وضعه کړې ده
- 12-13 پلټنه: د افغانستان د بیارغونې په برخه کې د بهرنیو چارو وزارت کومکي قراردادونه په لویه کچه ندي تفتیش شوي
- 13-13 پلټنه: افغان د ځانګړی ماموریت خانګه: د امریکا دفاع وزارت غواړي د 771.8 میلیون ډالرو په ارزښت داسې الوتکې واخلي چې افغانانو یې د کارولو او ساتلو ظرفیت نلري
- 14-13 پلټنه: د دښمن سره قرار داد کول: د بهرنیو چارو وزارت او USAID د هغو قراردادونو په بندولو کې خواکمن صلاحیت ته اړتیا لري چې د دښمن لاسونه پکې موندل شوي وي
- 15-13 پلټنه: د افغانستان عامه محافظت ځواک: د دې ځواکونو د لیاقت او لګښتونو په اړه اندیښنې لاهم شته دي
- 16-13 پلټنه: په مهمو سیمو کې ثبات (SIKA): د 16 میاشتو او 47 میلیون ډالر لګولو څخه ورسته USAID لا تراوسه د پروګرام اصلي موخې ندي ترلاسه کړي

## 8-13 پلټنه: پر قرارداد کونکو باندې وضعه شوي ماليات

**ماليات: افغان دولت پر هغو قرارداد کونکو چې په افغانستان کې د متحده ايالاتو د هڅو ملاتړ کوي شاوخوا يو ميليارډ ډالر تجارتي ماليه وضعه کړې ده**

د امريکا دولتي ادارې، د دفاع وزارت، بهرنيو چارو وزارت، او USAID په شمول د افغان دولت سره يې داسې موافقت ليکونه لاسليک کړي چې له مخه يې د دوی ځانګړي قراردادونه د افغان دولت له ځانګړو تجارتي مالياتو څخه معاف شميرل کيږي. د دغو موافقت ليکونو له لارې امريکا غوښتنه کوي چې د متحده ايالاتو په فنډونو د قرارداد کونکو ماليات محدود کړای شي تر څو د امريکا ماليه ورکونکو ته د پروژو لګښت کم پريوځي. پهرصورت، سيګار د 2008 کال څخه راهيسې داسې موارد موندلي چې افغان دولت د هغو قرارداديانو څخه چې د امريکا د هڅو ملاتړ کوي، داسې ماليات يا د مالياتو پورې تړلي مسايلو لپاره جريمې اخيستي کوم چې د لاسليک شوي موافقت ليکونو په اساس بايد معاف شوي وای.

### موندنې

لکه څنګه چې 2.1 جدول ښيي، افغان دماليې وزارت د 2008 کال څخه راهيسې پر 43 قرارداد کونکو چې په افغانستان کې د امريکا د هڅو ملاتړ کوي 921 ميليونه ډالر ماليه يا د مالياتو پورې تړلي جريمې وضعه کړي دي. د دې اندازې څخه، 93 ميليونه ډالر يې هغه ماليات دي چې د تجارتي رسيد او د شرکتونو د کلنۍ عايد په اساس وضعه شوي —افغان دولت او امريکا حکومت دواړه سره توافق لري چې دا ماليه د هغو قراردادکونکو څخه نه اخيستل کيږي چې د يادو موافقت ليکونو تر سيورې لاندې کار کوي. سيګار داسې موارد موندلي چې د قرارداد کونکو څخه داسې ماليات اخيستل شوي دي کوم چې د امريکا او افغان د موافقت ليکونو په اساس بايد معاف شوي وای.

امريکا او د ماليې وزارت چارواکو د فرعي قرارداد کونکو د معافيت په اړه سره مخالفت لري، چې له امله يې په افغانستان کې د متحده ايالاتو هڅې له ځنډ او انقطاع سره شوي. د ماليې وزارت چارواکو ادعا کوي چې د دفاع وزارت او بهرنيو چارو وزارت موافقت ليکونه يوازې لومړنی قرارداد کونکو ته معافيت چمتو کوي. د امريکا دولتي چارواکو بيا ادعا کوي چې د دې موافقت ليکونو په اساس ټول هغه غير افغاني لومړنی او فرعي قرارداد کونکي د ماليې څخه معاف شميرل کيږي کوم چې په افغانستان کې د امريکا د هڅو ملاتړ کوي.

2.1 جدول

**پر هغو قرارداد کونکو باندې دمالياتو معلومول چې د متحده ايالاتو حکومت د قراردادونو سره مرسته کوي**

| اداره | مجموعي ماليه | ډېره کول | سوداګريز رسيدونه او د شرکت د کلنۍ عايداتو ماليه | د معلومولو ور ندی[c] | د قرارداد کونکو شمير |
|---|---|---|---|---|---|
| USAID | 5,458,7138 | 5,223,048 | 235,665 | 0 | 7 |
| د دفاع وزارت | 92,875,298 | 8,671,298 | 62,704,000 | 21,500,000 | 17 |
| د بهرنيو چارو وزارت | 19,095,672 | 5,238,000 | 1,200,000 | 12,657,672 | 8 |
| ګڼې ادارې[a] | 803,967,530 | 25,677,833 | 29,300,000 | 748,989,697 | 11 |
| **ټول[b]** | **921,397,213** | **44,810,180** | **93,439,665** | **783,147,368** | **43** |

يادونې:

[a] د ګڼو ادارو قرارداد کونکي هغه قرارداد کونکي ته وايي چې د دفاع او بهرنيو چارو وزارتونو او USAID مشترکو قراردادونو لپاره کار کوي. د سيګار په نمونه کې د نه قرارداد کونکي معنا دا ده چې د دفاع او بهرنيو چارو وزراتونو او USAID څخه پرته د نورو ادارو سره يې قراردادونه لاسليک کړي.

[b] سيګار هغه شميرې چې په افغانۍ بڼه کې لاسته راوړي د افغانستان بانک د 9/18/2012 نيټې د تبادلې ريټ په اساس يې امريکايي ډالرو ته اړولې دي. دا جدول تاديه شوي او ارزول شوي پيسې ښيي.

[c] ځينې ماليات د معلومولو وړ نه و، ځکه د مالياتو هغه ارزونه چې د افغان دولت لخوا خپور شوي دي ياده برخه يې د مالياتو د ارزولو په کوم کټګوري کې نده راوستې. پهرصورت، سيګار د خپل تحليل په اساس په دې اند دی چې د دې مجموعې شميرې زياته برخه په غير مشروع ډول ټاکل شوې ده.

سرچينه: د قرارداد کونکي معلوماتو په اړه د سيګار تحليل.

د اشاره شوي شخړې او د مالیې وزارت په تخمیناتو کې د ابهاماتو باوجود، 43 قرارداد کونکي چې سیګار په نمونه اې ډول لست کړي و د ټول 921 میلیون ډالر مالیاتو له جملې څخه 67 میلیون ډالر یې ورکړي دي. د مالیې د برآورد ډیری برخه لاهم ندي تصفیه شوي. د مالیاتو د نه تصفیه کولو په نتیجه کې، د مالیې وزارت په ځینو قرارداد کونکو محدودیت وضع کړي او د تجارتي جواز د نوی کولو مخه یې نیولې ده. تر دې پورې چې افغان حکومت ځینې قرارداد کونکي بندیان کړي هم دي.

سیګار همدارنګه معلومه کړه چې د دفاع او بهرنیو چارو وزارتونو قراردادکونکي چارواکي د افغانستان د مالیاتو د قوانینو په اړه سمه پوهه نلري، نو په نتیجه کې یې قرارداد کونکو ته د هغه مالیاتو تاوان چې افغانستان دولت یې ورکړي، په سمه توګه ندي ورکړي. په داسې حال کې چې د دفاع او بهرنیو چارو وزارتونو، او USAID د خپلو لومړنی قرارداد کونکو د مالیاتو د معافیت په برخه کې ځینې اقدامات کړي، خو د فرعي قرارداد کونکو د مالیاتو د معافیت په برخه کې بیا د بهرنیو چارو او دفاع وزارتونه کافي ګامونه ندي پورته کړي.

## سپارښـتنې

سیګار د بهرنیو چارو وزارت څخه غوښتنه کوي چې، د نورو کارونو په څنګ کې، د هغو قرارداد کونکو د مالیاتو په اړه چې په افغانستان کې د امریکا د هڅو ملاتړ کوي، داسې یو ثابت او واحد موقف غوره کړي چې د امریکا دولت یې مناسبه بولي. سیګار همدارنګه د بهرنیو چارو وزارت او USAID څخه غواړي څو معلومه کړي چې آیا بیرته ورکړ شوي مالیات قانوني دي، او د مالیاتو ټول هغه تاوانونه بیرته واخلي چې په ناوړه توګه ورکړ شوي دي. سیګار همدارنګه د بهرنیو چارو وزارت، USAID، د امریکا د پوځي انجینرانو قطعي، او د امریکا د مرکزي قوماندې جاینټ تیاتر سپورټ کانټرکټینګ کمانډ څخه غواړي چې خپل قرارداد کونکو ته داسې کړنلارې جوړې کړي چې له مخه یې د افغان حکومت سره د مالیاتو د معافیت سم اسناد ثبت کړي، په قراردادونو او صورتحسابونو کې د مالیاتو د معلوملو لپاره لارښودونه خپور کړي، او قرارداد کونکو ته د مالیاتو د ناسم تاوان ورکولو د مخنیوی لپاره مناسب اقدامات په پام کې ونیسي. برسیره پردې، سیګار دوه ټکي کانګرس ته هم وړاندې کوي یوه دا چې د هغو مالیاتو په اړه کافي معلومات ولري چې افغان دولت یې پر قرارداد کونکو وضعه کړي، او بله دا چې هر هغه ناسمه مالیې ته رسیدنه وکړي چې د افغان حکومت لخوا وضعه کیږي.

که چیرته د NDAA د 2014 مالي کال بیه تصویب شوه، نو نوي شرایط به د د فاع وزارت څخه غوښتنه وکړي څو هغه مالیات بیرته لاسته راوړي چې د افغان دولت لخوا وضعه شوي دي.

## د ادارې نظر او تبصره

د دې رپوټ د مسودې په اړه خپلو نظریاتو کې C-JTSCC او USACE د سیګار د سپارښتنو سره موافقه لري. د بهرنیو چارو وزارت په دې اړه چې د قرارداد کونکو د مالیاتو په موضوع کې د امریکا دولت د صوابدید په اساس یو ثابت او واحد موقف غوره کړي، په واضحه توګه د سیګار د سپارښتنو سره موافقه یا مخالفت ونکړ؛ خو داسې استدلال کوي چې پدې اړه یو واحد موقف شته دی او دا به نامناسبه وي چې ادعا وکړو د ادارو د موقفونو ترمنځ فرق شته دی. سیګار له دې سره مخالف دی. د سیګار دا موندنه چې قرارداد کونکي ندي توانیدلي د بیلابیلو فیدرالي ادارو څخه د بیلابیلو مالیاتو په اړه لارښودونه ترلاسه کړي، پخپله ښیي چې واقعآ د اداراتو د کړنو ترمنځ توپیر شته دی. د سیګار دې سپارښتنې په اړه چې معلوم کړای شي آیا د مالیاتو په بدل کې ورکړ شوي تاوانونه قانوني دي، او دا چې که چیرته کوم تاوان په ناسمه توګه ورکړ شوی وي بیرته دې واخستل شي، د بهرنیو چارو وزارت نه موافقه وښوده نه هم مخالفت، خو د سیګار څخه یې د تحلیل په اړه د لازیاتو معلوماتو غوښتنه وکړه. سیګار د 2013 کال په جنوري کې د مالیاتو د ډولونو په اړه یې چې کوم معلومات

د یو خروجي کنفرانس څخه لاسته راوړی و، د بهرنیو چارو وزارت ته یې وړاندې کړ. دا معلومات باید د بهرنیو چارو وزارت ته کافي وي چې د سیګار سپارښتنه عملي کړي. که څه هم سیګار هڅه کوي د خپل تحلیل په اړه نور معلومات هم راغونډ کړي، خو دا د بهرنیو چارو وزارت دنده چې معلومه کړي آیا بیرته ورکړ شوي تاوانونه قانوني دي، او ټول هغه تاوانونه بیرته واخلي کوم چې په ناسمه توګه ورکړ شوي دي. USAID د سیګار د سپارښتنو سره نه موافقه وښوده نه هم مخالفت، خو دایې وویل چې وړاندې شوي سپارښتنې تیار پلي کیږي، د پلي کیدو وړ ندي، یا هم یادې ادارې ته کافي معلومات نه ورکوي چې د هغې په رڼا کې خپل عملي اقدامات پورته کړي. سیګار ورسره موافقه نکوي او وایي چې سپارښتنې یې د کافي معلومات او اعتبار درلودونکې دي.

## 12-13 پلټنه: د بهرنیو چارو وزارت بلاعوضه مرستې او تعاوني موافقت لیکونه

### د افغانستان د بیارغونې فعالیتونو په برخه کې د بهرنیو چارو وزارت کومکي قراردادونه ندي تفتیش شوي

د متحده ایالاتو د مقرراتو په اساس چې د مدیریت او بودیجې د دفتر لخوا خپور شوي دي د ټولو غیر فیدرالي ادارو مصارف چې فیدرالي فنډونه مصرفوي د خپلواکه مفتشینو لخوا معاینه کیږي. د OMB په A-133 برخه کې راغلي مقررات په ډاګه کوي چې هغه غیردولتي موسسې چې هر کال د فیډرالي فنډ په چوکاټ کې د 500,000 ډالرو څخه زیات مصارف لري د یو واحد یا د پروګرام پورې مشخص تفتیش په واسطه چې د یو خپلواک مفتش لخوا ترسره کیږي، معاینه کړای شي. لکه څنګه چې مالي پلټنه د فنډونو د سم لګولو او حساب ورکولو په برخه کې مهم رول لوبوي، د همدې لپاره سیګار خپله پلټنه شروع کړه څو معلومه کړي چې تر کومه حده پورې د بلاعوضه مرستو او تعاوني موافقت لیکونو فنډونه تفتیش شوي دي.

#### موندنې

د بهرنیو چارو وزارت د اسنادو په اساس، د 2002 څخه تر 2011 مالي کاله پورې یاد وزارت 140 بلاعوضه مرستې او تعاوني موافقت لیکونه لاسلیک کړي دي چې د هر یو لګښت یې د 1 میلیون ډالرو څخه زیات او مجموعي لګښت یې 315 میلیون ډالر تخمین شوی. د دې قراردادونو څخه یوازې 41 قرارداد —یا 29 فیصده— یې تفتیش شوي دي. په پاتې 99 قراردادونو کې چې ندي تفتیش شوي په مجموعي ډول 191.6 میلیون ډالر مصرف شوي. په راتلونکې مخ کې 2.2 جدول د هغو موسسو لست او د قرارداد شمیرې ښودل شوې، چې ندي تفتیش شوي.

د مالي تفتیش نه اجراکولو دلیل د قرارداد د ګټونکي په اساس فرق درلود:

- د 65 قراردادونو څخه چې د بهرنیو موسسو سره لاسلیک شوي و 50 قرارداد یې پدې دلیل ندي تفتیش شوي چې د بهرنیو چارو وزارت د ټول وزارت په کچه داسې پالیسي نلري چې د دې موسسو د تفتیش غوښتنه وکړي. د دې پر ځای هره اداره ځانته پالیسي لري چې له امله یې د وزارت په کچه د تفتیش په اړه ناسموالی رامنځته شوی.
- د 68 قراردادونو څخه چې د امریکا غیر دولتي موسسو سره لاسلیک شوي و 42 قراردادونه یې پدې دلیل ندي تفتیش شوي چې "لوی پروګرامونه" نه بلل کیده. نور دا چې، درې موسسې چې بیل بیل قراردادونه یې لاسلیک کړي و د A-133 پلټنه یې پدې دلیل نه وه ترسره کړې چې د بهرنیو چارو وزارت لخوا ورته سمه لارښوونه نه وه شوې.

2.2 جدول

**د افغانستان د بیارغونې لپاره د بهرنیو چارو وزارت کمکي قراردادونه، 2011-2002**

| د موسسې ډول | ټول قراردادونه | د قراردادونو مجموعي کچه (په میلیون ډالر)[a] | هغه قراردادونه چې ندي تفتیش شوي | د تادیه شوي پیسو هغه کچه چې تفتیش شوې نه دي (په میلیون ډالر)[b] |
|---|---|---|---|---|
| بهرنۍ موسسې | 65 | 161.3 | 50 | 103.0 |
| د متحده ایالاتو غیر انتفاعي موسسې | 68 | 136.4 | 42 | 75.3 |
| د متحده ایالاتو انتفاعي موسسې | 4 | 9.4 | 4 | 6.7 |
| عامه نړیواله موسسې | 3 | 8.3 | 3 | 6.6 |
| ټول | 140 | 315.4 | 99 | 191.6 |

یادونې: شمیرې په تقریبي ډول لیکل شوي.
[a] د 2012 کال د اګست تر 20 پورې مجموعي شمیر؛ هغه اصلاحات په کې ځای شوي چې په کابل کې د امریکا سفارت لخوا د 2012 کال د ډیسمبر تر 10 نیټې پورې د عامه چارو د برخې لخوا راوستل شوي دي.
[b] د تادیاتو شمیرې د 2012 کال د اکتوبر څخه تر ډیسمبر میاشتې پورې د ګڼ شمیر ادارو او دفاترو څخه لاسته راغلي دي. د هغه اوو قراردادونو په اړه چې د تادیاتو معلومات یې ورک شوي، سیګار د تادیاتو کچه یې د ژمنه شوي پیسو سره یو برابر اټکل کړې ده.

سرچینه: د سیګار 13-12 پلټنه، د افغانستان د بیارغونې په برخه کې د بهرنیو چارو وزارت کومکي قراردادونه په لویه کچه ندي تفتیش شوي.

- 4 قراردادونه چې انتفاعي موسسو ته ورکړ شوي و پدې دلیل نه و تفتیش شوي چې د بهرنیو چارو وزارت نه وه څرګنده کړې چې آیا دا قراردادونه تفتیش کړای شي که نه.
- 3 قراردادونه چې نړیوالو عامه موسسو ته ورکړ شوي و پدې دلیل ندي تفتیش شوي چې د تفتیش پریکړه پخپله د قرارداد ورونکی موسسه نیسي، او د یادو موسسو هیڅ یوه هم د قراردادونو د تفتیش سپارښتنه نه وه کړې.

سیګار د خپل څارنیز مسولیت د یوې برخې په توګه د یو شمیر هغو قراردادونو، بلاعوضه مرستو، او تعاوني موافقت لیکونو مالي تفتیش په لاره اچوي کوم چې فنډ یې د بهرنیو چارو او دفاع وزارتونو، USAID، او د امریکا د کرهنې وزارت لخوا ورکړ شوي دي. د 99 قراردادونو له جملې څخه چې د بهرنیو چارو وزارت ندي تفتیش کړي، سیګار د اتو قراردادونو په اړه چې د دوه بهرني موسسو سره لاسلیک شوي دي، مالي تفتیش په لاره اچوي. د دې قراردادونو مجموعي ارزښت 27 میلیون ډالرو ته رسیږي.

## سپارښتنې

سیګار د امریکا بهرنیو چارو وزارت ته څلور سپارښتنې وړاندې کړې تر څو د افغانستان د بیارغونې په برخه کې د خپلو کومکي قراردادونو حساب ورکونې ته وده ورکړي. په دې سپارښتنو کې د داسې یو پالیسي غوښته شوې وه چې له مخه یې باید د بهرنیو موسسو قراردادونه تفتیش شي، او هم د داسې یو لارښود جوړولو ته اشاره شوې وه چې ټول قرارداد کونکي ته د تفتیش اړتیا روښانه کړي.

## د ادارې نظر او تبصره

د بهرنیو چارو وزارت د رپوټ د مسودې په اړه خپل نظر کې په مجموعي ډول د سیګار سره موافقه کړې او ویلې یې ده چې دا رپوټ د بهرنیو چارو وزارت څخه غواړي تر څو د سیندونو څخه پورې غاړې په چاپیریال کې د فیدرالي کومکونو څخه خپله څارنه زیاته کړي.

## 13-13 پلټنه: د ځانګړی افغان ماموریت څانګه

**د ځانګړی افغان ماموریت څانګه: د امریکا دفاع وزارت غواړي د 771.8 میلیون ډالرو په ارزښت داسې الوتکې واخلي چې افغانانو یې د کارولو او ساتلو ظرفیت نلري**

افغان دولت د 2012 کال په جولای کې افغان د ځانګړی ماموریت څانګه تاسیس کړه تر څو د افغان ملي پوځ د ځانګړي عملیاتونو له ځواک سره په بحراني هوایي عملیاتونو کې مرسته وکړي کوم چې ابتدایي ماموریت یې د مخدره توکو او ترهګری په ضد جنګیدل دی. د هغه وخت نه راپدیخوا، د دفاع وزارت د SMW د پرمختګ لپاره شاوخوا د 122 میلیون ډالرو ژمنه کړې ده، او د 771 میلیون ډالرو په ارزښت یې اضافي قراردادونه د 48 نوي الوتکو د اخیستلو لپاره لاسلیک کړي، او په پلان کې لري چې د دې الوتکو د ساتلو، څارلو، ترینګ او لوجیستیکي مرستو لپاره په سلهاو میلیونه نور ډالر مصرف کړي. دا پلټنه معاینه کړه چې (1) SMW تر کومه حده د خپل موجود او پلان شوي الوتکو د کارولو او ساتلو ظرفیت لري، او (2) د هغه 772 میلیون ډالرو په ارزښت د دوو وظیفوي فرمانونو څخه د متحده ایالاتو د څارنې موثریت چې د SMW د روانې ساتنې، لوجیستیک، او کومکي مرستو لپاره یې چمتو کړي دي.



**د سیګار پلټونکو د الوتکې** د کارمندانو سره یوځای چې په کابل کې د یو ترینګ ماموریت ته ځان چمتو کوي. (د سیګار انځور)

**موندنې**

سیګار د خپل تحقیقاتو په ترځ کې ومونده چې افغانانو —دواړه هم د پرسونل د نظره او هم د مسلکي کسانو د نظره— د SMW موجود او پلان شوي الوتکو د کارولو او ساتلو ظرفیت نلري. د بیلګې په توګه، د 2013 کال د جنوري تر 23 پورې، SMW یوازې 180 کسه پرسونل درلود چې دا شمیره د دې ځانګې د ټاکل شوي شمیرې د څلورمې برخې څخه هم کمه ده. د دفاع وزارت او په افغانستان کې د ناټو د ترینګ ماموریت داسې کوم پلان نلري چې د SMW د بشپړ ځواک موخې او وروستی تاریخ معلوم او پدې سره تصویب شوي الوتکې توجیه کړي. برسیره پردې، د استخدام او ترینګ په وړاندې اوسنی ننګونې د SMW د ودې بهیر یې ورو کړی دی. په دې ننګونو کې د داسې افغانانو موندل چې سواد ولري او ټاکل شوی خنډ نه تیر شي، د 18 څخه تر 20 میاشتو پورې د ارزونې بهیر چې د امریکا لخوا د دې لپاره ترسره کیږي ترڅو د هغه عناصرو مخه ونیسي چې د جرمیاو ترهګري ډلو سره اړیکه لري، شامل دي. د SMW د قوماندې او کنترول په اړه د افغان داخله او دفاع وزارتونو ترمنځ د توافق نشتون هم د SMW پر ودې او ظرفیت منفي اغیز لري.

د امریکا دفاع وزارت داسې کوم پلان ندی جوړ کړی چې د ساتنې او د لوجیستیک مدیریت کولو کارونه افغانانو ته وسپاري. د SMW د اوسنی Mi-17 ډوله 30 چورلکو د ساتنې او ترمیم 50% او د بحراني ساتنې او لوجیستیکي مدیریت 70%، او همدارنګه د پرزه جاتو او نورو موادو تدارکات هم د دفاع وزارت د قراردادیانو لخوا چمتو کیږي.

SMW د ترهګری ضد خپل مسولیتونو پوره کولو لپاره، چې د دې د ماموریت اساسي برخه ده، په پراخه پیمانه د امریکا پر دفاع وزارت تکیه کوي. د 2013 کال د جنوري تر 16 پورې، د 47 پیلوټانو څخه چې د SMW د عملیاتونو لپاره استخدام شوي دي یوازې 7 تنه یې د پرواز لپاره بشپړ روزل شوي او په شپې کې د لیدنې په وسایلو، چې د شپې لخوا د ترهګرو ضد د ډیرو عملیاتونو یو ضرورت دی، سنبال شوي دي.

د دې ستونزو سربیره بیا هم دفاع وزارت غواړي د SMW لپاره 48 نوي الوتکې واخلي. د 2012 کال په اکتوبر کې، د دفاع وزارت د PC-12 ثابت وزر لرونکې 18 الوتکو د اخیستلو لپاره د 218 میلیون ډالرو په ارزښت د سیرا نیوادا کارپوریشن سره یو قرارداد لاسلیک کړ،

او د 2013 په جون کې یې د Mi-17 ډوله 30 الوتکو د اخیستلو لپاره د 553.8 میلیون ډالرو په ارزښت د روسوبورون اکسپورټ سره قرارداد لاسلیک کړ.

سربیره پردې چې SMW د خپل موجود او پلان شوي الوتکو د کارولو او ساتلو په برخه کې د څومره ننګونو سره مخ دی، سیګار دا هم معلومه کړه چې د دفاع وزارت دوه اساسي وظیفوي فرمانونه —چې فعلآ د SMW سره د ساتنې، لوجیستیک، او اکمالاتو په برخه کې مرسته کوي— د کړنې احصاییه نلري او پدې اړه د دفاع وزارت څارنه هم ناکافي ده. د دفاع وزارت د څرخي الوتکو غیر معیاري قرارداد کونکی څانګې کمزوری څارنه د دې لامل شو چې قرارداد کونکی د الوتکې د ساعتونو په اړه ناسم حساب ورکړي او په غیر واقعي ډول خپل چمتو والی وښیي. یاد وظیفوي فرمانونه د کیفیت د تضمین پلانونه نلري، او د سیګار د تفتیش په وخت کې، د دفاع وزارت په کابل داسې صلاحیت لرونکی او په کارپوه پرسونل نه درلوده چې د امریکا د قرارداد کونکو له کړنو څخه څارنه وکړي.

## سپارښتنې

سیګار سپارښتنه کوي چې د دفاع وزارت د تحصیل، تکنالوژۍ، او لوجیستیکي صلاحیتونو په اساس د SMW لپاره د 48 نوي الوتکو د اخیستلو د قراردادونو ټول فعالیتونه تر هغه وخته پورې وځنډول شي چې د افغان داخلې او دفاع وزارتونو ترمنځ د حسن تفاهم قرارداد بشپړ او لاسلیک کړای شي. وروسته له هغه چې د داخلې او دفاع وزارتونو تر منځ حسن تفاهم بشپړ او لاسلیک شو، سیګار سپارښتنه کوي چې د SMW د پرسونل، ساتنې، او لوجیستیکي مرستو لپاره واضحه موخې وټاکل شي، او د دې نوي الوتکو لاسته راوړنه او انتقال هم د دغو موخو له پوره کولو سره وتړل شي.

سیګار همدارنګه سپارښتنه وکړه چې دفاع وزارت افغانانو ته د ساتنې او لوجیستیکي مدیریت د سپارلو لپاره پلان جوړ کړي، او د دوی د کړنو احصاییه او موخې د کارونو په لنډیز کې ځای په ځای کړي تر څو د ساتنې او لوجیستیک په نوي قرارداد کې ورته پاملرنه وشي.

په پای کې، سیګار سپارښتنه وکړه چې د دفاع وزارت قرارداد کونکي چارواکي د دوه وظیفوي فرمانونو په برخه کې د کړنو د متریک په څنګ کې د کیفیت د تضمین پلانونه جوړ کړي؛ دا تضمین ورکړي چې په نوی قرارداد\وظیفوي فرمان کې دا متریک او پلانونه په پام کې نیول کیږي؛ او افغانستان ته داسې یو قرارداد کونکی مامور ولیږي چې د مناسبو وړتیاو په څنګ کې کافي صلاحیت هم ولري ترڅو د SMW د قرارداد کونکو څخه موثره څارنه وکړي.

## د ادارې نظر او تبصره

سیګار د دې رپوټ د مسودې په اړه د دفاع وزیر له دفتر، په افغانستان کې د ناټو دترینګ ماموریت\په افغانستان کې د امنیتي لیږد ګډه قوماندانۍ، د متحده ایالاتو د پوځ د موادو قوماندانۍ، او د NSRWA د قرارداد کونکي څانګې څخه رسمي تبصرې ترلاسه کړې. OSD او NTM-A/CSTC-A د سیګار د هغه سپارښتنې سره موافقه ونکړه چې د SMW لپاره د نوي الوتکو د اخیستلو پلان وځنډوي. دواړو ادارو وویل چې د قرارداد کارونه عملآ پیل شوي او ایساف د افغان حکومت سره د داسې یو منشور په جوړولو بوخت دی چې د بشپړیدو سره سم به د داخلې او دفاع وزارتونو ترمنځ د یو پلان شوی حسن تفاهم کار ورکړي. پهرصورت، سیګار تاکید کوي چې د دغو دوو وزارتونو ترمنځ د توافق رامنځته کیدو څخه وړاندې د الوتکو د اخیستلو په لوري حرکت کول به له احتیاطه لرې ګام وي. سیګار همدارنګه د یادونې وړ بولي چې د دفاع وزارت وړاندې له دې چې د 2013 کال د جون

په 16 د Mi-17s ډوله الوتکو قرارداد لاسلیک کړي د دې رپوټ یوه مسوده یې تر لاسه کړې وه چې د SMW لپاره یې د نوي الوتکو د اخیستلو پلان د څنډولو غوښتنه کوله. OSD او NTM-A/CSTC-A د رپوټ د شپږو نورو سپارښتنو سره موافقه وکړه. د متحده ایالاتو د پوځ د توکو قوماندانۍ دریو سپارښتنو ته چې دوی ته متوجه و ځواب ورکړ او له ټولو سره یې خپله موافقه وښوده. د NSRWA پروژې دفتر د دوو سپارښتنو سره چې دوی ته متوجه وو خپله موافقه وښوده.

## 14-13 پلټنه: د دښمن سره قرار داد کول

### د دښمن سره قرار داد کول: د بهرنیو چارو وزارت او USAID د هغو قراردادونو په بندولو کې ځواکمن صلاحیت ته اړتیا لري چې د دښمن لاسونه پکې موندل شوی وي

د 2013 کال په اپریل کې سیګار د هغه بهیر په اړه رپوټ ورکړ چې دفاع وزارت د NDAA د 2012 مالي کال د بنې 841 برخې —د متحده ایالاتو د مرکزي قوماندې د عملیاتونو په تیاتر کې د دښمن سره د قرارداد ترلو ممانعت— سره د توافق او د یاد قانون د پیاوړی کولو په اساس چمتو کړی و. رپوټ دې ټکي ته اشاره وکړه چې یاد قانون د بهرنیو چارو وزارت او USAID ته دا قانوني واک نه ورکوي چې د هغو کسانو قراردادونه محدود، لغو یا هم مخه یې ونیسي چې د متحده ایالاتو یا ایتلافي ځواکونو سره مخالفت لري.

د سیګار د وړاندېنی رپوټ په تعقیب سره، دا پلټنه (1) هغه بهیر تشریح کوي چې د بهرنیو چارو وزارت او USAID یې د هغو کسانو سره د قرارداد ترلو د مخنیولو لپاره کاروي چې د متحده ایالاتو او ایتلافي ځواکونو سره مخالفت لري، او (2) د هغه صورت بالقوه اغیزې څېړي چې د بهرنیو چارو وزارت او USAID د 841 برخې قانوني واک ونلري.

#### موندنې

د بهرنیو چارو وزارت او USAID دواړه د دې لپاره چې د متحده ایالاتو فنډونه د دښمن جیبو ته لاړ نشي، په افغانستان کې د غیر امریکایي قرارداد کونکو د ارزونې لپاره یې پروسې رامنځته کړې.

د 2012 کال د اکتوبر څخه راهیسې د بهرنیو چارو وزارت ټول هغه غیر امریکایي شرکتونه یې ارزولي دي چې د متحده ایالاتو په فنډ د قراردادونو په سیالي کې برخه اخلي. د بهرنیو چارو وزارت د خطر د ارزولو او مدیریت څانګه هغه معلومات سره مقایسه کوي چې په بیلابیلو ډیټابیسونو (معلوماتي زیرمتون) کې د قرارداد کونکي په نوم ثبت شوي دي تر څو معلومه کړي چې آیا داسې کوم مضر معلومات —چې د دښمنو ډلو سره اړیکه ښیي— د شرکت یا مهمو غړو په اړه یې لاسته راځي که نه. د هغه دفتر مرستیال چې د یادو فعالیتونو فنډ ورکوي وروستی پریکړه نیسي چې آیا دا قرارداد کونکی د بهرنیو چارو وزارت په فنډ د کوم قرارداد د ګټلو وړتیا لري که نه. که چیرته یو قرارداد کونکی شرایط پوره کړي نو دا اعتبارېې تر یو کاله پورې دوام کوي، مګر په هغه صورت کې چې د شرکت کوم مهم غړی تبدیل شي.

USAID هغه ټول غیر امریکایي لومړنی قرارداد کونکي او فرعي قرارداد کونکي یې ارزوي چې د 25,000 ډالرو څخه زیاتو قراردادو په سیالي کې برخه اخلي. په افغانستان کې د USAID ماموریت د ارزونې کومکي واحد د هغه معلوماتي مجموعې بیاکتنه کوي چې د قرارداد کونکي لخوا اخیستل شوي دي تر څو د بهیر په بشپړیدو او دقت کې ترې ګټه واخلي. که چیرته کومه ستونزه پیدا نشي، نو د USAID ماموریت دغه معلوماتي مجموعه په واشنګټن ډي سي کې د اداري امنیتي دفتر ته د لا زیاتو څیړلو لپاره استوي. د USAID امنیتي دفتر که چیرته کوم مضر معلومات ترلاسه نکړي نو د شرایطو د پوره کولو سپارښتنه

د قراردادکونکي په نوم خپروي. د USAID د ماموریت سابقه لرونکی مرستیال وروستی پریکړه نیسي چې آیا یو قرارداد کونکی واجد شرایط اعلان کړي که نه.

د امریکا دفاع وزارت د هغو کسانو په اړه چې د 2012 کال د نومبر څخه یې راهیسې د 841 برخې په اساس نوماند کړي، د بهرنیو چارو وزارت او USAID ته معلومات وړاندې کړ. اګر که یادې اداري د خپلو ارزونو په بهیر کې دا معلومات په پام کې نیسي، خو د قرارداد تړلو په وخت کې هیڅ یو هم یوازې پر دې معلوماتو اکتفا نه کوي.

لکه څنګه چې د بهرنیو چارو وزارت او USAID د 841 برخې لاندې مسولیت نلري، بناء دوی د هغو کسانو یا ادارو سره چې د جنګیالیو څخه ملاتړ کوي یا د متحده ایالاتو یا ایتلافي ځواکونو سره مخالفت لري، د قرارداد تړلو څخه ندي منع شوي. برسیره پردې، یادې اداري هغه واک نلري چې د 841 د برخې په اساس ورکړ شوي تر څو هغه قراردادونه لغو، محدود، یا هم مخنیوی وکړي کوم چې قرارداد کونکي یې د متحده ایالاتو د مخالفو ډلو څخه ملاتړ کوي. که څه هم د بهرنیو چارو وزارت او USAID فعلآ د داسې کوم کس سره چې د 841 برخې لاندې نومول شوی وي، کوم لومړنی قرارداد نلري، نو د اوسنی قانون په اساس که چیرته دا اداري غواړي کوم کس په راتلونکی کې د 841 برخې لاندې ونوموي نو باید د قرارداد ټول لګښت ورته ورکړي.

**د NDAA د 2012 مالي کال د بنې 841 برخه د CENTCOM له قوماندان څخه غواړي څو د دښمن سره د قرارداد مخه نیولو لپاره اړین ګامونه پورته کړي، او همدارنګه دفاع وزارت ته واک ورکوي تر څو هغه قراردادونه لغو کړي کوم چې قرارداد کونکي یې د متحده ایالاتو یا ایتلافي ځواکونو د مخالفینو او جنګیالیو ډلو سره مرسته کوي.**

## د کانګرس د پام اړولو لپاره یو مهم موضوع

کانګرس کیدای شي د 841 برخې لاندې د بهرنیو چارو وزارت او USAID واک ته پراختیا ورکړي تر څو د هغو کسانو یا ادارو قراردادونه لغو، مخنیوی، یا راتلونکي قراردادونه یې محدود کړي چې د متحده ایالاتو له دښمنانو سره په مرستې تورن دي.

## د اداري نظر او تبصره

د بهرنیو چارو وزارت او USAID نظر ورکړ چې دوی د 841 برخې لاندې د واک زیاتولو څخه هرکلی کوي خو دواړو ادارو د هغو وړاندیزونو په اړه اندیښنه څرګنده کړه چې له مخه یې د دفاع وزارت قراردادي شرایط په غیر مشخصه توګه دوی ته هم متوجه کوي.

## 15-13 پلټنه: د امنیتي چارو لیږد

### د افغانستان عامه محافظت ځواک: د دې ځواکونو د لیاقت او لګښتونو په اړه اندیښنې لاهم شته دي

په 2012 کال کې، افغان دولت د غیر دولتي موسسو او خصوصي شرکتونو څخه چې د USAID د بیارغونې او تعاوني پروګرامونه پلي کوي، غوښتنه وکړه څو خپل امنیتي مسولیت د خصوصي امنیتي شرکتونو په ځای د دولت تر سرپرستۍ لاندې افغان عامه محافظت ځواکونو ته وسپاري. د 2012 کال په جون کې د سیګار د پلټنې څخه وروسته چې د APPF په اړه یې اندیښنه څرګنده کړې وه، دا رپوټ د یاد امنیتي لیږد اغیزې د USAID پر پروژو ارزوي، APPF ته د امنیتي لیږد مصرف اټکل کوي، او همدارنګه هغه میکانیزمونه معلوموي چې په مرسته یې USAID د امنیتي خدماتو لګښتونه بیاکتنه کوي. د APPF د موقعیتونو نقشه په 2.1 شکلکې ښودل شوې ده.

2.1 شکل

**د APPF د موقعیتونو نقشه**




سرچینه: د سیګار پلټنه 13-15.

### موندنې

په هغه پروژو باندې چې د سیګار په نمونه کې شامل وو، APPF ته د امنیتي چارو لیږد ډیر لږ اغیز درلود، البته یوازینی دلیل یې دا وو چې پلي کونکي همکارانو د APPF د ظرفیتي خلا ډکولو او د بحراني کارونو سرته رسولو لپاره د خطر اداره کولو شرکتونه (RMCs) استخدام کړي و. افغان حکومت قرارداد کونکو ته اجازه ورکړې تر څو د امنیتي سلاکارۍ

خدمتونو لپاره د خطر اداره کولو شرکتونه (RMCs) استخدام کړي. په یادو خدماتو کې د APPF د لوجیستیک، د تجهیزاتو انتقال، او د قرارداد اداره کولو په اړه مشورې شاملې دي. همدارنګه RMCs کولی شي د APPF هغو محافظینو ته تریننګ ورکړي چې د یو پلي کونکي همکار لخوا استخدام شوي دي. که څه هم د RMC پرسونل د شخصي ساتنې لپاره ځینې سپکې وسلې ګرځوي، د افغان حکومت مقرراتو RMCs ته اجازه نه ورکوي چې وسله وال امنیت او نور د محافظت خدمات وړاندې کړي. سیګار د خپل تحقیقاتو په ترڅ کې وموندل چې د RMCs نه پرته APPF نشي کولی هغه بشپړ امنیتي خدمات چمتو کړي چې د USAID پلي کونکي همکارانو ورته اړتیا لري.

د هغو پروژو په نیمایي کې چې د سیګار په نمونه کې شامل و، APPF ته د امنیتي چارو د لیږد څخه وروسته د امنیتي قراردادونه لګښت کم شوی و، البته پدې دلیل چې پلي کونکو همکارانو د خپل امنیتي اړتیاو، او د بهرنیو کار کونکو یا قراردادونو په اړه بیا کتنه کړې وه. د امنیتي خدماتو د چمتو کولو لپاره د پلي کونکو همکارانو د کرنلارې په کتلو سره چې کومه اندیښنه پیداکیږي هغه دا ده چې دمخکینیو امنیتي شرایطو او مصارفو کچه په غیر ضروري ډول زیاته وه.

په پای کې، که چیرته APPF د امنیتي خدماتو یوازینی چمتو کونکی وي، نو په راتلونکی کې دا اندیښنه شته چې د دې خدماتو لګښت په غیر محدود ډول زیات شي. امنیتي خدمات په انحصاري ډول APPF پورې تړلي دي، او یاده اداره کولی شي په یو طرفه ډول بیې وټاکي. په نتیجه کې، د USAID هغه میکانیزمونه چې د پلي کونکو همکارانو لخوا د APPF د کارونې وړاندیز شوي مصارف څاري دا تضمین نشي ورکولی چې APPF د پلي کونکي همکارانو څخه یوازې د هغو خدماتو حق الزحمه اخلي چې دوی ته یې وړاندې کوي. د بیلګې په توګه، سیګار موندلي چې APPF د داسې شیانو او خدماتو په بدل کې پیسې غوښتې چې په حقیقت کې د RMCs لخوا چمتو شوي و. هغه پلي کونکي ملګري چې وسله وال امنیت غواړي، بله چاره نلري مګر دا چې APPF د غیر ثابته او نامناسبه فیسونو باوجود وکاروي. که څه هم د هغه پروژو په اکثریت کې چې د سیګار لخوا بیاکتل شوي د امنیتي قراردادونو لګښت کم شوی و، خو د APPF تر واک لاندې پروژو کې د محلي ساتونکو د استخدام کچه 47% زیاته شوې وه.

په پای کې، که چیرته USAID په دوامداره توګه دا تضمین نکړي چې پلي کونکي همکارانو یې د افغان حکومت د مقرراتو په اساس د RMCs څخه کار اخلي، نو افغان حکومت به هغه RMCs له کاره منع کړي چې د اعتبار وړ جواز نلري. که چیرته افغان حکومت په یاده بڼه مداخله وکړه، د USAID پلي کونکي همکارانو به د هغه امنیتي خدماتو څخه بې برخې شي چې د خپلو کارونو د دوام لپاره ورته اړتیا لري.

### سپارښتنې

د دې لپاره چې USAID یقیني کړي چې پلي کونکي همکارانو یې د RMCs څخه د افغان دولت د مقرراتو په اساس کار اخلي، سیګار په افغانستان کې د USAID ماموریت مشر ته سپارښتنه کوي ترڅو (1) معلومه کړي چې ولې د دوی په رسمي بهیر کې ندی ځای شوی کله چې یو پلي کونکي همکار د RMC سره فرعي قرارداد لاسلیک کوي د دوی څخه د جواز غوښتنه نکوي، (2) داسې بهیر تاسیس او عملي کړي چې د پلي کونکي همکارانو څخه غواړي تر څو د RMC جواز وړاندې کړي، (3) د RMCs د سمې کارونې په اړه پلي کونکي همکارانو ته یو لارښود پالیسي جوړه کړي، (4) د RMC ساتونکو او د APPF ساتونکو نسبت چې د RMC په مقرراتو کې یادونه شوې ده واضحه کړي، او (5) د یو رسمي بهیر تاسیس کولو په مرسته یقیني کړي چې پلي کونکي همکارانو د RMC له نسبت څخه تیر وتنه نکوي.

**د ادارې نظر او تبصره**
کله چې دا خپرونه چاپ ته وړاندې شوه، USAID د دې رپوټ د مسودې په اړه خپله نظریات نهايي کوله. د پلټنې نهايي رپوټ چې د USAID نهايي تبصري هم پکې نغښتل شوي دي، د سیګار په ویبپاڼه کې موندلی شی www.sigar.mil.

## 16-13پلټنه: په مهمو سیمو کې ثبات

**په مهمو سیمو کې ثبات (SIKA): د 16 میاشتو او 47 میلیون ډالر لګولو څخه ورسته USAID لا تراوسه د پروګرام اصلي موخې ندي ترلاسه کړي**

په تیره لسیزه کې USAID د ثبات راوستنې ګڼ پروګرامونه په لاره اچولي تر څو امنیت ته وده ورکړي او د افغان حکومت لمنه پراخه او مشروعیت یې لاهم زیات کړي. د 2012 کال په اپریل کې د دې پروګرامونو د یوې څخه د پلټنې په ترڅ کې سیګار یوشمیر ستونزې معلومې کړې لکه د قرارداد کونکي د عملیاتونو لوړ مصارف، د پروګرام د نتایجو په تعین او اندازه کولو کې ستونزې، او د پروګرام مختلط نتایج.

USAID فعلآ په ټول افغانستان کې د مهمو سیمو د ثبات راوستنې پروګرامونه (سیکا) پر مخ بیایي، لکه چې په 2.2 شکلکې ښودل شوی. USAID په شمال، جنوب، ختیځ او لویدیځه کې د سیکا څلور سیمه ایز پروګرامونه د بیلابیلو قراردادونو له لارې په 203 میلیون ډالر لګښت پیل کړي. ایکام انترنیشنل ډیولپمنټ انکارپوریشن د سیکا ختیځ، سیکا لویدیځ، او سیکا جنوب قراردادونه ټول د (ایکام) سره لاسلیک شوي. ډیولپمنټ الترنیتفس انکارپوریشن د سیکا شمال (SIKA North) قرارداد بیا د DAI سره لاسلیک شوی. د پورتنۍ قراردادونو څخه هره یوه یو 18میاشتنۍ اساسي او 18میاشتې نورې انتخابي موده لري. USAID د سیکا ختیځ، سیکا لویدیځ، او سیکا شمال قراردادونه وړاندې له دې چې 18 میاشتې اساسي وخت یې پای ته ورسیږي وغزوله، او د سیکا جنوب لپاره یې د 2013 کال په مارچ کې د 18 میاشتې اساسي مودې لپاره یو بل قرارداد لاسلیک کړ.

سیګار به په دې پلټنه کې (1) د سیکا څلورو سیمه ایزو پروګرامونو د فنډونو په لګولو کې د USAID پرمختګ معلوم کړي، او (2) هغه ننګونې به په ګوته کړي چې USAID د سیکا د پروګرامونو د فنډ مصرفولو په ترڅ کې ورسره مخ شوي دي.

**موندنې**
د سیکا قراردادونه، بلاعوضه مرستې د ولسوالۍ اداراتو ته رسوي ترڅو د بې ثباتۍ هغه سرچنې له منځه یوسي کوم چې د محلي ټولنو لخوا په ګوته کیږي. که څه هم د 2013 کال د مارچ تر 31 پورې USAID د سیکا څلورو پروژو ته شاوخوا 47 میلیونه ډالر تادیه کړې ده، خو له دې فنډونو څخه هیڅ یوه هم "د کارګرانو د شدید یا تولیدي زیربنا پوې اړوند" کومې پروژې ته فنډ ندی ورکړی، په داسې حال کې چې قرارداد دغو پروژو ته د فنډ ورکولو غوښتنه کوي. سربیره پردې، حتا په هغو ولسوالیو کې چې د نمونې په توګه غوره شوي و، ایکام او DAI ندي توانیدلي د خپلې پروژې یوه بشپړه دوره سرته ورسوي —د ناثباتۍ سرچینو د موندلو څخه نیولې آن د ټولنیزې مرستې د پروژو تر پلي کولو پورې. همدارنګه هیڅ یو قرارداد کونکی د ولسوالۍ په کچه خپل قرارداد د شرایطو واجد کومې ادارې ته ندی ورکړی. که څه هم دا پروګرامونه هیڅ یو خپلې مرستې ندي تطبیق کړي، څلور واړه بیا د خپلو غونډو او د هغو ترینګونو په رپوټ کې چې د ناثباتۍ د سرچینې او د حل احتمالي لارې موندلو لپاره یې دایر کړي، ویلي چې د دوی د هڅو په نتیجه کې د افغان دولتي او غیر دولتي موسسو د خدماتو په اړه عامه پوهاوي زیاته شوې، او د ولایتي او ولسوالۍ اداراتو

2.2 شکل

**د 2013 د مارچ تر 31 پورې، د SIKA پوښښ او توسعه**




سرچینه: د USAID د معلوماتو په اړه د سیګار څیړنه.

ترمنځ د تفاهم کچه لوړه شوې ده. پهرصورت، د مرستو اجراکولو څخه پرته د دې هڅو اساسي ارزښت —او په پای کې په خپله د سیکا موثریت— نه جوته کیږي، کوم چې د USAID لخوا د ستراتیژۍ پلي کولو او د قراردادونو د متوقعه نتایجو په لاسته راوړلو کې مهم بلل شوي دي.

د سیکا څلورو واړو سیمه ایزو قرارداد کونکو بیا د خپلو پروګرامونو د ناوخته پلي کیدو یو دلیل د افغان دولت سره د یو توافق نه درلودل په ګوته کوي. د سیکا قرارداد کونکو د افغان دولتي همکارانو سره او د دوی له لارې پر کار کولو ټینګار کوي او وايي چې داسې به د دوی پروګرام ته د افغان دولت د یوې برخې په توګه وکتل شي. پهرصورت، USAID د سیکا لومړی قرارداد د لاسلیک کولو څخه تر نهو میاشتو پورې د افغان دولت کوم مهم همکار سره رسمي موافقت لیک نه و لاسته راوړی.

همدارنګه په قرارداد کې راغلي چې د سیکا پروګرامونو باید په یو داسې طرح عیار شي چې د پروژې پیل، تطبیق، او مالي مدیریت د ټولو مسولیت ټولنې ته وسپارل شي. پهرصورت، د یاد طرح په جوړولو کې د USAID پاتې راتګ د دې لامل شو چې د قرارداد

کونکو ترمنځ د طرح د عملي کولو په برخه کې يو رنګوالی له منځه لاړ شي. دا کار هم د سیکا موخو ته ضربه ورسوله او د پروژې تطبیق يې لاهم د ځنډ سره مخ کړه.

د پروګرام تاخیر USAID دې ته اړ کړه چې د ټولو قرارداد کونکو د کړنې دورې وغزوي، که څه هم خپلې مرستې يې نه وې تطبیق کړې. د مرستو په تطبیق کې تاخیر راتګ د دې لامل شو چې ګډون کونکي، په خاصه توګه ختیځه او جنوبي سیمو کې، د پروګرام څخه ناهیلی شي. دا خطر هم امکان لري چې د پروګرام څخه نارضایتي د سیکا موخې کمزورې او په نتیجه کې د ناثباتۍ زیاتیدو او د دولت څخه د خلکو د لالرې کیدو لامل شي.

## سپارښتنې

سیګار سپارښتنه کوي چې په افغانستان کې د USAID ماموریت مشر باید د خپلو راتلونکي پروګرامونو لپاره د افغان دولت سره موافقت لیک لاسته راوړي، تر څو پروګرام د پیل کیدو څخه وړاندې د افغان دولت له اقداماتو سره یوځای تطبیق کړای شي. همدارنګه د دې لپاره چې یقیني شي د سیکا پروګرامونه ټاکل شوې موخې او ستراتیژې ترلاسه کولی شي، سیګار سپارښتنه کوي چې په افغانستان کې د USAID ماموریت مشر د یادې ادارې د لاسته راوړو او همکاریو او ثبات راوستنې واحد ته لارښوونه وکړي چې د سیکا قراردادونو د لاسلیک کولو په وخت کې د قرارداد کونکو څخه په څرګند ډول وغواړي چې د خپل پروګرام د تطبیق لپاره د کندهار له طرحې څخه کار واخلي —کوم چې د تعاوني پروژې پیل، تطبیق او مالي مدیریت ټول مسولیتونه د ټولنې په غاړه دي— او په هر قرارداد کې د قرارداد کونکو مامورینو د استازو څخه غوښتنه وکړي تر څو د سیکا په ټولو پروګرامونو کې د دغه طرحې پلي کیدا یقیني کړي.

## د ادارې نظر او تبصره

د لومړۍ سپارښتنې په اړه چې د افغان دولت سره يو موافقت لیک ترلاسه شي څو راتلونکې پروګرامونه د افغان دولت د اقداماتو سره برابر پلي شي، USAID ویل چې دا سپارښتنه يې عملي کړې ده او غوښتنه يې وکړه چې د رپوټ څخه دا سپارښتنه لرې کړای شي. د USAID لخوا د چمتو شوي اسنادو د بیا کتنې څخه وروسته سیګار وموندە چې د سپارښتنې موخه په پام کې نده نیول شوې، ځکه نو سپارښتنه يې د رپوټ څخه لرې نکړه. د دویمې سپارښتنې سره USAID تر يو حده پورې موافقه وکړه، او ویې ویل چې په پام کې لري د سیکا لویدیځ په قرارداد کې د سیکا نورو قراردادونو سره د توافق په شمول د کندهار طرح ځای کړي. په‌هر صورت، یوازې د کندهار طرحې ته په قراردادونو کې ځای ورکول د سپارښتنې موخه چې د ټولنې سره د قرارداد کولو او تطبیق کولو لپاره د يو ثابت طرحې درلودل و، نه پوره کوي. د دریمې سپارښتنې سره چې غوښتنه يې کوله د ټولو قراردادونو لپاره د قرارداد کونکو مامورینو يو استازی ګډون وکړي ترڅو یقیني کړي چې د سیکا په ټوله سیمه ایزو پروګرامونو کې یاده کړنلاره پلي کیږي، USAID موافقه ونکړه او ویې ویل چې د اوسنی پروسو په شتون کې دا يو اضافي کار دی. په‌رصورت، د طرحې په پلي کولو کې د توپیرونو شتون دې ته اشاره کوي چې اوسنی پروسې د سیکا پروګرامونو د یورنګ پلي کیدو لپاره کافي ندي. د همدې لپاره سیګار ټینګار کوي چې د وړاندېز شوې کار عملي کول ضروري دی.

## په دې ربعه کې نوي اعلان شوي پلټنې

پدې ربعه کې، سیگار د اجرااتو په اړه پنځه پلټنې او د مالي مسایلو په اړه دوې پلټنې پیل کړې چې پدې سره د روانو پلټنو شمیره 27 ته رسیږي. د اجرااتو په اړه درې نوي پلټنې په دوو داسې ساحو کې دمتحده ایالاتو پر هڅو تمرکز کوي چې د افغانستان د اقتصاد لپاره ډېر ارزښت لري: بانک لرنه او د عایداتو راټولول. دوې پاتې پلټنې به د افغان امنیتي ځواکونو سره د متحده ایالاتو کمکي پروگرامونو ته نظر واچوي. نورې روانې پلټنې د متحده ایالاتو د لیږد پلانونه، د افغان امنیتي ځواکونو د پرمختیا پروگرامونه، د افغانستان د طبیعي اوبو د پراختیا پروژو ته، دمعاشاتو د حسابونو په تصفیه کې د افغان دولت ظرفیت، او د قضایي سکتور پرسونل ته د تریننګ مسایل تر کتنې لاندې نیسي. د اجرااتو په اړه د روانو پلټنو بشپړ لست د دې ربعې د رپوټ په C ضمیمه کې موندلی شی.

## د هغو وسلو او تجهیزاتو حساب اخیستنه چې افغان ملي امنیتي ځواکونو ته چمتو شوي دي

د 2009 کال څخه راهیسې، د امریکا دفاع وزارت د ANSF سره 714,000 وسلې مرسته کړې چې ارزښت یې شاوخوا 1.5 میلیارډ ډالرو ته رسیږي. د متحده ایالاتو او ایتلافي ځواکونو د وتلو او ANSF ته د امنیتي مسولیتونو له لیږد سره به د دغه وسلو حساب ورکونه هم له ګواښ سره مخ شي. CSTC-A د ANSF د تریننګ او تجهیز ابتدایي مسولیت په غاړه لري. یاده اداره د وسلو زیاته برخې داخیستلو لپاره د بهرنۍ پوځي خرڅلاو (FMS) له بهیر څخه کاراخلي،کوم چې د دفاع وزارت د امنیتي همکارۍ د اداري لخوا چمتو شوی.

په 2009 کال کې GAO او DOD OIG دواړه د ANSF د وسلو حساب ورکونې په اړه پلټنې ترسره کړې وې. سیګار غواړي معلوم کړي چې CSTC-A د دغو رپوټونو په ځواب کې څه اقدامات کړي دي. دا پلټنه به (1) د هغو دفاعي وسلو او موادو د حساب ورکونې کړنلارې وارزوي کوم چې د DOD لخوا ANSF ته اخیستل شوي دي، او (2) د نظارت او کنترول بهیرونه معلوموي کوم چې ANSF ته د وسلو او موادو د اخیستلو څخه وروسته یې له دوی څخه خارنه کوله.

## د افغانستان د مرکزي بانک د ظرفیت لوړاوي او پراختیا په برخه کې د متحده ایالاتو هڅې

د 2010 کال په سپتمبر کې، د کابل بانک بحران د افغانستان د سوداګریزو بانکونو په تنظیم کې د افغانستان مرکزي بانک، د افغانستان بانک، د ظرفیت په اړه د متحده ایالاتو او نړیوالو ډونرانو اندیښنې زیاتې کړې. د متحده ایالاتو د دولتي ادارو لخوا د افغان وزارتونو سره د مستقیمه مرستو د کچې زیاتیدنه دا اندیښنه زیاته کړې چې ګواکې افغان بانکي سکتور به د دغو فنډونو د اجرا کولو وړتیا ولري که نه. دا پلټنه هغه اقدامات ارزوي چې د متحده ایالاتو بیلابیلو اداو لخوا د DAB د تنظیم کولو او څارنې ظرفیت د لوړاوي لپاره عملي شوي، هغه بهیرونه چې د متحده ایالاتو اداري د هغو په کارولو سره افغان دولت ته مستقیمه مرسته ورکوي، او هغه داخلي کنټرول ارزوي چې په افغاني بانکونو کې د دغو پیسو د زیرمه کیدو څخه وروسته د خوندي ساتلو لپاره یې عملي کیږي.

### نوي پلټنې

- د هغو وسلو او تجهیزاتو حساب اخیستنه چې افغان ملي امنیتي ځواکونو (ANSF) ته چمتو شوي دي
- د افغانستان د مرکزي بانک د ظرفیت لوړاوي او پراختیا په برخه کې د متحده ایالاتو هڅې
- د ګمرکي عایداتو د تخمین او راټولولو په برخه کې د افغانستان د ظرفیت لوړاوي لپاره د نړیواله پراختیا لپاره د متحده ایالاتو اداري (USAID) او د داخلي امنیت وزارت د ګمرکاتو او سرحداتو د ساتنې څانګې (CBP)، کمکي هڅې
- دتلګرام فیسونه چې د DOD لخوا خپلو افغاني قراردادیانو ته دپیسو لیږلو په نتیجه کې وضعه کیږي
- افغان ملي پوځ لپاره د ضربتي نقلیه وسیلو اخیستل

## د ګمرکي عایداتو د تخمین او راټولولو په برخه کې د افغانستان د ظرفیت لوړاوي لپاره د نړیواله پراختیا لپاره د متحده ایالاتو ادارې (USAID) او د داخلي امنیت وزارت د ګمرکاتو او سرحداتو د ساتنې څانګې (CBP)، کمکي هڅې

د نړیوال سوداګرۍ او ترانزیت د پراختیا له لارې د افغانستان داخلي عایداتو ته وده ورکول د متحده ایالاتو د بیارغونې هڅو یوه مهمه موخه جوړوي. USAID او د داخلي امنیت CBP څانګه داسې پروګرامونه لري چې د ګمرکاتو د قوانینو اصلاح، د کړنلارو تاسیس، ګمرکي او سرحدي عملیاتو ته وده ورکول، او د عایداتو راټولولو لوړاوي په برخو کې د افغان حکومت سره مرسته او همکاري کوي. دا پلټنه د ګمرکي عایداتو د تخمین او راټولولو په برخه کې د افغانستان د ظرفیت لوړاوي لپاره د USAID او CBP د پروګرامونو بیاکتنه کوي. دا پلټنه معلوموي چې د USAID او CBP هغه پروګرامونه چې د افغانستان دګمرکي بهیرونو، کړنلارو، او قوانینو د اصلاح لپاره طرحه شوي دي، تر کومه حده خپلو موخو ته رسیدلي، او د افغان حکومت په مالي ثبات کې یې څومره برخه اخیستې ده.

## دتلګرام فیسونه چې د DOD لخوا خپلو افغاني قراردادیانو ته دپیسو لیږلو په نتیجه کې وضعه کیږي

د امریکا دفاع وزارت، د یاد وزارت د مالي حسابونو خدماتو د څانګې نه، د ګڼ شمیر امریکایي، نړیوال، او افغاني بانکونو د تلګرام له لارې څخه خپل افغاني قراردادیانو ته پیسې لیږي. دغه بانکونو د تلګرام له لارې د پیسو لیږلو په بدل کې فیس وضعه کوي. افغاني بانکونه چې په پای کې د تلګرام له لارې دغه فنډونه ورته سپارل کیږي، مسولیت لري چې قرارداد کونکو ته یې وسپاري. دا پلټنه ګوري چې د دفاع وزارت څنګه د تلګرام له لارې افغاني قراردادیانو ته پیسې لیږي او معلوموي چې (1) د 2010 کال د جنوري له 1 څخه د 2013 کال د جنوري تر 1 پورې، د دفاع وزارت یا د امریکا کومه بله اداره د دفاع وزارت لخوا د تلګرام لپاره څومره فیسونه تادیه کړي، او (2) دا فیسونه د عملي کیدو وړ قوانینو، قراردادونو، مقرراتو او معیارونو په اساس څومره منطقي او په ځای ورکړ شوي دي.

## افغان ملي پوځ لپاره د ضربتي نقلیه وسیلو اخیستل

د 2011 کال په جنوري کې، CSTC-A د افغان ملي پوځ لپاره د ضربتي نقلیه وسیلو (MSFV) د اخیستلو فرمایش ورکړ چې کولی شي د ماینونو ضد نقلیه وسیلو غونډې چې د نړیوال سوله ساتي ځواکونو لخوا کارول کیږي، افغان ملي پوځ خوندي وساتي. MSFVs د دفاع وزارت د بهرنۍ پوځي خرڅلاو د بهیر له لارې اخیستل کیږي. د 2011 کال د جنوري څخه تر اوسه پورې، د دغه قراردادونو له لارې د 634 MSFVs، ترمیمي پرزو، ساتنې، او تریننګ لپاره په مجموعي ډول 630 میلیون ډالر ژمنه شوې. تر اوسه پورې، د 300 څخه زیات MSFVs نقلیه وسیلې افغان ملي پوځ ته سپارل شوي چې یا د یاد ځواک د واحدونو لخوا کارول کیږي یا هم په هیواد کې دننه د لوجیستکي همکارۍ او عملیاتي تریننګ د پروګرام په چوکاټ کې کارول کیږي. د قرارداد کونکي د مهال ویش په اساس ټول متباقي MSFVs به د 2014 کال تر فبروري پورې تسلیم کړای شي. دا پلټنه (1) د افغان ملي پوځ لپاره د اخیستل شوي MSFVs د تدارکاتو، کارونه، او ساتنې څخه د متحده ایالاتو د څارنې موثریت ارزوي؛ او (2) معلوموي چې افغان ملي پوځ تر کوم حده د اوسنی او پلان شوي MSFVs د کارولو او ساتلو ظرفیت لري.

## مالي پلټنې

پدې ربعه کې سیګار د افغانستان د بیارغونې په برخه کې د متحده ایالاتو د قراردادونو، بلاعوضه مرستو، او تعاوني موافقت لیکونو په اړه 11 مالي پلټنې بشپړې کړې. دا قراردادونه —چې مجموعي ارزښت یې 942 میلیونډالره کیږي— د افغان امنیتي ځواکونو د جوړولو، ښه حکومتولي، او د اقتصادي ودې په برخو کې د متحده ایالاتو د هڅو څخه ملاتړ کوي. پدې مالي پلټنو کې وموندل شو چې د کمزوری داخلي کنترول او د نه منښت مسایلو له کبله 49.4 میلیون ډالر په مشکوکو ځایو کې لګول شوي دي. د دې نیمګړتیاو او د منښت مسایلو ځینې بیلګې، د اسنادو کمزوری ساتنه، د تقویتي اسنادو نشتوالی، د تدارکاتو د کړنلارو سره توافق نه درلودل، بیځایه لګښتونه ښودل، غیر مستقیم لګښتونه چې د ارزولو امکان یې نشته، غیر منطقي لګښتونه، ناسم اجراات، او د تجهیزاتو او ترمیمي پرزو د څارلو لپاره د تعقیبي سیستم نشتوالی، دي. سیګار د خپل پلټنې موندنې پلي کونکو ادارو ته وړاندې کړه کوم چې د دې مشکوکو لګښتونو د نهایي معلوملو مسولیت په غاړه لري.

همدارنګه سیګار د USAID په فنډ د قراردادونو په اړه (410 میلیون ډالر مجموعي ارزښت لري) دوه نوي مالي پلټنې پیل کړې، چې پدې سره د سیګار د روانو مالي پلټنو مجموعي شمیره 13 ته رسیږي چې په ټولیزه توګه شاوخوا 1.5 میلیارډ ډالر ارزښت لري.

سیګار په 2012 کال کې خپل د مالي پلټنې پروګرام وروسته له هغه پیل کړه چې کانګرس او د څار ټولنې دسیندونو څخه پورې غاړې عملیاتونو کې د هغو پیسو او لګښتونو د څارنې خلا او د تفتیش زیاتیدونکې پیتو په اړه اندیښنې څرګندې کړې کوم چې د قراردادونو او بلاعوضه مرستو په بنه لاسلیک شوي وې. سیګار د خپل مالي تفیش ترسره کولو لپاره په رقابتي ډول خپلواک حساب اخیستونکي شرکتونه غوره کړ. سیګار تضمین ورکوي چې د پلټنې کار به یې د متحده ایالاتو حکومت د پلټنې له معیارونو سره سم وي، او د دې لپاره چې د تکراري کارونو څخه مخنیوی وشي د فیدرالي مفتیشنو له ټولنې سره خپل کارونه په جدي توګه همغږی کوي. د دې درې میاشتنی رپوټ په C ضمیمه کې د نویو روانو پلټنو لست موندلی شی.

په وروسته جملو کې د دې ربعې د خپاره شوي مالي پلټنو لنډیز، موندنې، او د سیګار سپارښتنې وړاندې کیږي.

## 13-1 مالي پلټنه: د هغو لګښتونو پلټنه چې د کیمونیکس انترنیشنل، انکارپوریشن لخوا په جنوبي سیمه کې د USAID د بدیل معیشت پروګرام په ملاتړ مصرف شوي

کیمونکس انترنیشنل انکارپوریشن. (کیمونکس) د 2009 کال له اکتوبر څخه د 2005 کال تر فبروري پورې د په یو قرارداد چې د افغانستان په جنوبي سیمه کې یې د کوکنارو د کرهنې مخه نیولو او خلکو ته د بدیل معیشت اسباب برابرولو د لنډ مهاله کارونو او قانوني کرهنې ته د ودې په برخه کې 165 میلیون ډالر لګولي ده. د یادې اداري فعالیتونه د فیزیکي زیربنا په جوړونې، د وړو او منځنی کچې پانګه اچونې پرمختیا، او د کرهنې او اګري بیزنس سره په مرستې بوخت دي. د کروې هورواث په نوم د محاسبې شرکت چې د سیګار سره د تړون په اساس مالي پلټنې ترسره کوي، د کیمونکس د فنډ دحساب ورکونې په اړه یې د رفع مسولیت ښکارونه وکړه، ځکه چې د کیمونکس چارواکو د هغو غیر مستقیمو لګښتونو په اړه چې قرارداد کې راغلي، دوی ته معلومات نه وه چمتو کړي. د پلټنې یاده اداره د قرارداد د شرایطو او د عملي کیدو وړ مقرراتو څخه داسې د سرغړونې بیلګې وموندې چې د فنډ د حساب ورکونې په بیانیه کې د وړاندې شوي شمیرې پر کچه یې مستقیمه اغیزه درلوده.

### بشپړې شوې مالي پلټنې

- 13-1 مالي پلټنه: د هغو لګښتونو پلټنه چې د کیمونیکس انترنیشنل، انکارپوریشن لخوا په جنوبي سیمه کې د USAID د بدیل معیشت پروګرام په ملاتړ مصرف شوي دي
- 13-2 مالي پلټنه: د هغو لګښتونو په اړه پلټنه چې د کاردنو ایمرجینګ مارکیتس ګروپ لمتډ. لخوا په افغانستان کې د دولتي اقتصادي موسسو خصوصي کولو، د اضافي ځمکې خصوصي کولو، او ځمکو ته د قبالې ورکولو په برخو کې د USAID د هڅو څخه په ملاتړ مصرف شوي دي
- 13-3 مالي پلټنه: د هغو لګښتونو پلټنه چې د فیوچرز ګروپ انترنیشنل LLC لخوا په افغانستان کې د روغتیا خصوصي سکټور محصولاتو او خدماتو ته د خلکو د لاسرسي زیاتولو لپاره د USAID په پروژه کې شوي دي
- 13-4 مالي پلټنه: په مرکز او ولایاتو کې د عامې روغتیا وزارت د پروژې سره د USAID تخنیکي مرسته د هغه لګښتونو پلټنه چې د روغتیا لپاره د اداري علومو لخوا مصرف شوي دي
- 13-5 مالي پلټنه: په افغانستان کې د لویه جرګې او د ټاکنو د بهیر سره د USAID د مرستې پروګرام د هغو لګښتونو پلټنه چې د ایشیا فونډیشن لخوا مصرف شوي دي
- 13-6 مالي پلټنه: د افغانستان د کرهنې سکټور د بیارژوندی کولو د پرمختګ لپاره د USDA کومکي پروګرام: د هغو لګښتونو پلټنه چې داقتصادي ودې پیوستون د رضاکارانو لخوا مصرف شوي دي
- 13-7 مالي پلټنه: د افغانستان د ملي پوځ د تجهیزاتو د تخنیکي ساتنې د پروګرام سره د امریکا دفاع وزارت کومکي پروګرام د هغه لګښتونو پلټنه چې د افغان انتګریټډ سپورټ سرویسز لخوا مصرف شوي دي
- 13-8 مالي پلټنه: د USAID د بشري سرچینو او لوجیستیکي مرستې پروګرام: د هغه لګښتونو پلټنه چې د نړیوله سوکالي او پرمختګ انکارپوریشن (IRD) لخوا مصرف شوي دي
- 13-9 مالي پلټنه: په جنوب\لویدیځ کې د USAID د بدیل پرمختګ پروژه: د هغو لګښتونو پلټنه چې د تیترا ټیک ARD لخوا مصرف شوي دي
- 13-10 مالي پلټنه: د USAID د بدیل معیشت پروګرام-ختیځه سیمه: د هغو لګښتونو پلټنه چې د پرمختګ بدیلونو انکارپوریشن لخوا مصرف شوي دي
- 13-11 مالي پلټنه: د بهرنیو چارو وزارت په مرسته د افغانستان د رسنیو پروژه: د هغو لګښتونو پلټنه چې د HUDA ډولوپمنټ ارګنایزیشن افغانستان لخوا مصرف شوي دي

کروې هوروات دوه د مادي کمزورتیاو بیلګې، شپږ مهمې بیلګې د داخلي کمزورى کنترول په اړه، او د نه منښت 12 بیلګې وړاندې کړې. په نتیجه کې، پلټونکو د لګښت په 13.5 میلیون ډالرو شکمن شول. په یاده شمیره کې 6.7 میلیونه ډالر په ناقانونه توګه او 6.8 میلیونه ډالر په داسې ځایونو کې مصرف شوي چې اسناد یې نه درلود.

سیګار په افغانستان کې د USAID د ماموریت مشر ته درې سپارښتنې وړاندې کړې:

- په رپوټ کې د 13.5 میلیون ډالره راغلي مشکوکو پیسو د مصارفو قانونیت معلوم کړي، او د اړتیا په صورت کې یادې پیسې بیرته لاسته راوړي.
- د کیمونکس ادارې ته مشوره ورکړي چې د داخلي کنترول په اړه هغه اته موارد بررسي کړي چې د رپوټ لخوا په ګوته شوي.
- د کیمونکس ادارې ته مشوره ورکړي چې د نه منښت په اړه هغه دولس موارد بررسي کړي چې د رپوټ لخوا په ګوته شوي.

کیمونکس د یاد پلټونکي شرکت د ټولو موندنو او مشکوکه لګښتونو سره خپل مخالفت وښود.

همدارنګه دا پلټنه سیګار دې ته وهڅوله چې د USAID ادارې ته د کیمونکس لخوا د یوې مالي پلټنې په ترڅ کې د اړوندو معلوماتو نه چمتوکولو له امله یو خبرداری لیک واستوي. سیګار د USAID څخه غوښتنه وکړه چې د 13.5 میلیونه ډالر مشکوکه لګښتونو په اړه ځانګړی اقدام وکړي، د کیمونکس ادارې ته دفیدرالي پلټونکو سره د همکارۍ کولو په اړه یادونه ورکړي، او د راتلونکي په ټولو قراردادونو کې چې کیمونکس مداخله لري، د مالي پلټنې په اړه د رپوټ موندنې په پام کې ونیسي.

## 13-2 مالي پلټنه: د هغو لګښتونو په اړه پلټنه چې د کاردنو ایمرجینګ مارکیتس ګروپ لمټډ. لخوا په افغانستان کې د دولتي اقتصادي موسسو خصوصي کولو، د اضافي ځمکې خصوصي کولو، او ځمکو ته د قبالې ورکولو په برخو کې د USAID د هڅو څخه په ملاتړ مصرف شوي دي

کاردنو ایمرجینګ مارکیتس ګروپ لمټډ. دعوا کړې ده چې د په هغه قرارداد یې 55.6 میلیون ډالر مصرف کړې ده چې په اساس یې د شتمنیو د اسنادو خوندي کولو، د ځمکې د قبالې اخیستو د بهیر ساده کولو، د شتمنیو د قانوني چوکاټ واضح کول، او همدارنګه د دولتي اقتصادي موسسو اصلاح، بیا رغونې، او منطقي کولو په برخه کې د افغانستان دولت سره مرسته کوله. هغه شرکتونه او همکارانو چې د سیګار سره د قرارداد په اساس یې دا مالي پلټنه ترسره کوله، وموندل چې د EMG د فنډ حساب ورکونې بیانیه د موادو په ټولو برخو کې سم ترتیب شوې ده. د 2004 کال د سپتمبر د 15 څخه د 2009 کال د اکتوبر تر 14 پورې د لاسته راغلي عایداتو او مصرف شوي ځایونو بشپړ مدارک ثبت شوي دي.

پهرصورت، پلټونکو د داخلي کنترول دوې نیمګړتیاوې او د نه منښت دوې بیلګې وموندې چې له امله یې د لګښتونو په 93,423 ډالرو شکمن شول. په یاده شمیره کې 19,501 ډالر په ناقانونه توګه او 73,922 ډالر په داسې ځای کې مصرف شوي چې اسناد نلري.

سیګار په افغانستان کې د USAID د ماموریت مشر ته درې سپارښتنې وړاندې کړې:

- د 93,423 ډالره مشکوکوپیسو د مصارفو قانونیت معلوم کړي، او د اړتیا په صورت کې یادې پیسې بیرته لاسته راوړي.

- د EMG ادارې ته مشوره ورکړي چې د USAID نورو قراردادو ته د درخواست کولو څخه وړاندې د داخلي کنترول په اړه هغه دوه موارد بررسي کړي چې د رپوټ لخوا په ګوته شوي.
- د EMG ادارې ته مشوره ورکړي چې د USAID نورو قراردادو ته د درخواست کولو څخه وړاندې د نه منښت په اړه هغه دوه موارد بررسي کړي چې د رپوټ لخوا په ګوته شوي.

د EMG اداره په خپل لیکلی غبرګون کې، د پلټنې له موندنو او سپارښتنو سره موافقه وښوده. پهرصورت، د EMG ادارې غوښتنه وکړه چې USAID د اسناد نلرونکو پیسو څخه د هغه کومکي اسنادو په بدل کې تیر شي چې د ساحې د پلټنې په ترڅ کې یې چمتو کړي ده. همدارنګه د EMG ادارې وویل چې د هغو برخو په اړه چې د بودیجې له خط څخه زیات دي د USAID د موافقې لپاره غوښتنه کوي.

## 3-13 مالي پلټنه: د هغو لګښتونو پلټنه چې د فیوچرز ګروپ انټرنیشنل LLC لخوا په افغانستان کې د روغتیا خصوصي سکټور محصولاتو او خدماتو ته د خلکو د لاسرسي زیاتولو لپاره د USAID په پروژه کې مصرف شوي دي

USAID د فیوچرز ګروپ انټرنیشنل LLC (فیوچرز ګروپ) سره یو قرارداد لاسلیک کړ ترڅو د روغتیا سیمه ایزه ستونزو په هواورلو کې د افغان دولت سره مرسته وکړي. د 2006 کال د فبروري له 15 څخه د 2012 کال د می تر 12 پورې، فیوچرز ګروپ شاوخوا 37.5 میلیون ډالره تادیات لاسته راوړي. هغه شرکتونه او همکارانو چې د سیګار سره د قرارداد په اساس یې دا مالي پلټنه ترسره کوله، ومونده چې د فیوچرز ګروپ د فنډ حساب ورکونې بیانیه د موادو په ټولو برخو کې سم ترتیب شوې ده. د عایداتو لاسته راوړل او د لګښتونو مصرف کولو ټول اقدامات د قرارداد سره سم ترسره شوي. پهرصورت، پلټونکو د داخلي کنترول دوې نیمګړتیاوې او د نه منښت دوې بیلګې وموندې. دا پلټنه همدارنګه 45,445 ډالر مشکوک لګښت ومونده، چې 2,401 ډالر یې په ناقانونه توګه، او 43,044 ډالر یې په داسې ځایونو کې مصرف شوي چې اسناد یې نه درلوده.

سیګار په افغانستان کې د USAID د ماموریت مشر ته یوه سپارښتنه وړاندې کړه:

- په رپوټ کې د 45,445 ډالره راغلي مشکوکو پیسو د مصارفو قانونیت معلوم کړي، او که مناسبه وي، یادې پیسې بیرته لاسته راوړي.

فیوچرز ګروپ په خپل لیکلی غبرګون کې د پلټنې د ټولو موندنو، او سپارښتنو سره خپله موافقه ښودلې ده. همدارنګه د فیوچرز ګروپ اداره زیاته کړه چې دوی چمتو دي د ناقانونه لګښتونو پیسې او همدارنګه د اسناد نه لرونکي لګښتونو پیسې تر هغه حده USAID ته وسپاري چې د یادو پیسو د انتقال لپاره کافي اسناد ونلري.

## 4-13 مالي پلټنه: په مرکز او ولایاتو کې د عامې روغتیا وزارت د پروژې سره د USAID تخنیکي مرسته د هغه لګښتونو پلټنه چې د روغتیا لپاره د اداري علومو لخوا مصرف شوي دي

USAID په 2006 کال کې د روغتیا لپاره د اداري علومو MSH موسسې سره یو تعاوني قرارداد لاسلیک کړ تر څو د روغتیا اساسي او روغتوني خدمتونو ته د عامه خلکو د لاسرسي په پلان جوړونه، اداره، نظارت، ارزونه او څارنه کې د عامې روغتیا وزارت ظرفیت زیات کړي.

مایر هوفمن مکن پي. سي. (MHM) چې د سیګار سره د قرارداد په اساس یې دا مالي پلټنه ترسره کوله، د 2006 کال د جولای له 1 څخه د 2012 کال د ډیسمبر تر 31 پورې یې د 85.5، MSH میلیونه ډالر لګښت معاینه کړه.

MHM وموندە چې د MSH د فنډ حساب ورکونې بیانیه د موادو په ټولو برخو کې سم ترتیب شوې ده. د عایداتو لاسته راوړل او د لګښتونو مصرف کولو ټول اقدامات یې د قرارداد سره سم ترسره شوي. MHM د تعقیب او اصلاحي ګام پورته کولو لپاره د پخوانیو پلټنو او ارزونو څخه 14 سپارښتنې په ګوته کړې. MSH د USAID\افغانستان د مقرراتو د بیاکتنې د نظر سره چې د 2012 کال په جولای کې ترسره شوې وه، موافقه ونه کړه چې ویل یې د بررسۍ او تدارکاتو12 موارد اصلاحي ګامونو ته اړتیا لري، او همدارنګه ویل شوې وه چې د دوه نورو موندنو د عملي کیدو لپاره وخت نده پاتې، ځکه چې اړوند فرعي قراردادونه یې پای ته رسیدلي دي. MHM د داخلي کنترول یوه مهمه نیمګړتیا او د نه منښت دوې بیلګې په نښه کړې چې د 12,666 ډالرو مشکوک لګښت لامل شوې دي. په دغه لګښتونو کې، 6,345 ډالره په ناقانونه توګه او 6,321 ډالر یې داسې مصرف شوي چې اسناد نه لري. د داخلي کنترول نیمګړتیا دا وه چې MSH نه و توانیدلی د هغو محلي کارګرانو د معاشاتو لپاره اسناد چمتو کړي چې په نمونه یې ډول یې ګومارلي و.

سیګار په افغانستان کې د USAID د ماموریت مشر ته څلور سپارښتنې وړاندې کړې:

- په رپوټ کې د 12,666 ډالره راغلي مشکوکو پیسو د مصارفو قانونیت معلوم کړي، او که مناسبه وي، یادې پیسې بیرته لاسته راوړي.
- د روغتیا لپاره د اداري علومو ادارې ته مشوره ورکړي چې د داخلي کنترول په اړه هغه موارد بررسي کړي چې د رپوټ لخوا په ګوته شوي.
- د روغتیا لپاره د اداري علومو ادارې ته مشوره ورکړي چې د نه منښت په اړه هغه دوه موارد بررسي کړي چې د رپوټ لخوا په ګوته شوي.
- د هغو 14 پرانیستو سپارښتنو په اړه پریکړه ونیسي چې د 2012 کال د جولای په 7 د بررسۍ او تدارکاتو په برخو کې د USAID\افغانستان د مقرراتو د منښت د بیاکتنې په ترڅ کې وړاندې شوې وې.

MSH په خپل لیکلی غبرګون کې د پلټنې د موندنو سره په عمومي ډول موافقه وښوده او زیاته یې کړه چې د نیمګړتیاو او د نه منښت مسایلو بررسي کولو لپاره یې اقدامات پیل کړي.

## 13-5 مالي پلټنه: په افغانستان کې د لویه جرګې او د ټاکنو د بهیر سره د USAID د مرستې پروګرام د هغو لګښتونو پلټنه چې د ایشیا فونډیشن لخوا مصرف شوي

USAID په 2003 کال کې د ایشیا فونډیشن سره یو تعاوني موافقت لیک لاسلیک کړه تر څو د ټاکنو بهیر سره چې د افغانستان د اساسي قانون لویه جرګې لخوا اداره کیده، مرسته وکړي، د اداري فساد په ضد د څارنې د عالي ادارې په تاسیس کې همکاري وکړي، او افغان حکومت ته تخنیکي مرستې چمتو کړي. ایشیا فونډیشن د 2003 کال د اګست له 1 څخه، د 2010 کال د اپریل تر 30 پورې، شاوخوا 84.9 میلیون ډالر مصرف کړي ده.

کروې هورواث چې د سیګار سره د قرارداد په اساس یې دا مالي پلټنه ترسره کوله وموندە چې د ایشیا فونډیشن د فنډ حساب ورکونې بیانیه د موادو په ټولو برخو کې سم ترتیب شوې ده. د عایداتو لاسته راوړل او د لګښتونو مصرف کولو ټول اقدامات یې د قرارداد سره سم ترسره شوي. سره له دې، کروې هورواث د داخلي کنترول د نیمګړتیاو او د نه منښت په اړه پنځه بیلګې وموندې، چې له امله یې پلټونکو د 26,381 ډالرو په لګښت شکمن شول. په

یاده شمیره کې 5,457 ډالر په ناقانونه توګه او 20,924 ډالر یې داسې ځایو کې لګول شوي چې اسناد نه لري. سربیره پردې، پلټنه معلومه کړه چې، ایشیا فونډیشن هغه 110,333 ډالر یې ندي لیږلي چې د USAID د پیشکي پیسو په سود یې لاسته راوړي دي.

سیګار په افغانستان کې د USAID د ماموریت مشر ته څلور سپارښتنې وړاندې کړې:

- په رپوټ کې د 26,381 ډالره راغلي مشکوکو پیسو د مصارفو قانونیت معلوم کړي، او که مناسبه وي، یادې پیسې بیرته لاسته راوړي.
- شاوخوا 110,333 ډالر چې د پیشکي پیسو په سود لاسته راوړل شوي دي، بیرته واخلي.
- د ایشیا فونډیشن ادارې ته مشوره ورکړي چې د داخلي کنټرول په اړه هغه پنځه موارد بررسي کړي چې د رپوټ لخوا په ګوته شوي.
- د ایشیا فونډیشن ادارې ته مشوره ورکړي چې د نه منښت په اړه هغه څلور موارد بررسي کړي چې د رپوټ لخوا په ګوته شوي.

ایشیا فونډیشن په خپل لیکلی غبرګون کې د هغې سپارښتنې په شمول چې ګواکې د USAID په پیشکي پیسو یې سود لاسته راوړي، د پلټنې له دریو موندنو سره مخالفت وښوده. یاده اداره زیاته کړه چې دوی د 2003 کال څخه تر 2008 کاله پورې د USAID سره یې د ګڼ شمیر بلاعوضه مرستو او تعاوني موافقت لیکونو قراردادونه لاسلیک کړي، چې د ټولو پیسې د یو کریډټ لیک له لارې ورکړ شوي دي. همدارنګه د دې لپاره چې وښيي کوم اضافي پیسې یې ندي اخیستي، پلټونکو ته یې یو مالي جدول وښوده. ایشیا فونډیشن د دوو نورو موندنو سره موافقه وکړه او ویې ویل چې د معلوماتو خوندي ساتلو لپاره د بریښنایي آرشیف سیستم د جوړولو ګامونه یې پورته کړي دي.

## 6-13 مالي پلټنه: د افغانستان د کرهنې سکټور د پیاراژوندی کولو د پرمختګ لپاره د USDA کومکي پروګرام: د هغو لګښتونو پلټنه چې داقتصادي ودې پیوستون د رضاکارانو لخوا مصرف شوي دي

د امریکا د کرهنې وزارت (USDA) د اقتصادي ودې پیوستون د رضاکارانو (VEGA) سره یو تعاوني موافقت لیک لاسلیک کړ تر څو د افغانستان د کرهنې، اوبه لګونې، او مالدارۍ وزارت د وړتیا او موثریت په زیاتولو کې مرسته وکړي. MHM چې د سیګار سره د قرارداد په اساس یې دا مالي پلټنه ترسره کوله، د 2010 کال د نومبر له 24 څخه د 2012 کال د ډیسمبر تر 31 پورې یې د VEGA ،17.2 میلیونه ډالر لګښت معاینه کړه. MHM ومونده چې که چیرته (1) د 2012 کال د نومبر او ډیسمبر میاشتو د محاسبې د اسنادو د بیاکتنې ځواک نه درلودل، چې په مجموعي ډول د 2.6 میلیون ډالرو څخه زیات لګښت پکې نغښتي دي او (2) د 720,501 ډالرو په اندازه مشکوک لګښت په پام کې ونه نیسو، نو د VEGA د فنډ حساب ورکونې بیانیه د موادو په ټولو برخو کې سم ترتیب شوې ده. د عایداتو لاسته راوړل او د لګښتونو مصرف کولو ټول اقدامات د تعاوني موافقت لیک سره سم ترسره شوي.

سیګار USDA ته درې سپارښتنې وړاندې کړې:

- په رپوټ کې د 720,501 ډالره راغلي مشکوکو پیسو د مصارفو قانونیت معلوم کړي، او که مناسبه وي، یادې پیسې بیرته لاسته راوړي.
- د VEGA ادارې ته مشوره ورکړي چې د داخلي کنټرول په اړه هغه پنځه موارد بررسي کړي چې د رپوټ لخوا په ګوته شوي.
- د VEGA ادارې ته مشوره ورکړي چې د نه منښت په اړه هغه دوه موارد بررسي کړي چې د رپوټ لخوا په ګوته شوي.

په خپل لیکلی غبرگون کې، VEGA د پلټنې له موندنو سره، په خاصه بیا د دوو اساسي نیمگړتیاو سره —وخت نیونکې کمزورتیاوې او د تدارکاتو د کړنلارو په اساس چلند نه کول— موافقه ونه کړه، چې د اسنادو څخه پرته د زیاتو پیسو د مصرف کیدو لامل شوي دي. همدارنگه VEGA زیاته کړه چې په داخلي کنترول کې د پلټنې لخوا په گوته شوي نیمگړتیاوې اصلاح شوي دي.

## 7-13 مالي پلټنه: د افغانستان د ملي پوځ د تجهیزاتو د تخنیکي ساتنې د پروگرام سره د امریکا دفاع وزارت کومکي پروگرام د هغه لگښتونو پلټنه چې د افغان انتگریټډ سپورټ سرویسز لخوا مصرف شوي دي

د امریکا دفاع وزارت د 2010 کال په ډیسمبر کې د افغان انتگریټډ سپورټ سرویسز (AISS) سره یو قرارداد لاسلیک کړ، تر څو د ساتنې خدمات چمتو کولو، افغانانو ته د نقلیه وسیلو د ساتنې تریننگ ورکولو، او د مدیریت، اداره، او مشرۍ په برخو کې د افغانانو د ظرفیت په لوړاوي سره د افغان ملي پوځ د تجهیزاتو د تخنیکي ساتنې له پروگرام څخه ملاتړ وکړي. MHM چې د سیگار سره د قرارداد په اساس یې دا مالي پلټنه ترسره کوله، د AISS، شاوخوا 32 میلیونه ډالر لگښت یې معاینه کړه.

MHM د AISS د فنډ د حساب ورکونې بیانیې په اړه یې د خپل مسولیت نه درلودلو اعلان وکړ، ځکه چې AISS د یادې پلټنې لپاره ټول اړوند معلومات نه و چمتو کړي. سربیره پردې، MHM د داخلي کنترول څلور نیمگړتیاوې او د نه منښت پنځه بیلگې په نښه کړې چې له امله یې پلټونکو د 2.8 میلیون ډالرو څخه د زیاتو پیسو په لگښت شکمن شول. په دغه لگښتونو کې، 217,643 ډالره په ناقانونه توگه او د 2.6 میلیون ډالرو زیاتې پیسې داسې مصرف شوي چې اسناد نه لري.

سیگار قرارداد کونکي مامور ته درې سپارښتنې وړاندې کړې:

- په رپوټ کې د 2,869,307 ډالره راغلي مشکوکو پیسو د مصارفو قانونیت معلوم کړي، او که مناسبه وي، یادې پیسې بیرته لاسته راوړي.
- د AISS ادارې ته مشوره ورکړي چې د داخلي کنترول په اړه هغه څلور موارد بررسي کړي چې د رپوټ لخوا په گوته شوي.
- د AISS ادارې ته مشوره ورکړي چې د نه منښت په اړه هغه پنځه موارد بررسي کړي چې د رپوټ لخوا په گوته شوي.

AISS د پلټنې د هغه موندنې په شمول چې د 2.8 میلیون ډالرو څخه زیات لگښتونه یې مشکوک شمیرلي و، د ټولو موندنو سره خپل مخالفت وښوده.

## 8-13 مالي پلټنه: د USAID د بشري سرچینو او لوجیستیکي مرستې پروگرام: د هغه لگښتونو پلټنه چې د نړیوله سوکالي او پرمختگ انکارپوریشن (IRD) لخوا مصرف شوې دي

USAID د نړیواله سوکالي او پرمختگ IRD سره یو وظیفوي فرمان لاسلیک کړ تر څو په افغانستان کې د USAID د فعالیتونو سره د مرستې لپاره مسلکي او تخنیکي کسان چمتو کړي. کروې هورواث چې د سیگار سره د قرارداد په اساس یې دا مالي پلټنه ترسره کوله، د 2006 کال د مارچ څخه د 2011 کال تر اپریل پورې یې د IRD، د 81 میلیون ډالرو څخه زیات لگښت بیاکتنه وکړه.

کروې هورواث رپوټ ورکړ چې د IRD د فنډ حساب ورکونې بیانیه د موادو په ټولو برخو کې سم ترتیب شوې ده. د عایداتو لاسته راوړل او د لگښتونو مصرف کولو ټول اقدامات

یې د قرارداد سره سم ترسره شوي. سره له دې، کروې هورواث د داخلي کنټرول درې مهمې نیمګړتیاوې او شپږ داسې بیلګې یې وموندې چې د نه منښت سره یې تړاو درلود. دا پلټونکې موسسه شاوخوا 1.5 میلیون ډالر مشکوک لګښت یې په ګوته کړه.

سیګار په افغانستان کې د USAID د ماموریت مشر ته درې سپارښتنې وړاندې کړې:

- په رپوټ کې د راغلي مشکوکو پیسو د مصارفو قانونیت معلوم کړي، او که مناسبه وي، يادې پیسې بیرته لاسته راوړي.
- د IRD ادارې ته مشوره ورکړي چې د داخلي کنټرول په اړه هغه درې موارد بررسي کړي چې د رپوټ لخوا په ګوته شوي.
- د IRD ادارې ته مشوره ورکړي چې د نه منښت په اړه هغه شپږ موارد بررسي کړي چې د رپوټ لخوا په ګوته شوي.

که څه هم IRD د پلټنې د ځینو موندنو سره موافقه وښوده، خو د مشکوک لګښتونو د ډیری برخې سره یې موافقه ونه کړه.

## 13-9 مالي پلټنه: په جنوب\لویدیځ کې د USAID د بدیل پرمختګ پروژه: د هغو لګښتونو پلټنه چې د تیترا ټیک ARD لخوا مصرف شوي دي

USAID د تیترا ټیک ARD سره یو قرارداد لاسلیک کړ ترڅو د افغانستان په جنوبي او لویدیځه سیمو کې د کوکنارو د کرهنې مخه نیولو لپاره د بدیل پرمختګ پروژې جنوبي\لویدیځه برخه پلي کړي. د 75 میلیون ډالرو په ارزښت د دې پروژې موخه دا وه چې کرهنیز تولیدات زیات، د بزګرو او بازارونو تر منځ اړیکې ټینګې، د کرهنې، اوبه لګونې او مالدارۍ وزارت وړتیاوې زیاتې، او د کرهنې زیربنا له سره ودان کړي.

MHM چې د سیګار سره د قرارداد په اساس یې مالي پلټنه کوله، د داخلي کنټرول څلور نیمګړتیاوې او د نه منښت درې بیلګې یې معلومې کړې. دا پلټونکې موسسه شاوخوا 3 میلیون ډالر مشکوک لګښت یې په ګوته کړه چې پدې کې 2.1 میلیون ډالر په ناقانونه توګه او 961,013 ډالر یې داسې ځایونو کې لګول شوي و چې اسناد یې نه درلود. MHM رپوټ ورکړ چې، د 3 میلیونه ډالرو څخه پرته چې په مشکوکو ځایونو کې لګول شوي، د فنډ حساب ورکونې بیانیه سمه ترتیب شوې ده. د عایداتو لاسته راوړل او د لګښتونو مصرف کولو ټول اقدامات یې د قرارداد سره سم ترسره شوي.

سیګار قرارداد کونکي مامور ته درې سپارښتنې وړاندې کړې:

- په رپوټ کې د راغلي مشکوکو پیسو د مصارفو قانونیت معلوم کړي، او که مناسبه وي، يادې پیسې بیرته لاسته راوړي.
- د ARD ادارې ته مشوره ورکړي چې د داخلي کنټرول په اړه هغه څلور موارد بررسي کړي چې د رپوټ لخوا په ګوته شوي.
- د ARD ادارې ته مشوره ورکړي چې د نه منښت په اړه هغه درې موارد بررسي کړي چې د رپوټ لخوا په ګوته شوي.

ARD د ټولو هغو موندنو سره خپل مخالفت وښوده چې د مشکوکو لګښتونو لامل شوي.

## 13-10 مالي پلټنه: د USAID د بدیل معیشت پروګرام-ختیځه سیمه: د هغو لګښتونو پلټنه چې د پرمختګ بدیلونو انکارپوریشن لخوا مصرف شوي دي

USAID په 2005 کال کې د پرمختګ بدیلونو انکارپوریشن سره یو وظیفوي فرمان لاسلیک کړ (DAI) تر څو په کنړ، لغمان، او ننګرهار ولایتونو کې د بدیل معیشت پروګرام د ختیځه

سیمې برخه پلي کړي. په هغه وخت کې د افغانستان د کوکنارو نړدې درېمه برخه په یادو ولایتونو کې کرل کیده. د 118.4 میلیون ډالرو په ارزښت د دې پروګرام موخه دا وه چې د قانوني کاروونو د ملاتړ، او هغو غریبو کورنیو ته چې عایدات یې په مستقیمه یا غیر مستقیمه توګه د کوکنارو څخه لاسته راوړل، د بدیل عایداتو بیړنی سرچینې چمتو کولو له لارې په سیمه کې دوامداره او پراخ بنسټیه اقتصادي ودې ته لاره هواره کړي.

MHM چې د سیګار سره د قرارداد په اساس یې مالي پلټنه کوله، د داخلي کنترول څلور نیمګړتیاوې او د نه منښت یوه بیلګه یې معلومې کړې. دا پلټونکې موسسه د 25 میلیون ډالرو څخه زیات مشکوک لګښت یې په ګوته کړه. په دغه شمیره کې شاوخوا 24 میلیون ډالر داسې ځایو کې لګول شوي چې اسناد نه لري او 1.4 میلیون ډالر نور یې د داسې یو فرعي قرارداد کونکي لخوا مصرف شوي چې د افلاس دوسیه لري. DAI د هغه مصارفو په بدل کې مرسته تر لاسه نه کړه چې د دغه فرعي قرارداد کونکي لخوا لګول شوي و. MHM رپوټ ورکړ چې، د معلوم شوي مشکوکو لګښتونو څخه پرته، د فنډ حساب ورکونې بیانیه سمه ترتیب شوې ده. د عایداتو لاسته راوړل او د لګښتونو مصرف کولو ټول اقدامات یې د قرارداد سره سم ترسره شوي.

سیګار په افغانستان کې د USAID د ماموریت مشر ته درې سپارښتنې وړاندې کړې:

- په رپوټ کې د راغلي مشکوکو پیسو د مصارفو قانونیت معلوم کړي، او که مناسبه وي، یادې پیسې بیرته لاسته راوړي.
- د DAI ادارې ته مشوره ورکړي چې د داخلي کنترول په اړه هغه څلور موارد بررسي کړي چې د رپوټ لخوا په ګوته شوي.
- د DAI ادارې ته مشوره ورکړي چې د نه منښت په اړه هغه موارد بررسي کړي چې د رپوټ لخوا په ګوته شوي.

DAI د پلټنې د ټولو موندنو سره مخالفت وکړ.

## 11-13 مالي پلټنه: د بهرنیو چارو وزارت په مرسته د افغانستان د رسنیو پروژه: د هغو لګښتونو پلټنه چې د HUDA ډولوپمنټ ارګنایزیشن افغانستان لخوا مصرف شوي دي

د بهرنیو چارو وزارت د HUDA ډولوپمنټ ارګنایزیشن (HUDA) سره د درېو بلاعوضه مرستو قرارداد لاسلیک کړ تر څو د افغان میډیا پروژې له لارې په افغانستان کې د رسنیو خپلواکي ته وده ورکړي. HUDA د پوهنتونو د ژورنالیزم پوهنځیو سره مرسته کوله تر څو په دري او پښتو ژبو کې د چاپي، راډیویي، او ټلویزیوني رسنیو لپاره مواد چمتو کړي. HUDA ادعا کوي چې د 2010 کال د جولای له 15 څخه، د 2012 کال د ډیسمبر تر 31 پورې یې په مجموعي ډول نږدې 7.1 میلیون ډالر مصرف کړې ده.

MHM چې د سیګار سره د قرارداد په اساس یې مالي پلټنه کوله، د داخلي کنترول پنځلس نیمګړتیاوې او د نه منښت شپږ بیلګې یې معلومې کړې، چې له امله یې پلټونکې دې ته اړ شو چې 2,405,102 ډالره لګښت یې مشکوکه وبولي. په دغه شمیره کې، 173,469 ډالر یې په ناقانونه توګه، او شاوخوا2.2 میلیون ډالر یې په داسې ځای کې لګول شوي چې اسناد نه لري. MHM رپوټ ورکړ چې، د معلوم شوي مشکوکو لګښتونو څخه پرته، د HUDA د فنډ حساب ورکونې بیانیه سمه ترتیب شوې ده. د عایداتو لاسته راوړل او د لګښتونو مصرف کولو ټول اقدامات یې د بلاعوضه مرستو د غوښتنو سره سم ترسره شوي.

سیګار د بهرنیو چارو وزارت د بلاعوضه مرستو قرارداد کونکي مامور ته درې سپارښتنې وړاندې کړې:

- په رپوټ کې د راغلي مشکوکو پیسو د مصارفو قانونیت معلوم کړي، او که مناسبه وي، یادې پیسې بیرته لاسته راوړي.

- د HUDA اداري ته مشوره ورکړي چې د بهرنیو چارو وزارت نورو قراردادو ته د درخواست کولو څخه وړاندې د داخلي کنترول په اړه هغه پنځلس موارد بررسي کړي چې د رپوټ لخوا په ګوته شوي.
- د HUDA اداري ته مشوره ورکړي چې د بهرنیو چارو وزارت نورو قراردادو ته د درخواست کولو څخه وړاندې د نه منښت په اړه هغه شپږ موارد بررسي کړي چې د رپوټ لخوا په ګوته شوي.

د HUDA اداره په خپل لیکلی غبرګون کې د داخلي کنترول او د نه منښت مسایلو په اړه د پلټنې د پنځلسو موندنو او سپارښتنو له جملې څخه د دریو سره يې موافقه وکړه. پهرصورت، د HUDA اداره د مشکوکو لګښتونو او وړاندې شوي سپارښتنو سره د خپل مخالفت دلایل داسې وښوده چې، (1) د فرعي قراردادونو په تړلو کې يې د سیالۍ بهیر ټول اړوند معیارونه پلي کړي، او (2) د تعقیبي پلټنې لپاره يې ټول اړوند کمکي اسناد چمتو کړي دي.

## تفتیشات

سیګار پدې ربع کې، دوه د تفتیش رپوټونه او د تفتیشاتو په نتیجه کې دوه د خوندیتوب خبرداری لیکونه خپاره کړي، چې په اړوندو رپوټونو کې يې د رغونې یو شمیر نیمګړتیاوې، د روغتیا او خوندیتوب خطرونه، او د زیربنایي پروژو د قراردادونو د څارنې پورې اړوند ځینې رواني ستونزې په ګوته کړي دي.

د روان کار سربیره، سیګار په پروان ولایت کې د جسټس سنټر کورټ هاوس د رغونې پروژې تفتیش هم پیل کړې ده، چې انځور يې د دې رپوټ په پوښ لګول شوي، تر څو معلومه کړي چې د رغونې یاده پروژه د ودانیو غوښتنې پوره کوي او د قرارداد د شرایطو سره سم ترسره کیږي که نه.

### 9-13 تفتیش: د شبرغان د ښوونکو د روزنې ودانۍ: د متحده ایالاتو د پوځي انجینرانو قطعه د ودانۍ له پای ته رسیدو څخه وړاندې او پرته له دې چې د روغتیا او خوندیتوب ځینې جدي خطرونو په اړه پریکړه ونیسي، د یادې پروژې لګښت يې قرارداد کونکي ته سپارلي او د قراردادي تعهداتو څخه يې خوښې کړي دي

په 2008 کال کې USAID او د متحده ایالاتو د پوځي انجینرانو قطعه موافقه وکړه چې په افغانستان کې ښوونیزې ودانۍ جوړې کړي. د 2009 کال په فبروري کې، USACE -افغانستان انجینر ډسترکټ نارت د 2.9 میلیون ډالرو په ارزښت یو قرارداد د مرکیوري ډویلوپمنټ په نوم یو عراقي شرکت سره لاسلیک کړ تر څو د افغانستان په شمال کې د ښوونکو د روزنې لپاره درې ودانۍ جوړې کړي. یو له دې ودانیو څخه د جوزجان ولایت په شبرغان کې موقعیت درلود او ټاکل شوی و چې کار يې د 2010 کال په ډیسمبر کې بشپړ شي. USACE د قرارداد موده د 2011 کال تر جون پورې وغزوله او لګښت يې هم 3.4 میلیون ډالرو ته زیاته کړه.

سیګار معلومه کړه چې آیا د ودانیو رغونه د قرارداد په اساس بشپړه شوې او آیا یادې ودانۍ لکه څنګه چې تمه کیده کارول او ساتل کیږي که څنګه.

**بشپړ شوي تفتیشات:**

- 9-13 تفتیش: د شبرغان د ښوونکو د روزنې ودانۍ: د متحده ایالاتو د پوځي انجینرانو قطعه د ودانۍ له پای ته رسیدو څخه وړاندې او پرته له دې چې د روغتیا او خوندیتوب ځینې جدي خطرونو په اړه پریکړه ونیسي، د یادې پروژې لګښت يې قرارداد کونکي ته سپارلي او د قراردادي تعهداتو څخه يې خوښې کړي دي
- 10-13 تفتیش: د بېخاک ښوونځی: د قرارداد په طرحه کې غیر مجاز بدلونونه او کمزورې رغونه کولی شي د تعمیراتي بشپړتیا له خطر سره مخ کړي



**ناسمه لین دوانۍ** او زیات بریښنایي سرکټونه (سره حلقه ترې تاوه شوې) د شبرغان ښوونځي استوګنو په وړاندې د اورلګیدنې او بریښنایي شاک خطرونو ته اشاره کوي. (د سیګار انځور)

## موندنې

د شبرغان د روزنې ودانۍ د څلورو کلونو او دوه بیلابیلو قراردادونو څخه وروسته لاهم نیمګړې پاتې ده. د اوبو، فاضله اوبو، او بریښنايي سیستمونو کارونه یې ندي بشپړ شوي. د بریښنا د نشتوالی له امله سیګار نه شو کولی د رڼا، تودوخې، یخونکې، اوبه، او نور سیستمونه و ازمویي. پهرصورت، سیګار وموندله چې د ودانۍ لین دواني د متحده ایالاتو د بریښنا له قوانینو سره سم نه دي ترسره شوي. برسیره پردې، د بریښنا په سیستم کې یو بیځایه "ټپ" د خوندیتوب جدي خطرونه رامنځ ته کوي. نور داچې، د پاکو اوبو څاه د ودانۍ د فاضله اوبو سیستم ته نژدې ځای ورکړ شوی، چې دا کولی شي بالقوه روغتیايي ستونزې جوړې کړي. سیګار دا خبره د خوندیتوب په یو خبرداری لیک کې رابرسیره کړه. د دې خبرداری لیک په اړه نور تفصیلات په 55 مخ کې وګورئ.

سره له دې چې قرارداد کونکی رغونه نده بشپړه کړې او د روغتیا او خوندیتوب مسایل هم ناحل کړي پریښې دي، USACE-TAN د 2011 کال په ورستیو کې قرارداد پای ته ورسوله. په داسې حال کې چې USACE-TAN، مرکیوري ډویلوپمنټ شرکت ته د ښونکو د روزنې دریو ودانیو د کار بشپړ کولو لپاره د قرارداد له 3.4 میلیون ډالرو څخه 3.1 میلیون ډالر یې تادیه کړې وه، یاد شرکت یې د نور مسولیت څخه خوشې کړه. USACE-TAN د 2012 کال په جنوري کې، یو افغاني شرکت سره د 153,000 ډالرو په ارزښت قرارداد لاسلیک کړ تر څو د ودانیو نیمګړی کارونه په 30 ورځو کې پوره کړي. USACE-TAN تقریبا یو کال وروسته، د پروژې په بشپړ کولو کې د قرارداد کونکي د پاتې راتلو له امله قرارداد یې لغوه کړه. USACE-TAN دویم قرارداد کونکی یې هم د نور مسولیت څخه خوشې کړه. USACE-TAN په پلان کې لري چې د کار بشپړ کولو لپاره دریم قرارداد کونکی استخدام کړي. سیګار معلومه کړه چې یو خواشینونکی بهیر د USACE مخه نیسي چې د قرارداد کونکي څخه حساب واخلي، البته د دې کار لپاره د قرارداد کونکي څخه پیسې تر لاسه کوي. USAID د 2013 کال په جنوري کې د USACE سره خپل موافقت لیک پای ته ورسوله، او د یو نوی قرارداد لپاره یې اقدامات پیل کړي تر څو د یادو ودانیو کار بشپړ، ستونزې یې هوارې، او په پای کې په رسمي توګه ودانۍ افغان دولت ته وسپاري.

افغان ښوونکو او زده کونکو د کاري سیستمونو د نشتوالي او د روغتیا او خوندیتوب دخطرونو سربیره د شبرغان نیمګړی تعمیر کاروي. د یادو ودانیو عملیاتونه او ساتنه لاهم د متحده ایالاتو د حکومت په غاړه دي، ځکه چې تر اوسه افغان دولت ته ندي سپارل شوي. د ودانیو استوګنو د متحده ایالاتو حکومت څخه غوښتنه کړې چې د جنریټري بریښنا د تیلو د مصرف لپاره هر میاشت 50,000 ډالر فنډ ورکړي.

## سپارښتنې

پدې تفتیش کې د معلوم شوي ستونزو د بررسۍ لپاره سیګار پنځه سپارښتنې وړاندې کړې. سیګار د USACE د عمومي قوماندان څخه غوښتنه کوي تر څو USACE-TAN ته امر وکړي چې پدې اړه سیګار ته توضیحات ورکړي چې ولې دوه قراردادیانو سره لدې چې ودانۍ یې نیمګړې پریښې، د اوبو او بریښنا کارونه یې ندي بشپړ کړي، خوشې پریښودل شوي او حساب ترې ندی اخیستل شوی او پدې اړه دې مناسبه تادیبي کړنه په ګوته کړي. همدارنګه سیګار په افغانستان کې د USAID د ماموریت مشر ته څلور سپارښتنې وړاندې کړې تر څو معلومه کړي چې آیا د فاضله اوبو نلونه د پاکو اوبو زیرمې ته نږدې ځای په ځای شوي، د روغتیا او خوندیتوب د هغو خطرونو د کمولو لپاره اقدامات په پام کې ونیسي چې د پوهنځي غیر رسمي کارونې څخه رامنځته کیدای شي، د شبرغان د ښوونکو د روزنې ودانۍ کارونه بشپړ او افغان دولت ته یې سپارنه ګړندی کړي، او د پروژې څخه سمه څارنه وکړي.

**د ادارې نظر او تبصره**

USACE موافقه وکړه چې د قراردادونو د تړلو په اړه بیاکتنه وکړي او د نتایجو رپوټ یې سیګار ته وړاندې کړي سیګار په پیل کې د فاصله اوبو دنلونو او د روغتیا او خوندیتوب په اړه خپلې سپارښتنې USACE ته وړاندې کړې وې. پهرصورت، USACE نور په پروژه کې د کار کولو واک او د ودانۍ په کارولو کنترول نه لري. په نتیجه کې، سیګار خپلې سپارښتنې د USAID د ماموریت مشر ته وړاندې کړې. USAID په خپلو تبصرو کې د سیګار د وروستی دوه سپارښتنو سره موافقه وښوده. USAID همدارنګه د پروژې د بشپړ کولو لپاره د نوي قرارداد په اړه، د قرارداد څخه د څارنې، او افغان حکومت ته د ودانیو د سپارلو په اړه معلومات چمتو کړه.



**په تعمیراتي نیمګړتیاو** کې چې سیګار د بټخاک په ښوونځي کې موندلي یو هم د هغه دیوال د خښتو ترمنځ د خلاو شتون دی، چې کانکریټي سلب او چت ته استناد ورکوي. (د سیګار انځور)

## 10-13 تفتیش: د بټخاک ښوونځی: د قرارداد په طرحه کې غیر مجاز بدلونونه او کمزوری رغونه کولی شي د تعمیراتي بشپړتیا له خطر سره مخ کړي

USFOR-A د 2012 کال په اګست کې د 262,899 ډالرو په ارزښت د قوماندان د بیړنی غبرګون پروګرام له لارې یو قرارداد لاسلیک کړ تر څو د کابل ولایت په بټخاک سیمه کې د یو ښوونځي لپاره یوه ضمیمه جوړه او د ښوونځي شرایط هم بهتره کړي. د قرارداد د کارونو لپاره 150 ورځې موده ورکړ شوه، تر څو یوه یو پوړیزه ودانۍ چې 10 ټولګی لري جوړه کړي. همدارنګه د قرارداد کونکي څخه غوښتل شوی و چې د جنریټر لپاره یو ځای جوړ، د اوبو ځاګانې ترمیم، د اوبه لګونې سیستم نصب، د ښوونځي شاوخوا د خښتو یو دیوال تاو کړي، او د ټولګیو اوسنی وضعه کې سمون راولي. سیګار معلومه کړه چې آیا ودانۍ د قرارداد د شرایطو په اساس جوړ او د ودانۍ نیمګړتیاوې پیدا او اصلاح شوي دي که نه.

**موندنې**

سیګار معلومه کړه چې د ودانۍ طرحه او مواد د قرارداد د شرایطو سره سم ندي چمتو شوي. دا ستونزه، د کمزوری رغونې سره یوځای د بټخاک ښوونځي د تعمیر بشپړتیا له خطر سره مخ کوي.

د یو یو پوړیزه ودانۍ په ځای چې 10 صنفونه ولري، قرارداد کونکی پنځه صنفه لرونکي دوه پوړونه جوړ کړي. قرارداد کونکی د متحده ایالاتو دولت د پوهې او منلو څخه پرته پخپل سر د رغونې مواد بدل کړي، په دیوالونو کې د سلنډر بلاک په ځای یې خښتې کارولي او په چت کې د لرګین چوکاټ په ځای چې په قرارداد کې غوښتل شوی، د کانکریټي سلب څخه یې کار اخیستې ده. د چت د موادو بدلول د خوندیتوب د زیات خطر لامل کیدای شي، ځکه چې یاد ښوونځی په داسې سیمه کې موقعیت لري چې ډیرې زلزلې لري. سیګار دا خبره د خوندیتوب په یو خبرداری لیک کې رابرسیره کړه. د دې خبرداری لیک په اړه نور تفصیلات په 55 مخ کې وګوری.

سیګار یو شمیر تعمیراتي نواقص په ګوته کړه، لکه (1) د هغه دیوال د خښتو ترمنځ د خلاو شتون چې کانکریټي سلب او چت ته استناد ورکوي؛ (2) داسې دیوالونه چې سیخبندي نه لري؛ او (3) جال جالي ځایونه، د تیرونو ښکاره کیدنه، او کانکریټي تختې چې په چت کې پاته کیږي. هر یو د دې نواقصو څخه کولی شي د تعمیر ساختماني بشپړتیا له خطر سره مخ کړي.

**سپارښتنې**

سیګار د USACE د عمومي قوماندان څخه غوښتنه کوي تر څو USACE-TAN ته امر وکړي چې (1) د ښونځی دوه نوي تعمیرونو په اړه یو فوري تفتیش په لاره واچوي تر څو معلومه کړي چې تعمیراتي بشپړتیا یې خوندي دي که نه، (2) د قرارداد کونکي څخه

وغواړي څو نیمګړتیاوې سمې کړي، (3) د موادو د تعویض په اړه بیاکتنه وکړي تر څو معلومه شي چې د پروژې په مجموعي لګښت کې کوم بدلون راځي که څنګه، او (4) د قراردادونو هغه مامورین معلوم کړي چې د تعمیراتي پروژو د ابتدایي څارنې مسولیت په غاړه لري. همدارنګه سیګار سپارښتنه وکړه څو USFOR-A معلومه کړي چې ولې د پروژې په لومړیو شپږو میاشتو کې د رغونې څخه څارنه نده شوې، په قرارداد کې داسې کوم بدلون ندی راوستل شوی چې د موادو د بدلولو سره موافقه وکړي، او د تبدیل شوي موادو د بیو معلوملو لپاره کوم کار ندی شوی. د دې مواردو د معلوملو څخه وروسته، سیګار سپارښتنه وکړه چې USFOR-A د امکان په صورت کې پریکړه ونیسي چې د قرارداد د څارنې مسولو مامورینو ته د ودانۍ د نه څارولو په جرم کوم سزا په پام کې ونیول شي.

**د ادارې نظر او تبصره**
USFOR-A د دې رپوټ د مسودې په اړه خپل لیکلی تبصره کې، د سیګار د سپارښتنو سره په مجموعي ډول موافقه وښوده او زیاته یې کړه چې ګڼ شمیر نوي پالیسۍ یې پلي او نوي بشپړ شوي ټولې زیربنایي پروژې یې له سره تفتیش کړي دي.

## د سیګار د سپارښتنو وضعیت

د ځانګړی مفتش د 1978 کال لایحه، لکه څنګه چې اصلاح شوې، د سیګار څخه غوښتنه کوي چې د خپل سپارښتنو د وضعیت په اړه رپوټ ورکړي. سیګار پدې ربع کې خپل هغه نهه سپارښتنې وتړلې چې په 11-5 پلټنه کې یې د افغان حکومت کارکونکو او مشاورینو ته د متحده ایالاتو د کمکي معاش په اړه وړاندې کړي وه.

سیګار د 2009 کال څخه د 2013 کال تر جون پورې، 85 رپوټونه خپاره او د فنډونو د بیرته اخیستلو، د ادارو د څارنې وده، او د پروګرام د موثریت زیاتولو لپاره یې په مجموعي ډول 291 سپارښتنې کړي دي. سیګار تر اوسه پورې د دغو سپارښتنو 70% تړلې دي. د یوې سپارښتنې تړل دا معنا ورکوي چې پلټل شوې اداره د سیګار سپارښتنه پلې کړې او یا یې هم موضوع په مناسبه توګه بررسي کړې ده. ځینې وخت یوه تړلې سپارښتنه کیدای شي د یو تعقیبي پلټنې موضوع وي.

کوم اصلاحي کار چې پدې ربع کې د سیګار د تړل شوو سپارښتنو په ځواب کې ترسره شوې دا ده چې یو نفر د متحده ایالاتو د کمکي معاشونو په برخه کې د فوکل پاینټ (مرکزي کس) په توګه وټاکل شو تر څو د معاشونو غوښتنې ترلاسه کړي او همدارنګه د هغه کمکي معاشاتو څارنه وکړي چې د متحده ایالاتو د ادارو لخوا افغان ملکي مامورینو ته ورکول کیږي. سیګار خپل دا پلټنه پدې شرط و تړله چې د افغان ملکي مامورینو سره د مرستې په برخه کې به د متحده ایالاتو وروستی هڅې څارې.

همدارنګه د ځانګړی مفتش د 1978 کال لایحه، لکه څنګه چې اصلاح شوې، د سیګار څخه غواړي هغه مخکینۍ سپارښتنې هم په ګوته کړي چې په ځواب کې یې اصلاحي ګامونه ندي اخیستل شوي. پدې ربع کې، بیاهم سیګار په 28 پلټنو او تفتیشي رپوټونو کې د نغښتل شوي سپارښتنو په اړه د ادارو اقدامات څاري.

فعلاً، یوازې د یوې پلټنې رپوټ د 12 میاشتو څخه زیات وخت کیږي چې د پریکړې انتظار باسي. 11-13 پلټنه، د اداراتو تر منځ محدوده همغږي او په افغانستان کې د متحده ایالاتو د فنډونو ناسم کنترول د افغان مالي سکتور پرمختګ او د امریکا د پیسو خوندي ساتلو په برخه کې د متحده ایالاتو هڅې له خنډ سره مخ کوي. د 2011 کال د جولای په 20 خپره شوې وه. دا پلټنه چې د 2013 کال د اپریل په درې میاشتنی رپوټ کې خیړل شوې ده،

ځلور سپارښتنې لري. يوه يې د متحده ايالاتو سفير څخه غوښتنه کوله چې د مالي سکتور
د پراختيايي پروګرامونو په برخه کې د ادارو ترمنځ همغږۍ ته وده ورکړي؛ درې نورې
سپارښتنې يې د بهرنيو او دفاعي چارو له وزيرانو غوښتنه کوله څو د هغو امريکايي پيسو
څارنه وکړي چې د افغان اقتصاد له لارې تويېږي.

سيګار د هغو پنځو پلټنو او تفتيشونو په رپوټونو کې نغښتل شوي سپارښتنې په نظر کې
لري چې د 12 مياشتو څخه زيات وخت لپاره پرانيستې وې. سيګار د اړوندو ادارو څخه تمه
لري چې خپل موافق شوي اقدامات بشپړ کړي.

## څانګړې پروژې

د دې رپوټ په دوره کې، د سيګار د ځانګړو پروژو دفتر د سړکونو لاندې پلچکونو د
قراردادونو په اړه يو ځانګړی رپوټ، د خونديتوب دوه خبرداری ليکونه، او د مديريت دوه
خبرداری ليکونه خپاره کړل. سيګار خپل خبرداری ليکونه د بهرنيو چارو او دفاع وزارتونو،
USAID ته واستول ترڅو فرعي قرارداد کونکو ته د تاديې نه ورکولو، د متحده ايالاتو د
پيسو ضايع کيدو، او د ښوونځي د خونديتوب بيړنی مسايل په ګوته کړي. همدارنګه د
پارلمان د څارنې او دولتي اصلاحاتو کميټې ته د کابل بانک د بحران په اړه لنډ معلومات
وړاندې کړ. برسيره پردې، سيګار بياهم د پلي کونکو ادارو څخه غوښتنه وکړه تر څو خپل
غوره لس پروګرامونه په ګوته کړي.

> **بشپړې شوې ځانګړې پروژې**
>
> - سيګار SP 13-8: اصلاح شوي چاوديدونکي وسيلې: څرګنده نده چې آيا د سرتيرو د ژوند ساتلو لپاره د سړکونو لاندې پلچکونه کار کوي يا له سره ندي نصب شوي

### SP 13-8: اصلاح شوي چاوديدونکې وسيلې: څرګنده نده چې آيا د سرتيرو د ژوند ساتلو لپاره د سړکونو لاندې پلچکونه کار کوي يا له سره ندي نصب شوي

هغه جدي خطرونو چې د سړکونو لاندې پلچکونو کې د اصلاح شوي چاوديدونکې وسيلو
له امله رامنځته شوي، د امريکا دفاع وزارت دې ته اړ شو چې د داسې پروژو فنډ ورکړي
چې په دې پلچکونو کې د ياغيانو د لاسرسۍ لارې بندوي. د سيګار يوه څيړنه په 2012 کال
کې معلومه کړه چې لږ تر لږ دوه افغاني شرکتونه په يو ولايت کې- چې د 1 ميليونه ډالرو
په ارزښت د پلچکونو د لارې بندولو پروژې يې اخيستې وې- يا يې اصلا دا سيستمونه نه
و نصب کړي يا يې په ناسمه توګه نصب کړي و. روانه څيړنه معلوموي چې آيا د پروژې په
تطبيق کې دا څرګنده ناکامي د متحده ايالاتو د ګڼ شمير سرتيرو د مرګ ژوبلې لامل کيدای
شي که نه. تراوسه پورې، يو افغان قرارداد کونکی د خپل فرعي قرارداد کونکي سره د چل ول
او قصدي انسان وژنې په تور بنديان شوي دي. د سيګار څيړونکو د افغان لوی څارنوالي سره
يوځای کار کوي تر څو دويم قرارداد کونکی هم بندي کړي. سيګار د څيړنې د موندنو په اړه
د سړکال په لومړيو کې دفاع وزارت ته خبر ورکړی.

سيګار دا بياکتنه د دې لپاره پيل کړې ده ترڅو معلوم کړي چې د فاع وزارت د پلچکونو
د مخه نيونکې سيسټمونو لپاره څو قراردادونه لاسليک کړي او تر کومه حده د دې مهمو
قراردادونو څخه څارنه کوي.

سيګار د هغو قراردادونو د شمير معلوملو لپاره چې دفاع وزارت د پلچکونو د مخه نيولو
لپاره لاسليک کړي، کافي شواهد ترلاسه نه کړ. سيګار وموندہ چې په درې دلايل د پلچکونو د
مخه نيونکې سيستمونو د موقعيت او لګښت په اړه څارنه نه ده شوې:

- د پلچکونو مخه نيونکې سيستمونو جوړول اکثرا د سړک جوړولو د قرارداد يوې برخې په توګه غوښتل شوي، نه د يو مستقل قرارداد په توګه.

- پوځي واحدونو لکه څنګه چې په خپلو سیمو کې د خطرونو سره مخ دي، څکه د دې سیستمونو د جوړولو لپاره ډېر ټینګ شرایط وضع کوي.
- د متحده ایالاتو سرتیري هم یاد سیستمونه جوړ او نصب کړي دي.

سربیره پردې، سیګار د دې سیستمونو د جوړوني او نصب د قرارداد په اړه جدي اندیښنه لري. اوسنی شواهد نشي په ډاګه کولی چې آیا د پلچکونو مخه نیولو سیستمونه چې د متحده ایالاتو د فنډ لخوا یې لګښت ورکړ شوی، اصلا نصب شوي، او که نصب شوي وي آیا سم کار کوي که نه. د قرارداد دوسیې د دقت، بشپړتیا، او کیفیت په برخو کې د کیفت کنټرول او د کیفیت یقیني کولو په اړه مهمې ستونزې لیدل کیږي. په پای کې، د سیګار په اند مهمه ده چې د پلچکونو د مخه نیولو سیستمونو د موقعیت په اړه معلومات ولرو، او همدارنګه د IEDs د ځای په ځای کیدو له امله د مرګ ژوبلې په مخنیوی کې څنګه وضعیت لري. د قرارداد په مدیریت او څارنه کې د مناسب تغیر راوستو لپاره سیګار د USFOR-A او C-JTSCC قوماندانانو ته درې سپارښتنې وړاندې کړې:

- یقیني کړي چې په ټولو قراردادونو کې د کیفیت تضمین، او د کیفیت کنټرول ترالسه کولو او ثبتولو لپاره ځانګړي شرایط وضعه کوي.
- یقیني کړي چې قرارداد کونکي چارواکو د پلچکونو د قراردادونو د لاسلیک کولو څخه وړاندې د کیفیت تضمین، او د کیفیت کنټرول ټول اړوند شرایط په پام کې نیسي.
- داسې اقدامات په پام کې ونیسي چې د امکان ترحده پورې، په ټوله افغانستان کې د پلچکونه موقعیتونه معلوم کړي.

C-JTSCC د دې رپوټ په ځواب کې وویل چې د قرارداد د څارنې د کیفیت لوړولو لپاره یې ځینې ګامونه پورته کړي دي. همدارنګه C-JTSCC په ټوله پوځي ساحه کې د پلچکونو دموقعیتونو معلومولو لپاره د اضافي وخت غوښتنه وکړه ترڅو د پلچکونو د قراردادونو اسناد چې د سیمه ایزه قوماندو لخوا لاسلیک شوي، راټول او بیاکتنه وکړي. د سیګار په اند دا غبرګون منطقي دی.

IJC بیا ټینګار کوله، چې په راتلونکو میاشتو او کلونو کې د ایتلافي ځواکونو د وتلو له امله مونږ باید د پلچکونو د موقعیت معلوملو او تفتیش لپاره باید بدیله لاره پیدا کړو. سیګار مني چې کیدای شي بدیله لاره لکه هوایي معاینې ته ، اړتیا پیدا شي. پهرصورت، د سیګار په اند دا د منلو وړ خبره نده چې قرارداد کونکی مامور، مالیه ورکونکې پیسې په داسې قراداد کې مصرف کړي چې د عملي کیدو په اړه یې ډاډه نه وي.

### SP 13-4 اداري خبرداری: فرعي قرار داد کونکي د تادیه نه ورکولو مسایل

سیګار د دفاع او بهرنیو چارو وزارتونو، او USAID ته اداري خبرداری لیک واستوله تر څو د هغه بیشماره شکایتونو په اړه یې خبر کړي چې فرعي قرارداد کونکي ته د تادیه نه ورکولو په اړه یې لاسته راوړي. د 2009 کال څخه تر 2012 کاله پورې د سیګار د شکایاتو نژدې څلورمه برخه چې د شکایاتو د شمیرې له لارې یې لاسته راوړي، د لومړنی او فرعي قرارداد کونکي د تادیاتو په اړه دي. سیګار د تادیاتو نه ورکولو په اړه 52 څیړنې پرانیستي چې د 69 میلیون ډالرو په اړه تحقیقات کوي. سیګار افغان فرعي قرارداد کونکو ته د لومړنی قراردادیانو لخوا د تادیاتو نه ورکولو پیښو ته د متحده ایالاتو د بیارغونې هڅو په مخکې د




**د پلچکونو مخنیونکي سیستمونه** لکه د اوسپنې دې میلې ته ورته، یاغیان نه پریږدي چې په اسانه توګه دسړک لاندې چاودیدونکي توکي ځای په ځای کړي. (د سیګار انځور)

## د ځانګړي پروژو خبرداری لیکونه

- SP 13-4 اداري خبرداری: فرعي قرار داد کونکي د تادیه نه ورکولو مسایل
- SP 13-5 د خوندیتوب خبرداری: د بتخاک ښوونځی
- SP 13-6 د خوندیتوب خبرداری: د شبرغان ښوونځی
- SP 13-7 اداري خبرداری: په لیدرنیک کمپ کې د قوماندې او کنټرول ودانۍ

لوی خنډ په سترګه ګوري. فرعي قرارداد کونکو ته يې بالقوه خطرات د سوداګرۍ تاوان او ناکامي ده، چې په څنګ کې يې د کارګرانو او اړوندو کورنيو د ژوندانه معيشت خرابوالی هم رامنځته کېږي. هغه لومړنی قرارداد کونکي چې فرعي قراردادیانو ته د تادياتو په نه ورکولو تورن دی د کار د دريدو، د کار سيمو ته د لاسرسي له لاسه ورکولو، مړينې، او يرغمل کېدو له خطرونو سره مخ دي. په نتيجه کې د متحده ايالاتو پروژې د ځنډ، نابشپړيدنه، يا ورانی سره مخ کېږي.

سيګار د متحده ايالاتو پخوانی ملکي او پوځي مشرانو څخه غوښتنه وکړه تر څو په هغو قراردادونو کې چې د بهرنيو چارو او دفاع وزارتونو، او USAID لخوا په افغانستان کې لاسليک شوي، د دغو ستونزو حدود معلوم کړي او (1) د يادو قراردادونو څخه په کلکه څارنه وکړي ترڅو فرعي قراردادیانو ته د تادياتو رسيدل يقيني شي، او (2) يقيني کړي چې د تادياتو شخړې د قرارداد د شرايطو سره سم هوارې شوي دي.



**د بېخاک ښوونځي د راپرځيدو** خطر شته ځکه چې قرارداد کونکی د دې پرځای چې د قرارداد په اساس د کانکريټي بلاکونو د پاسه لرګين چوکاټ درلودونکی چت جوړ کړي، د خښتو ديوال د پاسه يې کانکريټي سلبونو ايښې دي. (د سيګار انځور)

## SP 13-5 د خونديتوب خبرداری: د بېخاک ښوونځی

سيګار USFOR-A ته خبرداری ورکړ چې د کابل ولايت، بګرامي ولسوالۍ په بېخاک سيمه کې، د يوې ښوونځۍ اضافي تعمير په قرارداد کې درغلي د تعمير ساختماني بشپړوالی له خطر سره مخ کړی. د نورو ستونزو په څنګ کې، سيګار وموندله چې د تعمير په ديوال او چت کې رامنځته شوې نيمګړتياوې کولی شي د تعمير ساختماني بشپړوالی له خطر سره مخ کړي. سيګار انديښنه لري چې که چيرته د ښوونځي له پرانستلو څخه وړاندې د ودانۍ چت ټينګ نشي نو کيدای شي د ښوونځي پر ماشومانو پريوزي. له همدې امله، سيګار د USFOR-A څخه غوښتنه وکړه تر څو د خونديتوب د خطراتو په اړه چې سيګار په ګوته کړي، اړوند ضروري او معياري اقدامات عملي کړي. همدارنګه سيګار د USFOR-A څخه وغوښته تر څو چې د تفتيش بشپړ رپوټ يې نه وي ترلاسه، او د ټولو انديښنو په اړه يې اقدامات نه وي ترسره کړي ياده ښوونځۍ افغان دولت ته ونه سپاري. د دې تفتيش وروستی رپوټ او د سيګار د رپوټ او سپارښتنو په ځواب کې د USFOR-A غبرګون د دې رپوټ په 51 مخ کې د تفيشاتو فرعي سرليک لاندې موندلی شی.



**د پاکو او فاضله اوبو** سيستمونو د ستونزو سربيره، او د بريښنايي انديښنو په شتون کې همدا اوس د شبرغان ښوونځی د افغانانو لخوا کارول کيږي. (د سيګار انځور)

## SP 13-6 د خونديتوب خبرداری: د شبرغان د ښوونکو د روزنې وداني

سيګار دفاع وزارت او USAID ته د خونديتوب هغه خطرونو په اړه خبر ورکړ چې د جوزجان ولايت، شبرغان سيمه کې د ښوونکو د روزنې ودانۍ د تفيش په موده کې يې معلوم کړي و. سيګار په خپل خبرداری ليک کې د تعميراتي ستونزو په څنګ کې، د بريښنا، اوبو، فاضله اوبو د سيستمونو ستونزو ته هم اشاره کړې ده ترڅو پلي کونکي ادارې په چټک ډول اصلاحي ګامونه پورته کړي. د سيګار مفتشينو د بريښنا دلينونو ستونزې معلومې کړې چې کولی شي د ودانۍ استوګنو د بريښنا له امله مړينې، او د اورلګيدنې خطرونو سره مخ کړي. سره له دې چې په تعمير کې ساختماني کار روان و، سيګار وموندله چې افغانانو د تعمير په کارونه پيل کړې. سيګار د USAID څخه غوښتنه وکړه چې د خونديتوب په اړه معلوم شوي خطرونه په چټک ډول بررسي او مناسب ګامونه پورته کړي. د دې تفتيش وروستی رپوټ او د سيګار د رپوټ او سپارښتنو په ځواب کې د يادې ادارې غبرګون د دې رپوټ په 49 مخ کې د تفيشاتو فرعي سرليک لاندې موندلی شی.



د هلمند ولایت د قوماندې او کنټرول لوی مرکز چې د متحده ایالاتو **پوځ ورته اړتیا نلري**، د 34 میلیونه ډالرو په لګښت، د یونیم ایکړ ساحې په څمکه جوړ شو، پداسې حال کې چې د بدیل کارونې لپاره یې هم کوم پلان نشته دی. (د سیګار انځور)

## SP 13-7 اداري خبرداری: په لیدرنیک کمپ کې د قوماندې او کنټرول وداني

سیګار دفاع وزارت، د CENTCOM قوماندان، او د USFOR-A قوماندان ته خبرداری ورکړ چې په لیدرنیک کمپ کې د 34 میلیون ډالر په ارزښت، 64,000 فوټ مربع تعمیر او اړوند زیربنا به هیڅکله هم ونه کارول شي. د هغه اسنادو له مخې چې سیګار ته وړاندې شوي، ښکاري چې آن د 2010 کال په مۍ کې قوماندانانو معلوم کړې و، چې یاده ودانۍ ته،چې په هلمند ولایت کې د قوماندې د مرکز په توګه جوړیده، اړتیا نشته. سره له دې، پوځ بیا هم د 2013 کال تر لومړیو پورې، د یادې ودانۍ رغونې ته ادامه ورکړه، تجهیزات یې واخیستل، او بیلابیل اصلاحات یې پکې راوستل. برسیره پردې، سیګار پوهیږي چې په افغانستان کې د متحده ایالاتو د پوځي شتون د کمیدو سره چې د لیدرنیک کمپ اندازه هم کمه شوې، د متحده ایالاتو د پوځي چارواکو تمه دا ده چې یاده ودانۍ یا ویجاړ شي یا هم افغان دولت ته وسپارل شي.

د دې لپاره چې ښه واضحه شي ولې د ودانۍ رغونې ته وروسته له هغه چې معلومه شوه اړتیا ورته نشته، ادامه ورکړ شوه، سیګار د دفاع وزارت او پخوانی پوځي مشرانو څخه غوښتنه وکړه تر څو د تعمیر د ودانۍ بیا پیلیدو په اړه بشپړ معلومات چمتو کړي. دغه ځوابونه د دې رپوټ له خپریدو څخه وروسته ترلاسه شول.

## غوره لس بریالیتوب او ناکامي

په تیره ربعه کې سیګار د بهرنیو چارو او دفاع وزارتونو، او د USAID اداري ته ولیکله چې په افغانستان کې د خپل غوره 10 بریالیو پروګرامونو او 10 ناکامو پروژو او پروګرامونو لست وړاندې، او په څنګ کې یې د ټاکنې او ارزونې معیارونه هم توضیح کړي.

یادو ادارو که څه هم ځواب ورکړ خو خپل 10 غوره\10 ناکامه لستونه یې ورانديې نه کړ. دوی په خپل غبرګون کې، د نورو شیانو سربیره ویل چې یو شمیر پروژې یې د نورو ادارو په همکارۍ سره پلي شوي، او د کړنې معیارونه یې اکثرآ د پروژو پورې ځانګړې وې. یادو ادارو د خپلو هڅو په اړه عمومي توضیحات وراندې، او په افغانستان کې د پرمختګ بیلابیلو شاخصونو ته اشارې وکړې.

سیګار پدې ربع کې یادو ادارو ته ځواب ورکړ چې معلومات لکه څنګه چې د سیګار لخوا غوښتل شوي و، نه دي وړاندې شوي. سیګار وروسته له هغه چې د اجراییوي وزارتونو او ادارو لپاره د مدیریت او بودیجې دفتر د 2012 کال لارښود ته اشاره وکړه چې په ځانګړې توګه د پروژو د پرتله کولو لپاره د اقداماتو غوښته کوي، زیاته یې کړه چې د یادو ادارو لخوا ځینې ویل شوي شاخصونه د پروژو او پروګرامونو د بریالیتوب لپاره قاطع دلایل نشي کیدای. د بیلګې په توګه، د هغه نفوس شمیر ښودل چې یو روغتیایي کلینیک ته د تلو لپاره یو ساعت مزل کوي، کیدای شي د افغانستان د ښاریتوب پراخیدا، یا د سړکونو او لارو ښه وضعیت، او همدارنګه د روغتیا د پروګرامونو بریالیتوب ته اشاره وکړي.

همدارنګه سیګار د یادو ادارو ځینې ځوابونو ته اشاره وکړه چې خپل پروګرامونه یې تر یو حده پورې ارزولي و، خو پوښتنه یې مطرح کړه چې دغه ادارې ولې خپل نتایج نه پرتله کوي. سیګار پر خپل مخکینۍ غوښتنې ټینګار کوي، خو داځل د دې لپاره چې د ادارو پر پرسونل د ځینې دروند بار رانشي، غواړي چې درې سره ادارې د خپل 10 زیات او 10 لږ بریالیو پروګرامونو لست وراندې کړي.

## کانګرس ته د کابل بانک د بحران په اړه لنډ معلومات

سیګار د سنا د دولتي اصلاحاتو او خارنې کمیټې ته د کابل بانک په اړه د خپل ټولو رپوټونو لنډیز وړاندې کړ. کله چې بانک په 2010 کال کې سقوط وکړ، د قرضو او پیشکي اخیستل شوو پیسو کچه 935 میلیون ډالرو ته رسیدلی و، چې دا د بانک د ذخیروي فنډونو 70% سره برابر و. د بانک د فعالیتونو د مالي اړتیاو یوازینی سرچینه د مشتریانو ذخیرې وې. د افغانستان مرکزي بانک، د افغانستان بانک، تاوانونو ته غاړه کیښود. د 2013 کال تر جولای پورې، یوازې 173.2 میلیونه ډالر بیرته اخیستل شوي دي.

سیګار یاده کمیټې ته خبر ورکړ چې داسې کوم شواهد یې ندي موندلي چې د متحده ایالاتو بهرنۍ مرستې د کابل بانک په بحران کې له لاسه وتلې وې. که څه هم د متحده ایالاتو حکومت او نړیواله موسسو د کابل بانک له لارې افغان امنیتي ځواکونو او افغان ملکي مامورینو ته معاشات ورکول، خو د بانک په تاسیس یا پرمختګ کې یې کومه دنده نه درلوده.

سیګار د DAB پرمختګ او د ظرفیت لوړاوي په برخه کې د متحده ایالاتو د هڅو په اړه پلټنه کوي. دا پلټنه به وارزوي چې د کابل بانک له سقوط څخه وروسته د متحده ایالاتو ادارې د DAB د خارنې او تنظیمي ظرفیت د لوړاوي په برخه کې کوم اقدامات کړي دي. همدارنګه دا پلټنه به معلومه کړي چې د متحده ایالاتو ادارې د کوم بهیر له لارې خپلې مستقیمې مرستې افغان حکومت ته ورکوي، او په افغاني بانکونو کې د دغو مرستو خوندي ساتلو لپاره کوم اقدامات په پام کې لري.

## څېړنې

د دې رپوټ په دوره کې، د تیلو د غلا په اړه د سیگار څېړنې د متحده ایالاتو دولت د شاوخوا 800,000 ډالرو خوندي کیدو لامل شو. همدارنګه د سیگار څېړنو د دوه کسانو بندي کیدو، دوه اتهامات، دوه جرمیاعلان، او په متحده ایالاتو کې د دوه مجرمینو دعوا او د پوځي قضا د یونیفارم کوډ په اساس د کورټ مارشل دوه اتهامات او د افغاني قانون په اساس د دوه کسانو بندي کیدو لامل شو. د 88,000 ډالرو څخه زیات جرمیتاوانونه واړول شو. سربېره پردې، د سیگار د تعلیق او مخنیوني پروګرام د هغه شواهدو په اساس چې د سیگار د څېړنو په ترڅ کې رابرسیره شوي، 27 کسانو او 15 شرکتونه یې د تعلیق او مخنیوني لپاره راجع کړې.

د دې رپوټ په دوره کې، سیگار 33 نوي دوسیې پیل او 42 یې وتړل، چې پدې سره د فعالو څېړنو شمیر 289 ته رسیږي، لکه څنګه چې په 2.3 شکلکې ښودل شوې، د دغه شمیرې څخه 238 دوسیه سیگار یوازې څیړي.

## کوم جرمي معلومات چې د متحده ایالاتو د پوځ جګړن او یو پوځي سرتیري په وړاندې ثبت شوې و، د دوي د مخنیوی لامل شو

د 2013 کال د می په 28 د شمالي کارولینا په ختیځه سیمه کې د متحده ایالاتو د څارنوالي دفتر د جګړن فرانکلین ریویرا-مادینا په نوم یو جرمي معلومات ثبت کړ چې هغه یې د جرم په هڅونې او د بخشش په اخیستو؛ د زیاتو پیسو د قاچاق؛ او په همدې جرم کې د هڅونې او مرستې په تورونو تورن کړ. یاد جرمي معلومات د سیگار، د څېړنو فیدرالي اداره (FBI)، د دفاع د جنایي څېړنو خدمات (DCIS)، او د پوځ د جنایي څېړنو قوماندانې-د تدارکاتو ستر چل ول څانګې، لخوا په ګډه ترلاسه شول (CID-MPFU).

ریویرا-مادینا د 2008 کال د اپریل څخه د 2009 کال تر فبروري پورې افغانستان ته استول شوی و تر څو د ګډ خصوصي عملیاتونو د مشترک وظیفوي ځواک سره کار وکړي. د خدماتو د څانګې قوماندان په توګه، ریویرا مسولیت درلود تر څو د سیمه ایزو افغاني قرارداد کونکو سره د "جنګل ټرک" په نوم باروړونکو موټرو قرارداد وتړي، او 17 فارورډ آپریټنګ مرکزونو ته اکمالات ورسوي. ریویرا د تونیا لانګ په نوم یو بل پوځي سرتیري سره یوځای، د افغانستان د بارچلولو قراردادیانو سره د دوی په خوښه چلند کولو په بدل کې، د نقدو پیسو بخششونه، د وروستۍ ماډل برېښنایي محصولات، او لوی سکرین لرونکي ټلویزیونونه اخیستي دي. ده همدارنګه 10,000 ډالر نقدې پیسې د پرزه شوي ویډیو پلیر له لارې امریکا ته قاچاق کړه، پدې نیت چې د پیسو په اړه د رپوټ ورکولو څخه ځان وژغوري. ریویرا ته امر وشو چې د ټولو هغو شتمنیو او کړنلارو تاوان ورکړي چې د ده د غیرقانوني چلند په نتیجه کې ترسره شوي دي.

سربېره پردې، د 2013 کال د جون په6 ، د متحده د پوځ د قانوني خدماتو څانګه یو لیک خپور کړ چې په ترڅ کې یې لانګ، د دې څېړنې دویم متهم، د لسو کلونو لپاره د دندې څخه ګوښه کړه. د 2012 کال په سپتمر کې د لانګ په نوم یو جرمي معلومات ثبت شو، چې د زیاتو پیسو په قاچاق، او په همدې جرم کې د هڅولو او مرسته کولو په تورونو تورنه شوې وه. لانګ نږدې 1 میلیون ډالره د افغانستان څخه شمالي کارولینا ته په قاچاق وړې وه. د 2013 کال په مارچ کې، په یادو تورونو مجرمه وبلل شوه او د 60 میاشتو بند سربېره 1 میلیون ډالر جریمه شوه.




د چل ول په اړه **رپوټ ورکول** د سیگار د څېړنو ریاست موخه ده، چې د اعلانونو او پوسټرونو له لارې خلکو ته د چل ول د شکایاتو شمیره او برېښنالیک خپروي. (د سیگار تصویر)

**اتهام:** یو رسمي او لیکلی تور ته وایي چې په جرم د تورن شرکت په وړاندې د یو څارنوال لخوا معلوم او د منصفه هیئت لخوا اعلانیږي. د دې یوازینی موخه دا ده چې مدعي علیه په یو جرم تورن کوي، او په تعقیبي محکمه کې د جرم د ترسره کولو ثبوت نه بلل کیږي.

**جرمي معلومات:** یو لیکلی تور ته وایي چې د منصفه هیئت د ګډون څخه پرته د عامه څارنوال لخوا خپریږي. د دې معلومات موخه دا ده چې مدعي علیه ته د وارد شوي تور په اړه او داچې کومې کړنې یاد تور ته لاره هواروي معلومات ورکوي، تر څو راتلونکې محکمې ته خپل ځان چمتو او بیا په ورته اتهام د تورن کیدو څخه ځان وژغوري. (د Black قانوني سیند (ډکشنري))

2.3 شکل

**د سیګار تحقیقونه: د 2013 کال د جون تر 30 پورې، د پرانیستو څیړنو شمیره**




سرچینه: د سیګار د تحقیقونو ریاست، 7/9/2013.

## په پوځي محکمه کې د غلا، بډه اخیستنې، او مخدره توکو په اړه د څیړنو نتایج

د 2013 کال په اپریل کې، یو پوځي قاضي دوه پوځي کارګران یې په ترتیب سره په 21 میاشتو او نهو میاشتو بند محکوم کړ. همدارنګه یاده پوځي محکمه —چې د افغانستان په امریکایي اډو کې د تیلو غلا، بډه اخیستنې، او مخدره توکو په اړوند دسیګار د څیړنو په نتیجه کې رامنځته شوې ده— د دې دوه کسانو رتبې یې هم کمې کړې.

څیړنه هغه وخت پیل شوه چې دسالیرنو په فاروړد آپریتینګ مرکز کې دمالي مدیریت 147th کمکي څانګه د روان کال په مارچ کې د سیګار له څیړونکو سره اړیکه ونیوله او ریپوټ یې ورکړ چې د امریکا د پوځ د اولې رتبې جیسي مونټیل اندیرسن د خپل ایګل کیش کارډ، چې د پوځ لخوا کارول کیږي، په مرسته غیر قانونې پیسې لیږي. د 2012 کال د سپتمبر څخه د 2013 کال تر فبرورۍ پورې، اندیرسن په تیرازیي جنګي مرکز کې د تیلو د تکنیشن دنده پرمخ بیوله. اندیرسن د 2013 کال د فبرورۍ له 23 څخه د مارچ تر 9 پورې خپل ایګل کیش بانکي حساب ته پنځه ځله پیسې لیږلي چې هر وار یې 350 ډالرو، او مجموعې شمیره یې 1,750 ډالرو ته رسیده. برسیره پردې، د 2013 کال د فبرورۍ 6 نیټې په شاوخوا کې، اندیرسن پوښتنه کړې وه چې څنګه خپل ایګل کیش بانکي حساب ته 4,500 ډالر، د 100 ډالرو په بڼه ولیږي. اندیرسن ته ویل شوی و چې په هر وار کې د پیسو لیږلو آخرې حد 350 ډالره دی، او د 20 ډالرو څخه زیاته بڼه اجازه نشته.

اندیرسن د سیګار او د پوځ CID سره په مرکه کې وویل چې په تیرازیي کې یې د دوه افغانیانو څخه د تیلو په بدل کې پیسې اخیستې وې. د اندیرسن په وینا د تیرازیي یو ژباړونکی ورته ویلی و چې هغه د دې پوست مخکینی سرتیري څخه تیل اخیستې ده. اندیرسن د سیګار استازو ته وویل چې هغه یاد ژباړونکي او نور ولي خان ته چې یو سیمه ایز قرارداد کونکی دی، تیل داسې ورکړه چې د ټرکونو د تیلو تشولو څخه وروسته به یې 400-500 ګیلنه پکې پریښوده. هغه وویل چې د ژباړونکي او نور څخه یې نهه بیل بیل وختونو کې د هر 100 ګیلنه تیلو په بدل کې 100 ډالره اخیستي چې مجموعې شمیر یې 4,500 ډالره کیږي. د اندیرسن په وینا نور ورته ویلي و چې د تیلو د خرڅولو ګټه به د ده، د ټرک چلونکی، او د تیلو د شرکت تر منځ وویشل شي. همدارنګه اندیرسن اعتراف وکړ چې پنځه وارې یې خپل ایګل کیش بانکي حساب ته 350 ډالر لیږلي دي.

سیګار او د پوځ CID په سالیرنو کې د اندیرسن کوټه وپلټله. د پلټنې په ترڅ کې 550 ګرامه چرس، 4,500 ډالر د 100 ډالرو په بڼه، 1,400 ډالر د 20 ډالرو په بڼه، او د تیلو د ریکارډ یوه کتابچه وموندل شو.

د دویمې مرکې په ترڅ کې، اندیرسن اعتراف وکړ چې په تیرازیي کې یې د 900 تیلو په بدل کې د نور څخه یو کیلوګرام چرس لاسته راوړی و. ده وویل چې د چرسو د انتقال کارونه یې د فیسبوک له لارې د کیت ویلیام په نوم د خدماتو د څانګې غړي سره تنظیم کړی و، چې په FOB سالیرنو کې یې کار کوله. ویلیام ومنله چې د اندیرسن سره یې په FOB سالیرنو کې د چرسو په خرڅولو او بیا د ګټې په ویشلو موافقه کړې وه. اندیرسن د سیګار غړو ته اجازه ورکړه څو د فیسبوک آدرس یې وګوري، او معلومه شوه چې خبرې سمې دي.

اندیرسن همدارنګه وویل چې د چرسو یوه برخه یې د جیمز سیلر،په نوم په تیرازیي کې د خدماتو یو بل متخصص ته ورکړی و.




**نقدي پیسې او مخدره مواد** چې د تیلو د غلا او رشوت په اړه د څېړنې په ترځ کې ترلاسه او د سیګار او پوځ د څېړونکو لخوا ضبط کړای شو. د یادې پېښې دوه عاملین چې پوځي سرتیري و د پوځي محکمې لخوا په څو میاشتو بند محکوم شو. (د سیګار انځور)

د سیګار استازو د ویلیام سره مرکه وکړه او ده هم ومنله چې د اندیرسن څخه یې د فیسبوک له لارې چرس اخیستې ده. ویلیام وویل چې په حقیقت کې دا چرس د FOB سالرنو د خدماتو یو بل متخصص جیمز موریس اخیستې ده. ویلیام وویل چې ده د چرسو د معاملاتو پیسې خوندي ساتله.

په وروستۍ مرکو کې، سیلر و منله چې د اندیرسن څخه یې چرس ترلاسه کړي. موریس و منله چې د ویلیام څخه یې چرس ترلاسه کړی او کارولې ده. سیلر او موریس د دوی د اعتراف او اړوند دفاعي ویناو په اساس د داسې یو شی په کارولو تورن شو، چې په سالیرنو کې د متحده ایالاتو پوځ د JAG دفتر لخوا منع شوی دی. د دوی دواړو رتبې د E-4 څخه E-1 ته ټیټ کړای شو، د دوه میاشتو معاشونه یې (1,516) په جریمه کې واخیستل شو، او په 45 ورځې اضافي کار محکوم شول.

اندیرسن د 2013 کال د اپریل په 30، د پوځي محکمې لخوا په 21 میاشتو بند، رتبه یې د خصوصي رتبې (E-3) څخه (E-1) ته راټیټ، د ټولو پیسو او معاشاتو په بیرته ورکولو او د بدچلندۍ په جریمې محکوم کړای شو. ویلیام د 2013 کال د اپریل په 29، د پوځي محکمې لخوا په نهو میاشتو بند، رتبې یې د متخصص (E-4) څخه (E-1) ته راټیټ، او د بدچلندۍ په جریمې محکوم کړای شو.

د سیګار استازو معلومه کړه چې نور، د ادریس اخلاص کانسترکشن کمپنۍ کار کونکی دی. د 2013 کال د اپریل په 6، د متحده ایالاتو پوځ، خان یې د تیلو په غلا او اداري فساد کې د لاس درلودلو په جرم په تور لست کې شامل کړ. خان نور په افغانستان کې د متحده ایالاتو\ناټو هیڅ یو اډې ته د لاسرسۍ حق نلري.

## د پلټنې په ترځ کې د تیلو جعلي صورت حسابونه موندل شو، او له امله یې ډالره بیرته ترلاسه شول 600,000

د سیګار یو ځانګړی مامور د فینیکس کمپ د عمومي مرستې قرارداد کونکې قوماندې سره د خبرو په ترځ کې متوجه شو چې کیدای شي د دوی د په صورت حسابونو کې د چل ول، غلا، یا د دولتي کارکونکی د اداري فساد بیلګې وي.

سیګار پدې اړه د 2013 کال په اپریل کې یوه څېړنه پیل کړه. مامورینو هغه حسابونه چې تناقض پکې و د لا څېړلو لپاره تر نظر لاندې ونیوله. تر اوسه پورې، د انتقال 11 غوښتنې (TMRs) د چل ول په درلودلو مشکوک شوي دي. موټر چلونکو به د جعلي TMRs په مرسته د تیلو ذخیرې څخه تیل بار، او سمدلاسه به یې خرڅ کړ. د پوځ د غړو په وینا د تیلو یاد انتقالات هیڅکله دوی ته ندي سپارل شوي او د انتقال په اسنادو کې هم جعلي لاسلیکونه شوي دي.

د دې څېړنې په نتیجه کې، GSCC د ترانسپورټ شرکتونو ته د تیلو د بیې په اړه بیل ورکوي، او په دې سره د تیلو د غلا مخه نیسي. د GSCC په وینا، د تیلو بیرته اخیستل شوي پیسې، او د انتقال د بدلون مخه نیول د 600,000 ډالرو خوندي کیدو لامل شو.

## سیګار د 150,000 ډالرو په ارزښت د تیلو د غلا مخه نیسي

د 2013 کال د اپریل په 19، سیګار او د پوځ CID ته خبر ورکړ شو چې د 5,000 ګیلن ظرفیت لرونکې دوه ټرکونو په اړه، چې د شینز وارنتیس لوجستیکس په نوم یو افغاني شرکت پورې تړاو لري، دوه جعلي TMRs موندل شوي. د افغاني شرکت سره قرارداد شوی و چې د



**د تیلو د پمپ میټر** او د انتقال اسناد خارل کولی شي د تیلو غلا کشف او مخه یې ونیسي، دا ستونزه په افغانستان کې میلیونونه ډالر یې له خطر سره مخ کړې ده. (د سیګار انځور)

ارګون-اي FOB ته 10,000 ګیلنه تیل یوسي. جعلي TMRs په داسې وخت کې وموندل شو چې دواړه ټرکونه او چلونکو یې په FOB شرنه کې قطار ته منتظر و تر څو FOB ارګون-اي ته ولاړ شي. وروسته له دې چې سیګار او د پوځ CID ته خبر ورکړ شو، ټرکونه په FOB شرنه کې د څیړلو لپاره وساتل شو. د سیګار څیړونکو د یاد افغاني شرکت د پروګرام آفیسر، او همدارنګه د امریکا د پوځ هغه پرسونل سره مرکه وکړه چې د دې جعلي اسنادو په جوړولو او هم په موندلو کې یې لاس درلود. څیړنه معلومه کړه چې دوه افغانیانو د 20,000 ډالر رشوت ورکولو دسیسه جوړه کړې وه ترڅو تیل غلا او داسې جعلي جوړ کړي چې FOB ارګون-اي ته د تیلو د رسیدو تصدیق کړي. د څیړنې په نتیجه کې 10,000 ګیلنه تیل د 2013 کال د جون په 20 نیټه کې بګرام هوایي میدان ته د بیرته ورکولو لامل شو. د متحده ایالاتو د پوځ دمحاسبې په اساس که د هر ګیلن بیه 15 ډالر وشمیر، نو په مجموعي ډول د متحده ایالاتو دولت 150,000 ډالر روپۍ خوندي شوي دي.

## د تیلو د غلا په اړه څیړنې د دوه کسانو بندي کیدو او 90,000 ډالرو خوندي کیدو

د 2013 کال د جون په 27، سیګار او د پوځ CID د هغو شکایاتو په ځواب کې چې ګواکې د تیلو بار چلونکي افغاني شرکتونه د متحده ایالاتو د تیلو په مراکزو کې د تیلو د غلا لپاره رشوت ورکوي، په FOB ګوډې کې د "چیچلو" عملیات پیل کړ. د چیچلو په عملیات کې هغه افغان موټر چلونکي موندل کیده چې د تیلو د غلا په بدل کې یې د رشوت ورکولو وړاندیز کړې وه. د تیلو د بارچلولو دوه افغاني شرکتونه چې هر یو د 12,000 ګیلنه تیل د انتقال ظرفیت درلود، د FOB ګوډې د تیلو مرکز ته ورسیدل تر څو بار شکته کړي. لومړی ټرک چې د محمد امین لخوا چلول کیده، 353 ګیلنه تیل یې کم درلود. کله چې محمد امین ته د کم شوي تیلو په اړه خبر ورکړ شو، نو ده سرتیرو ته لړ غوندې چرس ورکړ تر څو په بدل کې په اسنادو کې ولیکي چې د تیلو بشپړه اندازه رسول شوې ده. سرتیرو ته د چیچلو عملیات لخوا ویل شوی و چې چرس واخلي. وروسته له دې چې د دویم ټرک چلونکی خان آغا ورسیده، نو امین د تیلو د ځای سرتیرو ته 95 ډالر او 8,500 افغاني رشوت ورکړ ترڅو د آغا په ټرک کې 6,000 ګیلنه تیل پریږدي. امین او آغا سمدلاسه د افغاني چارواکو لخوا بندي او د افغان قانون پلي کونکو ادارو ته د تعقیب لپاره ولیږل شو.

د متحده ایالاتو د پوځ د محاسبې په اساس که د هر ګیلن بیه 15 ډالره وشمیرو نو د بیرته ګرځول شوي 6,000 ګیلنه تیلو قیمت 90,000 ډالره کیږي.

## د متحده ایالاتو سرتیری په FOB Fenty کې د تیلو په غلا تورن شو

د 2013 کال د اپریل په 9، د کلرادو ولسوالۍ یو فدرال منصفه هییت متخصص ستافین شانکل-کاربونیو په دغو پنځو تورونو تورن کړ: دسیسه جوړول، رشوت، غلا، د پیسو ناقانونه انتقال، او د پیسو د لیږد لپاره د داسې لارې موندل چې د رپوټ ورکولو څخه ځان وژغوري. په همدغه ورځ کې یو غونډه جوړه شوه او د شانکل-کاربونیو څخه یې غوښتنه وکړه څو د 2013 کال د اپریل په 24 د متحده ایالاتو مارشل سریس خوښې او محکمې ته ځان ورسوي. تورونه وروسته له هغه وارد شو چې د سیګار یوه څیړنه معلومه کړه چې شانکل-کاربونیو،

حوالدار کرستوفر ویفر، او ملکي وګړی جوناتان هایټور په افغانستان کې د افغان وګړو سره لاس یوکړی و تر څو د پیسو په بدل کې د FOB Fenty څخه د تیلو غلاته لاره هواره کړي. افغان وګړو د افغان امریکن آرمي سرویسز او ګذر میربچه کوټ ترانسپورټیشن فرعي قرارداد کونکي و.

د بریښنالیکونو او ټولنیزه رسنیو د آدرسونو دیارلس اسناد د تور ثابتولو لپاره موندل شو. د دې آدرسونو د محتویاتو له کتلو څخه وروسته د سیګار، د پوځ CID، او DCIS مامورینو هغه احتمالي لارې موندې چې په مرسته یې دغه اسناد په کلرادو کې د ویفر او شانکل-کاربونیو استوګنځایونه، او په هوستن، تکزاس کې د هایتور استوګنځای کې تعقیب کړي. د دغه پلټنو په ترڅ کې، د ویفر، شانکل-کاربونیو او هایتور سره مرکې وشوې، چې ټولو د GMT له افغاني مامور سره د FOB Fenty څخه د تیلو په غلا کې په مرسته کولو اعتراف وکړ. سربیره پردې، ویفر او هایتور د بیلاه عبدالله په نوم یو بل حوالدار وښوده چې د FOB Fenty څخه د تیلو د غلا په دسیسه کې یې لاس درلود. عبدالله د سیګار د یوې بلې څیړنې موضوع ده. لکه څنګه چې اشاره وشوه، ویفر او هایتور تر څارنې لاندې دي.

## د متحده ایالاتو یو قرارداد کونکی مامور په دسیسه جوړولو تورن شو

د 2013 کال د مارچ په2، ایلټن موریس میک بې III د متحده ایالاتو یو قرارداد کونکی مامور د لویزیانا په ختیځه سیمه کې، د کم اصله سیم په بدل کې د بخشش په اخیستو تورن شو. مک بې د 2012 کال په دیسمبر کې د سیګار او د متحده ایالاتو د قانون پلي کولو یوې بلې ادارې د څیړنو په نتیجه کې بندي شو.

مک بې د 2009 کال د جون څخه تر ډیسمبر میاشت پورې، په افغانستان کې د یو امریکایي شرکت سره په کار بوخت و، په عین حال کې د لویزیانا په سلایډ هال کې د یو استوګنځای مصرف هم ورکوله. په دغه موده کې، مک بې د کندهار په هوایي میدان کې د څلور پروژو مسولیت په غاړه درلوده تر څو فرعي قراردادیان ورته پیدا کړي، د دغو پروژو څخه یوه د الوتکو د الوتنې سړک او ګراج ترمنځ د یو صحن جوړول و.

مک بې د صحن جوړولو فرعي قرارداد د 3.2 میلیون ډالرو په ارزښت لاسلیک کړ. په ورته وخت کې ده د فرعي قرارداد کونکي څخه 60,000 ډالر د "قرض" په نوم وغوښته. که څه هم یادو پیسو ته مک بې د قرضو نوم ورکړ، خو نه ده او نه هم فرعي قرارداد کونکی د پیسو بیرته اخیستلو لپاره کوم شرط یا سود کیښود.

فرعي قرارداد کونکی د 2009 کال د جولا په 18 مک بې ته 7,000 ډالر نقدې پیسې ورکړې. د 2009 کال د جولای په 22، یاد فرعي قرارداد کونکی د لبنان بیروت څخه د تلګراف له لارې په لویزیانا کې د مک بې د شخې بانکي حساب ته 53,000 ډالره نورې ولیږلې. "د مک بې د شخې نه د یو موټر اخیستو لپاره" د بانک د انتقال په پاڼه کې لیکلي و.

د 2012 کال د ډیسمبر په 13، مک بې په خپل کور، لویزیانا کې د سیګار، DCIS، FBI، د هوایي ځواک د ځانګړو تفتیشونو دفتر، او د پوځ د CID مامورینو لخوا ونیول شو او ژمنه یې وکړه چې بشپړه همکاري وکړي. د ده په تورونو کې 60,000 ډالر جریمه شامله وه، چې دا د هغه پیسو سره برابره ده چې ده د خپل جعلي کار په نتیجه کې د تلګراف له لارې تر لاسه کړې وه.

ده ته سزا د 2013 کال په اګست کې ورکول کیږي.

## د متحده ایالاتو د پوځ یو غړي د تورن کولو د څېړنې نتایج

کریستوفر چیز برادشاو د 2013 کال د جون په 19، د مسي سي پي په جنوبي سیمه کې د متحده ایالاتو د سیمه ایزه محکمې له لوري د چل ول او د دولتي شتمنیو د غلا په جرمونو تورن شو. برادشاو د پوځ یو ریسرفي غړی و چې د 2010 کال د اپریل څخه د 2011 کال تر مارچ پورې یې په FOB سالرنو کې د مالي مامور دنده ترسره کوله. ده د خپل موقعیت نه په ناوړه استفادې سره د خپل او د دوه نورو ملګرو پوځي بانکي حسابونو ته په ناقانونه توګه پیسې لیږلې. برادشاو خو خپل بانکي حساب ته پیسې لیږلې خو دا ترې هیر و چې دغه لیږدونې د انتقالاتو په ورځنی رپوټ کې شامل کړي، چې هره ورځ په اتوماتیک ډول د افغانستان څخه په بوستون کې، فیدرال ریسرف بانک ته استول کیږي. د دفاع وزارت د مالي او حسابي خدماتو څانګه 32,300 ډالر د خپل حساب نه ورک کړ، دا شمیره د هغه پیسو سره برابره وه چې برادشا خپل بانکي حساب ته لیږله خو په رپوټ کې یې یادول هیر کړی و.

برادشاو ته به په آزمایښتي دول د 2013 کال په اګست کې سزا ورکړ شي. سیګار او د پوځ CID-MPFU خپلو څېړنو ته دوام ورکوي تر څو په دسیسه کې ښکیل دوه نور ملګري هم تر څارنې لاندې ونیسي.

## د رشوت په اړه د څېړنې په نتیجه کې د متحده ایالاتو د سرتیري شتمني ضبط شو

د ځانګړي ځواکونو غړی جیمز تراویس د څو ادارو د څېړنې څخه وروسته، اعتراف وکړ چې د افغان بارچلونکی شرکت څخه یې د دې په بدل کې چې په قرادادو کې د دوی په خوښه چلند وکړي رشوت اخیستې ده. تراویس چې افغانستان ته لیږل شوی و، ومنله چې 95,000 ډالر رشوت یې تر لاسه کړی. ده همدارنګه اعتراف وکړ چې دمتحده ایالاتو دولت ته تخصیص شوي تیل یې پر افغاني سوداګرو خرڅ کړي. د 2013 کال د مارچ په 28 د شتمنیو د ضبط فرمان په اساس د متحده ایالاتو چارواکو د جیمز او مارلا تراویس د بانکي حساب څخه 46,131 ډالر واخیست. د 2013 کال دمی په 17، د شمالي کارولینا د ختیځه سیمې یو فیدرالي قاضي د جیمز تراویس د موټر د ضبط حکم یې ورکړ. د 2013 کال د می په 20، د سیګار، DCIS، او FBI مامورینو موټر ضبط کړ. وروسته بیا موټر د متحده ایالاتو مارشل سرویس ته وسپارل شو، چې د مزایدې له لارې یې خرڅ کړي. د یاده نقلیه وسیله اوسنی لګښت شاوخوا 40,985 ډالر اټکل شوی.

## د متحده ایالاتو یو قرارداد کونکی په داوطلبی کې د لاس وهلو له امله بندي شو

کیت جانسن چې دمتحده ایالاتو قراردادي و، د 2013 کال د می په1، د سیګار او د متحده ایالاتو دقانون پلي کولو ګڼو ادارو لخوا بندي کړای شو. سیګار، DCIS، FBI، او د پوځ CID پدې اړه خپله څېړنه وروسته له هغه پیل کړه چې یوشکایت کونکی، کیت جانسن، چې د PAE دولتي خدماتو مامور و، تورن کړ چې د خپل کورنی له غړو سره یوځای د اکمالاتو قراردادونه او داوطلبۍ په خپله ګټه اړوي او هڅه کوي چې د خپلې ښځې او خواښې شرکت ته یې واخلي. د تورونو په اساس، جانسن د PAE پروګرام منیجر ، د خپلې ښځې په واسطه د ملیټري لوجیستیک سپورټ (MLS) په نوم یو شرکت تاسیس او بیا یې خپله ښځه د یاد شرکت د خرڅلاو د مدیرې په توګه ونوموله. شکایت کونکی دا هم وویل چې د جانسن نږدې ملګرو نور شرکتونه هم درلود چې جانسن به هغوی ته هم د قرارداد ورکولو هڅه

کوله. جانسن د سرپنا جوړولو یو شرکت څخه چې د ده د لور، کریستین همر، په نوم و، غیر قانوني پیسې ترلاسه کړ. جانسن د MLS شرکت سره د 10 میلیون څخه زیات خریداري فرمایشاتو قراردادونه لاسلیک کړي. هغه قراردادونه چې د جانسن پورې اړوندو شرکتونو سره لاسلیک شوي په مجموعي ډول 12 میلیون ډالرو څخه یې ارزښت زیات دی. په دې اړه څېړنه ادامه لري.

## پخوانی سرتیری ونیول شو

د 2011 کال په لومړیو کې، سیګار د چل ول د اتهاماتو په اساس، د هغو خریداریو په اړه څېړنه پیل کړه چې په افغانستان کې د متحده ایالاتو د پرسونل لخوا ترسره کیدې. د 2011 کال په فبروري کې، سیګار ومونده چې د متحده ایالاتو د پوځ دوه پرسونل، دویم حوالدار فلیپ ووټن او د اولې رتبې خاوند موریشو ایسپینوزا د خپل کارونو په ترڅ کې مشکوکې پیسې لیږلې دې.

ووټن او اسپینوزا دواړو د ځانګړو ځواکونو په اووم ګروپ کې چې د شمالي کارولینا په فورټ برګ کې موقعیت درلود، ګومارل شوي و. دوی د هغه 215,000 ډالرو په غلا تورن دي چې د افغانستان د کندهار ولایت د بیارغوني لپاره ځانګړې شوې وې. د اتهام په اساس، اسپینوزوا د تادیاتو د مامور په توګه، او ووټن د ځایي سوداګرو سره د قراردادونو د مسول په توګه افغانستان ته لیږل شوي و. د تورونو په اساس، دوی دواړه د 2009 کال د جولای څخه د 2010 کال د اپریل ترمنځ، افغان قراردادکونکو ته د پیسو ورکولو جعلي اسناد په جوړولو پیل کړ تر څو له دې درکه پیسې غلا او کور ته یې ولیږي.

لکه څنګه چې مخکې اشاره شوې وه، ووټن د 2011 کال په ډېسمبر کې د دسیسې په جوړولو او د دولتي شتمنې په غلا کولو تورن شو. دی اوسمهال خپل سزا ته انتظار باسي.

اسپینوزوا د 2012 کال د جولای په 20 بندي، او په ضمانت خوشي شو. کله چې هغه ونشو کولی د 2013 کال د جون په 3 د شمالي کرولینا د ختیځه سیمې فیدرالي محکمې ته حاضر شي، نو محکمې هم د ده د نیولو امر ورکړ. اسپینوزوا د 2013 کال د جون په 6 د کرولینا په ایالت کې ونیول شو. وروسته د متحده ایالاتو د مارشل خدمتونو له لارې په شمالي کرولینا کې د پاملیکو کونټي بندي خانې که توقیف شو. د دفاع او څارنوال د شفاهي خبرو اترو څخه وروسته، د شمالي کرولینا په نیوبرن کې د یو فیدرالي محکمې قاضي متوجه شو چې دی د تیښتې پلان لري ځکه نو امر یې ورکړ چې د محکمې تر راتلونکې ناستې پورې چې د 2013 کال د سپتمبر په 16 دایریږي، په بند کې وساتل شي.

## د بهرنیو چارو وزارت پخوانی مامور د 30,000 ډالر رشوت په اخیستو تورن شو

د 2013 کال د اپریل په 2، د بهرنیو چارو وزارت مامور کینیت مایکل بروفي د دلاویر په سیمه کې د دسیسې په جوړولو، د عامه چارواکي څخه د غیر قانوني بخشش په اخیستو، او د هغه قرارداد کونکي څخه د غیر قانوني پیسو په اخیستو تورن شو چې د USACE په وړاندې یې دعوا درلوده. سیګار د 2012 کال د اکتوبر په 14 د FBI، او د بهرنیو چارو وزارت د ځانګړی مفتش د دفتر په مرسته بروفي ونیوله.

د تورونو په وینا، بروفي دا غیر قانوني کارونه هغه وخت کړي چې په 2009 کال کې د مخدره توکو او قانون پلي کولو نړیواله اداري د خصوصي خدماتو د قراردادي مامور په توګه چې د متحده ایالاتو په سفارت، کابل کې موقعیت لري، دنده ترسره کوله. ده د پلچرخي زندان د ترمیم په شمول چې د یو افغان قرارداد کونکي لخوا ترسره کیده، د پولیسو د ودانیو قراردادونو څخه نظارت کوله. یو قرارداد کونکی بروفي ته 30,000 ډالر ورکړ تر څو USACE

دې ته اړ کړي چې خپل یو قرارداد چې د کمزورې کړنې له امله یې لغوه کړې وه، بېرته پرانیزي. بروفي د یاد افغاني شرکت سره USACE ته د سپارلو څخه وړاندې د اسنادو په جوړولو کې مرسته وکړه، افغان شرکت ته یې د USACE سره د غړیدو لپاره ځینې مشورې ورکړې، او په شخصي توګه یې د USACE یو چارواکي سره خبرې وکړې تر څو دغه قرارداد بیاپرانیزي. بروفي په پیل کې د فیدرال مامورینو ته د تادیې په اړه دروغ وویلې، او دعوا یې وکړه چې پیسې په مخفي ډول د ده په جوب کې "ایښودل شوې وې"، او وروسته له دې چې په سفارت کې خپلې کوټې راغی، پام یې ورته شوې ده.

د بروفي محکمه د 2013 کال په سپتمبر کې ترسره کیږي.

## امریکایي قرارداد کونکی په تور لست کې شامل؛ او د 276,000 ډالرو په ارزښت چرس ضبط شو

د لارنس ټوکر په نوم یو امریکایي قرارداد کونکی د سیګار او د قانون پلي کولو نورو ادارو د څیړنې څخه وروسته، په افغانستان کې پوځي تاسیساتو ته دننوتلو حق له لاسه ورکړ.

د 2013 کال د جون په 20، د پوځ CID په FOB سالیرنو کې د چرسو 921 بوټي چې د ګودام حویلۍ ته نژدې په یوه ټوټه ځمکه کې کرل شوي و، ضبط کړ. د متحده ایالاتو یو قراردادکونکی AC First ددې ګودام اداره کوله. څیړونکو همدارنګه په یاده ځمکه کې د Miracle Grow کوتۍ او د اوبو تش بوتلونه پیدا کړ. مامورینو معلومه کړه چې لارنس ټوکر د هوستن تکزاس اوسیدونکی، د چرسو د کرلو مسول دی. په FOB سالرنو کې د پوځ CID مامورینو د سیګار څخه د مرستې غوښته وکړه، ځکه چې ټوکر د یو امریکایي شرکت قرارداد کونکی و. د چرسو د ضبط په نتیجه کې، AC First ټوکر له خپل دندې ګوښه کړ او دی هم بیرته متحد ایالاتو ته ولاړ. سیګار او د پوځ CID خپل د څیړنې معلومات د سالرنو د JAG دفتر ته وړاندې کړ چې په تعقیب یې ټوکر په تورلست کې شامل کړای شو. سیګار همدغه معلومات په کابل کې د سیمه ایز امنیت دفتر هم وړاندې کړه، تر څو یقیني کړي چې د بهرنیو چارو وزارت په راتلونکې قراردادونو کې د ده د لاسرسۍ مخه نیسي.

د مخدره توکو د قانون پلي کولو اداره (DEA) اټکل کوي چې د چرسو یو پوخ نیالګی کولی شي یو پونډ خالص مواد ورکړي. د DEA د اټکل په اساس په افغانستان کې یو پونډ چرس 300 ډالر ارزښت لري. د چرسو د 921 نیالګیو ارزښت د پخیدو او پروسس کیدو څخه وروسته 276,300 ډالرو ته رسیږي.

## تعلیقات او مخنیونې

پدې ربعه کې د سیګار د تعلیق او مخنیونې پروګرام د هغه شواهدو په اساس چې په افغانستان او متحده ایالاتو کې د سیګار د څیړنو په ترڅ کې رابرسیره شوې، 27 کسان او 15 شرکتونه یې د تعلیق او مخنیونې لپاره راجع کړ. د تعلیق او مخنیونې معنا دا ده چې د بد چلندۍ له امله د فیدرالي قراردادونو او مرستو د لاسته راوړو حق څخه محروم شي. د دغه 42 قرارداد کونکو څخه، 14 کسان او 10 شرکتونه د چل ول او بد چلندۍ د تورونو په اساس چې د 5,344,982 ډالرو په ارزښت یې په شپږو قراردادونو کې د ځان څخه ښودلې، مخنیونې ته راجع شوي دي. پاتې 18 کسان د ایتلافي ځواکونو څخه د غلاکولو، د رشوت اخیستلو، متحده ایالاتو ته د زیاتو پیسو قاچاق کولو، یا د متحده ایالاتو په سیمه ایزه محکمه کې د جرمي تورونو په اساس تعلیق یا هم په پای کې مخنیونې ته راجع شوي دي.

د دغه 42 راجع شوي بیلګو سره د 2008 کال څخه راهیسې د سیګار د ورته مراجعاتو شمیره 327 ته رسیږي —لکه څنګه چې په 2.4 شکل کې ښودل شوي، تر اوسه پورې 180 کسان او 135 شرکتونه پکې شامل دي.

د 2013 کال د جون تر پایه پورې، دغه مراجعات د هغه کسانو او شرکتونو له جملې څخه چې د متحده ایالاتو په فنډ د بیارغونې پروژو کې بوخت دي، د 59 تعلیقاتو او 68 مخنیونې لامل شوي. د تعلیقاتو او مخنیونې بشپړ لست په C ضمیمه کې موندلی شی.

یوه ستونزه چې لاهم نده هواره شوې دا ده چې پوځ د هغه کسانو په تعلیق او مخنیولو کې د سیګار سپارښتنې نه عملي کوي چې د طالبانو، د حقاني ډلې او القاعدې په شمول د جنګیالیو سره مرسته کوي. د پوځ د تعلیق او مخنیونې څانګې چارواکو وایي چې د داسې کسانو او شرکتونو تعلیق یا مخنیونه مګر په هغه صورت کې چې پر ډلبندي شوي معلوماتو یا هم د تجارت وزارت پر موندنو ولاړ وي چې یاده اداره یې په لست کې شامل کړې، د دوی د حقونو تر پښو لاندې کولو معنا ورکوي. سیګار د داسې پیښو 43 بیلګې پوځ ته وړاندې کړې وې چې ټولې یې ردې شوې. سره له دې چې په افغانستان کې د جنګیالیو ډلو سره د یادو قرارداد کونکو د مرستو په اړه یې کره معلومات هم وړاندې کړي وې. په بل عبارت، دوی کیدای شي د متحده ایالاتو دښمنان وي، خو دا خبره د متحده ایالاتو د قراردادونو د اخیستو څخه ددوی مخه نیولو لپاره کافي نده.

تعلیقات او مخنیونې د دې خبرې یقیني کولو لپاره ډیر مهم وسایل دي چې د متحده ایالاتو اداري یوازې د مسولو شرکتونو سره قرارداد لاسلیک کوي. د سیګار پروګرام په افغانستان کې هغه درې ننګونې بررسي کوي چې د متحده ایالاتو پالیسي او د قرارداد احتمالي چاپیریال لخوا مطرح شوي دي: ګرندی کار ته اړتیا، پر افغاني وګړو او شرکتونو باندې د متحده ایالاتو محدود قضایي واک، او د ګنو فرعي قرارداد کونکو له امله د بررسی

2.4 شکل

**د سیګار تحقیقونه: د ځنډونې او مخنیونې لپاره د راجع شوي کسانو مجموعه، Q3 FY 2013–Q2 FY 2011**




سرچینه: د سیګار د تحقیقونو ریاست، 7/11/2013.

په وړاندې ننګونې. سیګار په افغانستان او متحده ایالاتو کې د معلوماتي سرچینو او څېړنیزو شتمنیو د ابتکاري کارونې له لارې هڅه کوي څو د دې ستونزو په وړاندې د حکومت غبرګونونو ته وده ورکړي. سیګار د خپلو بشپړو څېړنو په اساس د متحده ایالاتو ادارو ته د شرکتونو یا انفرادي کسانو د تعلیق یا مخنیوني وړاندیز کوي. په اکثرو پیښو کې، سیګار خپله مراجعه هغه وخت وړاندې کوي چې د قرارداد کونکي مامور لخوا د فرد یا شرکت د تعقیب یا اصلاح کولو امکانات نه وي. په داسې پیښو کې، د قرارداد کونکي د بدچلندۍ اصلاح کولو لپاره تعلیق او مخنیونه یوازینی لاره ده. سیګار یوې ادارې ته د مراجعې پرمهال، تعلیق او مخنیونې د پریکړې اساس چمتو کوي او همدارنګه ټول هغه کمکي اسناد ادارې ته سپاري چې کیدای شي د قرارداد کونکي لخوا د پریکړې نه منلو په صورت کې وړاندې شي.

د تعلیق او مخنیونې موضوع ته د سیګار زیاته پاملرنه له دې نه ښکاره کیږي چې د 327 مراجعو څخه چې تراوسه د دې ادارې لخوا وړاندې شوي، 291 هغو یې د 2011 کال د دویمې ربعې څخه راهیسې وړاندې شوي. د 2012 کال له جولای څخه چې سیګار خپل د تعلیق او مخنیونې پروګرام ګړندی کړی، 103 کسان او شرکتونه یې د قراردادونو څخه لرې کولو لپاره د پلي کونکي ادارو د تعلیق او مخنیونې چارواګو ته وړاندې کړي. په دې نهو میاشتو کې د سیګار مراجعې د 165,326,264 ډالرو په ارزښت د بیارغونیزو قراردادونو د غلا، ټګۍ، نیمګړې کړنې، د جنګیالیو سره مالي مرستې، او ناسمه ادارې په تورونو ترسره شوي دي.

## د میزوپوتامیا ګروپ د مخنیونې لپاره وړاندیز

د 2013 کال د می په 7، پوځ د سیګار د تیرې ربعې د سپارښتنې په تعقیب، میزوپوتامیا ګروپ او درې مامورین یې د مخنیونې لپاره وړاندې کړ. په نتیجه کې یاد شرکت په موقتي ډول د قراردادونو څخه لرې کړای شو. نهایي مخنیونه فعلا د پوځ د پریکړې پورې تړلې ده.

سیګار په تیره ربعه کې، د میزوپوتامیا ګروپ او درې مامورینو د مخنیونې غوښتنه کړې وه. دا کار یې پدې دلیل وکړ چې یاد شرکت د افغان ملي پوځ روغتون ته د طبي تجهیزاتو برابرولو په برخه کې د متحده ایالاتو د پوځ څخه په دروغو د شاوخوا 5 میلیونه ډالرو دعوا کړې وه. سیګار د خپل څېړنې په ترڅ کې ومونده چې د میزوپوتامیا ګروپ د قرارداد د شرایطو په خلاف پرسونل ته ناسمه روزنه، د تجهیزاتو غیر معیاري ترمیم، او د اسنادو ناسم ثبوت چمتو کړی و. دا نیمګړې کړنه هغه وخت رابرسیره شوه چې د داوودخان روغتون ډاکترانو نشو کولی د 2007 کال په اکتوبر کې د کابل په یو بس موټر کې د چاودنې له امله د قربانیانو ژغورلو لپاره تهویه کونکي وکاروي، چې له امله یې 13 تنه افغانانو خپل ځانونه له لاسه ورکړ. همدارنګه دویمه پیښه په هرات کې د افغان ملي پوځ په ولایتي روغتون کې وموندل شو. په یاد روغتون کې ډاکترانو نشو کولی چې د عملیات په ترڅ کې د ناسم وصل شوی تنظیم کونکې له امله، د تنفس انکوبیټر وکاروي، چې له امله یې یو افغان سرتیری خپل ژوند د لاسه ورکړ.

د میزوپوتامیا ګروپ په ورته پیښو کې، خپل کار کونکو ته د داسې امکاناتو د چمتو کولو څخه انکار وکړ چې په مرسته یې د منځته شوي ستونزو بررسي ترسره کړي. همدارنګه یاد شرکت پرته له دې چې پیښ شوې ستونزې او داچې آیا کار دقرارداد د شرایطو سره سم وړاندې شوي که نه، په پام کې ونیسي، د بشپړ قرارداد د لګښت غوښتنه یې وکړه.

## د افغان سیمه ایزو وګړو مخنیوی

د 2012 کال په جولای کې، د سیګار یو څانګړی مامور د 2010 کال وظیفوي ځواک څخه د 77 کانسترکشن کمپني د کارکونکو په اړه معلومات ترلاسه کړ، چې په ترځ کې یې ویل شوي و د یاد شرکت کار کونکو په لیدرنیک کمپ کې د متحده ایالاتو د پوځ شتمني غلا کوي او په کمپ کې نورو شرکتونو ته یې خرڅوي. څیړنه معلومه کړه چې د ذکرالله شهیم په نوم د 77 کانسترکشن یو ژباړونکی، پنځه جنریترونه غلا کړي. د شهیم سره مرکه وشوه، او په تعقیب یې د افغان لوی څارنوالي د دفتر لخوا ونیول شو. د 2013 کال د می په 7 د پوځ د قانوني خدماتو دفتر د یو اعلان په ترڅ کې له یادې نیټې څخه وروسته یې د شهیم د مخنیونې وړاندیز کړی و.

## د سیګار بودیجه

کانګرس د بشپړ کال جاري تخصیصاتو د2013 کال لایحې (P.L. 113-6) په اساس یې، د سیګار عملیاتي مصارفو لپاره 49.9 میلیونه ډالر تخصیص ورکړې ده. د سیګار د 2013 مالي کال بودیجه وروسته بیا د توقیف د تطبیق په اړه د اداري او بودیجې دفتر د فرمان په اساس، 48.0 میلیون ډالرو ته کم کړای شو.

د 2008 کال څخه نیولې چې سیګار تاسیس شوې تر 2013 کاله پورې، کانګرس په مجموعي ډول 164 میلیونه ډالر یې یاده ادارې ته تخصیص ورکړې ده. په وروستیو کې، د اداري او بودیجې دفتر د 2014 مالي کال لپاره د ولسمشر بودیجه خپره کړه، چې په دې کې د بیارغونې د فنډونو اساسي څارنې د عملیاتونو لپاره د سیګار 49.7 میلیون ډالر بودیجه هم شامله وه.

## د سیګار کارکونکي

سیګار کانګرس ته د وروستی رپوټ څخه تر اوسه پورې، خپل کارکونکي د 182 څخه 185 فیدرالي کارکونکو ته زیاته کړې ده. د رپوټ پدې دوره کې، سیګار 17 نوي کارکونکو ته ښه راغلاست وویل، او 14 پخواني یې له لاسه ورکړ. سیګار د استخدام وړاندیزونه زیات کړ څو د 2013 کال د اګست تر پایه پورې د بشپړ وخت کارکونکو شمیر یې 194 کسانو ته ورسیږي. سیګار موخه لري چې د 2014 مالي کال د 205 کارکونکو په درلودلو سره پیل کړي.

د یوه لنډ مهاله او سخت ماموریت درلودونکی اداري په توګه سیګار د مسلکي کارکونکو په استخدام او ساتنه کې له ننګونه سره مخ دی، خو بیا هم د مسلکي پلټونکو، څیړونکو، او تجزیه کونکو جذبولو ته ادامه ورکوي. سیګار د افغانستان په 57 ځایونو کې د استوګن لپاره اجازه لیکونه لري. سیګار تمه لري چې په دې ربعه کې ټول 57 ځایونه ډک کړي.



**ځانګړی مفتش**، منځ، او د بهرنیو چارو وزارت ځینې کارکونکي په کابل کې د متحده ایالاتو په سفارت کې د سیګار له مخکښې ډلې سره یوځای لیدل کیږي. (د سیګار انځور)

سیګار پدې ربع کې، 32 رسمي پرسونل په کابل کې د متحده ایالاتو په سفارت کې دننه، او 14 رسمي پرسونل د متحده ایالاتو سفارت څخه بهر درلوده. د سیګار اداري غړي د ټول هیواد په شپږو مرکزونو کې ځای په ځای شوي دي چې دا مرکزونه عبارت دي له: د کندهار او بګرام هوایي ډګرونه، مزار شریف، لیدرنیک کیمپ، په کابل کې د USFOR-A مرکزونه، او په هرات کې د متحده ایالاتو قونسلګري. سیګار په کابل کې د خپل پلټنو او څیړنو سره د مرستې لپاره درې ځایي افغانان استخدام کړي. برسیره پردې، سیګار په افغانستان کې د خپل کارونو پر مخ بیولو لپاره د لنډ مهاله لپاره هم کسان استخداموي. سیګار په دې ربعه کې، 18 کسان د 282 ورځې لنډمهال لپاره په افغانستان کې استخدام کړي و.

”که څه هم زمونږ د دوستی ماهیت بدلون
مومي، د افغانستان د خلکو لپاره د نړیوالې
ټولنې ژمنې ټینګې او دایمې دي.“

—جنرال جوزیف دنفورد جې آر، د امریکا د اردو قوماندان،
د آیساف او د امریکا د ځواکونو قوماندان

سرچینه: د امریکا د بهرنیو مطبوعاتو د خدماتو مضمون، د 2013 د جون 18.

# 3
# د بیارغونې
# نوي خبرونه



# د بیارغونې تازه حالت منځپانګې


| | |
|---|---|
| **عمومي کتنه** | **73** |
| **د بودیجو حالت** | **77** |
| **امنیت** | **91** |
| **حکومتداري** | **119** |
| **اقتصادي او ټولنیزه پرمختیا** | **143** |


**تصویر په تیره پاڼه کې**
کوچینیان ګوري او د امریکا د 101 پراشوت فرقې عسکر د افغانستان له پولیسو سره
د خوست په ولایت کې ګزمه کوي، د 2013 جولای. (د DOD انځور)

# بشپړه کتنه

3 برخه د افغانستان د بيارغونې په تړاو لومړيتوبونه، ننګونې او بشپړتياوې وړاندې کوي
څو د پلټنې لپاره يې زمينه برابره کړي. په حاشيو کې له دغو هڅو سره د سيګار د هغو تړلو
پلټنو پيژندنه شويده چې بشپړې شويدې او يا روانې دي. په 1 برخه کې راغلې ماخذونه
نورو جزيياتو ته لار هواروي.

سيګار په دغه برخه کې معلومات له 110-181 عامه قانون سره په تطابق کې وړاندې
کوي، په دې قانون کې حکم شوی دی چې کانګرس ته د افغانستان د بيارغونې په تړاو
د سيګار په چمتو کيدونکې درې مياشتنې رپوټ کې د نورو مواردو برسيره لاندني مسايل
شامل دي:

- د ځانګړيو شويو بسپنو ژمنه او لګول
- د متحده ايالاتو د حکومت د قراردادونو، بسپنو ، پريکړو او نورو ميکانيزمونو په اړه توضيحات
- د متحده ايالاتو د حکومت د اداراتو له لوري بسپنه شوې پروژو ته د نړيوالو اداراتو او بهرنيو هيوادونو له لوري چمتو شوې مرستې.

## موضوعات

په دغه برخه کې څلور نورې فرعي برخې شاملې دي: د بوديجو حالت، امنيت، حکومتداري
او اقتصادي او ټولنيزه پراختيا.

د **بوديجو حالت** په برخه کې د افغانستان د بيارغونې په ډګر کې ځانګړې شويو،
ژمنه شويو او لګول شويو پيسو توضيحات راغلي دي چې د متحده ايالاتو او نړيوالو مرستې
پکې شامل دي.

د دريو نورو فرعي برخو تنظيمول د لومړيتوب ورکولو او عملي کولو د پلان هغه درې
ستنې توضيح کوي چې په 2010 کال کې په يوه نړيوال کانفرانس کې وده ورکړل شوه او
افغان حکومت يې اعلان وکړ.

د **امنيت** برخه کې د متحده ايالاتو هغه هڅې چې غواړي افغان ملي امنيتي ځواکونه
(اردو او پوليس) پياوړي کړي روښانه شويدي. همداشان له خصوصي امنيتي شرکتونو سره
د قراردادونو پای ته رسول او د نشه اي توکو د قاچاق پرووړاندې مبارزه هم پکې شامل دي.

د **حکومتداري** په برخه کې د افغان حکومت هغه پرمختګونه تر غور لاندې راغلي
دي چې د ظرفيت جوړونو له لارې يې د ښې حکومتدارۍ لپاره تر سره کړيدي، د قانون
د حاکميت لومړيتوب او د بشري حقونو رعايت يې هم يوه برخه ده. په دې برخه کې
همداشان د بيايوځای کيدلو او پخلاينې پروسه هم روښانه شويده، په بيلابيلو ولايتونو کې د
افغان حکومت د ولکې کچه او له فساد سره د مبارزې لومړيتوبونه هم پکې څيړل شويدي.

د **اقتصادي او ټولنیزې پرمختیا** په برخه کې د انرژۍ، کان کیندنې او روغتیا په ډګر کې د بیارغونیزو هڅو جاج اخیستل شویدی. او د اقتصادی حالت او په مالی مقرارتو کښې د پرمختیا، په هر مالی کال کښی د تر لاسه شوی پایښت او ثبات او د ضروری چوپړیزو خدماتو په واړندی کولو کښی د تر لاسه شوو پرمختیاو په اړه کار او ډیری تمرکز کوی.

## ټګلاره/میتودولوژي

په 3 برخه کې د متحده ایالاتو د اداراتو او آزادو سرچینو معلومات راغونډ شویدي. سرچینې یې په پایلیکونو او یا له شکلونو او جدولونو سره په راغلو توضیحاتو کې په ګوته شویدي، له دې چې بیلابیلې ادارې معلومات برابروي نو کیدی شي چې شمیرې سره په ټکر کې وي یا توپیر ولري. سیګار له خپلو پلټنو او څیړنو پرته نور معلومات نه تاییدوي. د نورو سرچینو معلومات د سیګار د دریځ منعکس کونکي ندي. په دې ربع کې د سیګار د څیړنو او پلټنو د جزییاتو لپاره 2 برخه وګورئ.

## د معلوماتو خپراوی

د معلوماتو پوښتنو د پوښتنې د پوښتنو یوه لړۍ ده چې د متحده ایالاتو د ادارو څخه د بیا رغونې په پروګرامونو، او د افغانستان په چارو کې د هغوی د ګډون یا ورکړو په اړه ترې شوې دي. په تر ټولو وروستۍ معلومات غوښتنې کې د متحده ایالاتو یو شمیر اداراتو ګډون کړی وو چې په هغو کې د بهرنیو چارو وزارت، دفاع وزارت، د ترانسپورت وزارت ، د خزانې وزارت او د متحده ایالاتو د نړیوالې پراختیا ادارې برخه درلوده. ځواب ورکونکو اداراتو د دغې برخې په ټراو یوه لومړنۍ مسوبه ترلاسه کړیده. له دې سره دوی توانیدلي دي چې په دې ربع کې د چمتو شویو ځانګړیو معلوماتو په اړه تبصره وکړي او تایید یې کړي.

## د ازاد منابعو څېړنه

د ازادو منابعو څېړنه پر وروستنیو او د وګړنیزو منابعو، چې د ډېر باور وړ دي، ولاړه ده. په سرچینو کې د متحده ایالاتو هغه ادارې هم شاملې دي چې په معلومات غوښتنې کې شاملې دي. په هغو کې نړیوال سوله ساتي ځواکونه، ملګري ملتونه (او ترلي برخې)، د پیسو نړیوال صندوق، نړیوال بانک، افغان وزارتونه او نور حکومتي ادارې شامل وو.

# د معلوماتو شرایط او ګرافیکو باندې پوهاوی

ټولو شکلونو او جدولونو د دغو درو میاشتو د اسنادو رپوټ وړاندې کړ؛ خو د پېژندل شویو سرلیکونو او یادښتونو له پېژندنې پرته.

## ځرګند چارتونه

دا رپوټ ډیرې فنډونه او پروژې رااخلي، چې ارزښت یې له میلونو نه تر بیلونو ډالرو ته رسیږي. د دغو شمیرو د سمې ګرافیکي توضیح د چمتو کولو په موخه، ځینې بارګرافونه له یوې قطع شوې برخې سره تر سترګو کیږي (موجب کرښې) او په هغو کې د صفر او یوې لوړې شمیرې تر منځ بدلون په ګوته کوي.




په کچو کې د ماتیدو سره بار چارټ




په کچو کې د ماتیدو پرته بار چارټ

## د پاڼګوني نښانه ګر

د پاڼګونې نښانه ګر، چې په متن کې راغلی، شخصي پاڼګې ښیي. د بسپنې اداره کوونکې مسوله اداره د بسپنې تر نومونو لاندې په تان باکس کې لست شویده.




## د ملیون او بلیون واحدونه

ځرنګه چې دا رپوټ په میلیون او بیلیون ډالرو دی؛ نو اړینه ده، چې د میلیون او بیلیون ترمنځ توپیر وښوول شي. په میلیارد رپوټ شوي ډالر په آسماني رنګ په نښه شویدي او په میلیون رپوټ شوي ډالر په شنه رنګ په نښه شویدي.



پای چارت



پای چارت

## کلیزه (جنتري) او لمریز کلونه

په افغانستان کې د هجري لمریز کلیزه دود ده چې د عیسوي تاریخ له 622 میلادي کال ځخه را پیلیږي. سیګار هجري لمریز کلونه په معادل عیسوي کلونو اړوي. روان افغان مالي کال 1392 دی. دغه کال د 2013 کال د مارچ په 21 پیل شوی دی او د 2014 کال د مارچ په 20 پای ته رسیږي. د افغان حکومت مالي کال د 2012 کال د دسمبر له 21 تر د 2013 کال د دسمبر تر 20 پورې دی.

# د فنډونو د وضعیت منځپانګې


د متحده ایالاتو د افغانستان بیا رغونې
لپاره مرستې 78

د افغانستان د امنیتي ځواکونو فنډ 80

د افغانستان د امنیتي ځواکونو
د بودجې فعالیتونه 81

د قوماندانانو د بیړني غبرګون پروګرام 82

د افغانستان د زیر بنا فنډ 83

د سوداګرۍ او ثبات د عملیاتو وظیفوي ځواک 84

د امریکا د دفاع وزارت د مخدره توکو د مخنیوی
او د مخدره توکو پر وړاندې فعالیتونه 85

د اقتصادي ملاتړ فنډ 86

نړیوال مخدره توکو کنټرول او د قانون پلې کول 87

د افغانستان د بیارغونې لپاره نړیواله مرسته 88

# د بسپنو وضعیت

د سیګار د قانون جوړوني ماموریت د تر سره کولو لپاره، دا برخه د افغانستان د بیا رغوني فعالیتونو لپاره د أمریکا د تخصیص شویو، ژمنه شویو، او تادیه شویو فنډونو په اړه توضیحات ورکوي. د 2013 کال د جون تر 30 پورې، له 2002 مالي کال څخه امریکا د افغانستان سره د مرستې او بیا رغونې لپاره نږدې 96.57 میلیارده امریکایي ډالر تخصیص ورکړي دي. دا ټولې پیسې په لاندې توګه ټاکل شوي دي:

- 54.30 میلیارده امریکایي ډالر د امنیت لپاره
- 24.70 میلیارده امریکایي ډالر د حکومتولۍ او پراختیا لپاره
- 6.92 میلیارده امریکایي ډالر د مخدره توکو سره د مبارزې د هڅو لپاره
- 2.67 میلیارده امریکایي ډالر د بشردوستۍ مرستې لپاره
- 7.99 میلیارده امریکایي ډالر د عملیاتو او نظارت لپاره

شکل 3.1 د امریکا هغه مهم فنډونه ښیي چې پدغو هڅو کې برخه اخلي.

3.1 شکل

**د امریکا مرستې په افغانستان کې د بیا رغونې د هڅو ملاتړ کوي** (میلیارد امریکایي ډالر)




یادونې: شمیرې په تقریبي ډول لیکل شوي.

[a] په ګڼ شمیر ادارو کې د امریکا عدلیی وزارت، بهرنیو چارو وزارت، دفاع وزارت، USAID، خزانه، د مخدره توکو په وړاندې اداره، BRG او سیګار شامل دي.

سرچینې: د سیګار 7/22/2013، 7/3/2013، 7/1/2013، 10/22/2012، 10/14/2009 او 10/1/2009؛ معلوماتي غوښتنو ته د DOD ځوابونه؛ د سیګار 7/16/2013، 7/2/2013، 6/27/2013، 10/5/2012 او 6/27/2012؛ معلوماتي غوښتنو ته د State ځوابونه؛ د سیګار 7/1/2013؛ معلوماتي غوښتنې ته د خزانې ځواب؛ د سیګار 7/1/2013؛ معلوماتي غوښتنې ته د OMB ځواب؛ د سیګار 4/18/2013، 10/15/2010، 1/15/2010، او 10/9/2009 معلوماتي غوښتنو ته د USAID ځوابونه؛ د سیګار 7/7/2009 معلوماتي غوښتنې ته د DoJ ځواب؛ د سیګار 4/2009 معلوماتي غوښتنې ته د USDA ځواب؛ P.L. 6-113، 3/26/2013؛ P.L. 112-74، 12/23/2011؛ P.L. 112-10، 4/15/2011؛ P.L. 111-212، 10/29/2010؛ P.L. 111-118، 12/19/2009؛ د 2010 مالي کال د دفاع تشریحي وینا.

**ASFF:** د افغانستان د امنیتي ځواکونو فنډ
**CERP:** د قوماندان د بیړني غبرګون پروګرام
**AIF:** د افغانستان د زیر بنا فنډ
**TFBSO:** د سوداګرۍ او ثبات عملیاتو د دندې ځواک
**DOD CN:** د امریکا د دفاع وزارت د مخدره توکو د مخنیوی او له مخدره توکو سره د مبارزې فعالیتونه
**ESF:** د اقتصادي ملاتړ فنډ
**INCLE:** نړیوال مخدره توکو کنټرول او د قانون پلي کول
**نور:** نورې مرستې




**د 2002 له مالي کال څخه په افغانستان کې د بيا رغونو مرستې هغه پيسې چې د امريکا او اصلي فندونو ته ورکړ شوي له %84.5 ډير (له 81.57 ميلياردو ډالرو څخه ډيرو) استازيتوب کوي. لدغو پيسو څخه، له %84.9 څخه ډير (له 69.25 ميلياردو امريکايي ډالرو څخه ډيرو) ژمنه شوې ده، او له %73.9 څخه د ډيرو (60.28 ميلياردو امريکايي ډالرو څخه ډير) تاديه شوې دي. راتلونکې پاڼې د دې بوديجو په اړه لا زيات معلومات ورکوي.**

## د متحده ايالاتو د افغانستان بيا رغونې لپاره مرستې

د 2013 کال د جون تر 30 مې پورې د افغانستان د سوکالی او بيارغونې لپاره مرستې نږدې 96.57 ميليارد ډالرو ته رسيږي. دغه مرستې په ټوليزه توګه په 5 سترو برخو باندي ويشل کيدای شي: امنيت، حکومتداري او پراختيا، د مخدره توکو پر وړاندي مبارزه، بشري مرسته، او بلاخره څارنه او عمليات د متحده ايالتونو د ځانګړو شويو مرستو په اړه د بشپړومعلوماتو لپاره د B پايڅوړ وګورئ.

د 2013 د مارچ په 26، ولسمشر اوباما د 2013 کال د مستحکمو او لا نورو دوامدارو تخصيصونو قانون امضا کړ، چې د امريکا د حکومت لپاره د مالي کال د پاتې وخت لپاره او د افغانستان د بيا رغونې لپاره د ډيريدونکى مرستو نږدې 96.57 ميلیارد امريکايي ډالر برابروي، لکه څنګه چې پدې شکل 3.2 کې ښودل شوي.

د 2013 کال د جون تر 30 مې نيټې پورې د افغانستان د بيارغونې لپاره ځانګړې شوي مرستې د 9.79 ميليارده ډالرو سره برابرې وې چه د 2012 مالي کال د 14.60 ميليارد ډالرو

3.2 شکل

**د مرستو کټګورۍ په اساس د تخصيصاتو مجموعه، د 2013 کال د جون تر 30 پورې** (ميليارد ډالر)




يادونې: شميرې په تقريبي ډول ليکل شوي. د 2013 مالي کال د امريکا د بهرنيو چارو وزارت او USAID شميري حسابونه د مسودې په اساس اندازې بنيي او د کانګرس د پای تاييد ته اړتيا لري. DOD د 2011 مالي کال ASFF څخه 1 ميليارد ډالر بيا پروګرام کړي دي. DOD د 2012 مالي کال ASFF څخه 1 ميليارد ډالر بيا پروګرام کړې دي. پي. ايل P.L. 113-6، 1 ميليارد امريکايي ډالر د افغانستان د امنيتي ځواکونو د 2012 مالي کال څخه فسخ شوي. DOD د 2011 مالي کال AIF څخه 101$ ميليونه ډالر د 2011 مالي کال ESF ته انتقال کړه تر څو داسې يو زيربنايي پروژې ته بوديجه ورکړي چې د USAID لخوا پلي کيږي.

سرچينې: د سيګار 7/22/2013، 7/3/2013، 7/1/2013، 10/22/2012، 10/14/2009 او 10/1/2009؛ معلوماتي غوښتنو ته د DOD ځوابونه؛ د سيګار 7/16/2013، 7/2/2013، 6/27/2013، 10/5/2012 او 6/27/2012؛ معلوماتي غوښتنو ته د State ځوابونه؛ د سيګار 7/1/2013؛ معلوماتي غوښتنې ته د خزانې ځواب؛ د سيګار 7/1/2013؛ معلوماتي غوښتنې ته د OMB ځواب؛ د سيګار4/18/2013، 10/15/2010، 1/15/2010، او 10/9/2009 معلوماتي غوښتنو ته د USAID ځوابونه؛ د سيګار 7/7/2009 معلوماتي غوښتنې ته د DoJ ځواب؛ د سيګار 4/2009 معلوماتي غوښتنې ته د USDA ځواب؛ P.L. 113-6، 3/26/2013؛ P.L. 112-74، 12/23/2011؛ P.L. 112-10، 4/15/2011؛ P.L. 111-212، 10/29/2010؛ P.L. 111-118، 12/19/2009؛ د 2010 مالي کال د دفاع تشريحي وينا.

د مرستې په پرتله 33 سلنه کموالی پکې راغلی دی. لکه څرنګه چې په 3.3 شمیره انځور کې ښودل شوي دي. د 2012 کال په پرتله په 2013 کال کې د مرستو د کموالي برسېره، د ولسمشر لخوا د څارنې او عملیاتو لپاره د 12 میلیاردو ډالرو په ارزښت د تقاضا شوي بودجې په ګډون د 2014 کال بودجه د 2013 کال د هغې په پرتله زیاته ده.[41] د بودجې دغه زیاتوالی په ځانګړې توګه د افغان ملي امنیتي پوځ د پیاوړتیا د غوښتنې له مخې دی په ځانګړي ډول د افغان ملي اردو د ځانګړو قطعو او هیواد د هوايي ځواک لپاره د تجهیزاتو د اخیستلو له امله رامنځ ته شوی دی.[42]

د سیګار په پخواني راپور کې د 2012 کال لپاره د 5.2 میلیارد ډالرو په ارزښت ځانګړې شوې مرسته چې د امریکا د څلورو سترو بیارغونیزو پروژو لپاره اختصاص شوې وې پرځای د تعهد په جنبه کې پاتې دي. د یادي منل شوو مرستو د ولې څخه یې د 2.7 میلیارد ډالرو څخه زیاتې پدې ربع کې منل شوې، چې پدې سره 2.5 میلیارد ډالره پاتې کېږي چې باید د روان مالي کال تر پایه پورې ومنل شي. هغه ډول چې په جدول کې ښودل شوي دي 3.1.[43]

3.1 جدول

**د 2012 مالي کال تخصیصونه او ژمنې، د 2013 د جون تر 30 پورې**
**(میلیونونه ډالر)**

| | اختصاص شوي | منل شوي |
|---|---|---|
| ASFF[a] | 9,200 | 6,951 |
| AIF | 400 | 322 |
| ESF | 1,837 | 1,699 |
| INCLE | 324 | 310 |
| **ټول** | **11,761** | **9,282** |
| **چې ژمنه یې باید وشي** | **2,479** | |

یادونې: شمیرې په تقریبي ډول لیکل شوي دي. د امریکا دفاع وزارت په 2012 مالي کال کې د ASFF، 1 میلیارد امریکایي ډالر بیرته پروګرام کړي، او P.L. 113-6 د 2012 مالي کال 1 میلیارد امریکایی ډالر یې بیرته ایستلې، چې د مرستو کچه یې له 11.2 میلیاردو امریکایي ډالرو څخه 9.2 میلیاردو امریکایي ډالرو ته را کمه کړې.
[a] د ASFF د 2013 کال د می 31 معلومات

د سیګار د معلوماتو د غوښتنې په اړه د امریکا دفاع وزارت ځواب، 7/22/2013؛ د سیګار د معلوماتو د غوښتنې په اړه د USAID ځواب، 7/17/2013؛ د سیګار د معلوماتو د غوښتنې په اړه د امریکا د بهرنیو چارو وزارت ځواب، 7/15/2013؛ P.L.112-74، 12/23/2011.

3.3 شکل

**د مالي کال، مقدار، او کتګورۍ په اساس تخصیصات** (میلیارد ډالر)




یادونې: شمیرې په تقریبي ډول لیکل شوي. د 2013 مالي کال د امریکا د بهرنیو چارو وزارت او USAID شمیرې حسابونه د مسودې په اساس اندازې بنیي او د کانګرس د پای تایید ته اړتیا لري. DOD د 2011 مالي کال ASFF څخه 1 میلیارد ډالر بیا پروګرام کړې دي. DOD د 2012 مالي کال ASFF څخه 1 میلیارد ډالر بیا پروګرام کړې دي. پې. ایل P.L. 113-6، 1 میلیارد امریکایي ډالر د افغانستان د امنیتي ځواکونو د 2012 مالي کال څخه فسخ کړل. DOD د 2011 مالي کال AIF څخه $101 میلیونه ډالر د 2011 مالي کال ESF ته انتقال کړه تر څو داسې یو زیربنایي پروژې ته بودیجه ورکړي چې د USAID لخوا پلي کیږي.

سرچینې: د سیګار 7/22/2013، 7/3/2013، 7/1/2013، 10/22/2012، 10/14/2009 او 10/1/2009؛ معلوماتي غوښتنو ته د DOD ځوابونه؛ د سیګار 7/16/2013، 7/2/2013، 6/27/2013، 10/5/2012 او 6/27/2012؛ معلوماتي غوښتنو ته د State ځوابونه؛ د سیګار 7/1/2013؛ معلوماتي غوښتنې ته د خزانې ځواب؛ د سیګار 7/1/2013؛ معلوماتي غوښتنې ته د OMB ځواب؛ د سیګار4/18/2013، 10/15/2010، 1/15/2010، او 10/9/2009 معلوماتي غوښتنو ته د USAID ځوابونه؛ د سیګار 7/7/2009 معلوماتي غوښتنې ته د DoJ ځواب؛ د سیګار 4/2009 معلوماتي غوښتنې ته د USDA ځواب؛ P.L. 113-6، 3/26/2013؛ P.L. 112-74، 12/23/2011؛ P.L. 112-10، 4/15/2011؛ P.L. 111-212، 10/29/2010؛ P.L. 111-118، 12/19/2009؛ د 2010 مالي کال د دفاع تشریحي وینا.




## د ASFF د فنډ اصطلاحات

د امریکا دفاع وزارت راپور ورکړی چې د ASFF فنډونه څنګه تخصیص شوي، ژمنه شوي، یا تادیه شوي.

**تخصیصونه:** د ژمنو لپاره ټولې شته پیسې

**ژمنې:** د پیسو د تادیه کولو ژمنې

**تادیات:** هغه پیسې چې لګېدلې دي

سرچینه: د سیګار د معلوماتو غوښتنې په اړه، د امریکا د دفاع وزارت ځواب، 4/13/2010.

## د افغانستان د امنیتي ځواکونو فنډ

د امریکا کانګرس د افغانستان د امنیتي ځواکونو (ASFF) فنډ جوړ کړی ترڅو د افغانستان د امنیتي ځواکونو لپاره تجهیزات، مواد، خدمتونه، او روزنې، او تاسیسات او زیر بنا د ترمیم، بیا رغونه، او ودانول برابر کړي.[44] د افغانستان د ملي امنیتي ځواکونو د جوړولو مسول سازمان د شمالي اتلانتیک د تړون سازمان (NATO) د افغانستان د روزنې ماموریت/د افغانستان د امنیتي سپارلو ګډه قوماندانی ده.[45]

د 2013، د ځواکمن او د لا نورو دوامدارو تخصیصونو قانون، په 2013 مالي کال کې د ASFF لپاره له 5.12 میلیاردو امریکايي ډالرو څخه زیات تخصیص ورکړي، چې د فنډ ورکولو ډیریدونکي ټوله اندازه نږدې 52.78 میلیارده امریکايي ډالرو ته زیاته شوې.[46] د 2013 د جون تر 30 پورې، د ASFF له ټول فنډ څخه نږدې 45.27 میلیارده امریکايي ډالرو ژمنه شوې ده، چې لدې څخه 41.45 میلیارده امریکايي ډالر تادیه شوي دي.[47] د شکل 3.4 په هر مالي کال کې د ASFF لپاره ورکړ شوې پیسې ښیې.

د امریکا دفاع وزارت راپور ورکړی چې ډیریدونکي ژمنې د 2013 د جون تر 30 پورې، نږدې 1.14 میلیاردو امریکايي ډالرو ته د 2013 د مارچ تر 31 پورې پر ډیریدونکو ژمنو برسیره زیاتې شوې. د 2013 د جون تر 30 ډیریدونکي تادیاتو د 2013 د مارچ تر 31 پورې پر ډیریدونکو تادیاتو برسیره، له 1.46 میلیارده امریکايي ډالرو څخه ډېر زیات شوي.[48] شکل 3.5 د ASFF لپاره د ډیریدونکو فنډونو اندازه چې شتون لري، ژمنه یې شوې، او تادیه شوي یو بل سره پرتله کوي.

شکل 3.4

**د مالي کال په اساس د ASFF تخصیص شوي مرستې** (میلیارد ډالر)




شکل 3.5

**د ASFF مرستې، تجمعي پرتله**
(میلیارد ډالر)




یادونې: شمیرې په تقریبي ډول لیکل شوي.
a DOD د 2011 مالي کال ASFF څخه $1 میلیارد ډالر بیا پروګرام کړې دي.
b DOD د2012 مالي کال ASFF څخه $1 میلیارد ډالر بیا پروګرام کړې دي؛ $1 میلیارد ډالر نورې پیسې د P.L. 113-6 په اساس فسخ شوې.
سرچینې: د سیګار 4/16/2013 معلوماتي غوښتنې ته د DOD ځواب. P.L. 113-6, 3/26/2013.

## د افغان امنیتي ځواکونو بودجې فعالیتونه

د امریکا دفاع وزارت په ASFF کې د بودجې د فعالیتونو دریو ډلو ته فنډونه ورکوي:

- دفاعی ځواک (د افغانستان ملی اردو)
- کورنیو چارو ځواک (د افغانستان ملی پولیس)
- اړوند فعالیتونه (ابتدايي زنداني عملیات)

**د بودجې د فعالیتونو ډلې:** په هر تخصیص یا د فنډ په حساب کې هغه برخې چې د فعالیتونو موخې، پروژې، یا ډولونه پیژني چې د تخصیص یا د فنډ

**د فرعي فعالیت د ډلو لخوا یې لګښت ورکړ شوی:** د محاسبې ډلې چې د قوماندانی تادیات په کاري ساحو باندې ویشي

سرچینې: د امریکا د دفاع وزارت، "لاربښود 7110.1-M د امریکا د دفاع وزارت د لاربښوني لاربښود،" لاس رسی 9/28/2009؛ د بحري خواکونو اداره، "د روغتیا د تاسیساتو د اداره کولو لاربښود،" 5 p. لاس رسی 10/2/2009.

هر کاری یا فعالیتی ګروپ ته ځانګړې شوې بودجه بیا په څلورو فرعی فعالیتي کاري ګروپونو باندی ویشل شوي دي: زیربنا، تجهیزات او ترانسپورت، روزنه او عملیات، او ساتنه.[49]

د 2013 کال د جون تر 30 پورې د امریکا د دفاع وزارت د ANSF نوښتونو په برخه کې تر 41.45 میلیارد ډالرو لګولي دي لدې څخه، نږدې 27.44 میلیارده امریکایي ډالر ملي اردو ته تادیه شوي، او نږدې 13.69 میلیارده امریکایي ډالر ملي پولیسو ته تادیه شوي، او پاتې له 0.32 میلیارده امریکایي ډالرو څخه زیات اړوندو فالیتونو ته تللي دي.[50]

لکه څنګه چې پدې شکل کې ښودل شوي 3.6، د فنډونو ډېره برخه د ملي اردو لپاره تادیه شوې، چې نږدې 11.07 میلیارده امریکایي ډالر دي، د تجهیزاتو او ترانسپورت ملاتړ لپاره و. ملي پولیسو ته له تادیه شوي فنډ څخه، تر ټولو ډېره برخه، له 4.77 میلیاردو امریکایي ډالرو څخه زیات، د ساتنې ملاتړ کړی، لکه څنګه چې پدې شکل 3.7 کې ښودل شوي.[51]

3.6 شکل

**د فعالیت فرعي ډلو په اساس د هغو مصارفو شمیرې چې ASFF د افغان ملي پوځ لپاره کړې ده 2005 مالي کال-د 2013 کال د می 31** (میلیارد ډالر)




یادونه: شمیرې په تقریبي ډول لیکل شوي.

سرچینه: د سیګار د معلوماتو غوښتنې په اړه، د امریکا د دفاع وزارت خواب، 7/22/2013.

3.7 شکل

**د فعالیت فرعي ډلو په اساس د هغو مصارفو شمیرې چې ASFF د افغان ملي پولیسو لپاره کړې ده 2005 مالي کال-د 2013 کال د می 31** (میلیارد ډالر)




یادونه: شمیرې په تقریبي ډول لیکل شوي.

سرچینه: د سیګار د معلوماتو غوښتنې په اړه، د امریکا د دفاع وزارت خواب، 7/22/2013.

## د قوماندان بیړنۍ عکس العمل پروګرام

د قوماندان بیړني ځواب پروګرام (CERP) په افغانستان کې د متحده ایالاتو قوماندانان په دې توانوي چې د هغو پروګرامونو په ملاتړ کولو سره چې د سیمه ایزې ابادۍ سمدستي مرسته وکړي، د خپل مسوولیت په برخو کې بیړنیو بشري مرستو او د بیا رغونې غوښتنو ته ځواب ووايي. تر دې پروګرام لاندې پانګونه وړو پروژو ته ځانګړې شوې ده، چې لګښت یې تر 500000 ډالرو کم دی.[52] پروژو ته، چې لګښت یې تر 1 میلون ډالره تېرې نه کوي، اجازه ورکړل شوې ده؛ خو دا د متحده ایالتونو د مرکزي قوماندې د قوماندان تصویب غواړي. له 5 میلیونو ډالرو څخه زیاتې پروژې د دفاع وزیر د معاون لخوا تایید ته اړتیا لري. د CERP لخوا تمویل شوې پروژې باید له 20 میلیونو امریکایي ډالرو څخه زیات نشي.[53]

د ځواکمنو او لا دوامدارو تخصیصونو قانون، په 2013 مالي کال کې د CERP لپاره 200 میلیونه امریکایي ډالر تخصیص ورکړي، چې د ټولې ډیریدونکی مرسته یې نږدې 3.64 میلیارده امریکایي ډالرو ته زیات کړی.[54] د امریکا دفاع وزارت راپور ورکړی چې لدې پیسو څخه، له 2.27 میلیارده امریکایي ډالرو څخه زیاتو ژمنه شوې، چې لدې څخه 2.21 میلیارده امریکایي ډالر تادیه شوي.[55] دا شکل 3.8 د مالي کال لپاره د CERP تخصیص ښیې، او دا شکل 3.9 د CERP د پروژو د ډیریدونکې تخصیص شویو، ژمنه شویو، او تادیه شویو پیسو پرتله کول ښیې.




### د CERP د فنډونو اصطلاحات

د امریکا د دفاع وزارت د CERP د فنډونو د تخصیص شویو، ژمنه شویو او تادیه شویو راپور ورکړی

**تخصیصونه:** د ژمنو لپاره ټولې شته پیسې

**ژمنې:** د پیسو د تادیه کولو ژمنې

**تادیات:** هغه پیسې چې لګیدلې دي

سرچینه: د سیګار د معلوماتو غوښتنې په اړه، د امریکا د دفاع وزارت ځواب، 4/14/2010.

3.8 شکل

**د مالي کال په اساس د CERP تخصیصات**

(ملیون دالر)




3.9 شکل

**د CERP بودیجې، مجموعي پرتله**

(میلیارد ډالر)




یادونې: شمیرې په تقریبي ډول لیکل شوي. په معلوماتو کې بنایي بین الاداري لیږدونې شاملې وي.

سرچینې: د سیګار 7/22/2013 او 4/17/2013 معلوماتي غوښتنو ته د DOD ځوابونه؛ د سیګار 1/4/2013 معلوماتي غوښتنې ته د OMB ځواب؛ P.L. 113-6، 3/26/2013؛ P.L. 112-74، 12/23/2011؛ P.L. 112-10، 4/15/2011.

## د افغانستان د زیربنا تمویلول

د اکي سکیلټن دفاع ملي تجویز عمل د 2011 مالي کال لپاره د لوړ-لومړیتوب، لوی مقیاس زیربنای پروژو ته د ورکړې لپاره د افغانستان زیربنا پانګه یا تمویل (AIF) جوړه کړې، چې د متحده ایالاتو ملکي نظامي هڅه ملاتړوي. د کانګرس غوښتنه ده چې د AIF لخوا تمویل شوي پروژې به د امریکا د دفاع او بهرنیو چارو وزارتونو لخوا په ګډه غوره او اداره کیږي. له دیرشو ورځو څخه وړاندې چې د AIF یوې پروژې ته د فنډ ژمنه او تادیه کیږي، د امریکا او بهرنیو چارو وزیران باید کانګرس د وړاندیز شوي پروژې له جزییاتو څخه خبر کړي، پشمول د ساتنې پلان او دا چې دا پروژه څنګه په افغانستان کې د یاغیانو سره د مبارزې د ستراتیژۍ ملاتړ کوي.[56]

د 2013، د څواکمنو او زیاتو دوامدارو تخصیصونو قانون، په 2013 کال کې د AIF لپاره 325 میلیونه امریکايي ډالر تخصیص کړی، چې ټول ډیریدونکی فنډ يې له 1.02 میلیونو امریکايي ډالرو څخه ډیرو ته زیات کړی.[57] پدې شمیره کې د 2011 مالي کال لپاره د AIF 101 میلیون امریکايي ډالره فنډونه شامل ندي چې د 2011 مالي کال د USAID او AIF لپاره د زیر بنا پروژې د اقتصادي ملاتړ فنډ ته لیږل شوي. د 2013 د جون تر 30 پورې، نږدې 616.07 میلیونه امریکايي ډالر د AIF د ټولې مرستې ژمنه شوې، چې لدغو څخه نږدې 134.18 میلیونه امریکايي ډالر تادیه شوي دي.[58] دا شکل 3.10 د مالي کال پر اساس د AIF تخصیص ښيي، او دا شکل 3.11 د AIF د پروژو د تخصیص شوي، ژمنه شوې، او تادیه شوي پیسو پرتله کول ښيي.




### د AIF د فنډونو اصطلاحات

د امریکا د دفاع وزارت د AIF د فنډونو په اړه لکه څنګه چې تخصیص شوې، ژمنه شوې، یا تادیه شوې راپور ورکړی

**تخصیصونه:** د ژمنو لپاره ټولې شته پیسې

**ژمنې:** د پیسو د تادیه کولو ژمنې

**تادیات:** هغه پیسې چې لګېدلې دي

سرچینه: د سیګار د معلوماتو غوښتې په اړه، د امریکا د دفاع وزارت ځواب، 4/13/2012.

شکل 3.10

**د مالي کال په اساس د AIF لپاره تخصیصات** (میلیون ډالر)




شکل 3.11

**AIF مرستو تجمعي پرتله** (میلیون ډالر)




یادونې: شمیرې په تقریبي ډول لیکل شوي. د نویو معلوماتو په اساس د منل شوو مرستو شمیره د هغه څه په پرتله چې په تیره ربع کې راپور ورکړل شوی وو کم دي.

[a] د 2011 مالي کال په رقم کې هغه 101 میلیونه ډالر شامل ندي چې د AIF یوې پروژې پلي کولو لپاره USAID ته انتقال شوي دي.

سرچینې: د سیګار 7/22/2013 او 4/17/2013 معلوماتي غوښتنو ته د DOD ځوابونه؛ P.L. 113-6، 3/26/2013؛ P.L. 112-74، 12/23/2011؛ P.L. 112-10، 4/15/2011.

## د سوداګریزو عملیاتو د ثبات او پایښت لپاره کاري ځواک

په 2010 کال کې د سوداګریزو عملیاتو د ثبات او پایښت لپاره کاري ځواک (TFBSO) په افغانستان کې د بې کارۍ د کچې د کمولو، افغانانو لپاره د اقتصادي فرصتونو د رامنځ ته کولو او همدا ډول د اقتصادي لاملونو د رامنځ ته شوي تاوتریخوالي سره د مبارزې له لارې د افغانستان د ثبات په موخه خپل فعالیت پدې هیواد کې پیل کړ. د TFBSO په پروژو کې خصوصي پانګونه، صنعتي پراختیا، بانکداري او مالي سیستم پراختیا، د کرنې پراختیا او بیا ژوندي کول، او د انرژۍ د پراختیا لپاره آسانتیاوې شامل دي.[59]

TFBSO د تمویل دوه جلا امواج لري. د ملي دفاع د صلاحیتونو په قانون کې د TFBSO د مرستو څخه یوازې د هغه فعالیتونو لپاره کار اخیستل کیدای شي چه د په مستقیم ډول د افغانستان د بیارغونې سره تړاو ولري. هغه مرسته چه TFBSO یې د عملیاتو او حفظ او مراقبت او پوځ څخه ترلاسه کوي د امریکا د متحده ایالاتو د اجناسو، ملکي کارکوونکو، سفر، امنیت او نورو عملیاتي او اپراتیفي لګښتونو لپاره کارول کیږي.

د 2013 د جون تر 30 پورې، د 2013 مالي کال لپاره TFBSO ته له 129.84 میلیونو امریکایي ډالرو څخه ډیر تخصیص ورکړ شوي دي، دا ډیریدونکې تخصیصونه نږدې 684.59 میلیونو امریکایي ډالرو ته رسوي.[60] لدغو پیسو څخه، له 590.76 میلیونو امریکایي ډالرو څخه ډیرو ژمنه شوي او له 421.62 میلیونو امریکایي ډالرو څخه ډیر تادیه شوي.[61] دا شکل 3.12 د هر مالي کال پر اساس د TFBSO د پروژو لپاره تخصیص شوي پیسې ښیې، او دا شکل 3.13 د TFBSO د پروژو لپاره د شته وې، ژمنه شویو، او تادیه شویو پیسو ډیریدونکی پرتله کول ښیې.

شکل 3.12

**د مالي کال په اساس د TFBSO تخصیصونه**

(میلیون ډالر)




شکل 3.13

**د TFBSO مرستې، تجمعي پرتله**

(میلیون ډالر)




یادونې: شمیرې په تقریبي ډول لیکل شوې. NDAA = د ملي دفاع د واک قانون. OMA= د اردو عملیات او ساتنه د OMA له مرستو څخه د امریکا د شتمنیو، ملکي کارکوونکو، سفر، امنیت، او د نورو عملیاتو د لګښتونو دوام د تادیاتو لپاره کار اخیستل کیږي.

سرچینې: د سیګار د 7/3/2013 او 10/4/2011 معلوماتي غوښتنو ته د DOD خوابونه؛ P.L. 113-6، 3/26/2013؛ P.L. 112-74، 12/23/2011؛ P.L. 112-10، 4/15/2011.




### د TFBSO د فنډونو اصطلاحات

د امریکا د دفاع وزارت د TFBSO د فنډونو په اړه لکه څنګه چې تخصیص شوې، ژمنه شوې، یا تادیه شوې راپور ورکړی

**تخصیصونه:** د ژمنو لپاره ټولې شته پیسې

**ژمنې:** د پیسو د تادیه کولو ژمنې

**تادیات:** هغه پیسې چې لګېدلې دي

سرچینه: د سیګار د معلوماتو غوښتنې په اړه، د امریکا د دفاع وزارت ځواب، 4/13/2010.

## د امریکا د دفاع وزارت د مخدره توکو د مخنیوی او مخدره توکو سره د مبارزې فعالیتونه

د امریکا د دفاع وزارت د مخدره توکو د مخنیوی او مخدره توکو سره د مبارزې فعالیتونو فنډ (DOD CN) د مخدره توکو د سوداګرۍ او اړوندو فعالیتونو سره د مبارزې له لارې د افغانستان د ثبات د هڅو ملاتړ کوي. د امریکا د دفاع وزارت له DOD CN څخه کار اخلي ترڅو د مخدره توکو د قاچاق پر وړاندې د اردو د عملیاتو ملاتړ وکړي؛ د افغانستان د مخنیوی عملیات پراخ کړي؛ او د افغانستان د قانون پلي کوونکو ادارو ظرفیت زیات کړي، او پدې کې د افغانستان سرحدي پولیسو لپاره د تخصیصي روزنې، تجهیزات، او تاسیسات برابرول شامل دي.[62]

د DOD CN فنډونه د اردو د خدماتو ته د یوې بودجې په توګه د کانګرس لخوا تخصیص ورکول کیږي. د امریکا دفاع وزارت د مخدره توکو سره د مبارزې د سپارلو له مرکزي حساب څخه د اردو د خدماتو او د دفاع ادارو ته فنډونه بیرته پروګراموې چې د فنډونو ژمنې او سپارل تعقیبوي. د هر مالي کال لپاره د امریکا دفاع وزارت د افغانستان لپاره د DOD CN د حسابونو په اړه د یو لګښت په توګه راپور ورکړی.[63]

د 2013 د جون تر 30 پورې، د امریکا دفاع وزارت راپور ورکړی چې د افغانستان لپاره د DOD CN د 2013 مالي کال لپاره 333.11 میلیونه امریکایي ډالر لاسته رواړي، چې دا له 2004 مالي کال څخه د DOD CN لپاره د ډیریدونکو فنډونو اندازه نږدې 2.64 میلیارده امریکایي دالرو ته رسوي.[64] شکل 3.14د مالي کال په اساس د DOD CN لپاره د ځانګړو شوو مرستو ښکارندوی کوي او شکل 3.15 د هر مالي کال لپاره د اردو د خدمتونو او دفاع ادارو ته د DOD CN د پروژه لپاره د DOD CN د تخصیص شوي او سپارل شوی ډیریدونکی پرتله کول ښیي. سیګار اوس مهال د دفاعي ادارو سره په ګډه کار کوي ترڅو د DOD CN د منل شوو او لګول شوو مرستو په اړه چې په افغانستان کې ترسره شوي، راپور چمتو او بیا وړاندي کړي.

شکل 3.14

**د مالي کال په اساس د DOD CN تخصیصات**

(میلیون ډالر)




شکل 3.15

**د DOD CN بودیجو مجموعي پرتله**

(میلیارد ډالر)




یادونې: شمیرې په تقریبي ډول لیکل شوي. نوي معلومات د 2013 مالي کال لپاره د نویو کمو تخصیصونو له کبله وو.

[a] DOD د پوځي خدماتو او دفاعي ادارو ټولې بودیجې د مقید کیدو او مصارفو لپاره بیا پروګرام کوي.

سرچینې: د سیګار 7/1/2013 او 4/1/2013 معلوماتي غوښتنې ته د DOD ځواب.




### د DOD CN د فنډونو اصطلاحات

د امریکا د دفاع وزارت د DOD CN د فنډونو په اړه لکه څنګه چې تخصیص شوې، ژمنه شوې، یا تادیه شوې راپور ورکړی

**تخصیصونه:** د ژمنو لپاره ټولې شته پیسې

**ژمنې:** د پیسو د تادیه کولو ژمنې

**تادیات:** هغه پیسې چې لګېدلې دي

سرچینه: د سیګار د معلوماتو غوښتنې په اړه، د امریکا د دفاع وزارت ځواب، 4/13/2010.

## د اقتصادي ملاتړ بودیجه

د اقتصادي مرستو فنډ (ESF) پروګرام بېلابېلو هېوادونو ته د اقتصادي، سیاسي او امنیتي غوښتنو له مخې د اوږمهالو او لنډمهالو سفرونو د برابرولو په موخه د متحد ایالتونو له ګټو سره مرسته وکړه. د ESF پروګرامونه د تروریزم پر وړاندې د پروګرامونو ملاتړ کوي؛ ملي اقتصاد ځواکمن کوي؛ او د لا ډېر شفاف او حساب ورکوونکي حکومت لپاره اغیزمن، د لاس رسي وړ، او خپلواک قانوني سیستم د پراختیا لپاره مرسته کوي.[65]

د ESF لپاره تر 1.62 میلیارد ډالرو زیاتې مرستې د 2013 کال لپاره منظورې شوې وې، چې پدې سره د ESF سره د ترسره شوو مرستو کچه په مجموعي ډول تر 16.65 میلیارد ډالرو زیاتیږي. لدې پیسو څخه، نږدې 14.59 میلیارده امریکایي ډالرو ژمنه شوې، چې لدې څخه 10.93 میلیارده امریکایي ډالر تادیه شوي.[66] د شکل 3.16 د هر مالي کال لپاره د ESF تخصیص ښیي.

USAID راپور ورکړی چې د 2013 تر جون پورې ډیریدونکي ژمنې، د 2013 د مارچ تر 31 پورې پر ډیریدونکو ژمنو باندې نږدې 1.69 میلیونو امریکایي ډالر زیات شوي. د 2013 د مارچ تر 31 پورې، د ډیریدونکي تادیاتو، د 2012 د دسمبر تر 31 پورې پر ډیریدونکو تادیاتو له نږدې 313.37 میلیونو امریکایي ډالرو څخه ډېر زیات شوي.[67] د شکل 3.17 د ESF د پروګرامونو د تخصیص شوې، ژمنو شویو او تادیه شوی د ډیریدونکو پرتله کولو اندازه ښیي.

3.16 شکل

**د مالي کال په اساس د ESF تخصیصونه**

(میلیارد ډالر)




3.17 شکل

**د ESF بودیجې، مجموعي پرتله**

(میلیارد ډالر)




یادونې: شمیرې جمع شوي دي. د 2013 مالي کال شمیره د افغانستان لپاره د پلان شوي تخصیص استازیتوب کوي او د امریکا کانګرس یې باید تایید کړي. د 2011 مالي کال شمیرې کې هغه 101 میلیونه امریکایي ډالر شامل دي چې د افغانستان د بیا رغونې له وجهي صندوق څخه ESF ته لیږول شوي.

سرچینې: د سیګار د 7/17/2013 او 4/18/2013 معلوماتي غوښتنو ته د USAID ځواب؛ د سیګار 6/27/2013 معلوماتي غوښتنې ته د OMB ځواب.




### د ESF د فنډ اصطلاحات

USAID د ESF د فنډونو په اړه له لکه څنګه چې تخصیص شوي، ژمنه شوې، یا تادیه شوي راپور ورکړی.

**تخصیصونه:** د ژمنو لپاره ټولې شته پیسې

**ژمنې:** د پیسو د تادیه کولو ژمنې

**تادیات:** هغه پیسې چې لګېدلې دي

سرچینه: د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته د USAID ځواب، 4/15/2010.

## د مخدره توکو نړیوال کنټرول او د قانون پلي کول

د امریکا د نړیوال مخدره توکو او د قانون پلي کولو چارو بیورو (INL) د قانون د حاکمیت د پراختیا ورکولو او د مخدره توکو له تولید سره د مبارزې او قاچاق یو حساب اداره کوي، چې د نړیوال مخدره توکو کنترول او د قانون پلي کولو (INCLE) د حساب په نوم دی. INCLE د INL د څو پروګرامونو، پشمول د پولیسو، مخدره توکو سره مبارزې، او د قانون حاکمیت او عدالت ملاتړ کوي.[68]

دولت راپور ورکړی چې 2013 کال د یو کولو او د لا نورو جاري اختصاصاتو قانون، د INCLE لپاره د 568.81 میلیون ډالرو مرستو اعلان کړی چې پدې سره د ترسره شوو مرستو مجموعي اندازه 4.15 میلیارد ډالرو ته رسیږي. لدې پیسو څخه، نږدې 3.47 میلیارده امریکایي ډالرو ژمنه شوي، چې لدې څخه 2.69 میلیارده امریکایي ډالر تادیه شوي.[69] دا شکل 3.18 د هر مالي کال لپاره د INCLE تخصیص ښيي.

د امریکا د بهرنیو چارو وزارت راپور ورکړی چې د 2013 د جون تر 30 پورې، ډیریدونکي ژمنې د 2013 د مارچ تر 31 پر ډیریدونکو ژمنو باندې نږدې 15.11 میلیونه ډالر زیات شوي. د 2013 د مارچ تر 31، ډیریدونکي تادیات، د 2012 د دسمبر د 31 پر ډیریدونکو تادیاتو نږدې 68.37 میلیونه امریکایي ډالر زیات شوي.[70] دا شکل 3.19 د INCLE لپاره د تخصیص شویو، ژمنه شویو، او تادیه شویو ډیریدونکو پرتله کول ښيي.




### د INL د فنډونو اصطلاحات

INL د INCLE او نورو د INL د فنډونو په اړه لکه څنګه چې تخصیص شوي، ژمنه شوي، یا تادیه شوي راپور ورکړی.

**تخصیصونه:** د ژمنو لپاره ټولې شته پیسې

**ژمنې:** د پیسو د تادیه کولو ژمنې

**تادیات:** هغه پیسې چې لګېدلې دي

سرچینه: د سیګار د معلوماتو غوښتنې په اړه، د امریکا د بهرنیو چارو وزارت خواب، 4/9/2010.

شکل 3.18

**د مالي کال په اساس د INCLE تخصیصات**

(میلیون ډالر)




شکل 3.19

**د INCLE بودیجې، مجموعي پرتله**

(میلیارد ډالر)




یادونې: شمیرې په تقریبي ډول لیکل شوي. په معلوماتو کې ښایي بین الاداري لیږدونې شاملې وي. د نویو معلوماتو پایلې د مکلفیت ټیټه شمیره ښودلې له هغه څه چې تر راپور 3/31/2013 ورکړ شوی.

[a] دا شمیره د افغانستان لپاره د تخصیص مسوده ښيي او په هرکال کې باید د کانګرس له لورې تایید شي.

د سیګار د معلوماتو غوښتنې په اړه، د امریکا د بهرنیو چارو وزارت ځواب، 7/15/2013، 6/27/2013 او 4/15/2013.

## د افغانستان لپاره د بيا رغونې نړيواله مرسته

د امريکا د متحده ايالاتو د مرستو برسيره، نړيواله ټولنه د افغانستان د بيارغونې او هوساينې په برخه کې په پراخه کچه د پام وړ مرستې ترسره کړي دي. لکه څرنګه چه د افغانستان د بيارغونې لپاره د ځانګړي عمومي پلټونکي په تيرو راپورونه کې هم راغلي وو، د افغانستان سره د ترسره کيدونکي ډيرى نړيوالې مرستې د باوري فنډونو له لارې سمبال او اداره کيږي. د باوري پانګو له لياري چمتو شوي اعانې يوځاى شوي او وروسته د بيارغونې کړنو باندې لګول شوي. دوه اصلي وجهې صندوقونه د افغانستان د بيا رغونې وجهې صندوق (ARTF) او د افغانستان لپاره د قانون او نظم وجهې صندوق (LOTFA) دي.[71]

## د افغانستان د بيا رغونې وجهې صندوق

د افغانستان عملياتي او پرمختګ بوديجو ته د نړيوالو مرستو خورا لوى سهم د ARTF له لياري راځي. له 2002 څخه د 2013 تر جون 21 پورې، نړيوال بانک راپور ورکړى چې 33 مرسته کوونکو هيوادونو له 6.96 ميلياردو امريکايي ډالرو څخه ډيره ژمنه کړې، لدغو څخه نږدې 6.30 ميلیارده امريکايي ډالر وجهې صندوق ته اچول شوي دي.[72] د نړيوال بانک په وينا، مرسته کوونکو هيوادونو د افغانستان د 1392 مالي کال لپاره نږدې 846.88 ميليونه امريکايي ډالرو ژمنه کړې ده، چې د 2012 د دسمبر له 21 څخه د 2013 د دسمبر تر 20 مودې لپاره دي.[73] شکل 3.20 ARTF ته 10 خورا لوى ډونران د 1392 مالي کال لپاره ښيې.

3.20 شکل

**د بسپنه ورکونکو په اساس د 1392 مالي کال لپاره د ARTF مرستې، د 2013 کال د جون تر 21 پورې** (ميليون ډالر)




يادونې: شميرې په تقريبي ډول ليکل شوي. 1392مالي کال = 12/21/2012–12/20/2013.

سرچينه: نړيوال بانک، "ARTF: د 2013 کال د جون تر 21 پورې، د مالي وضعيت په هکله د رييس رپوټ،" 1 مخ.

د 2013 د جون تر 21 پورې، امريکا له 2.04 مېلياردو ډالرو څخه ډېره ژمنه کړې وه او له 2002 څخه يې 2.04 مېلیارده امريکايي ډالر ورکړي.[74] امريکا او انګلستان د ARTF دوه لوی مرسته کوونکي هيوادونه دي، لکه څنګه چې پدې شکل3.21 کې ښودل شوي، هغوی يو ځای د ټول فنډ 46% ورکړي.

په ARTF کې برخه اخيستل په دوه چينلونو ويشل شوي، د روانو لګښتونو (RC) کړکۍ او پانګې اچونې کړکۍ دي.[75] د 2013 د جون تر 21، د نړيوال بانک په وينا، د روانو لګښتونو له لارې د ARTF 2.83 مېلیارده امريکايي ډالر د افغانستان حکومت ته تاديه شوې دي، ترڅو له روانو لګښتونو سره لکه د ملکي خدمتونو معاشونو سره مرسته وکړي.[76] د روانو لګښتونو کړکۍ د افغانستان د حکومت د عملياتو د لګښتونو ملاتړ کوي څکه چې د حکومت کورني عوايد اوس هم کم دي چې د روانو لګښتونو ملاتړ وکولای شي. ترڅو دا وکتل شي چې د روانو لګښتونو کړکۍ په پوره اندازه مرستې ترلاسه کوي، کيدای شي ARTF ته مرسته کوونکي هيوادونه له نيمې څخه ډېره برخه اخيستنه د پام وړ پروژو لپاره و نه "غواړي" (په نښه نکړي).[77]

د پانګونې کړکۍ د پرمختيايي پروګرامونو بيې ورکوي. د 2013 د جون تر 21 پورې، د نړيوال بانک په وينا، د پانګې اچونې د کړکۍ له لارې له 2.90 له مېلياردو امريکايي ډالرو څخه ډېرو ژمنه شوې ده، لدغه څخه 2.04 مېلیارده امريکايي ډالر تاديه شوې دي. نړيوال بانک د 22 روانو پروژو راپور ورکړی چې ټول ژمنه شوی ارزښت يې نږدې 1.84 مېلیارده امريکايي ډالر دي، لدغه څخه نږدې 980.40 مېليونه امريکايي ډالر تاديه شوې دي.[78]

3.21 شکل

**د ARTF هغه مرستې چې د بسپنه ورکونکو لخوا ورکړ شوي دي 1381 لمريزکال (2002) د 2013 کال د جون 21** (سلنه)




يادونې: شميرې په تقريبي ډول ليکل شوي. په "نورو" کې 28 بسپنه ورکونکي شامل دي.

سرچينه: نړيوال بانک، "ARTF: د 2013 کال د جون تر 20 پورې، د مالي وضعيت په هکله د اداره کونکي ريوټ،" مخ 5.

## د افغانستان لپاره د قانون او نظم خيريه بوديجه

د ملګرو ملتونو پراختيايي پروګرام (UNDP) LOTFA اداره کوي ترڅو د افغانستان د ملي پوليسو معاشونه ورکړي او د کورنيو چارو وزارت ظرفيت ډير کړي.[79] د وروستيو شته معلوماتو پر اساس، له 2002 څخه، مرسته کوونکو هيوادونو LOTFA ته له 3.35 مېلياردو امريکايي ډالرو څخه ډېره ژمنه کړې ده، چې لدغه څخه نږدې 2.92 مېلیارده امريکايي ډالر ورکړ شوي دي.[80] د LOTFA شپږمه دوره د 2011 د جنوری په 1 پيل شوې او د 2013 تر مارچ پورې يې دوام درلود. د 2013 د مارچ په 20، د UNDP-LOTFA د رهبرۍ کميټې د شپږمې دورې د غزولو پريکړه وکړه او پدې سره يې د 2013 د مارچ 31 د پای پلان شوې نيټه د 2013 د دسمبر تر 31 پورې وغزوله. د شپږمې دورې په 27 مياشتو کې، UNDP د افغانستان حکومت ته نږدې 1.13 مېلیارده امريکايي ډالر سپارلي ترڅو د ملي پوليسو او مرکزي بنديخانې د رياست د کارکوونکو معاشونه ورکړي او نور اضافي 25.61 مېليونه امريکايي ډالر يې د ظرفيت د لوړولو او د LOTFA د نورو نوښتونو لپاره ورکړي دي.[81] د 2013 د مارچ تر 31 پورې، مرسته کوونکو هيوادونو د LOTFA شپږمې دورې لپاره له 1.82 مېلياردو امريکايي ډالرو څخه زياته ژمنه کړې ده. لدغو پيسو څخه، امريکا له 859.37 مېليونو امريکايي ډالرو څخه ډيره ژمنه کړې ده، او جاپان له 614.76 مليون ډالرو څخه زياته ژمنه کړې ده. د هغوی ګډې ژمنې د LOTFA د شپږمې دورې نږدې 81% جوړوي.[82] د وجهي صندوق له پيل څخه امريکا له 1.12 مېلیارده امريکايي ډالرو څخه ډير LOTFA ته ورکړي دي.[83] د وروستيو شته معلوماتو په اساس، دا شکل 3.22 له 2002 څخه د LOTFA تر ټولو څلور ستر مرسته کوونکي هيوادونه ښيې.

3.22 شکل

**د 2002 کال راپديخوا د LOTFA سره د مرسته کوونکو سهميه، د 2013 کال د مارچ تر 31 پورې** (سلنه)




يادونې: شميرې په تقريبي ډول ليکل شوي. EC/EU = اروپايي کميسيون/اروپايي ټولنه په "نورو" کې 18 بسپنه ورکونکي شامل دي.

سرچينې: UNDP، "د LOTFA د VI ربع د پرمختګ راپور Q1/2013، ضميمه 1،" 6/26/2013؛ د UNDP د هر ربع او هر کال د LOTFA د راپورنو د سيګار تحليل، 7/23/2013.

# د امنیت منځپانګې


| | |
|---|---|
| مهمې پیښې | 91 |
| په افغانستان کې د امریکا ځواکونه | 95 |
| د افغانستان د ملي امنیتي ځواکونو ځواک | 95 |
| د افغانستان سیمه ایز پولیس | 96 |
| د افغانستان د عامه خوندیتوب ځواک | 96 |
| د افغانستان د ملي امنیتي ځواکونو ارزونې | 96 |
| د دفاع او کورنیو چارو وزارتونو ارزونې | 98 |
| د افغانستان ملي اردو | 99 |
| د افغانستان ملي پولیس | 105 |
| د افغانستان ملي امنیتي ځواکونو روغتیا/روغتیایي پاملرنه | 108 |
| د غیر منفجر شویو مهماتو لرې کول | 109 |
| د مخدره توکو په وړاندې مبارزه | 109 |

# امنیت

د 2013 کال د جون تر 30 پورې، د امریکا کانګرس د افغانستان ملي امنیتي ځواکونو (ANSF) د ملاتړ لپاره له 54 میلیاردو امریکایي ډالرو څخه ډېر تخصیص ورکړی دی. د دې مرستو ډېره برخه (52.8 میلیارده امریکایي ډالر) د افغانستان د ملي امنیتي ځواکونو د وجهي صندوق (ASFF) له لارې تخصیص شوي او د افغانستان د امنیت سپارلو ګډې قوماندانۍ (CSTC-A) ته ورکړ شوي. موخه یې دا ده ترڅو د افغانستان ملي امنیتي ځواکونه جوړ، روزنه، او دوام ورکړي، چې د افغانستان له ملي اردو (ANA) او د افغانستان له ملي پولیسو (ANP) څخه ترکیب شوي. له هغو 52.8 میلیاردو امریکایي ډالرو څخه چې ASFF ته تخصیص شوې، نږدې 45.3 میلیارده امریکایي ډالر مکلف شوي دي او د 2013 د مې تر 31 پورې 41.5 میلیارده امریکایي ډالر توزیع شوي.[84]

دا برخه د ANSF او د دفاع او کورنیو چارو د وزارتونو په ارزونې باندې خبرې کوي؛ او د امریکا له مرستو څخه د ANSF د جوړولو، تجهیز کولو، روزلو، او دوام لپاره د کار اخیستلو لنډیز وړاندې کوي؛ او په افغانستان کې د غیر قانوني مخدره توکو د کرهنې او تجارت په وړاندې د مبارزې د هڅو په اړه تازه معلومات وړاندې کوي. دا برخه د 2014 په پای کې د افغانستان په مشرۍ د امنیت سپارلو ننګونو باندې هم خبرې کوي.

## مهمې پېښې

د دې ربع په مهمو پېښو کې د ASFF د 2014 مالي کال د بودجې د غوښتنې په اړه د امریکا د دفاع وزارت (DOD) د مرستو وړاندیز شوی ډېروالی، د 2014 مالي کال د ملي دفاع د اجازې قانون (NDAA) دریځ، د دوه اړخیزې امنیتي موافقې په اړه د امریکا او افغانستان د دوو اړخیزو خبرو دریځ، د ANSF د قربانیانو د شمېر ډېروالی، او په افغانستان کې د ANSF په مشرۍ د سپارلو په لور پرمختګونه شامل دي.

### د ASFF د 2014 مالي کال د بودجې غوښتنه

پدې ربع کې، د امریکا دفاع وزارت د ASFF د 2014 مالي کال لپاره د بودجې غوښتنه خپره کړې. غوښتنه په دوو برخو ویشل شوې: د 5.11 میلیاردو امریکایي ډالرو لپاره اصلي غوښتنه او د 2.62 میلیاردو امریکایي ډالرو لپاره د "توانمندۍ" غوښتنه.[85] د امریکا د دفاع وزارت په وینا، هغه مرستې چې د توانمندۍ د غوښتنې په لست کې راغلې، مشروط دي. دا "به ترهغه وخته پورې د مکلفیت لپاره شتون ونلري ترڅو چې د امریکا دفاع وزارت، او د مدیریت او بودجې د دفتر په تایید، د کانګرس د دفاع کمیټو ته خبر ورکړي چې دا پیسې، یا یوه برخه یې د افغانستان د امنیتي ځواکونو د وړتیاوو د پراختیا لپاره ضروري دي."[86]

7.73 میلیارد امریکایي ډالر ده د ASFF د 2013 مالي کال د بودجې له غوښتنې څخه 1.98 میلیارده امریکایي ډالر زیاته ده او $2.60 میلیارده امریکایي ډالر د 2013 مالي کال د پای

د تخصيص شويو پيسو له اندازې څخه زياته ده. د 2014 مالي کال غوښتنه به د افغانستان د ملي اردو د تجهيزاتو لپاره مرسته 803% او د زيربنا لپاره تر 210% زياته کړي، دا به له هغې اندازې څخه زياته وي چې کانګرس په 2013 مالي کال کې دې برخو لپاره ورکړې، لکه څنګه چې پدې جدول 3.2 کې ښودل شوي. د امريکا دفاع وزارت د افغانستان د ملي اردو د تجهيزاتو لپاره د $ ميلياردو امريکايي ډالرو غوښتنه کوي (په 2013 مالي کال کې له 242 ميليونو امريکايي ډالرو څخه زياته) ترڅو تجهيزات او وسلې واخيستل شي. په ځانګړې توګه، د نويو تجهيزاتو په غوښتنه کې هغه شيان شامل دي چې موخه يې د افغانستان د ملي امنيتي ځواکونو د توانمندی ملاتړ، يا د محاربې د ملاتړ وړتياوې زياتول دي:[87]

- د سيار انداخت وسايط (886.9 ميليونه امريکايي ډالر)
- د هوايي ترانسپورت 4 متوسطې طيارې ترڅو د افغانستان د هوايي ځواکونو د G-222 طيارو ځای ونيسي (250 ميليونه امريکايي ډالر)
- عوضي هليکوپترونه (345 ميليونه امريکايي ډالر)
- 10 C-208 د روزنې د ثابت وزر طيارې (28.6 ميليونه امريکايي ډالر)
- 20 د سپک هوايي ملاتړ د ثابت وزر طيارې، له هوا څخه ځمکې ته د ماموريت لپاره (416.8 ميليونه امريکايي ډالر)
- 8 MD-530 هليکوپترونه، د ځانګړو عملياتو او د چټک غبرګون د ځواکونو لپاره (28 ميليونه امريکايي ډالر)
- د ناټو ستندرد 155mm توپونه (163.4 ميليونه امريکايي ډالر)

جدول 3.2

**د افغانستان د امنيتي ځواکونو وجهي صندوق**

| | د ځواکمن تخصيص قانون، 2013 (P.L. 113-6) | په 2014 مالي کې د بهرنيو بيړنيو عملياتو غوښتنه (OCO) | بدلون |
|---|---|---|---|
| دفاع وزارت/ملي اردو | | | |
| زيربنا | 90,000,000 | 278,650,000 | %210+ |
| تجهيزات او ترانسپورت | 241,521,000 | 2,180,382,000 | %803+ |
| روزنه او عملياتونه | 758,380,000 | 626,550,000 | %17– |
| دوام | 2,523,825,000 | 2,735,603,000 | %8+ |
| د کورنيو چارو وزارت/ملي پوليس | | | |
| زيربنا | 50,000,000 | 0 | %100– |
| تجهيزات او ترانسپورت | 84,859,000 | 54,696,000 | %36– |
| روزنه او عملياتونه | 569,868,000 | 626,119,000 | %10+ |
| دوام | 1,305,950,000 | 1,214,995,000 | %7– |
| اړوند فعاليتونه | | | |
| زيربنا | 1,200,000 | 0 | %100– |
| تجهيزات او ترانسپورت | 1,239,000 | 0 | %100– |
| روزنه او عملياتونه | 4,000,000 | 2,500,000 | %38– |
| دوام | 18,325,000 | 7,225,000 | %61– |
| کمښتونه | | | |
| عمومي کمښت | –525,000,000 | | NA |
| **ټول** | **5,124,167,000** | **7,726,720,000** | **%51+** |

يادښتونه: شميرې محاسبه شوې MOD = د دفاع وزارت MOI = د کورنيو چارو وزارت

سرچينه: د امريکا دفاع وزارت، "د 2014 مالي کال لپاره په بهر کې د بيړنيو عملياتو دليل، د افغانستان د امنيتي ځواکونو وجهي صندوق (ASFF)،" 5/2013، 2 پاڼه؛ د امريکا دفاع وزارت، "د 2014 مالي کال لپاره په بهر کې د بيړنيو عملياتو دليل، د افغانستان د امنيتي ځواکونو وجهي صندوق (ASFF)،" 2/2012، 44 پاڼه؛ د کانګرس اسناد، د امريکا ولسي جرګه، 3/6/2013، p. H1013؛ د کانګرس اسناد، د امريکا سنا، 3/11/2013، p. S1531؛ GPO، p. H.R. 933، 3/26/2013، H.R. 933–136.

که څه هم د امریکا دفاع وزارت د مرستو غوښتنه کړې، مګر CSTC-A ویلې چې د افغانستان هیڅ اداري د MD-530 هلیکوپترونه غوښتنه نده کړې. په دې برسیره د MD-530 د پیلوټانو یا ساتونکو لپاره د بستونو تایید شتون نه درلود.[88] د افغانستان د ملي اردو د زیر بنا لپاره د اضافي "توانمندي" (278.7 میلیونو امریکایي ډالرو) په غوښتنه کې د نویو طیارو لپاره د هنګرونو تاسیسات، د نویو توپونو مهماتو ساتلو ځایونه، او یو سیمه ایز روغتون شامل دي. د امریکا دفاع وزارت د افغانستان د هوایي ځواک د روزنې لپاره د 192.4 میلیونو امریکایي ډالرو غوښتنه هم کوي.[89]

د افغانستان د ملي اردو د جهیزاتو او زیربنا د غوښتنې په زیاتوالې برسیره، هغه اندازه پیسې چې د ASFF د 12 مرستو د برخو لپاره غوښتل شوې، له هغو پیسو څخه کمې دي چې د 2013 مالي کال لپاره تخصیص شوي، لکه څنګه چې پدې جدول 3.2 کې ښودل شوي.

## د 2014 مالي کال لپاره د ملي دفاع د صلاحیت قانون (NDAA)

د 2013 د جولای تر 8 پورې، د امریکا ولسي جرګې د 2014 مالي کال د NDAA د (H.R. 1960) خپله نسخه تایید کړې؛ او اوس د امریکا سنا پدې قانون باندې کار کوي.[90] د قانون اوسنی نسخه د ASFF له مرستو څخه 2.6 میلیارده امریکایي ډالر ساتي ترڅو چې د دفاع وزیر کانګرس ته دا تصدیق نکړي چې امریکا او افغانستان د امنیت دوه اړخیزه موافقه امضا کړې ده، چې دا تضمینوي:[91]

- په افغانستان کې د ماموریتونو د ترسره کولو هڅو لپاره د امریکا دفاع وزارت او د قراردادیانو خوندیتوب چې دواړو امریکا او افغانستانورباندې موافقه کړې ده
- په افغانستان کې د امریکا په ځواکونو باندې د امریکا ځانګړې صلاحیت
- د امریکا د اردو او کارکوونکو د خپلې شخصي دفاع له حقونو څخه نه سرغړونه
- د امریکا د اردو توان ترڅو د امریکا حکومت دفترونه او کارکوونکي لکه څنګه چې اړتیا وي خوندي کړي
- هغو پایګاو ته د امریکا د اردو لاس رسی لکه څنګه چې ورته اړتیا وي ترڅو خپل ماموریت ترسره کړي
- د امریکا د حرکاتو د اړتیا وړ آزادي ترڅو القاعدې او ملګرو ته يې ماته ورکړي

H.R. 1960 هغه ورته 2.6 میلیارده امریکایي ډالر ساتي ترڅو د امریکا دفاع وزیر کانګرس ته د ځینو معینو تجهیزاتو (هلیکوپترونو، د نږدې هوایي ملاتړ سیستمونه، د هوایي حرکاتو سیستمونه، زغره وال وسایطو) په اړه راپور وړاندې کړي ترڅو د ASFF د مرستې له لورې به واخیستل شي چې قانون ورته پدې توګه اجازه ورکړې:[92]

- د ټولو تجهیزاتو لستونه
- هغه نیته چې داسې تجهیزات به ورسول شي او په افغانستان کې به د کار اخیستنې وړ وي
- د داسې تجهیزاتو د عملیاتو لپاره پوره اړتیاوې
- د داسې تجهیزاتو د ساتنې پلان او تر 2020 کال پورې تخمیني لګښتونه
- هغه نیته چې ANSF به په پوره توګه دا توان ولري ترڅو د امریکا له ملاتړ څخه پرته له داسې تجهیزاتو څخه کار واخلي او ساتنه يې وکړي
- هغه توضیح چې تر کومې کچې د داسې تجهیزاتو اخیستل به د ANSF د ملاتړ لپاره د امریکا په اوږد مهاله لګښتونو اغیز وکړي



**سیت جونز** د رند له شرکت څخه د امریکا د هڅو په اړه ترڅو افغانستان په امن او با ثباته کړي پدې اړه د سیګار له کارکوونکو سره خپل نظر شریک کړ. سیګار په منظمه توګه د اړوندو موضوعاتو متخصیصینو ته بلنه ورکوي ترڅو د سیګار له کارکوونکو سره خبرې وکړي. (د سیګار عکس)

H.R. 1960 د امریکا د دفاع وزارت د 2013 مالي کال او راتلونکو مرستو څخه د روسو بوران ایکسپورت له شرکت څخه د تجهیزاتو په اخیستلو کې محدودیتونه هم شامل دي، روسي شرکت چې د اردو تجهیزات پلوري، ترڅو چې د امریکا دفاع وزیر دا تایید نه وي کړی چې روسو بوران ایکسپورت د دفاع د قرارداد پلټنې له اداري سره همکاري کوي، سوریې ته یې د دافع هوا راکټونه ندي ورکړي، او د بشرالاسد له رژیم سره یې نوي قراردادونه ندي امضا کړي. کیدای شي د امریکا دفاع وزیر لدې محدودیتونو تیر شي او اخیستل داسې تصدیق کړي چې دا د امریکا د ملي امنیت په ګټه دي.[93]

له 2005 څخه، د امریکا دفاع وزارت د افغانستان د ANSF لپاره په روسیه کې جوړ شوي Mi-17 هلیکوپترونه اخلي. په 2011 کې، اردو له روسو بوران ایکسپورت سره د 21 Mi-17 د اردو هلیکوپترونو د اخیستلو او دا اختیار چې 12 نور هلیکوپتر واخلي قرارداد کړی.[94]

H.R. 1960 دا اړتیا هم لري چې په ANSF کې د میرمنو د استخدامولو لپاره له 47.3 میلیونو امریکایي ډالرو څخه کم دې نه لګول کیږي.[95] د میرمنو استخدامول یوه ننګونه ده: اوس د ملي اردو 0.2% کارکوونکي او د ملي پولیسو 1% کارکوونکي میرمنې دي.[96]

## دوه اړخیزه امنیتي موافقه

د 2012 د دسمبر له 15 څخه، امریکا او افغانستان په یوه دوه اړخیزې امنیتي موافقې (BSA) خبرې کوي، ترڅو له 2014 څخه وروسته د امریکا د ځواکونو دریځ او ونډه څرګنده شي.[97] په افغانستان کې د امریکا او ناټو لوړ پوړی قوماندان، جنرال جوزیف دنفورد جي آر، د اپریل په 17 کانګرس ته وویل چې BSA ته اړتیا ده ترڅو مونږ دواړو افغانستان او د ایتلاف ملګرو ته خپله ژمنه وښیو او د طالبانو د هغه پیغام مخه ونیسو چې افغانستان به پریښودل شي.[98] د 2013 د جون په 19، ولسمشر کرزي د سولې پروسې بانديې له امریکا سره د مخالفت په اساس د BSA په اړه خبري وځنډولې.[99]

امریکا لا تر اوسه پدې باندې فکر کوي چې له 2014 وروسته په افغانستان کې څومره عسکر پاتې شي. په تیر ربع کې، د امریکا مرکزي قوماندانی (CENTCOM) قوماندان، جنرال جیمز متیس، له 2014 څخه وروسته د ایتلاف د 20000 ځواکونو او 13600 امریکایي ځواکونو سپارښتنه کړې وه. د ناټو دفاع وزیرانو پدې خبرې کړې وې چې 9500 امریکایی او 6000 ایتلاف ځواکونه پریږدي.[100] د 2013 د جولای تر 9 پورې، امریکا د صفر اختیار هم له منځه نه وو وړی، چې له 2014 څخه وروسته به د امریکا ټول ځواکونه له افغانستان څخه ووځي.[101]

## د امنیت چاپیریال او د ANSF قربانی

د جولای په 11 د امریکا سنا د بهرنیو اړیکو کمیټې په وړاندې په شاهدۍ ورکولو کې، د امریکا د دفاع وزارت چارواکي ویلي چې په هره میاشت کې د افغانستان د اردو او پولیسو نږدې 400 کارکوونکي په جنګ کې وژل کیږي.[102]

د ملګرو ملتونو د عمومي منشي په وینا، د 2013 د فبروری له 16می تر 15، د 2012 د ورته وخت په پرتله امنیتي پیښې له 10% څخه ډیرې شوي دي.[103]

## د سپارلو پرمختګ

پدې ربع کې، د جغرافیایي ساحو ټول پنځه پړاونه د افغانستان د ملي امنیتي ځواکونو مشری ته سپارل کیږي. د سپارلو د پیل پروسې لپاره د ولسمشر کرزي د جون 18 اعلامیه دا معنی لري چې اوس د افغانستان 100% نفوس په هغو ساحو کې ژوند کوي چې امنیت یې د افغانستان ملي امنیتي ځواکونو مشری ته سپارل شوی. دا اعلامیه د "2013 موخې" له غونډې سره هم برابره

ده، چې د نړیوالې امنیتي همکارۍ ځواک (ISAF) له مهاربې څخه د ANSF روزنې د مشورې د مرستې ماموریت په بدلون باندې پام هم په نښه کوي.

د امریکا د دفاع وزارت په وینا، د اړتیا په صورت کې به آیساف د 2014 تر پایه په مهاربوې عملیاتو کې برخې اخیستنې ته دوام ورکړي، او دا ژمنه به یې پاتې وي چې له ANSF سره د هوایي استقامت موندنې، روغتیایي ملاتړ، کشف، د سړک د غاړې بمونو په وړاندې مرسته، زیګنالونه، او لوژستیکي برخو کې مرسته وکړي. مګر، د افغانستان ملي امنیتي ځواکونه (ANSF) به د هرې ورځې د عملیاتو د ترسره کولو مسولیت ولري. د افغانستان د ځمکنیو ځواکونو قوماندانۍ، د افغانستان د دفاع وزارت (MOD) نوې عملیاتي قرارګاه به په هیواد کې د امنیت د مدیریت مسولیت ولري.[104]

د امریکا د دفاع وزارت په وینا، په سپارل شوو ساحو کې د مناسب امنیت د تضمین لپاره، آیساف به د امنیتي ځواک د مرستې لوا له لارې، ANSF ته د روزنې، مشورې، او مرستې ملاتړ برابرولو ته دوام ورکړي. د دې سپارلو د پروسې په وخت کې، لکه څنګه چې ANSF ښه وړتیاوې ښیې، د آیساف د ملاتړ کچه به هم ورسره برابره شي. پدې بدلون کې، د ایتلاف ځواکونه به خپل دریځ بیرته تنظیم کړي، او حالت به داسې جوړ کړي چې د 2014 په پای کې ANSF د امنیت او صلاحیت بشپړ مسولیت واخلي.[105]

## په افغانستان کې د امریکا ځواکونه

د CENTCOM په وینا، د 2013 د جون تر 30 پورې، 70100 امریکایي ځواکونو په افغانستان کې خدمت کاوو. لدغو څخه، نږدې 51000 آیساف ته او 1700 په افغانستان کې د ناټو د روزنې ماموریت (CSTC-A/(NTM-A ته ګمارل شوي وو. د امریکا پاتې ځواکونه، 7200 په افغانستان کې د امریکا ځواکونو ته او 10200 د "اردو نورو کارکوونکي" ته ګمارل شوي وو.[106] د 2013 د جولای تر 15 پورې، په افغانستان کې د امریکا د اردو بشپړ 2115 ځواکونه مړه شوي دي، لدغو څخه 83% په مهاربه کې وژل شوي، او 18957 د آزادۍ د عملیاتو په برخه کې چې د 2001 د اکتوبر په 7 پیل شوي ټپي شوي.[107]

## د ANSF ځواک

د CSTC-A د برابر شویو معلوماتو په اساس، پدې ربع کې، د افغانستان د ملي امنیتي ځواکونو ځواک 337111 وو (185287 په ملي اردو او هوایي ځواکونو کې، او 151824 په ملي پولیسو کې ګمارل شوي).[108] دا د پای له ځواک څخه 14990 کم دي، لکه څنګه چې پدې جدول 3.3 کې ښودل شوي.

### د سیګار پلټنه

په یوه روانه پلټنه کې، سیګار د ANSF د تایید شویو، ګمارل شویو، او روزل شویو کارکوونکو د شمیر د معلوماتو دقیقوالې او ګټې ارزونه کوي. په ورته پلټنه کې، سیګار دا آزموینه هم کوي چې د ANSF د عملیاتي اغیزمنتیا لپاره له کومو طریقو او وسیلو څخه کار اخیستل شوی، پشمول د دې چې تر کومې کچې لدغو طریقو او وسیلو څخه په دوامداره توګه کار اخیستل کیږي، دقیق دي او د تایید وړ دي.

جدول 3.3

**د ANSF ګمارل شوی ځواک، د 2013 د می 20**

| د ANSF برخه | اوسنی موخه | د 5/2013 پورې دریځ | د اوسنی ځواک او د پای په نښه شوي ځواک تر منځ توپیر |
|---|---|---|---|
| د افغانستان ملي اردو | د 2012 تر دسمبر پورې 187000 کارکوونکي | 178,826 | -8,174 |
| د افغانستان ملي پولیس | د 2013 تر فبرورۍ پورې 157000 کارکوونکي | 151,824 | -5,176 |
| د افغانستان هوایی ځواک | د 2014 تر دسمبر پورې 8,000 کارکوونکي | 6,461 | -1,539 |
| **د ANSF ټوله شمیره** | **352,000** | **337,111** | **-14,889** |

سرچینه: د امریکا دفاع وزارت، د افغانستان د امنیت او ثبات په لور د پرمختګ راپور، 12/2012، 56 پاڼه؛ د سیګار د معلوماتو غوښتنې په اړه د CSTC-A ځواب، 7/2/2013.

## د افغانستان سيمه ايز (محلي) پوليس

پدې ربع کې، د افغانستان د سيمه ايزو پوليسو (ALP) روزل شويو او تجهيز شويو شميره 23551 وه. د سيمه ايزو پوليسو اوسنی موخه داده ترڅو 30000 کارکوونکو ته ورسيږي. د ځانګړو عملياتو د ګډ وظيفوي ځواک په وينا، سيمه ايز پوليس په 115 ساحو کې دنده په مخ وړي. د 2013 د جون تر 30 پورې، امريکا د ALP د ملاتړ لپاره 151 ميليونه امريکايي ډالر مکلف کړي دي.[109] په ANSF کې د ALP شميره نه شميرل کيږي.

## د افغانستان د عامه خونديتوب ځواک (APPF)

د CSTC-A په وينا، د 2013 د جون تر 30 پورې، APPF ته د ګمارل شويو کارکوونکو شميره 18821 وه. لدغو څخه، 1,352 افسران وو، 1336 بريدملان، او 16133 محافظين وو. په ANSF کې د APPF شميره نه شميرل کيږي.[110]

## د ANSF ارزونې

د ملي اردو او ملي پوليسو ارزونې د امريکا او د ايتلاف د هڅو د اغيزمنتيا نښې دي ترڅو ANSF ته وده ورکړي، وروزي، تجهيز کړي، او دوام ورکړي. دا ارزونې د دواړو امريکاييانو او اړوندو افغان ادارو لپاره لکه څنګه چې سپارل دوام مومي او افغانستان د خپل امنيت مسؤليت اخلي، د دغو ځواکونو د دريځ په اړه نوي معلومات وړاندي کوي.

د ملي اردو او ملي پوليسو د قطعاتو د وړتيا د ارزونې لپاره، آيساف د قوماندان د قطعې د ارزونې له وسيلې (CUAT) څخه کار اخلي، چې د درجې پنځه پړاونه لري:[111]

- **له سلاکارانو سره خپلواک:** قطعه کولای شي خپل ماموريتونه پلان او ترسره کړي، د مادونانو قوماندې او کنترول وساتي، د چټک غبرګون ځواکونو او امبولانس غوښتنه وکړي، له کشف څخه کار واخلي، او د کشف په پراخ سيستم کې کار وکړي.
- **له سلاکارانو سره اغيزمن:** قطعه اغيزمن پلان کول ترسره کوي، عمليات او د عملياتو د دريځ پلان کوي، همغږي کوي، لارښوونه کوي او راپور ورکوي. مشران، کارکوونکي او قطعه په نظام نامې عمل کوي او د افغانستان حکومت ته وفاداره دي. د ايتلاف ځواکونه قطعې او کارکوونکو ته يووازې ځينې وختونه محدود لارښونه برابروي او کيدای شي لکه څنګه چې ورته اړتيا وي توانمندی برابری کړي. د ايتلاف ځواکونه يووازې ځينې وختونه ملاتړ ډېروي.
- **له ملګرو سره اغيزمن:** قطعه د پلان کولو لپاره دوامداري روزنې، د همغږی، لارښوونې، او د عملياتو او دريځ راپور ورکولو؛ له نورو قطعو سره اړيکي نيولو او همغږی کولو ته؛ او د چمتووالي اغيزمن راپورونو دوام ورکولو ته اړتيا لري. مشران، کارکوونکي، او د قطعې ډېره برخه په نظام نامې عمل کوي او د افغانستان حکومت ته وفادار دي. د ANSF توانمندی د قطعه لپاره ملاتړ برابروي؛ مګر، کيدای شي د ايتلاف ځواکونه توانمندي برابري کړي ترڅو ملاتړ سره مرسته وکړي.
- **له ملګرو سره وده کوي:** قطعه د پلان کولو، همغږی، لارښوونې، او د عملياتو او دريځ راپور ورکولو؛ له نورو قطعو سره همغږی او اړيکي نيولو؛ او د چمتووالي اغيزمن راپور دوام ورکولو لپاره ملګرتيا او مرستې ته اړتيا لري. مشران او ډېری کارکوونکي په نظام نامې عمل کوي او د افغانستان حکومت ته وفادار دي. ځينې توانمندی شتون لري او اغيزمن دي، او يو څه ملاتړ برابروي. د ايتلاف ځواکونه توانمندی او ټول ملاتړ برابروي.

### د سيګار پلټنه

په تير ربع کې، سيګار د دې اداري د 2012 د مارچ د شهادت او د 2012 د جون د راپور په تعقيب يوه بله پلټنه پيل کړي چې له PSC څخه APPF ته د USAID د امنيتي کارونو د سپارلو احتمالي اغيزو ارزونه وکړي.

**توانمندی:** تخصصي قطعې چې د مهاربوي قطعو ملاتړ کوي، لکه انجنيري، عامه چارې، نظامي کشف، هليکوپتر، نظامي پوليس، او استخبارات، څارنه، او د کشف شتمنی.

سرچينه: د امريکا دفاع وزارت، "مولن په افغانستان کې له يوې مخکنی پايګاه څخه ليدنه کوي،" 4/22/2012، لاس رسی 1/4/2012.

- **تاسیس شوي:** قطعه په تنظیم کولو پیل کوي مګر ډیر کم کولای شي، پلان وکړي، همغږی وکړي، لارښوونه، یا د عملیاتو او دریځ راپور ورکړي، که څه هم یوه ملګري قطعه شتون ولري او مرسته وکړي. قطعه ډیر کم کولای شي له نورو قطعو سره همغږی وکړي او اړیکي ونیسي. کیدای شي مشران او کارکونکي په نظام نامې عمل ونکړي او د افغانستان حکومت ته وفاداره نه وي. د قطعې ډیر توانمندی شتون نلري او ډیر کم اغیزمن دي. دا توانمندی د قطعه لپاره کم یا هیڅ ملاتړ نه برابروي. د ایتلاف ځواکونه ټول ملاتړ برابروي.

د راپور ورکولو پدې موده کې، د ملي اردو د ټولو قطعاتو شمیر له 302 څخه و 312 ته زیات شول. د آیساف د ګډې قوماندانی (IJC) په وینا، دا ډیروالی د هغو قطعاتو له کبله دی چې د مرکز په 111 فرقې، مهارېې سیارې لوا، او 201، 203، او 215 قل اردوګانو کې ځای په ځای شوي.[112] د ملي اردو لپاره د قطعاتو ټوله شمیره له 528 څخه 514 ته را ټیټه شوې.[113]

څکه چې د هرې قطعې د CUAT په هره دوره کې راپور نه ورکول کیږي، IJC له وروستیو ارزونو څخه کار اخلي (په وروستیو 18 میاشتو کې) ترڅو د "یوې دورې له بلي دورې سره پرتله کول وشي."[114] کله چې داسې پرتله کول وشي، د ملي اردو 37 قطعې او

عکس 3.23

**د ربعې په اساس، د ANSF واحدونو ته د CUAT نمرې**




سرچینې: د سیګار 4/17/2013 او 7/9/2013 معلوماتي غوښتنې ته د DOD ځواب.

د ملي پولیسو 16 قطعې له "سلاکار سره خپلواک" په توګه درجه بندي شوي، لکه څنګه چې پدې عکس 3.23 کې ښودل شوي. د وروستیو ارزونو په وینا، له 81% څخه زیات د ملي اردو قطعې په دوو لوړو درجو کې درجه بندي شوي: 32% قطعې له "سلاکار سره خپلواک" او 50% له "سلاکار سره اغیزمن" وو. د ملي پولیسو لپاره، له 68% څخه زیاتې قطعې په دوو لوړو درجو کې درجه بندي شوي: 31% قطعې له "سلاکار سره خپلواک" او 38% له "سلاکار سره اغیزمن" وو.[115]

## د دفاع او کورنیو چارو وزاتونو ارزونې

پدې ربع کې د دفاع او کورنیو چارو وزارتونو ارزونو په دوامداره توګه پرمختګ ښودل. د دې وزارتونو د عملیاتي ځواک د درجه بندی لپاره، NTM-A د توانمندی موخې (CM) څخه کار اخلي. دا سیتسم د کارکوونکو د برخو ارزونه کوي (لکه هغه دفترونه چې د سکرتر یا معاون وزیر له لورې اداره کیږي) او د کارونو دوه اړخیزې ساحې (لکه د لوی درستیز دفترونه) له څلورو لوړو او دوو ثانوي درجه بندی څخه کار اخلي:[116]

- 1A-CM: د خپلواکو عملیاتونو وړ
- 1B-CM: یووازې د ایتلاف تر نظارت لاندې د دندو ترسره کولو وړ
- 2A-CM: د ایتلاف له کمې مرستې سره د دندو ترسره کولو وړ
- 2B-CM: کولای شي خپل ماموریت ترسره کړي مګر د ایتلاف مرستې ته اړتیا لري
- 3-CM: نشي کولای خپل ماموریت د ایتلاف له زیاتې مرستې پرته ترسره کړي
- 4-CM: شتون لري مګر نشي کولای خپل ماموریت ترسره کړي

پدې ربع کې، د دفاع په وزارت کې، د کارکوونکو ټولې 46 برخې او د دندو دوه اړخیزې ساحې ارزول شوي. لدغو څخه، نهو پرمختګ کړی او دوو شاتګ کړی. په ځانګړې توګه، د لوژستیک قوماندانی د دفاع وزارت لمړی دفتر وو چې د 1A-CM لوړه درجه یې اخیستې (د خپلواکو عملیاتونو وړ).

نورو هغو دفترونو چې پدې ربع کې لوړه درجه لاسته راوړې:[117]

- د لوی درستیز پالیسی او پلان کول (1B-CM)
- د دفاع وزارت لمړی معاون (1B-CM)
- د احتیاط په چارو کې د دفاع وزیر معاون (2B-CM)
- د افغانستان د هوایي ځواک قوماندانی (2B-CM)
- د روزنې په چارو کې د دفاع وزیر معاون (2B-CM)
- د لوی درستیز لوژستیک (2B-CM)
- د لوی درستیز معاون – هوایي (2B-CM)
- د کشف د پالیسی په چارو کې د دفاع وزیر معاون (3-CM)

د دفاع وزارت هغه دوه دفترونو چې شاتګ کړی د دفاع وزارت د حقوقو ریاست (3-CM ته ټیټ شو) او د دفاع وزارت د مالي ریاست (2B-CM ته ټیټ شوي).[118] د دفاع وزارت یو دفتر، د جندر د جذبولو دفتر ته د 4-CM درجه ورکړ شوې (د تیر ربع له 3 څخه ټیټ شوی)، پدې معنی چې دا دفتر نشي کولای خپل ماموریت ترسره کړي، لکه څنګه چې پدې عکس 3.24 کې ښودل شوي.[119]

### د سیګار ځانګړې پروژه

د سیګار په یوه روانه ځانګړې پروژه کې، سیګار د دفاع او کورنیو چارو وزارتونو د ارزونو بیا کتنه کوي ترڅو د دې وزارتونو وړتیا وګوري چې کولای شي د امریکا مستقیمې مرستې اداره کړي او حساب ورکړي. د لا نورو معلوماتو لپاره، د امریکا کانګرس ته د هر ربع د سیګار د 2013 د اپریل راپور وګوری.

عکس 3.24

**د MOD او MOI د وړتیا پړاوونو ته نمبر ورکونه، درې میاشتنی بدلون**




سرچینې: CSTC-A، د سیګار د 4/1/2013، 7/2/2013 او 7/15/2013 معلوماتو غوښتنو ته ځوابونه.

د کورنیو چارو په وزارت کې د کارکوونکو ټولې 32 برخې وارزول شوې؛ او له تیر ربع څخه، نهو پرمختګ او دوو، د استخدام قوماندانی او د عمومي مفتش دفتر شاتګ کړی. د کورنیو چارو وزارت هیڅ دفتر د 4-CM درجه نده وړې. هغه دفترونه چې پدې ربع کې یې درجه پورته شوې:[120]

- د ځواکونو مدیریت (1B-CM)
- حقوقي چارې (2A-CM)
- کشف (2A-CM)
- عامه خدمات (2A-CM)
- د افغانستان سرحدي پولیس (2A-CM)
- د جنایي مبارزې پولیس (2A-CM)
- معلومات، اړیکې، او ټیکنالوجي (2B-CM)
- د روزنې مدیریت (2B-CM)
- د سرک د غاړې مینونو سره مبارزه (2B-CM)

## د افغانستان ملي اردو (ANA)

د 2013 د می تر 31 پورې، امریکا د ASFF له مرستو څخه 29.9 ميلیارده امریکایي ډالر مکلف کړي، او 27.4$ توزیع کړي دي، ترڅو ملي اردو ته وده ورکړي، وروزي، او دوام ورکړي.[121]

## د ملي اردو ځواک

د CSTC-A په وینا، د 2013 د می تر 21 پورې، د ANA ټول ځواک 185287 کارکوونکي وو (178826 اردو، او 6461 هوایی ځواک). دا له تیر ربع څخه 3453 زیاتوالی دی، لکه څنګه چې پدې جدول 3.4 کې ښودل شوي. په ټوله شمیره کې 18033 تر روزنې لاندې، زده کوونکي، او ټول هغه چې د ګمارل کیدلو لپاره په تمه دي، پشمول د 4667 محصلینو شامل دي. د CSTC-A په وینا، په ملي اردو کې 7806 ملکیان هم شامل دي (په دواړو ملي اردو او هوایي ځواکونو کې) چې دا د پای ځواک ښيې. CSTC-A ویلې چې له ملي اردو سره یې کار کړی ترڅو ملکیان د اردو له کارکوونکو څخه بیل کړي.[122] په هغه راپور کې چې د سیګار له لورې وړاندې شوی د ملي اردو د پای په شمیره کې دا ملکیان شامل ندي، مګر په دندو نه ګمارل شوي او محصلین یې شمیرلي.

CSTC-A ویلې چې د ملي اردو او د هوایي ځواک 52650 په ساحه کې وو یا په فعاله توګه د مهاربې په عملیاتو کې بوخت وو. نور 69707 په دندو کې شتون درلود پدې معنی چې هغوی پخپلو/کې وو. د دواړه په دندو کې حاضر یا د ساحې په ځواکونو کې تر "قول اردو پورته مقام،" په دفاع وزارت کې، لوی درستیز، یا د انتقالي قوماندانی کارکوونکي پدې کې نه راځي.[123]

د ملي اردو د دقیق ځواک معلومول له ننګونې ډک یو کار دی. ډیری وختونه ملي اردو معلومات په لاسونو یا کاغذ باندې راټولوي. CSTC-A ویلي که څه هم د ملي اردو راپور

جدول 3.4

**د ملي اردو ځواک، د هر ربع بدلون**

| د ملي اردو برخه | تایید شوي Q1 2013 | تایید شوي Q2 2013 | تایید شوي د هر ربع بدلون | ګمارل شوي Q1 2013 | ګمارل شوي Q2 2013 | ګمارل شوي د هر ربع بدلون |
|---|---|---|---|---|---|---|
| 201 قول اردو | 17,821 | 17,638 | 183- | 17,427 | 18,116 | 689+ |
| 203 قول اردو | 20,022 | 20,002 | 20- | 19,095 | 20,288 | 1,193+ |
| 205 قول اردو | 18,476 | 18,287 | 189- | 18,982 | 19,351 | 369+ |
| 207 قول اردو | 14,313 | 14,097 | 216- | 12,803 | 14,279 | 1,476+ |
| 209 قول اردو | 14,458 | 14,236 | 222- | 13,065 | 13,371 | 306+ |
| 215 قول اردو | 16,933 | 16,733 | 200- | 17,307 | 17,447 | 140+ |
| د مرکز 111 فرقه | 9,273 | 9,174 | 99- | 8,654 | 8,619 | 35- |
| د ځانګړو عملیاتو ځواک | 12,261 | 12,238 | 23- | 10,366 | 10,970 | 604+ |
| له قول اردو څخه پورته مقام[a] | 37,592 | 38,773 | 1,181+ | 37,837 | 33,685 | 4,152- |
| TTHS[b] | - | - | | [c]19,905 | [d]22,700 | 2,795+ |
| **د ملي اردو ټوله شمیره** | **161,149** | **[e]161,218** | **69+** | **175,441** | **178,826** | **3,385+** |
| د افغانستان هوایي ځواک (AAF) | 7,639 | 7,097 | 542- | 6,393 | 6,461 | 68+ |
| **د ملي اردو + هوایي ځواک ټوله شمیره** | **168,788** | **168,315** | **473-** | **181,834** | **185,287** | **3,453+** |

یادښتونه: Q1 معلومات تر 2/18/2013. Q2 معلومات تر 5/21/2013.
a کې دفاع وزارت، لوی درستیز، او لنډ مهاله قوماندانی شامل دي
b روزنې لاندې، لنډ مهاله، ساتل شوي، او زده کوونکي؛ دا د کارکوونکو په تایید شوي حساب کې شامل ندي
c 3,802 محصلین شامل دي
d 4,667 محصلین شامل دي
e CSTC-A ټوله شمیره برابره کړې؛ د ملي اردو د ټولو برخو حقیقي شمیره 161178 وه

سرچینه: د سیګار د معلوماتو غوښتنې په اړه د CSTC-A ځواب، 4/1/2013، 4/16/2013، او 7/2/2013.

ورکړ شوي شميره د معاش له اسنادو او د کارکوونکو د دريځ له راپور سره پرتله کوي، خو "د ملي اردو د کارکوونکو د شميرې د تصديقولو لپاره هيڅ 100% د کار وړ طريقه شتون نلري،" په دې برسيره، CSTC-A د ملي اردو د نويو استخدام شويو راپور ورکول د ملي اردو د روزنې د مرکز د ځواک له راپورونو سره پرتله کوي. که څه هم داسې هڅې د غلطيو لپاره ځای پريږدي، CSTC-A راپور ورکړی چې توپيرونه تر ډيرې کچې کم دي او "د کم/زيات راپور ورکولو احتمال ته په پام سره چې تر ډيرې کچې اوس هم په کاغذ باندې دي، دا د منلو وړ دي". CSTC-A ويلي چې د افغانستان د بشرې قوه د معلوماتو له سيستم څخه کار اخيستل به تر ډيرې کچې د راپور ورکولو او د ملي اردو د ځواکونو د شمير د تصديق لپاره د اعتبار وړ اساس برابر کړي.[124] دغه اتومات سيستم اوس هم د ودې په حال کې دی، مګر، د پيل نيټه يې لا تراوسه معلومه نده.

## د ملي اردو دوام

د 2013 د مې تر 31 پورې، امريکا د ملي اردو د دوام لپاره د ASFF له مرستو څخه 9.8 ميليارده امريکايي ډالر مکلف کړي او 9.5 ميليارده امريکايي ډالر توزيع کړي دي.[125] د CSTC-A په وينا، د دوام د مرستو په برخه کې، امريکا د ملي اردو لپاره د نږدې 1.03 ميليارده امريکايي ډالرو په لګښت مهمات برابر کړي دي.[126]

## د ملي اردو معاشونه، خواړه، او مکافات

د 2013 د مې تر 31 پورې، د 2008 مالي کال څخه، امريکا د ASFF له لارې د ملي اردو د معاشونو، خواړو، او مکافاتو لپاره نږدې 1.8 ميليارده امريکايي ډالر برابر کړي دي. پدې کې د دې ربع 51 ميليونه امريکايي ډالر شامل دي. له 2009 مالي کال څخه، يوازې د ملي اردو د معاشونو لپاره (پدې کې خواړه او مکافات شامل ندي) د امريکا ونډه 1.2 ميلياره امريکايي ډالر وو. د هر کال د مرستو تخميني کچه چې د ملي اردو د 195000 کسانو د اساسي معاشونو، مکافاتو، او هڅوونکو لپاره ضروري دي، 686.1 ميليونه امريکايي ډالر دي.[127]

## د ملي اردو تجهيزات او ترانسپورت

پداسې حال کې چې د ملي اردو د تجهيز کولو لپاره د امريکا هڅې د ختميدو په حال کې دي، د اضافي تجهيزاتو لپاره نوي اړتياوې په نويو تدارکاتو کې راځي. دا نوي اړتياوې د هر ربع په ټول لګښت کې ځرګنديږي، او د امريکا د دفاع وزارت د 2014 مالي کال د ASFF په بودجه کې د نږدې 2 ميلياردو امريکايي ډالرو د نويو تجهيزاتو غوښتنه هم شته.[128]

د 2013 د مې تر 31 پورې، امريکا د ملي اردو د تجهيزاتو او ترانسپورت لپاره د ASFF 11.1 ميلياره امريکايي ډالر مکلف او توزيع کړي دي.[129] د دې مرستو ډيره برخه د وسلو د اخيستلو او اړوند تجهيزاتو، وسايطو، د مخابرې تجهيزات، او د طيارې او د استقامت موندنې اړوندو تجهيزاتو لپاره لګول شوې.[130] د امريکا نږدې 82% مرستې پدې برخه کې د وسايطو او د ترانسپورت د اړوندو تجهيزاتو لپاره وې، لکه څنګه چې د راتلونکې پاڼې پدې جدول 3.5 کې ښودل شوي. امريکا له 768 ميليونه امريکايي ډالرو څخه زيات نور تجهيزات لکه البسه او شخصي وسايل هم اخيستي دي.[131]

په تير ربع کې، CSTC-A ويلي وو چې امريکا د ملي اردو لپاره د 878 ميليونو امريکايي ډالرو وسلې اخيستي وې. مګر، پدې ربع کې، CSTC-A ويلي چې، ټول حقيقي لګښت 623 ميليونه امريکايي ډالرو وو ځکه چې 153 ميليونه امريکايي ډالر د ځينو تجهيزاتو په محاسبه کې اصلاح شوي چې نږدې 102$ ميليون امريکايي ډالرو تجهيزات وړيا ورکړ شوي

### د سيګار پلټنه

پدې ربع کې، سيګار يوه پلټنه خپره کړې ترڅو د امريکا حکومت د قرارداد د نظارت اغيزمنتيا ارزونه وکړي، چې د ملي اردو لپاره د سيار انداخت وسايط (MSFV) واخلي، ورڅخه کار واخلي، او ساتنه يې وکړي. دا پلټنه به دا هم وګوری چې تر کومې کچې ملي اردو هغه ورتيا لري چې د اوسنيو او پلان شويو MSFV څخه کار واخلي او ساتنه يې وکړي. د لا نورو معلوماتو لپاره په 2 برخه کې، 40 پاڼه وګورئ.

### د سيګار پلټنه

سيګار د ملي اردو د تخنيکي تجهيزاتو د ساتنې پروګرام د يوه قرارداد پلټنه بشيره کړې. دې پلټنې خلور کورنې نميګړتياوې او د نه اطاعت پنځه بيلګې موندلې، چې د 2.8$ ميليونو امريکايي ډالرو لګښت تر پوښتنې لاندې راوړي. د لا نورو معلوماتو لپاره په 2 برخه کې، 46 پاڼه وګورئ.

جدول 3.5

| د امریکا لخوا تمویل شوي د ملي اردو د تجهیزاتو لګښت | | |
|---|---|---|
| **د تجهیزاتو ډول** | **اخیستل شوي** | **باید واخیستل شي** |
| وسلې | $622,775,356 | $226,000 |
| وسایط | $5,558,632,248 | $0 |
| د مخابرې تجهیزات | $599,498,880 | $0 |
| **ټول** | **$6,780,906,484** | **$226,000** |

سرچینه: د سیګار د معلوماتو د غوښتنې په اړه د CSTC-A ځواب، 7/2/2012.

چې د امریکا له لورې یې مرسته نده شوې (مګر بیا هم د ملي اردو د تجهیزاتو په محاسبه کې راغلي).[132] د تجهیزاتو د لګښت نوې معلومات پدې جدول 3.5کې راغلي.

CSTC-A په تیر ربع کې هم دا ویلي چې هیڅ نوي وسایط یا د مخابرې تجهیزات ندي پاتې چې د ملي اردو لپاره واخیستل شي. مګر، پدې ربع کې، د وسایطو لپاره د CSTC-A د پای ټول لګښتونه زیات شوي دي (له 2 میلیونو امریکایي ډالرو څخه زیات) او د مخابرې تجهیزات (نږدې $19 میلیونه امریکایي ډالر).[133] د CSTC-A په وینا، دا د نویو اړتیاوو له کبله وو ترڅو د APPF د کاروانونو او د پولیسو د ځانګړې قطعې د عمومي ریاست د کاروانونو د امنیت ملاتړ وشي.[134]

د CSTC-A په وینا، پدې ربع کې د افغانستان هوایي ځواکونو په لست کې 108 طیارو شتون درلود:[135]

- 48 Mi-17 (ترانسپورتي هلیکوپترونه)
- 6 Mi-35 (مهاربوي هلیکوپترونه)
- 16 C-27 (د کارګو طیارې)
- 26 C-208 (د ترانسپورت سپکې طیارې)
- 6 C-182 (د ځلور کسانو د روزنې طیارې)
- 6 MD-530 (سپک هلیکوپترونه)

په راتلونکي کې چې باید واخیستل شي، 20 سپک ملاتړ هلیکوپترونه، 12 Mi-17 هلیکوپترونه، او ځلور د کارګو طیارې دي.[136] په تیره فبرورۍ کې د امریکا هوایي ځواکونو د امریکا یوه شرکت ته د 427 میلیونو امریکایي ډالرو یو قرارداد ورکړی ترڅو د ملاتړ سپکې طیارې ورسوي؛ قرارداد د 2019 تر فبروروی پورې په 950 میلیونو امریکایي ډالرو محدود دی.[137]

د افغانستان د هوایي ځواکونو له 48 Mi-17 څخه لس د ځانګړې ماموریت وزر (SMW) ته په پور ورکړ شوي.[138] SMW هغه قطعه ده چې د مخدره توکو په وړاندې د ماموریت ترسره کولو لپاره د افغانستان د ځانګړو ځواکونو لپاره هوایي ملاتړ برابروي.[139] پدې ربع کې، د SMW په لست کې 30 Mi-17 هلیکوپترونو شتون درلود. 13 د دفاع له وزارت څخه، 10 د افغانستان له هوایي ځواکونو څخه په پور، پنځه له انګلستان څخه او دوه له آلمان څخه وو.[140]

## د سیګار پلټنه

د سیګار یوه پلټنه چې پدې ربع کې خپره شوې دا موندلې چې د امریکا دفاع وزارت د SMW لپاره د 771.8$ میلیونو امریکایي ډالرو په ارزښت طیارې اخلې، سره لدې چې SMW د اړتیا وړ یو ځلورم کارکوونکي لري، د استخدام او روزنو له سختو ننګونو سره مخامخ دی، او هغه وړتیا نلري ترڅو اوسنۍ طیارې وساتي. د لا نورو معلوماتو لپاره په دویمه برخه کې 30 پاڼه وګورئ.

## د ملي اردو زیربنا

د 2013 د مې تر 31 پورې، امریکا د ملي اردو د زیر بنا لپاره د ASFF 6.2 میلیارده امریکایي ډالر مکلف کړي او 4.1$ میلیارده امریکایي ډالر توزیع کړي دي.[141] د CSTC-A په وینا، په هغه وخت کې، امریکا د زیربنا 227 پروژې بشپړې کړې وې (چې ارزښت یې 2.65 میلیارده

امریکايي ډالر وو)، 124 نورې پروژې تر کار لاندې دي (2.93 میلیارده امریکايي ډالر) او اته پلان شوي (180 میلیونه امریکايي ډالر). له روانو پروژو څخه، پنځه نوي قراردادونه (چې ارزښت يې له 58 میلیونو امریکايي ډالرو څخه زيات دی) پدې ربع کې ورانديز شوي.[142]

پداسې حال کې چې د بشپړ شويو پروژو شمیره زیاتیږي (227 پدې ربع کې د تیر ربع په پرتله 213)، د روانو او پلان شويو پروژو ټوله شمیره کمیږي. د CSTC-A په وینا، ټولیز کموالی د پروژو د بشپړیدو او د پلان شويو پروژو د کموالي له کبله ده، ځکه چې د ایتلاف د پایګاوو سپارل د ANSF د تاسیساتو اړتیاوې کموي.[143]

پدې ربع کې، د ملي اردو د زیربنا لويې پروژې په کنړ کې د 201 قول اردو د لوا ګارنيزيون (د 115.8 میلیون امریکايي ډالرو په لګښت)، په کابل کې د دفاع وزارت د مرکزي قرارګاه لمړی برخه (108 میلیونه امریکايي ډالر)، او په کندهار کې د 205 قول اردو د لوا ګارنيزيون (89.1 میلیونه امریکايي ډالر).[144]

د امریکا دفاع وزارت د ASFF د 2014 مالي کال د بودجې غوښتنه د ملي اردو د زیر بنا لپاره د نږدې 279 میلیونو امریکايي ډالر د 2013 مالي کال لپاره تخصیص شويو پیسو څخه 210% (90 میلیونه امریکايي ډالر) زیاته وه. د ASFF د 2013 مالي کال مرسته د ساختماني پروژو لپاره نه وه، مګرد ګارنيزيونونو او د ځواکونو د خوندیتوب سیستم د پراختیا او عصري کولو لپاره وه، او لکه څنګه چې د امریکا ځواکونه کمیږي د ایتلاف تاسیسات ته د سپارلو لپاره تیار کړي. د ASFF د 2014 مالي کال بودجې غوښتنه تر ډیرې کچې د ملي اردو د پلان شويو تجهیزاتو د تاسیساتو د جوړولو لپاره، پشمول د توپونو لپاره د سلاکوټونو او د افغانستان د هوايي ځواک د نويو طیارو لپاره ده.[145]

## د ANA او دفاع وزارت روزنه او عملیاتونه

د CSTC-A په وینا، د 2013 د مې تر 31 پورې، امریکا د ملي اردو او دفاع وزارت روزنې او عملیاتو لپاره د ASFF 2.8 میلیارده امریکايي ډالر مکلف کړي او 2.7 میلیارده امریکايي ډالر توزیع کړي دي.[146] پدې ربع کې، د ملي اردو 58828 کارکوونکي په يوه ډول روزنه کې ثبت وو، او 42500 د سواد په زده کړه کې ثبت شوي وو. په دې برسیره، 7770 ثبت شوي کارکوونکي د اساسي مهارتې په کورسونو کې ثبت شوي وو، 2781 روزنه کوله ترڅو بریدمنان شي، او 1371 روزنه کوله ترڅو بریدملان شي. د روزنې په نورو پروګرامونو کې د مهارتې د مهارتونو کورسونه لکه د پیاده مسلک روزنه؛ د مهارتې د ملاتړ کورسونه لکه انجنیري، زیګنالونه، او لوژستیک؛ او هغه کورسونه شامل وو ترڅو د خو موخو لپاره د ډیرو سپارو "هوموي" په نوم وسایطو څخه کار واخیستل شي.[147]

د CSTC-A په وینا، امریکا د دفاع وزارت او ملي اردو د روزنې لپاره بیلابیل قراردادونه تمویلوي. د دې ټولو لوی قرارداد دفاع وزارت د مشورې، روزنې، او ملاتړ لپاره د 256 میلیونو امریکايي ډالرو قرارداد دی؛ د ځانګړو عملیاتو د قوماندانی لپاره د 76.3 میلیونو امریکايي ډالرو يو قرارداد ترڅو د ملي اردو ځینې برخې وروزي؛ او د 65.4 میلیونو امریکايي ډالرو قرارداد ترڅو د ملي اردو تخصصي کارکوونکي د سړک د غاړې د مینونو (IED) او نورو مهماتو په خنثی کولو کې وروزي.[148]

## د ملي اردو سواد زده کړه

په 2009 کې د سواد زده کړې له پیل څخه، د NTM-A/CSTC-A د سواد زده کړې پروګرام په ملي اردو کې د سواد زده کړې د لوړې کچې په لټه کې وو. دا پروګرام د 312 ساعتونو د نصاب په بنسټ دی. د CSTC-A په وینا، د دې لپاره چې د سواد له زده کړې عملي سواد

### د سیګار پلټنه

د سیګار په يوه روانه پلټنه کې، سیګار به د ANSF د زیربنا پروژې د اړتیاوو لپاره د CSTC-A دلیل او ملاتړ آزموینه وکړي. دا پلټنه به دا ارزونې هم ترسره کړي: (1) تر هغې کچې چې امریکا او ایتلاف د ANSF پلان کول د ANSF د ځواکونو د ځواک د طرحې په اساس جوړوي؛ (2) آیا CSTC-A په پوره توګه د نوي ساختمان په ځای بدیل په پام کې نیولی؛ (3) آیا CSTC-A له مناسبو معیارونو څخه کار اخیستی ترڅو دا و ګوري چې د ANSF لپاره اوسنې او وراندیز شوي ساختماني پروژې ضروري دي، د ترسره کولو وړ دي او د افغانستان د حکومت له لوري یې ساتنه کیدلای شي.

ته پرمختګ وشي، يو زده کوونکی کولای شي په اوو آزموينو کې برخه واخلي. د زده کوونکي فعاليت دا څرګندوي چې هغه به د روزنې بلې درجې ته پرمختګ وکړي.[149]

1 درجه سواد زده کړه د انفرادي کلمو د لوستلو او ليکلو، تر 1000 پورې د شميرلو، او د نمرو د جمع کولو او منفي کولو توان دی. 2 درجه، يو انفرادي کس کولای شي جملې ولولي او وليکي، ساده ضرب او تقيسم اجرا کړي، او د اندازه کولو واحدونه وپيژني. په 3 درجه کې، يو انفرادي کس عملي سواد زده کړه لاسته روارړي او کولای شي چاپ شوي او ليکلي مواد "وپيژني، پوه شي، ترجمه کړي، جوړ کړي، اړيکه ونيسي، وشميري او ورڅخه کار واخلي." [150]

د 2013 د جون تر 13 پورې، دا لاندې هغه پروګرامونه دي چې د ملي اردو کارکوونکو بشپړ کړي دي:[151]

- 128370 د 1 درجې فارغين
- 37404 د 2 درجې فارغين
- 31977 د 3 درجې فارغين

د CSTC-A په وينا، د پروګرام تر ختم پورې موخه دا ده چې د 1 درجې 100% او د 3 درجې 50% (يا عملي) سواد زده کړه ترلاسه شي.[152] مګر CSTC-A ويلي چې دا پدې نه پوهيږي چې څومره د سواد زده کړې له پروګرام څخه فارغ شوي اوس هم په ملي اردو کې شته.[153]

له 2010 څخه، امريکا د ANSF لپاره د سواد زده کړې درې قراردادونه تمويل کړي دي. هر قرارداد د يوه کال لپاره دی او د پنځو کلونو حدود لري، د هر کال په اګست کې د يوه کال له اختيار څخه کار اخيستل کيدای شي، او د پای لګښت يې 200 ميليونه امريکايي ډالر دی. د CSTC-A په وينا، دې قراردادیانو د ملي اردو لپاره د سواد زده کړې 684 روزونکي برابر کړي:[154]

- د امريکا د OT ټريننګ سلوشن په نوم يو شرکت 254 روزونکي برابروي.
- د انسايټ ګروپ په نوم يو افغاني شرکت، 180 روزونکي برابروي.
- د کاروان د لوړو زده کړو انسټيټيوټ، يو افغاني شرکت، 250 روزونکي برابروي.

CSTC-A ويلي چې د ملي اردو د کارکوونکو لپاره د سواد د زده کړې روزنه به د 2013 د اکتوبر د 1 او د 2014 د اکتوبر د 1 ترمنځ ملي اردو ته وسپارل شي.[155]

که څه هم د 2011 په مې کې د ناټو د روزنې ماموريت د قوماندان يوه معاون او CSTC-A ويلي وو چې، "مونږ پدې پوهيږو چې د 2012 تر جنورۍ پورې به مونږ د افغانستان په ملي امنيتي ځواکونو کې د سواد کچه تر 50 سلنې ښه کړو،" د سواد د زده کړې د اوسنۍ کچې په اړه راپور ندی ورکړ شوی.[156]



**د ملي اردو يو افسر** د خپلې وسلې د انداخت ساحه عياروي. اوس ميرمنې د ملي اردو 0.2% جوړوي. (د سيګار عکس)

## په ملي اردو کې ميرمنې

په ملي اردو کې د ميرمنو شميره زياتيږي، مګر هغه موخه چې د ملي اردو او د افغانستان د هوايي ځواکونو 10% ميرمنې جوړې کړي اوس هم لرې ده. د جولای 11 د امريکا د سنا په اوريدنه کې، د امريکا د دفاع وزارت يوه چارواکي په ملي اردو کې د 400 ميرمنو احصاييه "فوق العاده" او له "صفر څخه ډير مهم [زياتوالی]" ګڼلی.[157] د دې ربع په زياتوالي برسيره، ميرمنې يووازې د ځواکونو 0.2% جوړوي.[158] دا لکه د دريو کلونو وړاندې ورته شميره ده، کله چې 301 ميرمنو خدمت کاوو.[159]

د CSTC-A په وينا، له عنعنوي او کلتوري تبعيضونو چې له بنسټيزو خنډونو څخه راپورته کيږي ملي اردو ته د ميرمنو د راتلو د پرمختګ مخه يې نيولې ده. په دې برسيره،

ډیری کورنی نه غواړي چې هغوی د امنیت د اندیښتو له کبله خپلې لوڼې ملي اردو ته ولیږي. خو، ډیری میرمنې له اردو سره د یوځای کیدلو لیوالتیا ښیې. مګر د دفاع وزارت "ونشو کولای له دې لیوالتیا ځخه ګټه پورته کړي او د میرمنو لپاره یې ضروري اساسي روزنه نده تنظیم کړې."[160] د امریکا او ایتلاف کارکوونکي د دفاع وزارت او ملي اردو سره له نږدې کار کوي ترڅو د جنسیت مسلې ستونزو حلولو باندې کار وکړي.[161]

د CSTC-A په وینا، پدې ربع کې، په ملي اردو کې 426 میرمنو خدمت کاوو، 255 افسران، 89 بریدملان، 53 ثبت شوي کارکوونکي، او 29 محصلین وو. دا تر ‌هغو میرمنو چې په تیر ربع کې یې خدمات کاوو 14% زیاتوالی دی. د افغانستان په هوایي ځواکونو کې، 34 میرمنې خدمت کوي، 22 افسران او 12 بریدملان دي.[162]

## د افغانستان ملي پولیس

د 2013 د مې تر 31 پورې، امریکا د ملي پولیسو د جوړولو، روزلو، او دوام لپاره د ASFF 15 ملیارده امریکایي ډالر مکلف کړي او 13.7 ملیارده امریکایي ډالر توزیع کړي دي.[163]

> ### د سیګار پلټنه
> په یوه روانه پلټنه کې به سیګار د پطرولي موادو، تیلو او روغنیاتو لپاره د ملي پولیسو د لوژستیک ورتیا ارزونه وکړي. پلټنه په دوو اصلي مسلو کار کوي: د تیلو دقیقې اړتیاوې، او د تیلو اخیستلو حساب ورکول.

### د ملي پولیسو ځواک

د CSTC-A په وینا، د 2013 د مې تر 31 پورې، د ملي پولیسو ټولیز ځواک 151824 کارکوونکي وو، پشمول د 108128 د افغانستان یونیفورم پولیس (AUP)، 21422 د افغانستان سرحدي پولیس (ABP)، 14515 د افغانستان د ملي عامه نظم پولیس (ANCOP)، 3059 د مخدره توکو په وړاندې د مبارزې پولیس (CNPA)، او 3779 زده کوونکي په روزنه کې وو.[164] دا له تیر ربع څخه 905 ټول زیاتوالی ښیې، لکه څنګه چې پدې جدول 3.6 کې ښودل شوي.

جدول 3.6

**د افغانستان د ملي پولیسو ځواک، د هر ربع بدلون**

| د ملي پولیسو برخه | تایید شوي Q1 2013 | تایید شوي Q2 2013 | تایید شوي د هر ربع بدلون | ګمارل شوي Q1 2013 | ګمارل شوي Q2 2013 | ګمارل شوي د هر ربع بدلون |
|---|---|---|---|---|---|---|
| د یونیفورم پولیس | 108,122 | 108,122 | هیڅ | 103,851 | 108,128 | 4,277+ |
| د افغانستان سرحدي پولیس | 23,090 | 23,090 | هیڅ | 22,029 | 21,422 | 607- |
| د افغانستان د عامه نظم پولیس | 14,541 | 14,541 | هیڅ | 14,592 | 14,515 | 77- |
| NISTA[a] | 9,000 | 9,000 | هیڅ | 7,388 | 3,779 | 3,609- |
| نور | - | - | | - | | |
| **د ملي پولیسو ټوله شمیره** | **154,753** | **154,753** | **None** | **147,860** | **147,844** | **16-** |
| د مخدره توکو په وړاندې د مبارزې پولیس | 2,247 | 2,247 | هیڅ | 3,059 | 3,059 | هیڅ |
| **د ملي پولیسو + د مخدره توکو په وړاندې مبارزې پولیسو ټوله شمیره** | **157,000** | **157,000** | **هیڅ** | **150,919** | **[b]151,824** | **905+** |

یادښتونه: Q1 معلومات تر دې نیټې دي 2/18/2013. Q2 معلومات تر دې نیټې دي 5/20/2013؛ NR = راپور ندی ورکړ شوی

a په روزنه کې کارکوونکي

b CSTC-A ټوله شمیره برابره کړې؛ د ملي پولیسو د ټولو برخو او د کارکوونکو شمیره د NISTA په حساب کې 150903 وه

سرچینه: د سیګار د معلوماتو غوښتنې په اړه د CSTC-A ځواب، 4/1/2013 او 7/2/2013.

## د ملي پوليسو دوام

د 2013 د مى تر 31 پورې، امريکا د ملي پوليسو د دوام لپاره د ASFF له مرستو څخه 4.9 ميلیارده امريکايي ډالر مکلف او 4.8 ميلیارده ډالر توزيع کړي دي.[165]

د CSTC-A په وينا، د دوام د مرستو له برخې څخه، امريکا د ملي اردو لپاره د نږدې 246 ميليونو امريکايي ډالرو په لګښت مهمات برابر کړي دي.[166]

## د ملي پوليسو معاشونه

CSTC-A راپور ورکړی چې له 2008 څخه د 2013 د جون تر 30 پورې، د امريکا حکومت د ASFF له لارې د ملي پوليسو د معاشونو او مکافاتو (د هغو کارکوونکو لپاره چې په مهاربه کې بوخت دي يا په ځانګړې ساحه کې په دنده ګمارل شوي)، او خواړو د تادياتو لپاره 818 ميليونه امريکايي ډالر برابر کړي دي. مګر، پدې شميره کې له ASFF څخه پرته مرستې شامل ندي. د 2013 د مى تر 30 پورې، امريکا د ملي پوليسو د ملاتړ لپاره د ملګرو ملتونو له لورې اداره شوی د افغانستان د قانون او نظم وجهي صندوق (LOTFA) 1.01 ميلیارده امريکايي ډالر برابر کړي دي. امريکا د معاشونو او مکافاتو لپاره 73 ميليونه امريکايي ډالر له LOTFA څخه پرته هم برابر کړي دي.[167]

د CSTC-A په وينا، کله چې ملي پوليس د خپل پای 157000 کارکوونکو ځواک ته ورسيږي، په هر کال کې به نږدې 628.1 ميليونو امريکايي ډالرو ته اړتيا ولري ترڅو خپل معاشونه (265.7 ميليون امريکايي ډالر)، مکافات (224.2 ميليونه امريکايي ډالر)، او خواړه (138.2 ميليونه امريکايی ډالر) تمويل کړي.[168]

## د ملي پوليسو تجهيزات او ترانسپورت

د 2013 د مى تر 31 پورې، امريکا د ملي پوليسو د تجهيزاتو او ترانسپورت لپاره د ASFF 3.5 ميلیارده امريکايي ډالر مکلف او توزيع کړي دي.[169] د دې مرستو ډيره برخه د وسلو د اخيستلو او اړوندو تجهيزاتو، وسايطو، او د مخابرې تجهيزاتو لپاره لګول شوي.[170] پدې برخه کې د امريکا له 82% مرستو څخه زيات د وسايطو او د ترانسپورت اړوندو تجهيزاتو لپاره وې، لکه څنګه چې پدې جدول 3.7 کې ښودل شوي.

جدول 3.7

**د امريکا له لورې تمويل شوي د ملي پوليسو تجهيزات**

| د تجهيزاتو ډولونه | اخيستل شوي | بايد واخيستل شي |
| --- | --- | --- |
| وسايط | $368,722,984 | $273,538 |
| وسايط | $2,646,263,422 | $5,519,620 |
| د مخابرې تجهيزات | $201,958,600 | $42,500 |
| **ټول** | **$3,216,995,006** | **$5,835,658** |

سرچينه: د سيګار د معلوماتو غوښتنې په اړه د CSTC-A ځواب، 7/2/2013.

## د ملي پوليسو زيربنا

د 2013 د مى تر 31 پورې، امريکا د ملي پوليسو د زيربنا لپاره د ASFF له مرستو څخه 3.5 ميلیارده امريکايي ډالر مکلف کړي او 2.4 ميلیارده امريکايي ډالر توزيع کړي دي.[171] د CSTC-A په وينا، د 2013 د جون تر 30 پورې، امريکا د زيربنا 538 پروژې بشپړې کړي دي (چې ارزښت يې 1.74 ميلیارده امريکايي ډالر وو)، 199 نورې پروژې تر کار لاندې دي (1.13 ميلیارده امريکايي ډالر) او 29 پلان شوي (245 ميليونه امريکايي ډالر).[172]

### د سيګار پلټنه

د سيګار په يوه روانه پلټنه کې، سيګار به د ANSF د ترميم د فالتو سامانونو د اخيستلو، اداره کولو، ساتلو، او توزيع کولو لپاره به د CSTC-A د پروسې ارزونه وکړي، او د کورنيو کنټرولونو ارزونه به وکړي ترڅو دا وګوري چې هغوی د دې سامانونو د حسابولو لپاره کافي دي ترڅو د تقلب، ضايعاتو او ناوړې ګټې اخيستنې مخه ونيسي.

پدې ربع کې، د ملي پولیسو د زیربنا لويې پروژې په هرات کې د پولیسو د روزنې سیمه ایز مرکز (چې ارزښت یې 62.2 میلیونه امریکایي ډالر وو)، د کورنیو چارو وزارت په قرارګاه کې اداري تاسیسات (59.5 میلیونه امریکایي ډالر)، او د جوزجان د ANCOP د روزنې مرکز وو (35.8 میلیونه امریکایي ډالر).[173] د CSTC-A په وینا، په کندهار کې د پولیسو د روزنې د سیمه ایز مرکز قرارداد (چې د 62.3 میلیونو امریکایي ډالر د رواني پروژې په توګه د سیګار په تیر راپور کې یې راپور ورکړ شوی وو) په تیر ربع کې فسخه شو. د فسخه کیدلو په وخت کې یې د 34 میلیونو امریکایي ډالرو په ارزښت کار بشپړ شوی وو. ټاکل شوې چې د اړتیا وړ پاتې کار لپاره یو بل اضافي قرارداد ورکړ شي ترڅو مرکز د عملیاتو لپاره تیار شي.[174]

## د ملي پولیسو روزنه او عملیاتونه

د CSTC-A په وینا، د 2013 د مې تر 31 پورې، امریکا د ملي پولیسو او د کورنیو چارو وزارت د روزنې او عملیاتو لپاره د ASFF 3.1 میلیارده امریکایي ډالر مکلف او توزیع کړي دي.[175] پدې ربع کې، د ملي پولیسو 6596 کارکوونکي په یوه ډول روزنه کې ثبت وو. لدغو څخه، 1175 روزنه کوله ترڅو افسران شي او 1304 روزنه کوله ترڅو واړه ظابطان شي.[176]

پدې ربع کې د زده کوونکو ټوله شمیره کمه شوې. د CSTC-A په وینا، دا کموالی د کلنې ثبتولو د حرکتونو له کبله دی څکه چې په دریم ربع کې ثبتول په منظمه توګه کمیږي. CSTC-A ویلې چې ملي پولیس د خپلو اړتیاو او د کورسونو د سمولو او د ثبتولو د شمیرې ارزولو سره په روزنه کې فعاله ونډه اخلي، ترڅو خپل ساحوي ځواک او تخصصي اړتیاوې په سمه توګه پوره کړي.[177]

CSTC-A/NTM-A له ډاین کور نړیوال شرکت سره قراردادونه لري ترڅو د هیواد د روزنو په څو ساحو کې روزنه، مشورې، او د ملاتړ خدمات برابر کړي. د ASFF له لورې تمویل شوی قرارداد د روزنې سیمه ایزو مرکزونو او د ملاتړ سیارو ټیمونو لپاره 458 استادان او روزونکي او نږدې 2500 د ملاتړ کارکوونکي برابروي. د قرارداد ارزښت 1.18 میلیارده امریکایي ډالر دی.[178]

## د ملي پولیسو سواد زده کړه

د ملي پولیسو لپاره د CSTC-A/NTM-A د سواد زده کړه لکه د ملي اردو چې وړاندې ورته اشاره شوې د سواد زده کړې ورته ستندرد تعقیبوي. دا پروګرام داسې جوړ شوی چې زده کوونکي د سواد زده کړې له دریو درجو تیریږي.[179]

د 2013 د جون تر 13 پورې، دا لاندې هغه پروګرامونه دي چې د ملي پولیسو کارکوونکو بشپړ کړي دي:[180]

- 76337 د 1 درجې فارغین
- 48304 د 2 درجې فارغین
- 30944 د 3 درجې فارغین

د CSTC-A په وینا، کله چې پروګرام ختمیږي د 1 درجې 100% او د 3 درجې 50% (یا عملي) سواد زده کړې موخه ترلاسه شي.[181] مګر CSTC-A ویلې چې دا پدې نه یوهیږي چې څومره د سواد زده کړې له پروګرام څخه فارغ شوي اوس هم په ملي پولیسو کې شته د ځواکونو د سواد د زده کړې اوسنی درجې په اړه راپور ندی ورکړ شوی.[182]

له 2010 څخه، امریکا د افغانستان د ملي امنیتي ځواکونو لپاره د سواد زده کړې درې قراردادونه تمویل کړي دي. هر قرارداد د یوه کال لپاره دی او د پنځو کلونو حدود لري، د هر کال په اګست کې د یوه کال له اختیار څخه کار اخیستل کیدای شي، او د پای لوړ

## د سیګار پلټنه

د سیګار په یوه روانه پلټنه کې، سیګار به د ANSF زیربنا پروژې د اړتیاوو لپاره د CSTC-A دلیل او ملاتړ آزموینه وکړي. دا پلټنه به دا ارزونه هم وکړي: تر هغې کچې چې امریکا او ایتلاف د ANSF پلان کول د ANSF د ځواکونو د ځواک د طرحې په اساس جوړوي؛ آیا CSTC-A په پوره توګه د نوي ساختمان په ځای بدیل په پام کې نیولی، آیا CSTC-A له مناسبو معیارونو څخه کار اخیستی ترڅو دا وګوري چې د ANSF لپاره اوسنې او وړاندیز شوي ساختماني پروژې ضروري دي، د ترسره کولو وړ دي او د افغانستان د حکومت له لورې یې ساتنه کیدلای شي.

## د سیګار پلټنه

د سیګار په یوه روانه پلټنه کې، سیګار د ANSF د سواد زده کړې روزنو دریو پروګرامونو د قراردادونو تطبیق او نظارت ارزونه کوي. سیګار به دا ارزونه هم وکړي چې آیا قراردادیانو تجربه لرونکي استادان او خدمات برابر کړي؛ تر کومې کچې CSTC-A د قرارداد له فعالیت او د روزنې له پایلو څخه نظارت کړی؛ او تر کومې کچې قرارداد هغه موخې ته رسیږي چې قراردادونو د ANSF لپاره اساسي، دوامدارو زده کړه برابره کړي.

لګښت یې 200 میلیونه امریکایي ډالر دی. د CSTC-A په وینا، دې قراردادیانو د ملي پولیسو لپاره د سواد زده کړې 700 روزونکي برابر کړي:[183]

- د امریکا د OT ټرینګ سلوشن په نوم یو شرکت 274 روزونکي برابروي.
- د انسایټ ګروپ په نوم یو افغاني شرکت، 152 روزونکي برابروي.
- د کاروان د لوړو زده کړو انسټیټیوټ، یو افغاني شرکت، 274 روزونکي برابروي.

CSTC-A ویلي چې د ملي پولیسو د کارکوونکو لپاره د سواد د زده کړې روزنه به د 2013 د اکتوبر د 1 او د 2014 د اکتوبر د 1 ترمنځ د افغانستان ملي پولیسو ته وسپارل شي.[184]

## د افغانستان په ملي پولیسو کې میرمنې

د CSTC-A په وینا، د 2013 د مۍ تر 20 پورې، د ملي پولیسو په کارکوونکو کې 1489 میرمنو شتون درلود، 226 افسران، 605 واړه ظابطان، او 658 ثبت شوي کارکوونکي وو.[185] دا هغه ورته شمیره ده چې په تیر ربع کې یې راپور ورکړ شوی وو. پدې شمیره، میرمنې د ملي پولیسو 1% جوړوي. دا لکه د دریو کلونو وړاندې ورته شمیره ده، چې 1100 میرمنې په خدمت کې وې.[186]

د افغانستان ملي پولیس د میرمنو لپاره ټول 2995 تایید شوي بستونه لري، مګر ځینې بستونه اوس د نارینوو له لورې ډک شوي. د CSTC-A په وینا، د کورنیو چارو وزارت پدې فکر کوي چې ځینې نارینه لدې بستونو څخه هغو بستونو ته یوسې چې د نارینوو لپاره تایید شوي.[187]

## د افغانستان ملي امنیتي ځواکونو (ANSF) روغتیا/روغتیايي پاملرنه

د CSTC-A په وینا، 2013 د جون تر 30 پورې، امریکا د 134 میلیونو امریکایي ډالرو په ارزښت د ANSF 174 روغتایي تاسیسات تمویل کړي دي، او د 11 میلیونو امریکایي ډالرو په ارزښت یې قراردادونه د ANSF د روغتیایي روزنې لپاره تمویل کړي دي. امریکا د 33 میلیونو ډالرو په ارزښت د 10 اضافي روغتیایي تاسیساتو جوړول هم تمویلوي. په دې برسیره، له 2006 څخه، د ایتلاف ځواکونو د ANSF لپاره د 25 میلیونو امریکایي ډالرو په ارزښت روغتیایي تجهیزات اخیستې او په کار اچولې دي. د ایتلاف ملګرو د 561924 امریکایي ډالرو په ارزښت د خدماتو، موادو، او تجهیزاتو قراردادونه هم تمویل کړي دي.[188]

پدې ربع کې، د ANSF د روغتیا سیستم له تایید شویو 944 څخه، 775 ډاکټران وو، چې دا له تیر ربع څخه 140 کموالی دی. لدغو څخه، 566 ملي اردو او 209 ملي پولیسو ته ګمارل شوي وو. ANSF 6860 د روغتیا نور کارکوونکي هم لري (پشمول د نرسانو او مرستندوی ډاکټرانو)، دا له تیر ربع څخه 39 زیاتوالی دی، او 10284 ته اړتیا ده.[189] د 2013 په جون کې، ANSF له څلورو مهمو سیمه ایزو روغتونونو څخه د دریو پوره مسولیت اخیستی.[190]

لکه څنګه چې ANSF د امنیت زیات مسولیتونه اخلي، د روغتیایي کارکوونکو کموالی یوه لویه اندیښنه ده. د CSTC-A په وینا، که څه هم د افغانستان د سرطبیب دفتر په "خرابو سیمو" کې د ډاکټرانو استخدامولو کې ستونزو سره مخامخ شوی، مګر د ډاکټرانو په استخدامولو کې پرمختګ شوی.[191]

جدول 3.8

| د عنعنوي وسلو د له منځه وړلو پروګرام حدود، د 2012 د اپریل 1 د 2013 د مارچ تر 31 | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| د نیټې حدود | AT/AP له منځه وړل شوي | UXO له منځه وړل شوي | SAA له منځه وړل شوي | د مهماتو ټوټې پاکې شوي | له مینونو څخه پاکه شوې ساحه (m²) | تخمیني پاتې ککړه ساحه (m²) |
| 6/30/2012–4/1 | 1,559 | 28,222 | 20,580 | 3,601,378 | 7,251,257 | 563,000,000 |
| 9/30/2012–7/1 | 5,542 | 165,100 | 121,520 | 2,569,701 | 11,830,335 | 550,000,000 |
| 12/31/2012–10/1 | 2,146 | 62,449 | 22,373 | 3,672,661 | 7,265,741 | 570,000,000 |
| 3/31/2013–1/1 | 1,984 | 100,648 | 105,553 | 3,722,289 | 7,978,836 | 552,000,000 |
| **ټول** | **11,231** | **356,419** | **270,026** | **3,722,289** | **34,326,169** | **552,000,000** |

یادښتونه: AT/AP = د ټانک په وړاندې/د پرسونل په وړاندې مهمات. UXO = نا چاودل شوي مهمات. SAA = د سپکې وسلې مهمات. د مهماتو د ټوټو راپور ورکړ شوی څکه چې پاکول یې لکه نور ورته شیان پاملرنې ته اړتیا لري ترڅو چې د هغوی د ماهیت په اړه معلومات ترلاسه شي.

سرچینه: د سیګار د معلوماتو غوښتنې په اړه د امریکا د بهرنیو چارو وزارت، WRA/PM ځواب، 6/27/2013.

## د نه چاودل شویو مهماتو لرې کول

له 2002 څخه تر 2012 پورې، د امریکا د وسلو د لرې کولو او کمولو سیاسي او اردو چارو دفتر (WRA/PM) په وینا، د امریکا د بهرنیو چارو وزارت له افغانستان سره د وسلو د له منځه وړلو او مین پاکی مرستې لپاره نږدې 260 میلیونه امریکایي ډالرو مرسته برابره کړې. د دوديزو وسلو د له منځه وړلو پروګرام له لارې، د امریکا د بهرنیو چارو وزارت د افغانستان پنځه غیر حکومتي سازمانونه (NGO)، پنځه نړیوالې NGO، د ملګرو ملتونو د مین د عمل خدمات، او د امریکا یو قراردادي تمویلوي. دا مرستې د هغو ساحو له پاکولو سره مرسته کوي چې د جنګ په پاتې چاودیدونکو توکو ککړ دي، د هغو پریښودل شویو وسلو د لرې کولو او له منځه وړلو سره ملاتړ وکړي چې کیدای شي د مخالفینو له لورې د سړک د غاړې مینونو جوړولو لپاره ورڅخه کار واخیستل شي، او د افغان حکومت د مین پاکولو دفترونو ته د مشورې روزنه برابره کړي.[192]

د WRA/PM په وینا، د 2012 د اپریل له 1 څخه، د 2013 د مارچ تر 31 پورې، د امریکا د بهرنیو چارو وزارت د تطبیق کوونکو ملګرو له 34 میلیونو متر مربعو (نږدې 13 متر مربع میله) څخه زیات د مینونو ساحې پاکول تمویل کړي.[193] نږدې 552 میلیونه متر مربع (له 200 متر مربع میله څخه زیاته) ککړه ساحه لا د پاکولو لپاره پاتې ده، لکه څنګه چې پدې جدول 3.8 کې ښودل شوي. WRA/PM د "مینونو ساحه" هغه ساحه ګڼي چې د ځمکې په مینونو ککړه وي، او یوه ککړه ساحه هغه ساحه ده چې په دواړو مینونو او د جنګ په "چاودیدونکو توکو" ککړه وي.[194]

## له مخدره توکو سره مبارزه

د افغانستان د کوکنارو اقتصاد د مخالفینو د تمویلولو او فساد زیاتولو له لارې د امریکا د بیا رغونې هڅې کمزورې کوي. د کوکنارو د کرنې او غیر قانوني مخدره توکو د قاچاق د کمولو له هڅو سره، داسې تمه کیږي چې لکه په تیرو کلونو کې، سږ کال به افغانستان د دنیا د 90% کوکنار تولید کړي.[195] په دې برسیره، غیر قانوني تجارت د زیاتو عوایدو سبب ګرځي: د آسیا پراختیایي بانک د 2012 یو راپور ویلې، د کوکنارو صادرات د افغانستان د 13% ناخالصو تولیداتو سره برابر دي.[196]

# امنیت

د امریکا د مخدره توکو ستراتیژي عموماً د مخدره توکو او مخالفینو د اړیکو مبارزې باندې کار کوي.[197] د ستراتیژۍ په مهمو برخو کې د امریکا له لورې تمویل شوي د کوکنارو له منځه وړل، بدیل معیشت او عامه پوهاوي نوښتونه، او د مخنیوی عملیات شامل دي. د 2013 د جولای تر 1 پورې، په 2012 کې د هڅو له پیل څخه، امریکا په افغانستان کې د مخدره توکو په وړاندې مبارزې نوښتونو لپاره 4.42 میلیارده امریکایي ډالر تخصیص کړي دي. د دې مرستو زیاته برخه د دوو چینلونو له لارو تخصیص شوي: د امریکا د بهرنیو چارو وزارت د نړیوال مخدره توکو کنترول او قانون پلې کولو (INCLE) حساب (1.78 میلیارده امریکایي ډالر)، او د امریکا دفاع وزارت د مخدره توکو او مخدره توکو د فعالیتونو مخنیوی (DOD CN) وجهې صندوق (2.64 میلیارده امریکایي ډالر).[198]

د امریکا د بهرنیو چارو وزارت د نړیوال مخدره توکو کنترول او قانون پلي کولو چارو بیورو (INL) د امریکا هغه مهمه اداره ده چې د افغانستان په مشرۍ د کوکنارو د له منځه وړلو، بدیل معیشت، او عامه پوهاوي پروګرامونو مسولیت لري. د امریکا دفاع وزارت او INL یو بل سره همغږې کوي ترڅو د مخدره توکو په وړاندې مبارزې وزارت (MCN)، د کورنیو چارو وزارت، او دفاع وزارت د مخدره توکو په وړاندې هڅو ملاتړ وکړي.[199]

## د مخدره توکو او مخالفینو اړیکي

په 2009 کې، ولسمشر اوباما ویلي وو چې "د افغانستان اقتصاد د مخدره توکو د پراخ تجارت له کبله کمزوری شوی چې دا جنایي فعالیتونه هڅوي او مخالفین تمویلوي."[200] د کانګرس د څېړنې د خدماتو په وینا، د مخدره توکو قاچاق د مخالفینو لپاره په هر کال کې له 70$-100 میلیون امریکایي ډالر تولیدوي.[201] مګر، کیدای شي د مخالفینو لپاره به یې ګټه تر هغه څه چې وړاندې فکر شوی زیاته وي. د 2013 په جون کې، د افغانستان د مخدره توکو په وړاندې د مبارزې وزیر ویلي وو چې مخالفین په هرکال کې له 155$–400 میلیون امریکایي ډالر لاسته راوړي.[202] د مخالفینو تر کنترول لاندې ساحو کې، له بزګرانو څخه د مالیې په راټولولو، د درواغو خوندیتوب کارونو، د هیروین د لابراتوارونو عملیاتو، او د اختطاف ترسره کول او د قاچاق نورو کارونو له لارو مخالفین دا عواید راټولوي.[203] له منځه وړلو او مخنیوی څخه د بزګرانو ساتنې سره، مخالفین له بزګرانو څخه سیاسي ملاتړ هم ترلاسه کوي.[204] له 2001 څخه، د مخالفینو د کنترول ساحې په سویل او سویل لویدیځ کې وي. د امریکا د سولې انسټیټیوټ په وینا، نن ورځ، هلمند، کندهار، او فراه په هر کال کې د افغانستان د مخدره توکو د کرنې 80% استازیتوب کوي.[205]

## د مخدرو توکو او فساد اړیکي

د افغانستان د حکومت د ټیټ پوړو او لوړ پوړو چارواکو په واسطه د مخدره توکو تجارت له فساد سره هم اړیکي لري. د فساد لوړه کچه هغه وخت منځ ته راځي کله چې افغان چارواکي د کوکنارو په اقتصاد کې ورګډ شي ترڅو د سیمه ایزو ځواکمنو مالي او یا سیاسي ملاتړ لاسته روړي.[206] د فساد په بل سر کې په ټیټه کچه یا د اړتیا په اساس فساد منځ ته راځي، د بیلګې په توګه، کله چې د کم معاش د قانون پلې کوونکي چارواکي خپل معاش د رشوت په پیسو زیاتوي چې دا کار د مخدره توکو قاچاق ته لار برابروي.[207] د فساد دواړه ډولونه په حکومت باندې د عامو خلکو ډاډ کموي او په غیر مستقیمه توګه مخالفین شتمن کوي.[208] په دې برسیره، د مخدره توکو په قاچاق کې برخه اخیستونکي چارواکي د کوکنارو له منځه وړلو او د بدیل معیشتونو نوښتونو ته بدلون ورکوي، مخنیوی له خنډ سره مخ کوي، او له جزا څخه مجرمین پټوي.

## افغانستان د کوکنارو په نړیوال اقتصاد کې

په تیرو دیرشو کلونو کې افغانستان د نړۍ د کوکنارو د تولیدونکو په سر کې راغلی. په 1972 کې ایران، پاکستان، او ترکیه د مخدره توکو بندیز پلې کول پیل کړل، چې دې کار په سویل لویدیځې آسیا کې د کوکنارو بل نوي برابرونکې ته لار پرانیستله.[209] د شوروي له لورې په افغانستان باندې له یرغل څخه ډیر ژر د کلیو اقتصاد له منځه یووړل شو. پایلې یې ډیرې ګرانې وې: ځکه چې کوکنارو هم ډیر عمر درلود او با ارزښته وو، بزګرانو له کوکنارو څخه د سپما او تبادله کولو په توګه کار اخیست او مجاهدینو له کوکنارو څخه د وسلو د اخیستلو لپاره کار اخیست.[210]

د افغانستان د کورنی جنګ په وخت کې، د جنګ د اړخونو لپاره، پشمول د طالبانو، کوکنارو د شتمنی د سرچینې په توګه خپل ارزښت ته دوام ورکړ.[211] د طالبانو تر حکوکت لاندې، له 1996 څخه تر 1999 پورې، د کوکنارو تولید دوه برابره شو.[212] له 2000 څخه تر 2001 پورې، طالبانو د کوکنارو په کښت باندې بندیز ولګاوو، د بزګرانو لپاره یې بشري کړکیچ را منځ ته کړ او د وچکالی په وخت کې بې پیسې او وږې شول.[213]

د 1990 لسیزې په پای کې، افغانستان د نړۍ 70% کوکنار تولیدول.[214] د ملګرو ملتونو د مخدره توکو او جرمونو د دفتر (UNODC) په وینا، له 2003 څخه تر 2012 پورې، افغانستان په اوسط ډول په هر کال کې د نړۍ 85% کوکنار تولید کړي.[215] مګر، تحلیل کوونکې دا کموالی د نړیوال مارکیټ د زیاتوالې، د زراعتي محصولاتو مرض، او کمزورې هوا له کبله ګڼي، نه دا چې امریکا د مخدره توکو په وړاندې هڅې کړې.[216]

د UNODC په وینا، د 2005 او 2012 تر منځ، **د فارم په دروازو کې قیمت** د کوکنارو تولید ارزښت، په اوسط ډول د افغانستان د ناخالصو تولیداتو له 8% سره برابر وو. له 2007 څخه تر 2012 پورې، د کوکنارو د ټولو صادراتو ارزښت، په اوسط ډول د هیواد د ناخالصوتولیداتو له 25% سره برابر وو.[217] د وخت په تیریدو سره د افغانستان د اقتصاد له ودې او له 2007 څخه د کوکنارو لړ تولید سره د دواړو ارزښتونو کچه کمه شوه، لکه څنګه چې د راتلونکې پاڼې پدې عکس 3.25 کې ښودل شوې.

د UNODC د نړیوال مخدره توکو د راپور په وینا، که څه هم د لویدیځې اروپا د کوکنارو مارکیټ کوچنی کیږي، مګر نړیوال مارکیټ باثباته پاتې شوی.[218] کاناډا د شمالي امریکا یووازې هغه هیواد دی چې په افغانستان کې تولید شوې هیروین هلته رسیږي.[219] مګر، د هیروینو او د هیروینو په اساس محصولاتو لپاره نوي مارکیټونه په افریقا او ختیځې آسیا کې پرانیستل کیږي، او افغانستان د ایران او پاکستان له لارو له عراق او منځنی ختیځ سره نښلوي.[220]

د افغانستان د 2013 د کوکنارو د خطر په ارزونه کې، UNODC داسې وړاند وینه کوي چې د کوکنارو کرنه به په ډیرو سیمو کې او د کوکنارو د کرنې په اصلي ولایتونو کې زیاته شي. له هغو 20 ولایتونو څخه چې کوکنار تولیدوي، UNODC تمه لري چې 12 به د کوکنارو کرنه زیاته کړي، اوه پدغه حالت به پاتې شي، او یو به کم شي. تمه کیږي چې 14 نور له کوکنارو خلاص ولایتونه به خپل دریځ وساتي. UNODC خبرداری ورکړی چې که په وخت له منځه وړل ترسره نشي، ځینې ولایتونه به له کوکنارو خپل خلاص دریځ له لاسه ورکړي. UNODC پدې اړه هم راپور ورکړی چې په ځینو سیمو کې به کرنه زیاته شي، چیرته چې یې پخوا هم شتون درلود او په "نویو سیمو کې چې د کوکنارو کرنه بنده شوې."[221] په 2012 کې د کوکنارو د اوسنې لوړ قیمت، د هوا ښه کیدلو، او د کرنې محصولاتو د مرض اړوند کم تولید له کبله به په هلمند او کندهار کې زیاتوالی ډیر شي.[222]

---

**د فارم د دروازې قیمت:** د ترانسپورت او رسولو له لګښت څخه پرته، هغه قیمت دی چې په فارم کې شتون لري.

**د صادراتو قیمت:** په بندر، هوایي ډګر، یا صادراتو په بندر کې د صادراتو قیمت، چې د پیسو د معاملو د قیمت په اساس دی، پشمول د کورني ترانسپورت، بیمې، او نور لګښتونه چې منځ ته راځي د صادراتو په بندر د ترانسپورتي وسیلې ترخنګ د موادو کیښودل دي. ارزښت، لکه څنګه چې تعریف شوی، له هغه لګښت څخه مستثنی دی چې صادراتي مواد د ترانسبورت په وسیلې باندې بارېري او د ترانسپورت، بیمې، او د صادراتو تر بندر وروسته نور لګښتونه یا د ترانسبورت لګښتونه پدې کې شامل ندي.

سرچینې: د امریکا د احصایې بیورو، "د بهرنې تجارت د احصایو لارښود: د بهرنې تجارت د احصایې د پروګرام بنه،" 2/16/2012؛ IMF، د تولیدوونکې قیمت د لست لارښود: نظري او عملي. 2004، 598 پاڼه.

عکس 3.25

**د افغانستان د کوکنارو اقتصاد کچه** (میلیون ډالر)




| | 2012 | 2011 | 2010 | 2009 | 2008 | 2007 |
|---|---|---|---|---|---|---|
| د فارم په دروازه کې د کوکنارو د تولید ټول ارزښت د ټولو ناخالصو محصولاتو په پرتله | %4 | %7 | %5 | %4 | %7 | %13 |
| د کوکنارو د ټولو محصولاتو د صادراتو ټول ارزښت د ټولو ناخالصو محصولاتو د % په پرتله | %13 | %16 | %11 | %26 | %33 | %53 |

یادونه: د 2012 د صادراتو ارزښت د UNODC له معلوماتو څخه شمیرل شوی.

سرچینې: UNODC، ”د افغانستان د کوکنارو سروې، 2008،“ 8/2008، p. 1؛ UNODC، ”د افغانستان د کوکنارو سروې 2009،“ 12/2009، معلوماتو پاڼه؛ UNODC، ”د افغانستان د کوکنارو سروې 2010،“ 9/2010، معلوماتو پاڼه؛ UNODC، ”د افغانستان د کوکنارو سروې 2011،“ 12/2011، p. 3؛ UNODC، ”د افغانستان د کوکنارو سروې 2012،“ لنډ معلومات، 11/2012، p. 3؛ د آسیا د پراختیایي بانک، ”د افغانستان د معلوماتو پاڼه،“ 12/2012، p. 1.

INL ویلي چې په 2013 کې UNODC د کوکنارو د زیاتوالي وړاندوینه کړې او ”دا باید له 2007 څخه د مخدره توکو په وړاندې مثبت پرمختګونه کمزوري نکړي“ او د ”کوکنارو په کرنه کې د بدلون تمه هم کیږي.“[223]

راپور د امنیت او کوکنارو د کرنې تر منځ څواکمنې اړیکې پیژندلې، او ویلي چې ”نږدې ټول هغه کلي چې زیات کمزوری امنیت لري کوکنار یې کرلي.“[224] UNODC لیدلې چې هغو کلیو ته چې کرنیزه مرسته او عامه پوهاوی رسیدلی کیدای شي چې کوکنار ونه کري، مګر دایې هم موندل چې د احصایې له کبله دا اړیکې ډیرې مهمې ندي. مګر، UNODC ویلي چې په ځینو سیمو کې، ”داسې معلومیږي چې کرنیز پروګرامونو په پرتلیز بڼه د کم او امکان لري چې د کوکنارو د کرنې کچه کمه شي.“[225]

## د کوکنارو له منځه وړل

له 2004 څخه تر 2008 پورې، په افغانستان کې د امریکا د مخدره توکو په وړاندې ستراتیژۍ په له منځه وړلو باندې کار کاوو.[226] په 2009 کې، امریکا د له منځه وړلو د هڅو مشري پریښودله ځکه چې ستراتیژۍ ”اغیز ندرلود او بزګران یې د طالبانو لورې ته یوول.“[227] مګر، امریکا د افغانستان په مشرۍ د خپل ملاتړ هڅو ته دوام ورکوي. له 2010 څخه،

INL د واليانو په مشرى (GLE) 7 ميليونه امريکايي ډالر تخصيص کړي دي چې واليانو ته پخپل نوښت د له منځه وړلو د هڅو لګښت ورکوي.[228] د 2013 د جنورى له 1 څخه د جون تر 24 پورې، GLE 7962 هکتاره له منځه وړي، چې د 2012 د ورته وخت د 11,032 هکتارو په پرتله کموالی دی.[229] (يادښت: د INL د 2012 د هکتارونو شميره د UNODC له معلوماتو سره برابره نه وه، چې په ټول 2012 کې 9672 هکتاره له منځه وړل ښيي).[230]

له 2008 څخه، د هر کال د له منځه وړلو هڅو د کوکنارو په ملي محصول باندې له 4% کم اغيز درلود، لکه څنګه چې پدې عکس 3.26 کې ښودل شوي. مګر کيدای شي GLE به يو اغيزمن مخنيوى وي: د UNODC په وينا، د تير کال په پرتله په 2012 کې د له منځه وړلو ډار د ډيرو بزګرانو د پريکړې لپاره اصلي علت وو ترڅو کوکنار ونه کري.[231] مګر انديښنې لا شتون لري چې له منځه وړل سيمه ايزو واکدارانو ته مشروعيت ورکوي او د بزګرانو په خوارولو سره د طالبانو ملاتړ ډيريږي.[232] دغو انديښنو ته په پام سره، د امريکا دفاع وزارت او د افغانستان د مخدره توکو په وړاندې د مبارزې وزارت (MCN) "باور لري چې GLE په هغو وختونو کې ډير اغيزمن دی کله چې له بديل معيشت (AL) مبارزې سره پرتله شي، او داسې ډيزاين شوى چې خوارو بزګرانو ته د کوکنارو د کرلو په ځاى د کار وړ يو بديل ورکوي."[233]

INL له 2010 څخه د MCN د ښه فعاليت کوونکو د نوښت (GPI) لپاره هم 85 ميليونه امريکايي ډالر تخصيص کړي دي او د هغو واليانو لپاره امتيازونه برابروي چې پخپلو ولايتونو کې د کوکنارو کرنه کموي.[234] که يو ولايت له کوکنارو څخه خلاص وګڼل شي دغه ولايت د GPI د پراختيايي پروژو د 1 ميليونو امريکايي ډالرو مستحق کيدای شي، او دا داسې تعريفيږي چې دغه ولايت بايد د کال په ترڅ کې له 100 هکتارو څخه کم (نږدې

عکس 3.26

**په هکتارونو باندې کرل شوي او له منځه وړل شوي کوکنار، 2008-2012** (زرګونو)




يادونه: يو هکتار 10000 متر مربع ده، يا نږدې 2.5 اکرونه.

سرچينې: د UNODC، "نړيوال مخدره توکو راپور 2012،" 6/2012، pp. 27-28؛ د UNODC، "نړيوال مخدره توکو راپور 2012،" 6/2012، pp. 27؛ "د افغانستان د کوکنارو سروې 2012: د لاس ته راغلو معلوماتو لنډيز،" 11/2012، مخ 2.

247 هیکرونه) تر کرنې لاندې ولري.[235] د GPI له پیل څخه په 2007 کې، په ټولو 34 ولایتونو کې له 170 پراختیایي پروژو څخه زیات یا بشپړ شوي یا د پرمختګ په حال کې دي.[236] مګر، په ملي کچه د کوکنارو کرنه اوس هم زیاته ده.

## بدیل معیشت او د کوکنارو په وړاندې عامه پوهاوی

د بدیل معیشت (AL) پروګرام موخه دا ده ترڅو په غیر قانوني مخدره توکو د بزګرانو تکیه کول ختم کړي.[237] د ملګرو ملتونو د نغدو پیسو په وړاندې کارکول او د کرنې د محصولاتو د بدلولو لنډ مهاله پروګرامونه تمویل کړي، ترڅو لنډ مهاله کار برابر کړي.[238] مګر، متخصیصین دا استدلال کوي چې دا پروګرامونه ډیرى وختونه د کار او موادو دوامداره بدیل نشي برابرولاى.[239] د بیلګې په توګه، د غنمو ډیری تخمونه چې په 2008 او 2009 کې په هلمند کې توزیع شوي د کرلو په ځای په سیمه کې پلورل شوي، ځکه چې د پام وړ د غنمو په کوکنارو د قیمت تناسب چې تر دې لاندې پروګرام پیل شو د دوام وړ دی.[240]

د بروکینګز بنسټ یو راپور استدلال کوي چې د بدیل معیشت دوامداره نوښت باید د کرنې د تولید ټولو برخو ته پراختیا ورکړي او یو ځای کړي.[241] د نورو نوښتونو په منځ کې، د امریکا نړیوالې پراختیایي اداري (USAID) د شمال، ختیځ، او لویدیځ (IDEA-NEW) د امتیازونو په اساس د اقتصادي بدیل لپاره 131 میلیونه امریکایي ډالر مکلف کړي دي، چې زراعتي هڅې او لارښوونې، د پروسس تاسیسات، مارکیټونه، او کریډیت لپاره د بزګرانو لاس رسی زیاتوي.[242] مګر، د USAID د عمومي مفتش په وینا، IDEA-NEW د نامناسب پلان کولو او نظارت له کبله توپیر لرونکي پایلې درلودې.[243] په دې برسیره، ملګري د مخالفینو له لورې تهدیدیږي، او د امنیت ساحه کمیږي، ځکه نو د نظارت ترسره کول به تر زیاتې کچې ستونزمن وي.[244]

INL د مخدره توکو په وړاندې عامه پوهاوي (CNPI) پروګرام هم تمویلوي ترڅو په ټول هیواد کې د نهال کینښودل د مبارزې د عامه پوهاوي له لارې له کوکنارو خلاص دریځ ته دوام ورکړي.[245] UNODC ویلي چې "د پوهاوی پروګرام لکه CNPI داسې ښکاري چې د کوکنارو د نه کرلو په پریکړې باندې مثبت اغیز لري."[246] په دې برسیره، INL د آغاخان له بنسټ سره مرسته هم تمویلوي، چې د ټولنې له خلکو سره او سیمه ایزو انجووګانو سره د کار کولو له لارې په شپږو مهمو ولایتونو کې د کوکنارو د کرنې په له منځه وړلو باندې کار کوي ترڅو د سیمې خلکو لپاره فرصتونه زیات شي او له مخدره توکو پرته کار پیدا کړي.[247]

پدې ربع کې، INL د یوه کال په ترڅ کې د عامه نظر د سروې نوښت پیل کړی ترڅو د غیر قانوني مخدره توکو بیلابیلې برخې تعقیب کړي ترڅو په افغانستان کې د INL د پالیسی او مرستې لپاره لارښوونه برابره کړي. د 729000$ امریکایي ډالرو پروژه به د 2014 په می کې بشپړه شي.[248]

د هلمند د غذایي توکو ساحه د افغانستان په مشری یو نوښت دی ترڅو د کوکنارو کښت کم کړي. پدې کې دا شامل دي:
- په لوړه کچه سبسایډي شوي د غنمو تخمونه او کمیاوي سره هڅو بزګرانو ته چې هغه دا ژمنه کوي ترڅو کوکنار ونه کري
- په نښه شوي له منځه وړل د هڅو بزګرانو په وړاندې چې د کوکنارو کرلو ته دوام ورکوي
- د کوکنارو په وړاندې د عامه پوهاوی هڅې

سرچینه: د ملکي او اردو ګډ مرکز، د غذايی توکو پروګرام، 5/2012، 1 او 3 پاڼې.

## د افغانستان د مخدره توکو په وړاندې د مبارزې پولیس

پدې ربع کې، د افغانستان د مخدره توکو په وړاندې د مبارزې پولیس (CNPA) ته 3059 کارکوونکي ګمارل شوي وو.[249] په CNPA کې د مخنیوی ملي قطعه (NIU)، د حساس تحقیق قطعه (SIU)، د تحقیق تخنیکي قطعه (TIU)، او نورې برخې شامل دي.[250]

له 2006 څخه، INL د NIU او SIU د مخنیوی فعالیتونو د ملاتړ لپاره 219.8 میلیونه امریکایي ډالر مکلف کړي دي ترڅو تحقیقي او ستراتیژیکي مشورې، لوژستیک، خواړه او تیل، او د مخنیوی د عملیاتو ساحو ته او بیرته ترانسپورت برابر کړي. INL د NIU د معاشونو بشپړول هم تنظمینوي، او له 2010 څخه د مخدره توکو په وړاندې د هوایی ملاتړ لپاره یې 249.8 میلیونه امریکایي ډالر مکلف کړي دي.[251]

له 2004 څخه، د امریکا دفاع وزارت د CNPA د روزنې، تجهیزاتو، او تاسیساتو لپاره له 415 میلیونو امریکایي ډالرو څخه زیات برابر کړي دي.[252] د امریکا دفاع وزارت پروګرامونه هم تمویلوي ترڅو د CNPA د تخنیکي عملیاتو مرکز ښه کړي، چې د مخدره توکو د قاچاق شبکې په نښه کوي. په دې برسیره، د امریکا دفاع وزارت د افغانستان د ځانګړې ماموریت وزر (SMW) تمویلوي، چې د INL له هلیکوپترونو سره د CNPA د عملیاتو ملاتړ کوي.[253] لکه څنګه چې د سیګار په وروستی پلټنه کې لیکل شوي، د امریکا دفاع وزارت د SMW لپاره د 771.8 میلیونو امریکایي ډالرو په ارزښت طیارې اخلې، که څه هم SMW یې د جذبولو وړتیا نلري.[254]

NTM-A او د مخدره توکو د پلې کولو اداره (DEA) د CNPA لپاره استادان او سلاکاران برابروي. د CSTC-A په وینا، NTMA 16 سلاکاران او DEA د مخدره توکو په وړاندې 33 روزنکې برابروي (چې لدغو څخه 20 په هر وخت کې په هیواد کې شتون لري). په دې برسیره، د CSTC-A په وینا، د امریکا یو قراردادي د CNPA د مرستې لپاره 37 کارکوونکي برابروي.[255]

## د مخنیوی عملیات

د امریکا د مخنیوی د پالیسی موخې دا دي چې د مستقیم عمل له لارې د مخدره توکو قاچاق او پروسس کول کم کړي، او "د افغانستان د قانون پلې کولو وړتیا ته وده ورکړي ترڅو د قاچاق کولو سازمانونو مخه ونیسي او له منځه یوسي."[256] په 2009 کې، د مخنیوی پالیسی ته وده ورکړ شوه ترڅو د مخدره توکو مشران چې له مخالفینو سره اړیکي لري په نښه کړي ترڅو د مخدره توکو او مخالفینو اړیکي له منځه یوسي.[257]

د 2013 له اپریل څخه د جون تر 30 پورې، د افغانستان ځواکونو د مخنیوی 73 یو اړخیز عملیاتونه ترسره کړي.[258] د دغو عملیاتونو پایله 73 نیول او د څو زرو کیلو ګرامو مخدره توکو او اړوندو کیمیایي توکو ضبطول وو.[259] مګر لکه څنګه د راتلونکي پاڼې پدې عکس 3.27 کې ښودل شوي، ضبط شوي توکې په هر کال کې په ټولو تولید شویو کوکنارو باندې په اوسط ډول 1.2% اغیز لري.

د بروکینګ بنسټ د یوه راپور په وینا، د مخنیویو عملیاتو تر ډیرې کچې د افغانستان د مخدره توکو قاچاق ندی کم کړي، دا ځکه چې دا عملیات تر ډیرې کچې د کوکنارو واړه بزګران په نښه کوي.[260] په دې برسیره، د امریکا سنا د 2010 راپور په وینا، کیدای شي د مخنیوی اغیز محدود وي ځکه چې د افغانستان د قضا سیستم دا وړتیا نلري تر څو د مخدره توکو لوړ پوړي چارواکي عدالت ته راوړي.[261] مګر، د افغانستان د مخدره توکو په وړاندې وزارت د 2013 د جون په غونډه کې اشاره وکړه چې د افغانستان چارواکو له 10 لویو په نښه شویو قاچاق کوونکو څخه اوه، پشمول د هغو کسانو چې مهم سیاسي ځواک یې درلود، نیولي دي.[262] د امریکا د بهرنیو چارو وزارت دا هم ویلې چې په لوړه کچه ارتباط لرونکی د مخدره توکو د یوه "قاچاق کوونکي" نیول هغه بیلګه ده چې څنګه د افغانستان قضا مخ په ښه کیدو ده.[263]

پداسې حال کې چې د مخنیوی هڅو محدودې پایلې درلودې، مګر د افغانستان د وړتیا لپاره ترڅو د مخدره توکو په وړاندې عملیات ترسره کړي، د امریکا هڅو ځینې پرمختګونه ښودلې دي. تر ډیرې کچې افغان ځواکونه یو اړخیز عملیات پرمخ وړي.[264] په دې برسیره، د افغانستان ځانګړي او دودیزې قطعې د افغانستان د اړوندو برخو په ملاتړ د عملیاتو ترسره کولو ته دوام ورکوي. مګر، ټول عملیات اوس هم د امریکا او ایتلاف د اردو قوماندانانو له لورې همغږې او ملاتړ کیږي او DEA د مخدره توکو د ځانګړو قطعو لپاره مشورو ورکولو ته دوام ورکوي.[265]

عکس 3.27

**د افغانستان تولید شوي او ضبط شوي کوکنار (2008-2012)** (زرهاوو کیلوګرامه)




یادونه: شمیرې په تقریبي ډول لیکل شوي. یو کیلوګرام نږدې 2.2 پونډه کیږي

سرچینې: UNODC، ”نړیوال مخدره توکو راپور 2012،“ 6/2012، .28 p؛ UNODC، ”د افغانستان د کوکنارو سروې 2012: لنډ معلومات،“ 11/2012، .3 p؛ د سیګار معلوماتو غوښتنې په اړه د DOD ځواب، 4/1/2013.

## د امریکا د مخدره توکو په وړاندې د ستراتیژۍ ننګونې

د امریکا د مخدره توکو په وړاندې ستراتیژۍ په افغانستان کې له ډېرو لنډ مهالو، په ځانګړې توګه د کوکنارو لوړ نړیوال قیمت او د راتلونکو افغانستان ټولټاکنو ننګونو سره مخامخ ده.[266] دوامداره لوړ قیمتونه دا معنی لري چې د کوکنارو تجارت به ګټور پاتې شي، او ګټه به یې مفسدو چارواکو، مخالفینو، او بزګرانو ته ورسیږي.[267] د 2014-2015 ټولټاکنو دوره کیدای شي د دې سبب شي چې چارواکې د خپلو پالیسیو له ملاتړ څخه لکه له منځه وړل او مخنیوی په شا ولاړ شي چې کیدای شي دا به په بزګرانو او رای ورکوونکو باندې منفي اغیز ولري.[268]

فساد، د امنیت مخ په خرابیدلو چاپیریال، او د مرستو کمښت به په اوږد مهال کې د امریکا موخو رسیدلو لپاره ستونزمن شي. د افغانستان عام خلک هغه وخت په خپل حکومت باور له لاسه ورکوي کله چې سیاسي مشران له منځه وړلو څخه د خپلو سیالانو د کوکنارو د حاصلاتو په له منځه وړلو کې کار واخلي او یا رشوت ورکړې ترڅو د دوی کوکنار له منځه یوړل نشي.[269] د اروپا د کمیسیون له لوري تمویل شوی د 2011 د یوه راپور په وینا، په ورته توګه، د حکومت چارواکي چې د افغانستان حکومت د بدیل معیشت زراعتي مواد، لکه تخمونه یا کیمیاوي سره چې له کوکنارو پرته د زراعتي محصولاتو کرلو لپاره ضروري دي په بازارونو کې خرڅوي، دا د افغانستان حکومت مشروعیت له منځه وړي.[270] په پای کې، د بروکینګ بنسټ د یوه متخصص په وینا، د امریکا په ملاتړ د مخنیوی د پالیسی ناکامي ترڅو په دوامداره توګه ځواکمن قاچاق کوونکي په نښه کړي ”داسې پیغام رسوي چې په افغان حکومت پورې تړلي قاچاق کوونکي نه ډاریږي.“[271]

# امنیت

د امریکا د سولې انسټیټیوټ په وینا، له سویل او سویل لویدیځ څخه چې د مخدره توکو او مخالفینو د اړیکو مرکز دی د امریکا د ځواکونو وتل به پدغو سیمو کې د امنیت ټولیز شتون کم کړي.[272] کیدای شي د شتون دا کموالی به د مخدره توکو په وړاندې رواني هڅې کمې کړي. دې انسټیټیوټ دا خبرداری هم ورکړی چې د مخدره توکو په وړاندې د مرستو کموالی به هم د بدیل معیشت هڅې کمزورې کړي، او دا احتمال شته چې له منځه وړل به د افغان چارواکو د کوکنارو تولید د اصلي کنټرول وسیلې په توګه پریږدي.[273]

## د سیګار پلټنه

په افغانستان کې د امریکا د مخدره توکو په وړاندې د ستراتیژۍ د اغیزمنتیا او دوام له کبله اندیښنې، سیګار به 2014 مالي کال کې د مخدره توکو په وړاندې یوه ارزونه ترسره کړي.

# د حکومتولۍ منځپانګې


| | |
|---|---|
| مهمې پیښې | 119 |
| پخلاینه او بیا یو ځای کیدل | 120 |
| ملي او محلي حکومتولي | 122 |
| د قضا اصلاحات او د قانون حاکمیت | 132 |
| د فساد په وړاندې | 134 |
| بشري حقونه | 139 |

# حکومتولي

د 2013 د جون تر 30 پورې، امریکا د افغانستان د حکومتولۍ او اقتصادي پراختیا لپاره نږدې 24.7 میلیارده امریکایي ډالر برابر کړي دي. د دې مرستو ډېره برخه، نږدې 16.7 میلیارده امریکایي ډالر، د اقتصادي ملاتړ وجهي صندوق (ESF) ته تخصیص ورکړ شوې وه، چې د امریکا د بهرنیو چارو وزارت او د امریکا د نړیوالې پراختیایي ادارې (USAID) له لورې اداره کیږي.[274]

## مهمې پیښې

د 2013 د جولای 3 د لوړ پوړو چارواکو د کابل په غونډه کې، مرستندویو هیوادونو د افغانستان له حکومت څخه رسمي غوښتنه وکړه چې د فساد سره د مبارزې، عادلانه ټولټاکنو ترسره کولو، او د میرمنو حقونو خوندي کولو ژمنې پوره کړي ترڅو د راتلونکو 16 میلیاردو امریکایي ډالرو لپاره مستحق شي. د لوړ پوړو چارواکو یوې غونډې د ټوکیو د دوه اړخیزو حساب ورکولو کاري چوکاټ، چې د 2012 د ټوکیو کنفرانس اصلي پایله وه، ارزونه وکړه. د کاري چوکاټ په اساس، د افغانستان حکومت ژمنه کړې ترڅو حکومتولي او د خپل بشري حقونو تیر فعالیتونه ښه کړي، پداسې حال کې چې نړیوالې ټولنې ژمنه کړې چې تر 2015 پورې 16 میلیارده امریکایي ډالر برابر کړي. له 40 هیوادونو او اتو نړیوالو ادارو او د افغانستان له حکومت څخه د لوړ پوړو چارواکو او د افغانستان د مدني ټولنې هیتانو پدې غونډه کې برخه اخیستي وه.[275]

برخه اخیستونکو موافقه وکړه چې په 2014 کې با اعتباره او هر اړخیزې ټولټاکنې به د نړیوالو د ملاتړ د دوام لپاره ډېرې مهمې وي. هغوی وویل چې دا مهمه ده چې د افغانستان حکومت د میرمنو حقونه خوندي کړي. هغوی د افغانستان حکومت هم وهڅاوو ترڅو د کابل بانک په قضیه کې مجرمین پیدا کړي ترڅو غلا شوې شتمنی بیرته لاسته رواړل شي. او هغو دا هم وویل لکه څنګه چې له نړیوال وجهي صندوق (IMF) سره موافقه شوې، حکومت باید د عواید نښو ته ځان ورسوي.[276]

د افغانستان د 2014 د اپریل په 5 د ولسمشرۍ ټولټاکنو ترسره کولو لپاره تیاری پر مخ روان دی. ولس مشر کرزي د 2013 د جولای په 17 یو قانون لاس لیک کړ چې د ټولټاکنو خپلواک کمیسیون (IEC) او د ټولټاکنو شکایتونو کمیسیون تشکیلاتو او طرزالعملونو بنې تعریفوي. د ټولټاکنو د شکایتونو کمیسیون د رایو د تقلب او نورو سرغړونو د حلولو لپاره دی.[277] د ټولټاکنو کمیسیون په می کې د افغانستان په ټولو 34 ولایتونو کې د رای ورکوونکو په ثبتولو پیل کړل.[278] د 2013 د جولای په 9 د امریکا سنا یوه غیر لازمې قطعنامه تایید

کړه چې د افغانستان حکومت هڅوي ترڅو د منل شویو نړیوالو دیموکراتیکو ستندردونو، د ټولټاکنو د یوې روښانه پروسې تاسیسولو، او د رای ورکوونکو او کاندیدانو لپاره د امنیت تامینولو په پام کې نیولو سره، روښانه او با اعتباره ټولټاکنې ترسره کړي.[279]

په جون کې طالبانو په قطر کې دفتر پرانیست، مګر د افغانستان حکومت او امریکا تر اوسه لدې حرکت سره خبرې ندې پیل کړي. د افغانستان او پاکستان لپاره د امریکا ځانګړی استازی، جیمز اف دابینز یو مطبوعاتي کنفرانس ته وویل چې د طالبانو هغه اعلامیه چې هغوی به د افغانستان له جغرافیې څخه په ګټې اخیستنې په بل هیڅ هیواد بریدونه نکوي، د امریکا لپاره کافي وه ترڅو له هغوی سره خبرې پیل کړي. مګر د 2013 د جون په 27، دابینز وویل چې طالبانو امریکا ته یو قطعي ځواب ندی ورکړی چې آیا د هغوی استازی به له امریکا یا د افغانستان د سولې عالي شورا له استازو سره وګوري.[280]

## پخلاینه او بیا یوځای کیدل

داسې احتمال وو چې د اوږدې مودې لپاره په ټپه ولاړې د سولې خبرې به د دې ربع په جون کې پیل شي کله چې طالبانو په قطر کې دفتر پرانیست. مګر د خبرو پلان هغه وخت له منځه ولاړ کله چې طالبانو "د افغانستان د اسلامي امارت" په نوم یوه لوحه پورته کړه او په دفتر باندې یې خپل تور او سپین بیرق اوچت کړ. د افغانستان چارواکو دا عملونه د خپل حکومت د مشروعیت په وړاندې یو توهین وګاڼه. ولسمشر کرزي له هغه پلان څخه په شاتګ وکړ ترڅو د سولې عالي شورا یو هییت د خبرو لپاره قطر ته ولیږي او له امریکا سره یې په دوه اړخیزې امنیتي موافقې خبرې وځنډولې. طالبانو بیا وروسته لوحه او بیرق کښته کړل، مګر د دې ربع تر پایه پورې په عامه توګه راپور ورکړ شوي هیڅ خبرې لدې ډلې سره ندې ترسره شوي.[281]

## د سولې عالي شورا

ولسمشر کرزي په جون کې اعلان وکړ چې د سولې عالي شورا غړي به ډیر ژر قطر ته ولاړ شي ترڅو له طالبانو سره خبرې پیل کړي او دې کار د پخلاینې د پروسې د پیلولو لپاره یو څه هیله پیدا کړه.[282] مګر دا روښانه نه وه چې آیا دا حرکت د سولې خبرو لپاره تر پخوا ډیر لیواله وو. طالبانو په جون او جولای کې په کابل کې په څو نښو باندې بریدونه ترسره کړل.[283]

د ربع په پیل کې، د سولې عالي شورا د افغانستان له سیاسي ګوندونو سره خپل لمړی غونډه وکړه. د بیلابیلو ګوندونو له 45 څخه زیاتو استازو، پشمول د مهمو سیاسي شخصیتونو، پدې غونډه کې برخه واخیستله ترڅو د سولې د پروسې په مخ وړلو لارو باندې خبرې وکړي. ټولیزه موخه دا وه چې د مهمو سیاسي شخصیتونو تر منځ موافقه پراخه شي او شورا وکولای شي چې له یوه ځواکمن حالت څخه له وسلوالو مخالفینو سره خبرې پیل کړي.[284]

## د افغانستان د سولې او بیا یوځای کیدلو پروګرام

د افغانستان د سولې او بیا یوځای کیدلو پروګرام (APRP) لپاره دا ربع یو بل ستونزمن وخت وو. د امریکا دفاع وزارت (DOD) ویلې چې لکه تیر ربع، نړیوالو مرستندویانو هغه وخت مرستې بندې کړې کله چې د APRP ګډې دارالنشا (JS) ونشو کولای چې مالي حسابونه همغږې کړي. په پایله کې، ګډې دارالنشا او ولایتي ګډې دارالنشا ټیمونو نشو کولای په می او اپریل کې د اوږدې مودې لپاره انتقالي مرستې، معاشونه، وړې نغدې مرستې، یا نورې هڅې تمویل کړي. په پای کې ولایتونو ته په جون کې د مرستو بهیر پیل شو. د امریکا

# حکومتوالي

عکس 3.1

**د سیمه ایزې قوماندې په اساس بیا یو ځای شوي کسان، مارچ 2012 – جون 2013**







سرچینې: د سیګار درې میاشتنی رپوټ، 1/30/2013، مخ. 97؛ د سیګار 4/2/2013، 1/2/2013، 10/2/2012، 7/5/2012، او 3/30/2012 معلوماتي غوښتنو ته د State ځوابونه.

د بهرنیو چارو وزارت ولیدل چې ځنډونو د بیا یوځای کیدلو پروسې ته تاوان رسولی.[285] دا د مې په پای کې تر یوې اندازې د نړیوالو مرستندویانو د یوه مکتوب په وړاندې د ګډې دارالنشا له لورې د خواب لپاره وو، ګډې دارلنشا د مالي اصلاحاتو یوه لړۍ تطبیق کړې چې کولای شي په راتلونکې کې د مرستو د بهیر له بندیدو څخه مخنیوی وکړي.[286]

د راپور ورکولو په دې دوره کې، 370 نوي بیایوځای کیدونکي په رسمي توګه په APRP کې منل شوي او د پروګرام له پیل څخه ټوله شمیره 6779 ده، لکه څنګه چې پدې عکس 3.1 کې ښودل شوي. په ختیځ کې سیمه ایزې قوماندانی ډیره وده درلوده، او د بیا یوځای کیدونکو 42% لدې ولایتونو لکه بامیان، غزني، کاپیسا، خوست، کنړ، لغمان، لوګر، ننګرهار، نورستان، پکتیا، پنجشیر، پروان او وردګ څخه راغلي وو.[287] د قوماندان د بیا یوځای کیدلو د پروګرام پیل، چې د انفرادي کسانو لپاره د پیسو اندازه او انتقالي مرستې دوره زیاتوي، چې دا کسان تر خپلې قوماندې لاندې له جنګیالیو سره بیایوځای کیږي، د مهمو معامله کوونکو د جلبوولو لپاره یې د APRP وړتیا ښه کړې. نږدې 370 قوماندانان اوس په APRP ثبت دي.[288] دوولسو مرستندویو هیوادونو APRP ته ټولې 176.3 میلیونه امریکایي ډالر ورکړي دي. لدغو مرستو څخه د 2013 د جون تر 27 پورې، 84 میلیونه امریکایي ډالر لګول شوي دي.[289]

**د افغانستان د سولې او بیا یوځای کیدلو پروګرام:** د مخالفینو د یوځای کیدلو د ملاتړ او مدیریت لپاره د افغانستان حکومت اصلي پروګرام دی. دا پروګرام د طالبانو غړو او د حکومت په وړاندې نورو مخالفینو لپاره یوه لار برابروي ترڅو له تاوتریخوالې لاس واخلي او د افغانستان د ټولنې ګټور غړي شي. دا پروګرام د هغو کسانو لپاره چې ټولنې ته په سوله ایزه توګه راځي پراختیایي فرصتونه برابروي ترڅو د پروګرام بنسټلا زیاته کړي. دا پروګرام د یوې ګډې دارالنشا له لورې اداره کیږي. د ملګرو ملتونو پراختیایي پروګرام (UNDP) عملیاتي ملاتړ برابروي.

سرچینه: UNDP، ”د افغانستان د سولې او بیا یوځای کیدلو پروګرام لپاره ملاتړ،“ 7/2/2013؛ آیساف، ”APRP،“ په انټرنټ کې لاس رسی 7/2/2013.

## د ملي شخړې د حلولو ستراتیژي

APRP په پیل کې دا پلان درلود ترڅو د حکومت او د مدني ټولنې له بیلابیلو کسانو سره مصاحبه وکړي ترڅو دا معلومه کړي چې په یوه ځانګړي ولایت کې څه شی د شخړې سبب ګرځي. دې سازمان بیا یو پلان جوړ کړ ترڅو د شکایتونو یوه نقشه رسم کړي او

د ملي شخړې د حلولو ستراتيژي جوړه کړي. مګر د امريکا دفاع وزارت وېلي چې د شکايتونو د نقشې جوړول اوس هم تر زياتې کچې په لمړنيو پړاونو کې ده.[290] او د ګډې دارالنشا له لورې د شکايتونو د حلولو ستراتيژي چې د 2012 په جون کې تاييد شوي وه هم په عملي توګه نده کارول شوي. د امريکا د دفاع وزارت په وينا، يوه ستونزه هغه دا ده چې دا روښانه نده چې آيا ګډه دارالنشا يا د حکومت کومه بله اداره د شکايتونو د حلولو د مشرۍ مسوليت لري.[291]

## ملي او محلي حکومتولي

امريکا ډېر پروګرامونه تطبيق کړي دي ترڅو د افغانستان له حکومت سره مرسته وکړي چې د خپلې ملي او ولايتونو حکومتولۍ وړتيا د زياتولو، محلي حکومتولي، او د ملکي خدماتو روزنه ښه کړي. مګر، د پوره عوايد د ټولو کمزورۍ، فساد، د عامه عوايد د مديريت محدوده تجربه، د پروګرام غير اغيزمن نظارت، او د سيمه ايزې حکومتولۍ لپاره د بودجې کموالی ټول د يوه با ثباته افغان حکومت د جوړولو په وړاندې ستونزې دي.

### د کرزي د فرمان تطبيقول

د ولسمشر کرزي د 164 موادو پلان ترڅو د ولسمشرۍ د 45 فرمان په اساس فساد کم کړي په تير ربع کې يې د تطبيقولو پرمختګ ځنډنی شو، مګر د امريکا د بهرنيو چارو وزارت په وينا، حکومت د هغو دوو مادو چې د ګمرک د عوايد د راټولو د سيستم په اړه دي خپل کار ته دوام ورکړی.[292]

د فرمان يوه ماده دا سپارښتنه کوي چې د ماليې وزارت (MOF) يو پلان جوړ کړي ترڅو د ګمرکونو د تعرفو ټولول ښه کړي ترڅو د حکومت عوايد زيات شي. د نظارت او ارزونې د خپلواکې کميټې (MEC) د اپريل د راپور په وينا، چې دنده په فرمان کې د فساد په وړاندې د برخو له پرمختګ څخه نظارت وکړي، د ماليې وزارت د اعتبار وړ د 40 موادو يو پلان جوړ کړی ترڅو د ګمرک د عوايدو ټولول ښه کړي، مګر اړتيا لري ترڅو له رسمي حساب څخه د عوايدو ګرځولو لپاره اضافي اداري کنترولونه جوړ کړي.

د فرمان دويمې مادې د افغانستان بانک (DAB) څخه غوښتنه کړي ترڅو له هيواد څخه او په ځانګړې توګه د کابل له نړيوال هوايي ډګر څخه د ډېر نغدو پيسو د وړلو مخه ونيسي. راپور ويلي چې افغانستان بانک يوه ستراتيژی جوړه کړي، مګر بايد له هغو نورو ادارو سره چې د ډېرو نغدو پيسو د وړلو په کشفولو او مخه نيولو کې شامل دي لکه د افغانستان سرحدي پوليسو سره مشوره وکړي.[293]

د نظارت او ارزونې خپلواکې کميټې په کابل کې د امريکا د سفارت هڅې ستايلي ترڅو سرحدي پوليس د پيسو د مينځلو په وړاندې تخنيکونو کې وروزي، مګر ويلي چې د پيسو شميرلو هغه ماشينونه چې د سفارت له لورې په هوايي ډګر کې نصب شوي اوس ورڅخه کار نه اخيستل کيږي. سيګار هم ورته ستونزه موندلي کله چې يې په 2012 کې د پيسو شميرلو ماشينونه تفتيش کړل.[294]

راپور د نظارت او ارزونې کميټې په ګمرکونو کې د فساد مخنيوی لپاره نورې سپارښتنې چې "يو څه يا په بشپړه توګه تطبيق شوي" هم ارزولې: په سرحدونو، هوايي ډګرونو، د ګمرکونو په کورنيو بندرونو کې د شفافيت او حساب ورکولو په اړه د ولسمشرۍ اجرايي کميسيون تاسيسول، د تجارانو لپاره ميکانيزمونه تر څو هغوی وکولای شي خپلې ګمرکي تعرفې د بريښنايي سيستم له لارې ورکړي؛ د ګمرکونو د معلوماتو لپاره د يوه پراخ اتومات

سیستم څخه کار اخیستنه ترڅو د ګمرکونو معلومات لا زیات او تحلیل شي؛ د ګمرکونو آسانتیاوو ته د مهمو چاراوکو لاس رسی محدودول؛ د ګمرکونو د چاراوکو معاشونه زیاتول؛ او د افغانستان د ګمرکونو د قانون اصلاح ترڅو د ګمرکونو طرزالعملونه تشریح شي او د نه سپارلو وړ قانوني صلاحیت د ګمرکونو د کنترول ادارو ته ورکول شي.[295]

## ټولټاکنې



**525 میرمنو رای ورکړه**، چې دا په هلمند کې د لمړي ځل لپاره د ښځو د زیاتو رای ورکولو استازیتوب کوي. څلور څوکی د میرمنو لپاره ساتل شوي وې؛ پنځه میرمنې د ټولټاکنو لپاره ودریدلې. (د هلمند د ولایتي بیارغونې ټیم عکس)

پدې ربع کې د امریکا د اردو دوو پخوانیو لوړ پوړو چاراوکو خبرداری ورکړی چې ”د افغانستان لپاره حقیقي جوړ یا مات سیاسي پیښه به کیدای شي د 2014 ټولټاکنې وي.“ په یوه راپور کې چې د نوي امریکا د مرکز لپاره لیکل شوې وه، د نړیوالې امنیتي همکارۍ ځواک (ISAF) پخوانی قوماندان، جنرال جان الن او د امریکا د دفاع پخوانی وزیر معاون، د بروکینګز له غړي مایک اوهانلن سره یوځای ویلي چې د 2014 د اپریل د 5 په ټولټاکنو کې غیرمشروع پروسه یا پایله کیدای شي د هیواد د قومونو ترمنځ واټن زیات کړي، بیرته کورنی جنګ پیل شي، او د مرستندویانو د خپګان سبب شي هغوی خپله مرسته بنده کړي یا خپلې امنیتي ژمنې ډیرې کمې کړي.[296]

دایوید پیرس، د افغانستان او پاکستان لپاره د امریکا د ځانګړي استازي معاون، په می کې د کانګرس په وړاندې شهادت ورکړ چې د امریکا بهرنیو چارو وزات درې لمړیتوبونه پیژندلي چې دا به د یوه با اعتباره ټولټاکنو لپاره کلک بنسټ جوړ کړي؟ لمړی دا وو چې پارلمان قانون تایید کړي ترڅو په حقیقي توګه د شکایتونو د قضاوت لپاره یوه خپلواکه اداره تاسیس شي. دویم، د ټولټاکنو خپلواک کمیسیون (IEC) چې د ټولټاکنو د ترسره کولو مسولیت لري باید یو تجربه لرونکی او اغیزمن رییس ولري. دریم، د ټولټاکنو خپلواک کمیسیون باید خپل عملیاتي پلان تطبیق کړي.[297]

کله چې ولسمشر کرزي هغه قانون لاس لیک کړ چې د ټولټاکنو شکایتونو کمیسیون به هغه اداره وي چې په شکایتونو قضاوت وکړي، افغانستان په لمړي لمړیتوب کې پرمختګ وکړ. مګر، د ټولټاکنو شکایتونو کمیسیون به هغه دوه بهرني نور ونلري چې د ملګرو ملتونو له لورې په پنځو غړو کې ټاکل کیدل. په ځای یې یوه کمیټه به ولسمشر کرزي ته د افغان کاندیدانو یو لنډ لست وړاندې کړي ترڅو لدې لست څخه د دې کمیسیون غړي وټاکي.[298] په دویمه مسله کې، ولسمشر کرزي لا تر اوسه د ټولټاکنو خپلواک کمیسیون لپاره نوی رییس ندی ټاکلی.[299] په دریمه مسله کې، د ټولټاکنو خپلواک کمیسیون د خپل عملیاتي پلان په عملي کولو کار کوي.[300]

د اساسي قانون په اساس ولسمشر کرزی نشي کولای چې په راتلونکي کال کې د ولسمشرۍ لپاره کاندید شي او ځو ځله یې ویلي چې نه غواړي کاندید شي. تر اوسه د ولسمشرۍ لپاره هیڅ غوره کاندید څرګند شوی ندی.[301]

## د ټولټاکنو خپلواک کمیسیون

د 2013 د می په 26 د ټولټاکنو خپلواک کمیسیون د 2014 د ولسمشرۍ او ولایتي ټولټاکنو لپاره د رای ورکوونکو ثبتول پیل کړل. د رای ورکولو هغه کارتونه چې په تیرو کلونو کې توزیع شوي اوس هم قانوني دي. نوي کارتونه د هغو افغانانو لپاره توزیع کیږي چې له 18 کلونو څخه یې عمر ډیر دی یا به تر ټولټاکنو پورې 18 کلن شي او پخوا ثبت شوي ندي. دا کارتونه هغو افغانانو ته هم توزیع کیږي چې د خپلو ټولټاکنو له حوزو څخه یې کډه کړې وي، یا یې کارت ورک شوی یا خراب شوی وي، یا پدې وروستیو کې بیرته خپل هیواد

# حکومتولي

ته راستانه شوي.[302] پداسې حال کې چې امنيتي وزارتونه د رای ورکولو مرکزونو د امنيت په ارزونه پيل کوي، د ټولټاکنو خپلواک کميسيون له امنيتي وزارتونو سره مشوره کوي ترڅو د رای ورکولو مرکزونو امنيت لپاره هراړخيز پلان بشپړ کړي. د USAID په وينا، د ټولټاکنو خپلواک کميسيون د ټولټاکنو عملياتي پروګرام د درغلۍ د ګامونو د تطبيقولو لپاره يو ښه کاري چوکاټ لري ترڅو د ټولټاکنو مساوات او روڼتيا ښه کړي.[303] د کميسيون د اوسني رييس دوره د 2013 د اپريل په 15 پای ته ورسيده، مګر هغه تر هغه وخته پدې دنده پاتې کيږي ترڅو چې يې ځای ناستی وټاکل شي.[304]

## د ټولټاکنو د شکايتونو کميسيون

کله چې ولسمشر کرزي د 2013 د جولای په 17 يو قانون امضا کړ د ټولټاکنو د شکايتونو کميسيون ته نوی ژوند ورکړ شو، او د دې هيواد د ټولټاکنو د قضاوت کوونکي په توګه بيرته تاسيس شو. د 2009 په ټولټاکنو کې دې کميسيون په سلهاوو رايې تر ډيرې کچې د کرزي لپاره فسخه کړې، او د ټولټاکنو د دويم پړاو سبب شوي، مګر لدې کاره هغه وخت مخنيوی وشو کله چې د کرزي سيال له سيالۍ څخه ووت. د دې کال په پيل کې، کرزي هغه قانون رد کړ چې د ملګرو ملتونو له لوري به يې پدې کميسيون کې د دوو بهرنيانو ټاکلو ته هم اجازه ورکوله. وروسته بيا په پارلمان کې په يوه کميسيون باندې جوړ جاړی وشو چې يوازې به له افغانانو څخه جوړ شي. ولسشمر به له هغه لست څخه د دې کميسيون غړي وټاکي چې د يوې کميټې له لورې به په يوه لنډ لست کې غوره شي، پدې کميټه کې د پارلمان دوه رييسان، د افغانستان د بشري حقونو د کميسيون مشره، د سترې محکمې رييس، د اساسي قانون د نظارت کميسيون رييس، او له مدني ټولنې څخه يو کس غړيتوب لري. امريکا او نورو مرستندويانو د افغانستان په حکومت باندې فشار راوړ ترڅو دا قانون تاييد کړي، او ويلي چې د مرستو دوام د عادلانه او آزادو ټولټاکنو په ترسره کولو پورې اړه لري.[305]

## بريښنايي تذکره

د کورنيو چارو وزارت د بريښنايي تذکرې توزيع ځنډولې، دا د ملي هويت يو بريښنايي کارت دی او کيدای شي لدې کارت څخه د رای ورکونکې ثبتولو لپاره هم کار واخيستل شي.[306] د بريښنايي تذکرې موخه دا ده ترڅو په متوسطه او اوږده موده کې د رای ورکوونکو د پيژندلو د بنسټ په توګه ورڅخه کار واخيستل شي. د امريکا د بهرنيو چارو وزارت ويلي چې د بريښنايي تذکرې ګټه پدې کې ده چې د معلوماتو د پيژندلو د يوه کارت په توګه کولای شي د حکومت خدمتونو رسول ښه کړي، تقلب او فساد کم کړي، د هر اړخيزو رای ورکولو آسانتيا برابره کړي، او د مثبت پيژند له لارې امنيت ښه کړي. ستونزه يې دا ده چې په افغانستان کې له ټولو وګړو څخه معلوماتو راټولول او ثبتول يو ستونزمن کار دی، ځکه چې يا سړکونه خراب دي او يا هم د امنيت اندیښنې شتون لري. دا دواړه د تطبيقولو لګښت ډيروي؟ د افغانستان حکومت داسې تخمين کړی دی چې د نږدې 30 ميليونو وګړو ثبتولو د پيل پروسې لپاره به 120 ميليونو امريکايي ډالرو ته اړتيا وي.[307]

## د USAID د ټولټاکنو ملاتړ

USAID لمړی اداره ده چې مرستې او د پروګرامونو اداره برابروي ترڅو د افغانستان د بنسټونو او مدني ټولنې وړتيا زياته کړي او هغوی وکولای شي د ټولټاکنې پروسې مديريت وکړي او برخه پکې واخلي. د امريکا حکومت له 2009 څخه تر 2013 پورې 179 ميليونه

امریکايي ډالر د پروګرامونو لپاره برابر کړي چې کارونه يې د رای ورکوونکو په اغیزمن ثبتولو، عامه او رای ورکوونکو روزنه، د ټولټاکنو او قانون اصلاحات، او سیاسي برخه اخیستلو ته پراختیا ورکولو برخو کې دي. د 2014 ولسمشری او ولایتي شوراګانو ټولټاکنو، او د 2015 پارلماني ټولټاکنو لپاره به اضافي 95 میلیونه امریکایی ډالر برابر کړي.[308]
د ټولټاکنو خپلواک کمیسیون اټکل کوي چې د 2014 ټولټاکنو ټول لګښت به 129 میلیونه امریکايي ډالر وي.[309] USAID د ملګرو ملتونو د پراختیا پروګرام (UNDP) د ټولټاکنو د هر اړخیز ملاتړ پروګرام کې برخه اخلي، چې دا پروګرام د سبا د پروژې لپاره قانوني او تاکنیزي وړتیا ته پراختیا ورکوي.[310]
د ټولټاکنو يو بل مهم پروګرام چې USAID تمویلوي د افغانستان د ټولټاکنو اصلاح او عامه ملاتړ (ACERA) دی. دا پروګرام په میري لینډ کې، د تجارت کوچني قراردادي نړیوالې دیموکراسی له لورې په مخ وړل کیږي، ACERA په ساحه کې د ټولټاکنو د عامه روزنې په اړه تحقیق کوي او له مدني ټولنو سازمانونو سره مرسته کوي ترڅو ټولنو ته د ټولټاکنو په پروسه کې د برخې اخیستنې په اړه روزنه ورکړي. تر اوسه نږدې 25.59 میلیونه امریکايي ډالر پدې پروګرام باندې لګیدلي دي.[311]
پدې ربع کې نړیوالې دیموکراسی د یوې سروې پایلي اعلان کړي چې افغانان پدې یو بل سره مخالف دي چې د دوی په هیواد کې تر کومې کچې دیموکراسي په ښه توګه کار کوي. پداسې حال کې چې 39% افغانان دا چې دیموکراسي څنګه کار کوي تر یوې کچې د رضایت په اړه راپور ورکوي، مګر 33% د نه رضایت راپور ورکوي. پداسې حال کې چې افغانان د ټولټاکنو له پروسې څخه خوشهاله دي، مګر د هغو بنسټونو په اړه چې ټولټاکنې اداره کوي، عامه پوهه کمه ده. نږدې 62% افغانان راپور ورکوي چې هغوی د ټولټاکنو د خپلواک کمیسیون له کارونو سره آشنا ندي، او 33% راپور ورکوي چې هغوی د ټولټاکنو د خپلواک کمیسیون د ونډې په اړه ښه نه پوهیږي. د معلوماتو په واټن برسیره، 76% افغانان پلان لري ترڅو د ولسمشری په راتلونکو ټولټاکنو کې برخه واخلي. سروې دا هم موندل چې 73% افغانانو باور ندرلود چې وسلوالو مخالفینو، پخوانیو یا اوسنیو، ته باید په ټولټاکنو کې د کاندیدانو په توګه د برخې اخیستنې اجازه ورنکړ شي. پدې سروې کې نږدې 4000 بیلا بیل غوره شوي افغانانو د افغانستان له 34 ولایتونو څخه د 63 پوښتنو په سروې کې د 2012 د اکتوبر له 1 څخه د نومبر تر 20 پورې برخه واخیستله.[312]

## ملي شورا

د امریکا بهرنیو چارو وزارت ویلي چې د افغانستان ملي شورا په کراره توګه د یوه ځواکمن، تر ډیرې کچې سیاسي تجربې د بنسټ لورې ته وده کوي. د اجراییه قوی په پرتله مقننه څانګه اوس هم کمزورې ده، مګر داسې ښکاري چې د پارلمان غړي هڅه کوي ترڅو خپل لاسونه ځواکمن کړي. مګر، د کارکوونکو ستونزې، فساد، او د زده کړې ټیټه کچه او تجربه هغه ستونزې دي چې دا اداره تر اوسه نیمګړې پاتې ده.[313]
د امریکا د بهرنیو چارو وزارت ویلي چې پدې ربع کې د ملي شورا له لورې د قانون مهمه مسوده د ټولټاکنو د خپلواک کمیسیون د تشکیلاتو قانون وو، چې د ټولټاکنو د خپلواک کمیسیون د کمیشنرانو د ټاکلو او د ټولټاکنو د شکایتونو د کمیسیون تاسیسولو طرزالعملونه تشریح کوي. کرزي د اساسي قانون په اساس د اپریل په 27 دا قانون رد کړ. د ټولټاکنو خپلواک کمیسیون تشکیلاتو قانون بیرته ولسي جرګې ته وړاندي شو او تعدیل شوې نسخه

د جون په 10 تایید شوه. مشرانو جرګې بیا د قانون دا مسوده له اضافي تعدیلاتو سره د جون په 23 تایید کړه. یوې ګډې کمیټې دواړو نسخو باندې کار وکړ ترڅو توپیرونه سره همغږي کړي.[314] د جولای په 17، ولسمشر کرزي دا مسوده د قانون په توګه لاس لیک کړه.[315]

تر دې ربع پورې، USAID د افغانستان د پارلماني مرستې له لارې د افغانستان د ملي شورا لپاره مرسته برابروله. USAID وایي چې هغه پروګرام د افغانستان د مقننه بنسټونو لپاره د مرستو (ALBA) پروژې باندې بدل شوی. ALBA به د 2017 تر اپریل دوام ومومي او امکان لري د مرستې په شته والي او د پروژې د بریا په صورت کې به د یوه بل کال لپاره تمدید شي. د ALBA پروژې په لمړیو دوو کلونو کې، د 2015 تر پارلماني ټولټاکنو وړاندې، هڅې به په پارلماني ظرفیت لوړولو باندې وي. کله چې پارلمان خپل ځای پیدا کړ، پروژه به خپل کار تر ډېرې کچې د وکیلانو په انفرادي او د پارلمان د کمیسیونونو په روزنه پیل کړي. د 2013 د جون تر 30 پورې، USAID د پارلمان د مرستې لپاره 4.91 میلیونه امریکایي ډالر مکلف کړي دي.[316]

## د ملکي خدماتو ظرفیت

لکه څنګه چې ولسمشر کرزي د فساد په وړاندې ګامونو کې په خپل 45 فرمان کې هدایت ورکړی وو، د افغانستان د اداري اصلاحاتو او ملکي خدماتو خپلواک کمیسیون پلان درلود ترڅو په سږ کال کې د داخلیدو عمومي آزموینه تطبیق کړي، ترڅو په ټول هیواد کې له پوهنتون څخه نوي فارغ شوي د ملکي خدماتو بستونو لپاره استخدام کړي. اټکل کیدو چې آزموینه به په اپریل کې ترسره شي، مګر تر هغه وخته وځنډیدله ترڅو چې پارلمان د آزموینې لپاره قانون تایید کړي. د اوس وخت لپاره، ملکي کارکوونکي د پخواني طرزالعملونو په اساس استخدامیږي.[317]

## ملي بودجه جوړول

د 2013 په جنوری کې، ملي شورا هغه بودجه تایید کړه چې د مالیې وزارت له لورې وړاندې شوې وه. په وړاندیز کې د عواید راټولولو له لارې تر ډېرې کچې د خود کفایي په تضمین باندې ټینګار شوی وو. ټوله وړاندیز شوې بودجه 6.81 میلیارده امریکایي ډالر وه (3.77 میلیارده امریکایي ډالر عملیاتي بودجه او 3.03 میلیارده امریکایي ډالر انکشافي بودجه).[318]

نړیوال بانک راپور ورکړی چې په 2012 کال کې د افغانستان حکومت عواید 13.1% زیات شوي، مګر د نړیوال وجهي صندوق نښو ته نده رسیدلی، او اصلي علت دا وو سره لدې چې صادارتو کچه لوړه وه د ګمرکونو عواید 9.6% ټیټ شوي.[319] لوړ پوړي چارواکي چې ګډ راپور جوړوي خبرداری ورکړی چې عوایدو ټولول له مهمو ننګونو سره مخامخ دي ځکه چې مخ په خرابیدو امنیتي اوضاع، د قانون حاکمیت په وړاندې محدودیتونه، او د سازمانونو کم ظرفیت، هغه ټول شیان دي چې د مالیې ټولول له خنډ سره مخامخ کوي او دا احتمال شته چې عواید بل لورې ته وګرځول شي.[320]

## محلي حکومتولي

امریکا او ملګري یې ولایتي بیا رغوني ټیمونو (PRT) ترلو ته دوام ورکوي، هغه ټیمونه چې دوی د دې لپاره تاسیس کړل ترڅو د افغانستان له محلي حکومتونو سره مرسته وکړي. د ولایتي بیارغوني هغه ټیمونه چې د 2013 تر جنوری پورې یې کارونه په مخ وړل، اوس تړل شوي دي: بغلان، بامیان، کندهار، خوست، کنړ، ننګرهار، پکتیا، او پکتیکا، لکه څنګه چې پدې عکس 3.28 کې ښودل شوي.[321] اټکل کیږي چې نور تړل به په راتلونکي کال کې ترسره شي.

# حکومتوالي

عکس 3.28

**د ولایتي بیارغونې د ټیمونو دریځ**




سرچینه: د سیګار د معلوماتو غوښتې په اړه، د امریکا د دفاع وزارت ځواب، 6/5/2013.

د امریکا بهرنیو چارو وزارت ویلي، چې د 2012 په پای کې، په هغه توګه چې ولایتي بیارغونې ټیم هره ورځ د ولایتي، ولسوالی، او اړوندو وزاتونو چاروکو نظارت کاوو، یوه زړه طریقه شوې وه. لکه څنګه چې محلي حکومتونو مشری په غاړه واخیسته او امریکایي چارواکو ځان په شا کړ، والیانو، د افغانستان امنیتي چارواکو، ولایتي او ولسوالیو شوراګانو، او د اړوندو وزارتونو چارواکو په ګډه کار کول پیل کړل ترڅو محلي ستونزي حل کړي. د امریکا د بهرنیو چارو وزارت د امریکا اردو له ملاتړ څخه کار اخلي او تر هغه وخته پورې چې کیدای شي د امریکا له لورې تمویل شوي پروګرامونو نظارت وکړي. دا وزارت پوهیږي چې د اردو سیار ملاتړ به کم شي او پدې لټه کې دی چې د نظارت یو دریم ګړی سیستم پیدا کړي.[322]

د USAID له لورې محلي حکومتولی د جوړښت پروژې لپاره ملاتړ موخه داده ترڅو د افغانستان د 32 ولایتي شوراګانو ظرفیت ته وده ورکړي او د محلي حکومتولۍ خپلواک ریاست ته تخنیکي مرسته برابره کړي. پدې ربع کې، دې پروګرام یو شمیر عامه اوریدنې،

# حکومتولي

ساحوي ليدني، انجووګانو سره غونډې، سيمې ته سفرونه، او د هيواد په زياتو ولايتونو کې په بيلابيلو موضوع ګانو کې روزنې ترسره کړي. له 18.98 ميليونو مکلف شويو امريکايي ډالرو، دې پروګرام 16.75 ميليونه امريکايي ډالر لګولي دي. او د 2013 د سپټمبر په 30 به دا پروګرام ختم شي.[323]

## د امريکا د ثبات پروګرامونه

د امريکا دفاع وزارت او USAID د ثبات پروګرامونه په مخ وړي ترڅو په نا امنه سيمو کې د افغانستان حکومت لاس رسي ته پراختيا ورکړي، امنيت له خرابيدلو وساتي، او د سپارلو او اوږد مهاله پراختيا لپاره شرايط برابر کړي.[324]

## په مهمو ځايونو کې د ثبات پروګرام

په اوس وخت کې، USAID په ټول افغانستان کې په مهمو ځايونو کې ثبات (SIKA) پروګرامونه اداره کوي. USAID د SIKA څلور سيمه ايز پروګرامونه په شمال، سويل، ختيځ، او لويديځ کې د بيلابيلو قراردادونو له لارې د 203 ميليونو امريکايي ډالرو په ارزښت جوړ کړي. د AECOM نړيوال پراختيايي شرکت د SIKA ختيځ، SIKA لويديځ، او SIKA سويل قراردادونه لاسته راوړي. د بديل پراختيايي چارو شرکت، د SIKA شمال قرارداد لاسته راوړی. د قراردادونو په اساس، پروګرامونه به له ټولنو سره د هغو پروژو لپاره مرسته وکړي چې د ټولنې له لورې د ثبات د سرچينو په توګه پيژندل شوي.

که څه هم USAID د 2013 د مارچ تر 31 پورې، نږدې 47 ميليونه امريکايي ډالره د SIKA څلورو قراردادونو لپاره لګولي، د سيګار يوې پلټنې چې پدې ربع کې خپره شوي دا موندلي چې د مرستو هيڅ برخه د ټولنو د پروژو د تمويل لپاره لکه هغې پروژې چې ډيرو کارکوونکو ته اړتيا لري يا د زير بنا پروژې دي ندي لګول شوي، لکه څنګه چې SIKA په قراردادونو کې راغلي.

د SIKA قراردادونو د پروګرامونو په اهميت ټينګار کړی ترڅو د افغاستان حکومت د ضميمي په توګه وليدل شي. مګر، USAID د افغانستان د حکومت له مهمو ملګرو سره د SIKA له قرارداد څخه تر نهو مياشتو وروسته کومه رسمي موافقه نه وه امضا کړي. په دې برسيره، د SIKA څلورو سيمه ايزو قراردادیانو دا ويلي چې د افغانستان له حکومت سره د موافقې نشتون هغه مهم علت وو چې د پروګرام په تطبيقولو کې زيات ځنډونه را منځ ته شوي. که څه هم قراردادیانو هيڅ مرستي نه وي ترسره کړي، ځنډونه د دې سبب شول ترڅو USAID د قراردادونو د فعاليت دوره درې مياشتي نوره هم تمديد کړي. د مرستو په وړاندې کولو کې ټوليز ځنډونه ښکاري چې برخه اخيستونکي له پروګرامونو څخه خوشهاله ندي. د بيلګې په توګه، پلټنې موندل چې په يوه سيمه ايز پروګرام کې برخه اخيستونکي د پلان کولو په ډيرو ورکشاپونو کې د برخه اخيستلو له کبله ستړي شوي دي. په پايله کې، پروګرام له خطر سره مخامخ دی ترڅو د ثبات د هڅولو او د خپل حکومت په اړه د افغانانو نظر ښه کولو موخې کمې کړي.[325]

## د کليو ثبات عملياتونه

د کليو د ثبات عملياتونه (VSO) او د افغانستان محلي پوليس (ALP) د افغانستان د حکومت او د افغانستان د ملي اردو (ANA) د ځانګړو عملياتو قوماندانی د مخالفينو په وړاندې د ستراتيژی ضميموي برخې دي. د محلي پوليسو له لورې زيات برابر شوی امنيت د ولايتي او ولسوالی د حکومتونو توان زياتوي ترڅو د خلکو لپاره ضروري خدمات او مواد

### د سيګار پلټنه

پدې ربع کې د سيګار يوې پلټنې موندلي چې د SIKA پروګرام د تطبيقولو له زياتو ځنډونو څخه زيانمن شوې او د قرارداد اړتياوې يې ندي پوره کړي. د لا نورو معلوماتو لپاره، په دويمه برخه کې، 36 پاڼه وګوری.

برابر کړي. د امریکا دفاع وزارت په وینا، محلي پولیس په کم لګښت باندي په مهمو محلي سیمو کې ضروري امنیت برابروي. د محلي پولیسو د یوه غړي د روزنې او ساتنې لپاره په هر کال کې 6000 امریکایي ډالرو ته اړتیا ده، پداسي حال کې چې د افغان ملي پولیسو یو غړي یو شپږم لګښت ته او د ملي اردو یو غړی یو اتم لګښت. د محلي پولیسو د 30000 تایید شویو غړو په اوسنی شمیره، په ټولیزه توګه پروګرام په هر کال کې 180 میلیونه امریکایی ډالر لګښت لري. ISAF یو وړاندیز کوي ترڅو د محلي پولیسو اوسنی شمیره باندي 5000 نور غړي هم اضافه شي، چې دا به په هر کال کې اضافي 30 میلیونو امریکایي ډالرو ته اړتیا ولري.[326]

## د امریکا د عامه ادارو لپاره د ظرفیت لوړولو پروګرامونه

د امریکا د بیارغونې د هڅو لوړه موخه داده ترڅو د حکومت د اداره کولو لپاره د افغانانو ظرفیتونو ته وده ورکړي. امریکا یو شمیر پروګرامونه تطبیقوي ترڅو په ملي، ولایتي، او محلي کچو د افغانانو حکومت کولو ظرفیتونو ته وده ورکړي. دا فرعي برخه ځیني دا هڅې ارزوي.

## د افغانستان د مدني ټولنې پراختیا نوښت

USAID ویلي چې دې ادارې د افغانستان د مدني ټولنې د ملاتړ نوښت (IPACS) درې موخې لري. لمړی، دا نوښت پدې لټه کې دی ترڅو د مدني ټولنو حساب ورکول ښه کړي او د دې قانوني او مقرراتي کاري چوکاټونه ښه کړي؟ دویم، دا نوښت پدې لټه کې دی ترڅو د مدني ټولنې ظرفیت ته وده ورکړي. دریم، دا نوښت پدې لټه کې دی ترڅو د وګړو تنظیمول او په پالیسیو کې د هغوی برخه اخیستل زیات کړي. کاونټر پارټ انټرنیشنل د دې نوښت تطبیق کوونکی دی. نږدې 45 میلیونه امریکایي ډالر د دې پروګرام لپاره مکلف شوي دي، د 2013 د جون تر 29 پورې، لدغو څخه 32.3 میلیونه امریکایي ډالر لګول شوي دي.[327]

د دې پروګرام د دې ربع په مهمو کارونو کې دا شامل وو: کاونټر پارټ د مالیي د امتیازونو د یوې ټولګې وړاندیز کړی چې دا به د انجووګانو د دوام ملاتړ وکړي. کاونټر پارټ او مهمو ملګرو یې په ټولنه کې 76 او د ولایتي پالیسی 16 دوه اړخیزي خبري ترسره کړي دي. او کاونټر پارټ د خپل "راتلونکو مشرانو" پروګرام کې د برخې اخیستنې لپاره 34 کاندیدان غوره کړي او پدې لړی کې یې د برخه اخیستونکو لپاره د روزنې لمړی غونډې کوربه توب کړی.[328]

پداسي حال کې چې پروګرام مهم پرمختګونه کړي دي، USAID ویلي چې افغانان اوس هم د مدني ټولنې د ونډې په اړه نه پوهیږي، او دا تر ډیري کچې په مدني ټولنو باندي د نه اعتماد سبب شوی. IPACS پلان لري ترڅو د دې ستونزې لپاره د تلویزیون او راډیو د یو شمیر لنډو پروګرامونو لا لارې د حل لار پیدا کړي. دا اعلانونه به د مدني ټولنې په اړه چې څه ده او په محلي او د پالیسي جوړونې په کچه څه کوي، د خلکو او ټولنو لپاره څه کوي، ساده معلومات وړاندې کړي.[329]

نړیوال بانک مدني ټولنې ته داسې تعریف ورکړی، "د غیر حکومتي او غیر انتفاعي سازمانونو پراخه ډله چې په عامه ژوند کې شتون لري، د اخلاقي، کلتوري، سیاسي، علمي، مذهبي یا بشري تامل په اساس د خپلو غړو او نورو کتې او ارزښتونه وړاندې کوي."

سرچینه: نړیوال بانک، "مدني ټولنې تعریف،" http://web.worldbank.org/WBSITE/EXTERNAL/TOPICS/CSO/0,,contentMDK:20101499~menuPK:244752~pagePK:220503~piPK:220476~theSitePK:228717,00.html، لاس رسی 7/6/2013.

## د فعالیت په اساس د حکومتولی مرسته

د فعالیت په اساس د حکومتولۍ مرسته (PBGF) د والیانو د دفترونو (PGO) د مالي مدیریت د ظرفیت په لوړولو کار کوي. د والیانو د دفترونو د ظرفیت د هر ربع ارزونې دا پریکړه کوي چې کوم یو د مرستې امتیاز لاسته راوړي. ارزونې دا ښیي چې دې دفترونو په منظمه توګه پرمختګونه کړي.[330]

پروګرام له ننګونو سره مخامخ دی. د امنیتي مسلو له کبله، ویلي چې د افغانستان له 34 ولایتونو څخه په یوه کې کار نشي کولای. کاري چاپیریال یې ډېر سیاسي دی او بدلون مومي. تیر کال، 12 والیانو یا استعفا وکړه یا بدل شول. په والیانو کې بدلون ډېری وختونه د بودجې په پروسه باندې اغیز کوي. نوي والیان د بودجې جوړول او تطبیقول دروي ترڅو چې هغوی د PBGF په اړه معلومات لاسته راوړي. هغوی غواړي د پخواني والي بودجې ته هم بدلون ورکړي، او دا د پروسې په وړاندې نور خنډ جوړوي. هغه والیان چې د هر ربع په ارزونه کې یې ټیټه درجه لاسته راوړي، له پروژې څخه یې غوښتنه کړي ترڅو د پایلو په اړه په پراخو او پیچلو خبرو کې بوخت شي. که څه هم په پروژه کې کلکې کورنی پلټنې برخي شامل دي، مګر د فساد قضیې را پورته شوي دي.[331]

د PBGF لپاره ټوله مکلف شوي بودجه 48.89 میلیونه امریکایي ډالر ده، لدغو څخه 45.85 میلیونه امریکایي ډالر لګول شوې دي.[332]

## د RAMP-UP او د کابل ښار د نوښت پروګرام

د USAID د افغانستان د ښارونو وګړو لپاره د سیمه ایزو ښاروالیو پروګرام (RAMP-UP) او د کابل ښار د نوښت پروګرام (KCI) دواړه په کابل او نورو ښاري مرکزونو کې د حکومت له ښاروالیو سره مرسته کوي ترڅو د ښاروالیو چارواکو ظرفیت ته وده ورکړي، د ښاروالیو خدماتو رسول ښه کړي، د اقتصادي پراختیا نوښتونو ملاتړ وکړي، او عواید زیات کړي.[333] د 2013 د جون تر 30 پورې، USAID د RAMP-UP لپاره 251.04 میلونه امریکایي ډالر او د KCI لپاره 41.43 میلیونه امریکایي ډالر مکلف کړي دي او لدغو څخه 198.28 میلیونه امریکایي ډالر او 38.98 میلیونه امریکایي ډالر یې لګولي دي.[334]

ښاروالی ملاتړ پروګرامونه د افغانستان د ټولو 34 ولایتونو په مرکزونو کې او یو شمیر ولسوالیو مرکزونو کې کار کوي. پدې وروستیو کې، RAMP-UP د سیمه ایزي ختیځي قوماندانی لسو ولسوالیو لپاره محدوده روزنه د لویو ولایتونو په مرکزونو کې روزنه برابره کړي. په هغو وړو زیربنایي پروژو کې چې د پروګرام له یوې برخې څخه دي، سړکونو، پیاده لارو، د اوبو لارو وړو پلچکونو بیا رغونه، د سړکونو څراغونو نصبول، او د مارکیټونو، تشنابونو، کنډونو، مسلخونو، او عامه پارکونو جوړول شامل دي.[335]

USAID ویلي چې وګړي اوس کولای شي د یو شمیر رسمي میکانیزمونو له لارو لکه په صالون کې د غونډو، د بودجې اوریدنو، او مخابرې له لارو د ښاروالی چارواکي مسول وګڼي. USAID د ښاروالی د مشورتي بورد له جوړولو سره مرسته کوي، دا د استازیتوب هغي اداري دي چې د ښاروالیو فعالیتونو څارنه کوي او د وګړو اندیښني وړاندی کوي. کیدای شي د ښاروالی ټولټاکنې د 2015 په پیل کې ترسره شي. دا به د ښاروالی د حکومتولي جوړښت د افغانستان له اساسي قانون سره برابر کړي. د متحد مالي اداري سیستم، چې USAID تمویل کړی او د وخت په تیریدو سره به ټولو ښاروالیو ته وغزول شي، د ښاروالی د مالي معاملو په اتومات او شفاف کولو سره فساد کموي.[336] سیګار پلان لري ترڅو د RAMP-UP او KCI په اړه په راتلونکي کې کار وکړي.



د افغانسـتان مطبوعات په هغه مطبوعاتي کنفرانس کې ګډون کوي چې د دفاع وزير بسم الله محمدي له لورې د کابل په شمال کې د اوو ولايتونو د واليانو د شورا په وړاندې جوړ شوی. (د امريکا اردو عکس)

## د افغانستان د مطبوعاتو پراختيا او اختيار ورکولو پروژه

د USAID د افغانستان د مطبوعاتو پراختيا او اختيار ورکولو پروژه (AMDEP) په افغانستان کې د مطبوعاتي بنسټونو په منځ کې د زيات تخصصي کارونو د ودې ورکولو له لارې د خپلواکو مطبوعاتو د ظرفيت لوړو لپاره ډيزاين شوې. د دې پروژې تطبيق کوونکی د انترنيوز شبکه ده.[337]

AMDEP د سلام وطندار راډيو چې په انګليسي ژبه ("هيلو کنټري مين") ورته وايي خبرونه او اوسني موضوع ګانو خدماتو او د ولايتونو د 58 ولايتي ملګرو د راډيو سټيشنونو د شبکو ملاتړ کوي. AMDEP د راډيو لپاره هره ورځ موضوع ګانې، روانه مشوره، او مناسبه مرسته برابروي ترڅو د پروګرام کيفيت ښه کړي، د تخنيکي کارکوونکو ظرفيت زيات کړي، او د مالي امکاناتو دوام ښه کړي. د AMDEP له لورې تمويل شوی د سلام وطندار پروګرامونه په ولايتونو کې د ملګرو راډيوګانو شبکې له لارې نږدې 13 ميليون افغان وګړي اوري. د راپور ورکولو پدې دوره کې، شپږ نور راډيو سټيشنونه هم پدې شبکه کې ګډ شول.[338]

AMDEP په افغانستان کې د نی له آزادو مطبوعاتو ملاتړ څخه ملاتړ کوي، نی په افغانستان کې د مطبوعاتو ملاتړ او د روزنې مخکښی سازمان دی، او په کابل، ننګرهار، کندهار، هرات او بلخ ولايتونو کې دفترونه لري. نی د مطبوعاتو استازي يوځای کوي ترڅو د ملاتړ بيلابيل نوښتونه لکه مطبوعاتي کنفرانسونه، مطبوعاتي بيانيې، او اړوندي غونډې ترسره کړي. د نی د مطبوعاتو نظارت ژورناليستانو ته تهديدونه او د بيان د آزادی په وړاندې پېښې تعقيبوي. د نی د فارغينو کلب د تخصصي رواني ودې لپاره د بحثونو غونډې او د نی د روزنو لاسته راوړونکو او د مطبوعاتو ځوان ليوالو لپاره ملاتړ برابروي. د نی مطبوعاتو انستيتيوټ د دوو کلونو ډيپلوم د کورس له لارې د لوړې کچې حرفوي زده کړه برابروي.[339]

د انټرنیوز مشاروین د مخابراتو او ټیکنالوجی او د اطلاعاتو او کلتور وزارتونو لپاره هر اړخیزي تخنیکي مشورې او د فریکونسي په اداره کولو کې مشوره برابروي.[340]

USAID د AMDEP لپاره 31.8 میلیونه امریکايي ډالر مکلف کړي دي، لدغو څخه 28.65 میلیونه امریکايي ډالر لګول شوي دي.[341]

## د قضا اصلاحات او د قانون حاکمیت

د افغانستان لپاره د قانون حاکمیت پلي کول د حکومتولی یوه لویه ننګونه ده. په افغانستان کې قضا اوس هم د بیلا بیلو سیستمونو له لارو پلي کیږي. حکومت یو رسمي سیستم تمویلوي، چې د افغانستان د شرعي قانون په اساس رسمي محکمې او روزل شوي قاضیان لري. لکه څنګه چې پدې عکس 3.29 کې ښودل شوي افغانانو د لمړي ځل لپاره په 2012 کې له رسمي سیستم څخه تر غیر رسمي سیستم زیات کار واخیست، غیر رسمي سیستم له مشرانو، د حکومت محلي چارواکو، او مذهبي مشرانو څخه جوړ شوی.[342] USAID ویلي چې رسمي سیستم ته فساد ننګوني پیدا کړي، پداسي حال کې چې غیر رسمی سیستم د دودیزو باورونو په اساس کار کوي چې ډیری وختونه د اسلام قانون او د افغانستان له اساسي قانون څخه سرغړونه کوي. په پایله کې، طالبان تر خپل کنترول لاندې سیمو کې خپلي محکمې لري.[343]

د شفافیت نړیوال سازمان راپور ورکړی چې د فساد په اړه د عامه خلکو د نظرونو په کلنی سروي کې، افغانان پخپله ټولنه کې د قضا سیستم تر ټولو مفسده برخه ګڼي. سروي دا وموندل چې 60% افغانان وایی چې قضا د فساد له کبله اغیزمنه شوي، یا له نورو ادارو

عکس 3.29

**سلنه چې د افغانستان د قضا له سیستمونو څخه کار اخلي**




یادونه: د 2010 لپاره هیڅ معلوماتو راپور ندی ورکړ شوی.

سرچینه: د آسیا بنسټ، افغانستان په 2012 کې: د افغانستان د خلکو سروې، 2012، p. 148.

څخه زيات، پداسي حال کې چې 65% راپور ورکړی چې قاضيانو ته يې رشوت ورکړی، او دا هم تر نورو ادارو ډير دی.[344] د ملي لمړيتوبونو له پروګرامونو څخه چې حکومت ورڅخه د پراختيا لپاره کار اخلي، يووازي دوه د تاييد لپاره پاتې دي. لدغو څخه يو "قانون او عدالت د ټولو لپاره" دی.[345]

## ستره محکمه

د افغانستان د قانون په اساس د ستري محکمي قاضيان د يوې معينې دورې لپاره خدمت کوي. له اتو څخه د پنځو د خدمت دوره ختمه شوې، مګر هغه ټول په څوکيو کې دي او بدل شوي ندي. د قاضي القضاد او يوه قاضي دوري د 2010 په اګست کې پای ته ورسيدلې. د دريو نورو قاضيانو دورې د 2013 په جولای کې پای ته ورسيدلې.[346] دايويد پيرس، د افغانستان او پاکستان لپاره د امريکا څانګړي استازي معاون، په مې کې کانګرس ته ويلي چې دا مهمه ده چې د ستري محکمي د هغو قاضيانو دوره چې ختمه شوې بايد لري يا بدل شي.[347]

د 2013 د جون په 11، يوه ځان وژونکي له بم سره په سترې محکمې باندې بريد وکړ. دې بم 17 کسان ووژل چې ډيری يې د سترې محکمې کارکوونکي وو. طالبانو بيا وروسته وويل چې د بريد موخه ستره محکمه وه ځکه چې قاضيانو مخالفينو ته د سختو جزاوو حکم ورکړی.[348]

## د جنايي اجرااتو قانون

د امريکا بهرنيو چارو وزارت په وينا، د ملي شورا ولسي جرګې د 2013 د جون په پيل کې د جنايي اجرااتو نوی قانون تاييد کړ. د امريکا بهرنيو چارو وزارت ته ويل شوي چې تر ډيري کچې له بدلون څخه پرته تاييد شو، او سپارښت شوي تعديلونه پکې راغلي. د جولای تر نيمې پورې، دا قانون په مشرانو جرګه کې وو. د افغانستان حکومت د کابل د 2013 د جولای په کنفرانس کې دا ژمنه کړې وه چې د جنايي اجرااتو قانون به تاييد کړي.[349]

## د طالبانو عدالت

د افغانستان د اعتبار د نظارت په وينا، د طالبانو قضايي سيستم هغه نږدې شی دی چې هغوی يې د يوه بې کار حکومت په توګه لري. دا سيستم سيارې محکمې، او کم جوړښتونه لري، او کم اسناد ساتي. دې راپور موندلي چې د طالبانو محکمې د فساد او واسطو له ستونزو څخه زيانمن شوي، مګر ويلي چې طالبان هڅه کوي ترڅو د قاضيانو په اړه د راپور ورکولو د يو شمير چينلونو لکه د طالبانو په منځ کې او په بهر کې لکه د کليو او مذهبي مشرانو له لارو په راپور ورکولو سره يې مخه ونيسي. له هغو کسانو سره چې طالبان ندي او مصاحبه ورسره شوې، د راپور ليکوال ته ويلي چې د طالبانو محکمو په اړه داسي ګمان کيږي کله چې په شخړو او جنايي قضيو باندې قضاوت کوي، تر ډيري کچې يې عدالت پلي کړی. مګر، طالبان ډيری وختونه غير منطقي اعدامونه يا نمايشي محکمې ترسره کوي، چيرته چې مدافع د مخبری يا د افغانستان له حکومت سره د کار کولو د تورونو په قضيه کې عادلانه فرصت نلري. په ټوليزه توګه، راپور وايي چې د طالبانو قضا د دې ډلې لپاره تر هرې غير نظامي برخې په ښه توګه کار کړی.[350]

## د امریکا قضا سکتور روزنه

د امریکا د نړیوال مخدره توکو او قانون پلي کولو چارو بیورو (INL) د آسیا بنسټ له سروې څخه ویلي چې د لمړي ځل لپاره ډېری افغانان د قضا له رسمي سیستم څخه د غیر رسمي سیستم په پرتله ډېر کار اخلي، او دا پدې معنی ده چې د قضا سکتور پروګرامونه کار کوي.

INL ویلي چې د قضا سکتور ملاتړ پروګرام (JSSP) له 2005 څخه په دوامداره توګه کار کوي، په کابل کې له وزیرانو سره کار کوي، په ولایتونو کې د هیواد په کچه روزنه برابروي، او نور مهم پروګرامونه لکه د قانون مسودې لیکلو او د قضیو د اداري سیستم ملاتړ تطبیقوي. په دې برسیره، له 2008 څخه د قضا رسمي سکتور څخه ګټه اخیستنه د عدالت لپاره له تخصیصونو سره، د عدالت له مسلو سره د امریکا سفارت له نږدې کار کولو، او د INL د عدالت پروژو پراختیا سره نږدې موازي په مخ ځي. INL ویلي چې پداسې حال کې چې نورو مرستندویانو د افغانستان د بیا رغونې له پیل څخه پروژې درولې او بیا پیل کړې، INL توانیدلی ترڅو د اتو کلونو لپاره د عدالت له وزارتونو سره خپله ملګرتیا، پشمول د افغانستان د JSSP د وکیلانو له مهمو ملګرو سره ملګرتیا وساتي.

INL ویلي تمه لري چې د 2014 له سپارلو څخه وروسته د قضا رسمي سیستم به له زیان څخه پرته پاتې شي، تر ډېرې کچې دا د هغه منل شوي افغان ماډل بیرته راوستل استازیتوب کوي چې د شوروي د 1979 له یرغل څخه وړاندې یې شتون درلود. INL ویلي چې افغانستان اوس دا توان لري ترڅو په کمه کچه مناسب او د کار وړ سیستم وکاروي چې د دوامدارې اصلاح ملاتړ به وکړي.

INL موافقه کړې ده ترڅو د قضا د روزنې سپارلو پروګرام تمویل کړي، چې په تیر کې د JSSP له لورې په 47 میلیونو امریکایي ډالرو د 2.5 کلونو لپاره تطبیق شوی.[351]

## د امریکا د اصلاح سکتور روزنه

د امریکا بهرنیو چارو وزارت ویلي چې INL د افغانستان د بندیخانو او توقیف مرکزونو ریاست (GDPDC) د پراختیایي پروګرامونو په منځ کې د بریالي پروګرام په توګه تمویلوي. د امریکا بهرنیو چارو وزارت ویلي INL له GDPDC سره مرسته کړې ده ترڅو خپل ظرفیت د اصلاح تاسیساتو د خوندي، امن، او پاملرنې سره عملیاتو لپاره خپل ظرفیت ښه کړي. دې وزارت ویلي چې دا پرمختګونه په ځانګړې توګه مهم دي ځکه چې په نیولو او محاکمه کولو کې زیاتوالی راغلی، او دې کار د بندیخانو نفوس په 2001 کې له 600 څخه په 2013 کې 27000 ته زیات کړی دی. له 2006 څخه، د INL اصلاح سیستم څخه ملاتړ پروګرام د INL پروګرام د مدیرانو او قرارداد کولو افسرانو تر نظارت لاندې له 8000 څخه زیات د اصلاح افسران روزلي دي.[352]

# د فساد په وړاندې

امریکا د نړیوالې ټولنې له نورو غړو سره د 2013 د جولای 3 د لوړ پوړو چارواکو په هغه غونډه کې ګډون وکړ چې افغانستان یې د فساد سره مبارزې لپاره وهڅاوو. هغوی ویلي چې پداسې حال کې چې افغانستان د لوړ پوړو چارواکو د شتمنی په اعلانولو او خپرولو کې ښه پرمختګ کړی، د دې اړتیا شته ترڅو د افغانستان د قانون په اساس شتمنی په

### د سیګار پلټنه

په یوه روانه پلټنه کې، سیګار د امریکا د بهرنیو چارو وزارت د JSSP ارزونه کوي. د پروګرام موخه داده چې د قضا سکتور کارکوونکي وروزي او د افغانستان د قضا سیستم ټولیز ظرفیت ته وده ورکړي.

دوامداره توګه وارزول شي.[353] د شفافیت او حساب ورکولو په اړه د افغانستان د لمړیتوب پروګرام لا تر اوسه د افغانستان د حکومت او نړیوالې ټولنې له لورې ندی تایید شوی.[354]

د امریکا د فساد په وړاندې هڅو پدې ربع کې له خنډ سره مخامخ شوې کله چې ولسمشر کرزي د نیویارک ټایمز له لورې یو راپور تایید کړ چې هغه په منظمه توګه د امریکا د استخباراتو مرکزي ادارې (CIA) څخه نغدې پیسې لاسته روارې. کرزي دا ویلي چې CIA هغه سره ژمنه کړې چې تادیات به دوام ومومي، او هغه دا ادعا کړې چې د ځینو چارواکو د کرایې ورکولو، د هغه د ټپې کارکوونکو له درملنې، او حتی د سکالرشیپونو لګښتونه ورکولو سره یې مرسته کړې. نورو چارواکو ویلي چې دا کار د امریکا د بیا رغونې د هڅو یوه مهمه موخه نیمګړې کوي: د یوه پاک او د اعتبار وړ افغان حکومت جوړول چې وبه کولای شي د طالبانو لپاره د عامو خلکو ملاتړ کم کړي.[355]

## د افغانستان د لوی څارنوال دفتر

د امریکا بهرنیو چارو وزارت ویلي چې د لوی څارنوال دفتر (AGO) د لوړ پوړو مفسدو چارواکو د محاکمه کولو لپاره سیاسي اراده نلري. لوی څارنوال د دې ربع په لمړي نیمی کې په آلمان کې وو او د زړه د حملې له کبله یې استراحت کاوو. د هغه معاون، چې د لوی څارنوال د نشتون په ډیره موده کې یې کار کاوو، ښه احساس ندی ښودلی.[356]

په لویې څارنوالی کې د فساد په وړاندې د ادارې (ACU) نوی رییس داسې ښکاري چې په لوړو پوړونو کې د فساد سره د مبارزې لپاره ملاتړ نلري. په عمومي توګه په ACU کې مورال ډیر ټیټ دی، د سیاسي ارادې نشتون له کبله اړوند څارنوالان په کنترول شوې بڼه عمل کوي. د امریکا بهرنیو چارو وزارت په وینا، د دوو یا دریو څارنوالانو ټیمونه چې د هرې قضیې لپاره ګمارل شوي له یو بل سره معلومات نه شریکوي او د نه اعتماد فضا شتون لري.[357]

د کابل بانک قضیه اوس هم د افغانستان د لوی څارنوال دفتر د نه لیوالتیا استازیتوب کوي. که څه هم د لوی څارنوال دفتر د کمزورې حکم په وړاندې چې د ابتداییه محکمې له لورې وړاندې شوی د استیناف غوښته کړې، مګر هغه تحلیل چې د محکمې لپاره یې برابر کړی تر هغه دلیلونو زیات وړاندې نه ځي چې په ابتداییه محکمې کې ناکامه شول. په دې برسیره، سره لدې چې د محکمې حکم شتون لري، مګر داسې یو حرکت نه ښکاري چې د پاتې شریکانو په وړاندې تورونه راوړل شي.[358]

## د ځانګړو قضیو کمیټې قضیې

د 2013 تر جون پورې، په حقیقت کې د ځانګړو قضیو کمیته (SCC) کار نکوي. د افغانستان د لوی څارنوال دفتر د 2012 په دسمبر کې SCC جوړه کړه. له پیل څخه، هغه نړیوالو برخه اخیستونکو ته پشمول د امریکا عدلیې وزارت (DOJ) ته بلنه ورکړې وه. د دې کمیټې موخه دا وه ترڅو د ځانګړې اهمیت د قضیو پیژندلو لپاره، د لوی څارنوال په دفتر کې د ACU او د اردو د فساد په وړاندې ادارې (MACU) د ځانګړې پاملرنې لپاره د قضیو په نښه کول، او د قضیو پرمختګ او پایلې تعقیبولو لپاره یوه وسیله شي. په می کې، د امریکا عدلیې وزارت د وړاندیز شوي منشور یوه مسوده جوړه کړه ترڅو د ځانګړو قضیو

د کمیټې موخې، پالیسی، او طرزالعملونه مستند شي. دا د یوې وسیلي په توګه د لوی څارنوال دفتر وړاندې شوه ترڅو د څانګړو قضیو کمیټې نظر بیرته تازه شي. د وړاندیز شوي منشور په وړاندې لمړی غبرګون ډیر ګرم نه وو.

د اردو ملي روغتون قضیه هغه قضیه وه چې د څانګړو قضیو کمیټې له لورې د تحقیق او محاکمه کولو لپاره وپیژندل شوه. لږ تر لږه د ملي اردو د پخواني سرطبیب جنرال ضیا یفتلي د هغه جرمونو په اړوند چې هغه د روغتون لپاره د خپل نظارت او مسولیتونو کې کړي، په وړاندې یې د یوه تور دعوا شوې ده. دغه تور، په حقیقت کې ضایعاتو ته د نه پاملرنې لپاره وو، او دا چې یفتلي ونشو کولای د خوګ د زکام واکسین د قرارداد شرایط یې پلي کړي. په می کې، د فساد په وړاندې محکمې قضیه MACU ته د لا نورو تعدیلونو لپاره بیرته ولیږله؛ دا معلومه نده چې دعوا به کله بیرته وړاندې شي. دویمه قضیه، چې د مموګرافي د ماشین غیر ضروری اخیستلو په اړه ده، کیدای شي د تدارکاتو د درغلۍ په اړه سخت تور ولري، ځکه چې دا ماشین له هغه شرکت څخه اخیستل شوی چې د یفتلي ورور پدې شرکت کې مالي سهم درلود. د MACU څارنوالان وایي چې دا قضیه به "ژر" رسمي شي، مګر اته میاشتي کیږي چې هغوی دا خبره کوي.[359]

## د نظارت او ارزونې کمیټه

د افغانستان د فساد په وړاندې اداري (4A) پروژې لپاره د USAID مرستې، پدې ربع کې دې اداري د فساد ارزونې په وړاندې کمزوری یو تخصصي ټیم د فساد په وړاندې د نظارت او ارزونې ګډې کمیټې ته د لنډ وخت لپاره لیږلی. دې ټیم د بیرته راستنیدونکو لپاره د څمکو توزیع او د پوهنتون د شهادتنامې د ورکولو په اړه د راپورونو مسودې بشپړې کړې. دې ټیم د ملکي خدماتو د کمیسیون د ارزونې ډیرې برخې مسوده هم لیکلې.[360]

## د فساد په وړاندې د نظارت عالي اداره

USAID ویلي چې د فساد په وړاندې د نظارت عالي اداره (HOO) اوس هم ناتوانه او بې اغیزه ده، ځکه چې اداره سمه نده او لوړ پوړی چارواکی سیاسي اراده نلري ترڅو د فساد په وړاندې خپله مبارزه ترسره کړي. کله چې HOO په کومې قضیې باندې کار پیل کړي، دا اداره په څیر سره هغه خلک په نښه کوي چې سیاسي اړیکي نلري.[361]

## د افغانستان د فساد په وړاندې اداري سره مرسته

له HOO سره د USAID د 4A پروژې کار په اوس وخت کې د بشري قوه له ریاست سره په مرسته برابرولو محدود دی. HOO نه غواړي له 4A سره معلومات شریک کړي ځکه چې د مرستې هغه کچه چې دې اداري په تیرو دوو کلونو کې برابره کړې، نور شتون نلري. 4A باور لري چې هغه ملاتړ چې HOO لاسته راوړی، په اوس وخت کې دا ظرفیت لري ترڅو د فساد په وړاندې د یوې اغیزمنې اداري په توګه کار وکړي. مګر، دا اداره په اغیزمنه توګه کار نکوي ځکه چې د قومي، سیمه ایزو او سیاسي مشرانو له لورې لاسوهني کیږي.

په دې ستونزو برسیره، HOO په کراره او په منظمه توګه په ولایتونو کې شتمنی ثبتوي، د فساد شکایتونو اجرا کوي، او د فساد په وړاندې د کمزورۍ ارزونې ترسره کوي. د کابل ښاروالی د استوګن ځایونو او تجارتي ساختماني کارونو لپاره اجازه ډیره ساده کړې ده. نوي

مقررات تر آزموینې لاندې ندي راغلي، مګر که هغوی وکولای شي پروسه ساده او فساد کم کړي، نو دا به یو ښه کار وي.[362]

## پلټنې

د دې کال په پیل کې، ملي شورا د ملي پلټنې قانون تایید کړ. پارلمان هغه مهم احکام لرې کړل چې کولای شول د کنټرول او پلټنې ریاست خپلواکي څواکمنه کړي، نوم یې اوس د پلټنې ملي ریاست (NAO) په نوم بدل شوی. دا اداره هغه ظرفیت نلري ترڅو د فعالیت پلټنې وکړي او یووازې کولای شي په کمه کچه مالي پلټنې ترسره کړي. او د مالیې وزارت هم اوس نشي کولای د اړوندو وزارتونو داخلي پلټنه ترسره کړي. یووازې د اړوندو وزارتونو کورنې پلټنې ریاستونه اوس دا اجازه لري ترڅو داسې پلټنې پیل کړي. USAID ویلي چې دا بدلونونه د شفافیت او حساب ورکولو لپاره د شاتګ ګامونو استازیتوب کوي.[363]

## د افغانستان په امنیتي څواکونو کې فساد

د امریکا دفاع وزارت ویلي، پدې ربع کې د افغانستان امنیتي وزارتونو له فساد سره مبارزې په برخه کې پرمختګ کړی. د نړیوال شفافیت د حکومت دفاع د فساد په وړاندې د لست درجې، د دفاع (MOD) او کورنیو چارو (MOI) وزارتونه پدې سیمه کې تر خپلو ډیرو سیالانو لوړه درجه ورکړې، او د بحرین، عمان، او سعودي عربستان له هیوادونو سره برابر دي.

د دفاع وزارت د فساد په وړاندې خپلو اصلاحي ګامونو ته دوام ورکوي. په مارچ کې، دې وزارت یو دوه ورځنی کنفرانس جوړ کړ چې د فساد په وړاندې یې د وزارت راتلونکې کارونه تشریح کړل او دا یې تشریح کړل چې د دفاع وزارت د نظارت برابرولو لپاره د شفافیت او حساب ورکولو کاري ګروپ به په کومه توګه کار کوي. په ورته توګه، د دفاع وزارت عمومي مفتش په اوس وخت کې د یو شمیر تحقیقونو، او تر دې مهم د محاکمو ترسره کولو له لارو د فساد په وړاندې کلک دریځ ښیي. د امریکا دفاع وزارت په وینا، له بده مرغه د کورنیو چارو وزارت د اصلاح لپاره کوم نوي ګامونه ندي اخیستي.[364]

## CJIATF-شفافیت

د ګډو ادارو تر منځ د دندو ګډ څواک (CJIATF)-شفافیت، د آیساف د ادارو تر منځ ډله په 2010 کې د فساد په وړاندې د هڅو د همغږۍ لپاره جوړه شوې، او د آیساف او افغان مشران یې هڅولي ترڅو د سپارلو لپاره د پلان کولو په وخت کې فساد او تنظیم شوي جرمونه په پام کې ونیسي. ډاکټر اشرف غني احمدزی، د ولسمشر کرزي د سپارلو مشر، دا ګوري چې د پلان کولو په ټوله پروسه کې شفافیت او حساب ورکول په پام کې ونیول شي، مګر د پراخ فساد او تنظیم شوي جرمونو په وړاندې حقیقي پرمختګ لا تر اوسه ندی لیدل شوی. په فساد او تنظیم شوي جرمونو قضیو کې تورن کسان د افغان حکومت د لوړ پوړو چارواکو ملاتړ لري او د ملاتړ د څواکمنو شبکو له لورې یې ملاتړ کیږي. لکه څنګه چې کمیدل په کارکوونکو او سپارلو کې په ښه توګه په مخ ځي، د CJIATF هڅې د پراخ فساد په وړاندې له مبارزې څخه اوس د فساد په وړاندې د امنیتي وزارتونو څواکمن کولو ته اوښتي دي.[365]

## د سیګار پلټنه

سیګار د USAID او د امریکا د کورني امنیت وزارت د ګمرکونو د سرحد د خوندیتوب پروګرامونو ارزونه کوي چې د افغانستان ظرفیت ته وده ورکوي ترڅو د ګمرکونو عواید ټول کړي. د لا نورو معلوماتو لپاره، په دویمه برخه کې، 40 پاڼه وګورئ.

## د ګمرکونو د عوایدو په راټولولو کې فساد

په ګمرکونو کې تقلب او فساد اوس هم د افغانستان توان له خطر سره مخامخ کړی ترڅو خپل ځان تمویل کړي. په 2012 کې د ګمرکونو عواید د زیات فساد له کبله کم شوي او په 2013 کې د افغانستان حکومت د IMF د عوایدو نښه تر نږدې 30% پورې نده پوره کړې.[366] د نړیوال بانک د افغانستان د اقتصادي نویو معلوماتو د اپریل په راپور کې، نړیوال بانک ویلي چې که څه هم یو شمیر عاملونه د عوایدو د ټولولو کموالی تشریح کولای شي، مګر کیدای شي د ګمرکونو د حکومتولي چاپیریال پدې ستونزه کې برخه اخیستي وي.[367] دا عکس 3.30 د ګمرک او مالیې د بودجه شویو عوایدو او د حقیقي عوایدو ټولولو په منځ کې توپیرونه ښیي.

عکس 3.30

**ټوله شوې مالیه او د ګمرک عواید: له بودجه شوې سلنې څخه زیاته کمه**




یادونې: لمریز کال تخمیناً د عیسوي کلیزې د مارچ له 20 د بل مارچ تر 20 پورې وي. 1388 مالي کال تخمیناً د 2009 د مارچ له 20 د 2010 د مارچ تر 20 پورې وي. د نهو میاشتو معلومات د 1391 لمریز کال لپاره د افغانستان په مالي کال کې بدلون ښیي. 1392 لمیریز کال (2013) لا ختم ندی.

سرچینې: د مالیې وزارت، "1388 ملي بودجه،" لاس رسی 7/2/13؛ د مالیی وزارت، "1389 ملي بودجه،" لاس رسی 7/2/13؛ مالیی وزارت، "1390 ملي بودجه،" لاس رسی 7/2/13؛ د مالیی وزارت، "1391 ملي بودجه،" 7/2/13 لاس رسی؛ د مالیی وزارت، "ملي بودجې طرزالعملونه مالي کال 1391،" لاس رسی 6/26/2013؛ د مالیی وزارت، "1391 مالي کال راپور،" د مالیی وزارت، "1392 ملي بودجه،" لاس رسی 7/1/13؛ "میاشتینی مالي مجله، 2 میاشت،" 5/18/13 لاس رسی 6/24/2013.

د دې کم فعالیت له کبله، د مالیې وزارت د افغانستان د بیا رغونې د وجهي صندوق د امتیاز له پروګرام څخه 13 میلیونه امریکایي ډالر له لاسه ورکړي. 368ځکه چې دا له لاسه ورکول د مالیې وزارت د افغانستان د ګمرکونو د معینیت پراخ اصلاحات وو. 369ترڅو د ګمرکونو د چاروکو مخه ونیسي چې ونشي کولای د فساد محلي شبکې جوړې کړي، د مالیې وزارت د ګمرک یو شمیر لوړ پوړي چارواکي هم بدل کړی او د ولایتونو د ګمرکونو ډیری رییسان یې د یو بل په ځای ټاکلي. د مالیې وزیر د نویو لوړ پوړو چارواکو په ظرفیت باندې ډاډ ښودلی. د دې ربع په پای کې، د امریکا بهرنیو چارو وزارت لپاره لا ډیر ژر وو ترڅو پدې پوه شي چې دا حرکت څومره اغیزمن وو، مګر دا کولای شي فساد کم کړي.[370]

## بشري حقونه

افغانستان ونشو کولای د خپل بشري حقونو تیره تجربه ښه کړي. بشري حقونو سازمانونو خبرداری ورکړی چې د میرمنو حقونه له خطر سره مخامخ دي. ډیری ملکي کسان د حکومت په وړاندې د مخالفینو په بریدونو کې وژل شوي. ملګري ملتونو موندلې چې د فبرورۍ له 1 څخه د اپریل تر 30 پورې، 533 ملکیان وژل شوي او 882 ټپي شوي، چې د 2012 په ورته وخت کې 25% زیاتوالی ښیي. پدې دوره کې، د حکومت مخالفین عناصر د ملکیانو د 73% د وژلو یا ټپي کیدلو لپاره مسول وو؛ د حکومت عناصر د 12% لپاره مسول وو.[371]

## د جنسیت مساوات

د بشري حقونو نظارت (HRW) پدې ربع کې خبرداری ورکړی چې په 2014 کې د بهرنیو ځواکونو له وتلو سره په افغانستان کې د میرمنو حقونه له توري راتلونکي سره مخامخ دي. د 2013 د مې په 18 کې، د پارلمان یوې میرمنې غړې هڅه وکړه چې د پارلمان په تایید سره د افغانستان د 2009 د میرمنو په وړاندې د تاوتریخوالي له منځه وړلو قانون (EVAW) ځواکمن کړي. مګر، محافظه کارانو په قانون باندې سخت انتقادونه وکړل او دا قانون وایستل شو. د قانون برخې، پشمول د په پارلمان کې مذهبي مشرانو، د قانون په مهمو احکامو لکه د قرباني میرمنو لپاره د امن په ځایونو او د نکاح کم عمر باندې انتقادونه وکړل. انتقادونه ډیر په لوړ آواز وو او د پارلمان رییس له 15 دقیقو وروسته بحث بند کړ او دا قانون یې بیرته پارلماني کمیسیون ته ولیږو.[372]

د ټوکیو د حساب ورکولو د ګډ کاري چوکاټ د لوړ پوړو چارواکو په غونډه کې، برخه والو ویلي چې د EVAW تطبیقولو او د پرمختګ نظارت کول یې، نړیوالې ټولنې ته د افغانستان ژمني دي.[373] په جولای کې د ملګرو ملتونو د میرمنو په وړاندې د تبعیض د له منځه وړلو کمیټې ته بشري حقونو نظارت یوه وړاندیز ویلي چې د افغانستان د ډیرو میرمنو لپاره د تبعیض ډیره زیاته بڼه د هرې ورځې تجربه ده، او د میرمنو په وړاندې تاوتریخوالی عام دی او تر ډیرې کچې تورن ته جزا نه ورکول کیږي. د انجونو نیمې په ښوونځي کې ندي او د میرمنو سواد زده کړه ډیره ټیټه ده. د ملګرو ملتونو د نفوس وجهي صندوق په وینا، د کوچنیانو او په زوره نکاح کول عام دي، او 39% انجونې تر 18 کلنۍ وړاندې نکاح کیږي.[374]

# حکومتولي

USAID پلان لري چې د ملي لمړيتوبونو په پروګرام کې د جندر مساواتو لپاره ملاتړ (PROMOTE) کې دې مسلې لپاره د حل لار پيدا کړي. PROMOTE به د افغانستان له حکومت سره مرسته وکړي چې په ملکي خدماتو کې د 30% ميرمنو استخداملو ته ورسيږي، لکه څنګه چې د ټوکيو د حساب ورکولو په ګډ کاري چوکاټ کې تشريح شوي. دا به د ميرمنو د حقونو د تاسيس شويو ډلو په منځ کې د شبکو جوړلولو ملاتړ هم وکړي. او کيدای شي دا به د ميرمنو لپاره د تجارت تخصصي خدمات او د مارکيټ په اساس تخنيکي او حرفوي روزنه هم تاسيس کړي. د PROMOTE لپاره د 2014 (مالي) کال په ترڅ کې نږدې 214.4 ميليونه امريکايي ډالر پلان شوي.[375]

## د ميرمنو امن کورونه

د امريکا بهرنيو چارو وزارت د INL يو پروګرام په لست د بيا رغونې د پروژو د يوې ډيري بريالی پروژې په توګه راوړی، دا پروګرام په ټول افغانستان کې د ميرمنو د نهو امن کورونو او د افغانستان د ميرمنو د امن کورونو شبکې ته د عملياتو ملاتړ برابروي، چې دا د افغانستان د امن کورونو برابرونکي سره يوځای کوي ترڅو د ښو کارونو او د قربانيانو لپاره د ملاتړ په اړه خبري وکړي. د امريکا بهرنيو چارو وزارت ويلي چې د INL ملاتړ د ولايتونو شميره زياته کړې، چيرته چې د جنسيت په اساس د تاوتريخوالي او تبعيض قربانيانو لپاره خدمات شتون لري او د افغانانو په مشری يې مبارزې لپاره آسانتياوې برابر کړي ترڅو په عامه توګه د ميرمنو امن کورونو پيژندل زيات کړي. د امريکا بهرنيو چارو وزارت د حکومت له لوري په راجع کولو کې د امن کورونو لپاره په سياسي ملاتړ کې زياتوالی ليدلی، او داسي ښکاري چې د افغانستان حکومت د هغو ميرمنو لپاره چې د حقوقي او خونديتوب د خدمتونو په لټه کې دي امن کورونه د مشروع شتمنی په توګه پيژني. د امن کورونو لپاره د څو کلونو لپاره مرستې برابر شوي چې تر 2014 او 2015 پورې غزيږي. په 2012 کې، INL د افغانستان له 34 ولايتونو څخه په 30 ولايتونو کې امن کورونه تمويل کړي چې نږدې 2000 ميرمنو او کوچنيانو ته يې ګټه رسيدلي.[376]

## مهاجرين

پاکستان موافقه کړې چې د 2013 د جون له 30 څخه وروسته د 1.6 ميليون افغانان مهاجرينو د ثبت کارتونو مشروعيت تمديد کړي. دا پريکړه دا معنی لري چې هغه افغانان چې په پاکستان کې کارتونه لري د هغوی قانوني دريځ به تر هغه وخته پورې دوام ومومي ترڅو د افغان مهاجرينو لپاره يوه ملي پاليسی تاييد شي. دغه پاليسی د پاکستان د کابينې او د پاکستان د صدراعظم د تاييد په تمه ده.[377]

## د افغانستان بشري حقونو خپلواک کميسيون

له 18 مياشتو ځنډ څخه وروسته، ولسمشر کرزي د 2013 د جون په 15 د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کميسيون (AIHRC) د کميشنرانو يوه نوي ډله وټاکله. ولسمشر کرزي د کميسيون د رييس په توګه د سيما سمر د دندې دوره تمديد کړه، او پنځه نور يې د کميشنرانو په توګه د پنځو کلونو لپاره وټاکل.[378]

د بشري حقونو نظارت شکايت کړی چې د نويو کميشنرانو ډيری داسي ښکاري چې د بشري حقونو کمه تجربه لري او ولسمشر دا ټاکنې ترسره کړي پرته لدې چې د مدني ټولنو له هغو سازمانونو سره مشوره وکړي چې د بشري حقونو په خونديتوب کولو کې کار کوي.[379]

**د افغانستان بشري حقونو خپلواک کميسيون د 2001 د بن د موافقې په اساس د بشري حقونو د ملاتړ لپاره د مسول په توګه د افغانستان حکومت د اصلي اداري په توګه تاسيس شوی. که څه هم دا کميسيون د حکومت يوه اداره ده، او کميشنران يې د ولسمشر له لوري ټاکل کيږي، مګر د قانون په اساس خپلواک دی. د کميسيون په مسوليتونو کې په افغانستان کې د بشري حقونو د عمومي اوضاع نظارت، د بشري حقونو په اړه حکومت ته سپارښتنې، د بشري حقونو د څانګړو سرغړونو تحقيق کول، او له هغو انفرادي افغانانو سره چې له حقونو څخه يې سرغړونه شوې مرسته کول شامل دي.**

سرچينه: د بشري حقونو نظارت، "افغانستان: کمزوري ټاکنې د بشري حقونو اداره کمزوري کوي،" 6/18/2013.

د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو عالي کميشنرۍ خبرداری ورکړی چې دغو ټاکنو د کميسيون خپلواکی او اغيز ته ضرر رسولی او د عامو خلکو او نړيوالې ټولنې د ملګرو په وړاندې يې دريځ کمزوری کړی.[380] کرزی د مرستندويانو له لورې تر فشار لاندې وو چې نوي کميشنران وټاکي. د ټوکيو د حساب ورکولو په ګډ کاري چوکاټ کې، د افغانستان حکومت ژمنه کړې چې د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کميسيون ته اجازه ورکړي ترڅو خپلې "مناسبې دندې" ترسره کړي.[381]

# اقتصادي منځپانګې


| | |
|---|---|
| مهمې پېښې | 143 |
| اقتصادي لنډيز | 144 |
| د کرېډېټ دوامدارو آسانيتاوو ترتيب | 146 |
| د امريکا د اقتصادي ملاتړ ستراتيژي | 147 |
| د پور مرسته | 150 |
| د پيسو مينځل | 151 |
| بانکداري او مالي چارې | 151 |
| د طبيعي زيرمو پراختيا | 154 |
| کرنه | 157 |
| ضروري خدمات/پراختيا | 159 |
| ترانسپورت | 164 |
| روزنه | 166 |
| کار | 169 |
| روغتيا | 170 |
| د خصوصي سکتور پراختيا | 172 |
| اړيکي | 173 |

# اقتصادي او ټولنيزه پراختيا

د 2013 د جون تر 30 پورې، امريکا د افغانستان د حکومتولی او اقتصادي پراختيا لپاره نږدې 24.7 ميلیارده امريکايي ډالر برابر کړي دي. د تخصيص شويو مرستو ډېره برخه لکه څنګه چې پدې جدول 3.9 کې ښودل شوي څلورو مهمو پروګرامونو او حسابونو ته تللې. د 2013 جون تر 30 پورې، دې څلورو وجهي صندوقونو لپاره له 22 ميلياردو تخصيص شويو امريکايي ډالرو څخه، نږدې 18.1 ميلیارده امريکايي ډالر مکلف شوي او 13.7 ميلیارده امريکايي ډالر توزيع شوي دي، او د 1.5 ميلياردو امريکايي ډالرو وخت تير شوی.

پدې ربع کې، امريکا او نړيوالې ټولنې هڅه وکړه ترڅو افغانستان د خپل ملي امنيت د پوره کنترول اخيستلو لپاره تيار کړي او د اقتصادي کموالي فشار تر ډېري کچې را ټيټ کړي، نړيواله ټولنه له 2014 څخه د ايتلاف د ځواکونو له کموالي وروسته راتلونکې لسيزې ته "د بدلون لسيزه" وايي.

## مهمې پيښې

دا ربع د يو شمير مهمو پيښو شاهد وو. لمړی، له 40 هيوادونو څخه او اتو نړيوالو سازمانونو څخه لوړ پوړو چارواکو، او د مدني ټولنو او خصوصي سکتور استازو د 2013 د جولای په 3 په کابل کې غونډه وکړه، ترڅو د ټوکيو د حساب ورکولو د ګډ کاري چوکاټ په اساس د ژمنو د تطبيقولو ارزونه وکړي.[382]

دويم، په سويس کې د حکومتوالی په اړه د بازيل انستيتوت د پيسو مينځلو په وړاندې خپل دويم کلنی لست خپور کړی. له 149 ارزول شويو هيوادونو څخه افغانستان هغه هيواد دی چې د پيسو مينځلو او د تروريستانو له مالي فعاليتونو څخه ډير په خطر کې دی. ايران د 2012 لست پدغه درجه کې وو.[383]

دريم، د کارونو مهم کنفرانس چې په کابل کې ترسره شو د افغانستان د کار مارکيټ په دريځ باندې او د راتلونکې پراختيا د بنسټ لپاره د ستراتيژيکي، هراړخيزې کار وده باندې پاملرنه درلوده.[384]

په نورو پرمختګونو کې، د نړيوال وجهي صندوق د دوامدار کريډيت آسانتيا ترتيب ارزونه او توزيع له ځنډ سره مخ ده ځکه چې افغانستان د کميت او قانون د اړتياوو موافقې په اساس په پوره توګه پرمختګ ندی کړی.[385] او د افغانستان لپاره د ملي ريل پلان خپور شوی. د پلان بريالی تطبيق د افغانستان د کانونو د سکتور د پراختيا لپاره او په سيمه کې د سوداګرۍ د ملګري په توګه ډير اړين دی.[386]

جدول 3.9

| **د 2013 د جون تر 30 پورې، د افغانستان د پراختيا لپاره ډيريدونکي تخصيصونه** ($ ميليون ډالره) | | |
|---|---|---|
| **نوم** | **اداره شوي** | **تخصيص شوي** |
| ESF | USAID | $16,654 |
| CERP | DOD | $3,639 |
| TFBSO | DOD | $685 |
| AIF | STATE/DOD | $1,024 |
| **ټول** | | **$22,002** |

يادښتونه: ESF = اقتصادي ملاتړ وجهي صندوق؛
CERP = د قوماندان د بيړني ځواب پروګرام؛
TFBSO = د سوداګرۍ او ثبات عملياتو لپاره وظيفوي ځواک؛
AIF = د افغانستان زيربنا وجهي صندوق.

سرچينه: د دې راپور B ضميمه وګورئ.




**لوړ پوړو چارواکو** د جون په مياشت کې په کابل کې غونډه وکړه ترڅو د هغو موخو د پرمختګونو په اړه خبرې وکړي چې د ټوکيو د حساب ورکولو په ګډ کاري چوکاټ کې راغلي. (د يوناما عکس)

## اقتصادي لنډیز

له 2002 څخه، د نړیوالو د اردو لګښتونو او پراختیایي مرستو په ملاتړ د افغانستان اقتصاد په هرکال کې په منځنی کچه 10% وده کړې. پداسې حال کې چې ساختماني کارونو صنعتي سکتور ته وده ورکړې، د خدماتو سکتور د اقتصادي ودې ډېر مهم محرک وو. په 2013 کې د عامو خلکو له لورې د پیسو لګولو له کبله د دې برخو اړتیاوو غوښتنو دوام موندلی.[387]

په کورنیو ناخالصو تولیداتو کې د کرنې قانوني برخه دویمه برخه اخیستونکې ده، مګر د هوا له کبله بدلون مومي. په 2012 کې ښه بارانونو د غنمو او نورو حبوباتو حاصلاتو نږدې تیر ریکارډ مات کړی وو، او حقیقي کورني ناخالص تولیداتو وده یې نږدې 11.8% ته ورسوله. مګر د 2013 په پیل کې مناسب بارانونه به عادي محصولات تولید کړي، او د کورنیو ناخالصو تولیداتو کچه به د دې کال لپاره 3.1% راټیټه کړي.[388]

د نړیوال بانک په وینا، د افغانستان د بې ثباته سیاسي او امنیتي چاپیریال له کبله، د سوداګرۍ او پانګوالو اعتماد کمیږي او تمه کیږي چې په 2013 او 2014 کې به اقتصادي وده کمه شي. په دې برسیره، له 2014 څخه وروسته د مرستو تمه کیدونکی کموالی، د نړیوال بانک وړاندوینه له 2011-2018 د ناخالصو تولیداتو وده په هرکال کې له 4-6% د ودې کموالی ښیي.[389]

## مالي دوام

د امریکا د بهرنیو چارو وزارت په وینا، د افغانستان کورني عواید د عملیاتی لګښتونو په وړاندې د مالي دوام تناسب، اوس هم په نړۍ کې تر ټولو ټیټ دی.[390] د مالیې وزرات (MOF) د 1392 مالي کال لپاره (د 2012 له دسمبر څخه د 2013 تر دسمبر) د 2.4 میلیاردو امریکایي ډالرو وړاندوینه کړې، چې دا د 1391 مالي کال (د 2012 له مارچ څخه د 2012 تر دسمبر) په پرتله 33% زیاتوالی ښیي. مګر، د 1392 مالي کال په لمړیو دوو میاشتو کې، د 1391 مالي کال د ورته وخت په پرتله ټول کورني عواید 19.2% کم شوي، او د مالیې وزارت د بودجې نښې تر 25.9% ندې پوره کړي.[391] دا عکس 3.31 د حکومت د کورني عوایدو، چې عموماً له مالیو او د ګمرکونو له تعرفو څخه لاسته راځي، او د 1388 تر 1392 مالي کلونو بودجه شوې عملیاتي لګښتونو توپیر ښیي. د لوړ پوړو چارواکو د غونډې راپور ترڅو د ټوکیو د حساب ورکولو ګډ کاري چوکاټ په اړه د افغانستان حکومت د پرمختګ ارزونه وکړي دې پایلې ته رسیدلي چې د حکومت د مالیې پلې کول تر ډېرې کچې مخ په خرابیدولو امنیتي اوضاع، د قانون د حاکمیت په وړاندې محدودیتونو، او مدیریت کم ظرفیت له خنډ سره مخ کړې.[392] د عوایدو راټولولو په اړه لا نور معلومات کیدای شي په 138 پاڼه کې پیدا شي.

## د افغانستان د سوداګرۍ او صنایعو اتاق

پدې ربع کې، د افغانستان د سوداګرۍ او صنایعو اتاق په کابل او بلخ ولایتونو کې د 896 افغاني شرکتونو د 2012 دسمبر د خپلې پیل سروې پایله خپره کړه. دې سروې دوې موخې درلودې: ترڅو د سوداګرۍ د اوسني چاپیریال په اړه د شرکتونو د مالکانو نظرونو ارزونه وشي (د سوداګرۍ د تمایل سروې)، او دا چې د خصوصي سکتور په وړاندې خنډونه مستند شي (د ستونزو سروې). ځواب ورکونو د سوداګرۍ اوسنی فضا "له نورمال څخه یو څه خرابه وګڼله،" مګر د 2013 په اوله نیمایي کې د ډېر مثبت اقتصادي فعالیت تمه درلوده. په عین وخت کې، امنیتي خطرونه د خصوصي سکتور په وړاندې یو مهم خنډ پاتې دی، لکه څنګه

عکس 3.31

**د کورنيو عملياتي بودجې په پرتله د افغانستان کورني عوايد** (ميليون ډالر)




يادونې: تر دې وروستيو، لمريز کال تخميناً د عيسوي کليزې د مارچ له 20 د بل مارچ تر 20 پورې وي. 1388 مالي کال تخميناً د 2009 د مارچ له 20 د 2010 د مارچ تر 20 پورې وي. د نهو مياشتو معلومات د 1391 لمريز کال لپاره د افغانستان په مالي کال کې بدلون ښيي. 1392 لميريز کال (2013) لا ختم ندی.

سرچينې: د ماليي وزارت، ”1388 ملي بودجه،“ لاس رسی 7/2/13؛ د ماليی وزارت، ”1389 ملي بودجه،“ لاس رسی 7/2/13؛ ماليی وزارت، ”1390 ملي بودجه،“ لاس رسی 7/2/13؛ د ماليی وزارت، ”1391 ملي بودجه،“ 7/2/13 لاس رسی؛ د ماليی وزارت، ”ملي بودجې طرزالعملونه مالي کال 1391،“ لاس رسی 6/26/2013؛ د ماليی وزارت، ”1391 مالي کال راپور،“ د ماليی وزارت، ”1392 ملي بودجه،“ لاس رسی 7/1/13؛ ”مياشتينی مالي مجله، 2 مياشت،“ 5/18/13 لاس رسی 6/24/2013.

چې د افغانستان په سړکونو باندې لار پيدا کول او د ماليي او ګمرکونو له سيستمونو سره کارکول ستونزمن دي. په دې برسيره، د يوه نوي شرکت ثبتول په هغه اندازه ستونزمن ندي لکه څنګه چې د يوه اوسني شرکت جواز تمديدول ستونزمن دي، او سروې وايي چې دا په ځانګړې توګه يوه لويه ستونزه ده. پدې سروې پسې پراخه سروې تر پلان لاندې ده.[393]

## سوداګري

د امريکا د بهرنيو چارو وزارت د 2014 مالي کال د بودجې په غوښتنه کې 20.9 ميليونه امريکايي ډالر د هغو پروګرامونو لپاره شامل دي چې موخه يې د منځنی آسيا له سيمې سره د افغانستان اقتصاد لا نور يو ځای کول وي. مرستې به په سوداګرۍ کې سيمه ايزه همکاري، د موادو او خدماتو ترانزيت، د انرژۍ زيرمې، اوبه او نورې طبيعي زيرمې، او د سوداګرۍ او ترانزيت د دهليز په اوږدو کې به حکومتولي په نښه کړي.[394]

## د سوداګرۍ نړيوال سازمان سره يوځای کيدل: نوي معلومت

د 2013 د مۍ په 4، افغانستان د 2013 تر جولای پورې د دوه اړخيز مارکيټ خبرې اترې، او د 2013 تر دسمبر پورې د سوداګرۍ له نړيوال سازمان (WTO) سره د دې سازمان د وزيرانو په 9 کنفرانس کې د يوځای کيدلو بشپړولو په ژمنو باندې يو ځل بيا ټينګار کړی.[395]

افغانستان له 26 ضروري قوانينو څخه د 22 مسودې ليکلي، چې WTO ته وړاندې شوي، مګر د افغانستان د پارلمان له لورې بايد تاييد شي. افغانستان د WTO له اتو غړو سره د دوو اړخيزو مارکيټونو د لاس رسی خبرې ترسره کوي او د WTO سره د اطاعت لپاره يې شپږ بنسټيز نوښتونه پيل کړي دي.[396] خبرې د پای برخې يوه برخه ده وړاندې تر دې چې د يوځای کيدلو ټولګه د WTO عمومي شورا يا د وزيرانو شورا ته د پای تاييد لپاره وليږل شي.[397]

پداسې حال کې چې افغانستان د 2013 په پای کې له WTO سره يو ځای کيدل غواړي، مګر د امريکا بهرنيو چارو وزارت دې ته د شک په سترګو ګوري، ځکه چې د ملي شورا په وړاندې د قوانينو ډيرې مسودې پرتې دي.[398] د 2014 په پای کې يوځای کيدل د ټوکيو د حساب ورکولو د ګډ کاري چوکاټ په اساس د هر اړخيز او دوامدارې ودې او پراختيا نښه ده.[399]

له افغانستان سره د امريکا د نړيوالې پراختيايي ادارې (USAID) د يوځای کيدلو مرستې د لا نورو معلوماتو لپاره 173 پاڼه وګورئ.

## د کريډيټ دوام د آسانتياوو ترتيب

د بانکدارۍ او مالي جوړښت د اصلاحاتو په برخو کې د افغانستان حکومت کمزوري فعاليت، او د کميت په اساس د اقتصاد عمومي برخو نښې پوره کول لکه څنګه چې نړيوال وجهي صندوق (IMF) د کريډيټ دوام د آسانتياوو (ECF) ترتيب، د IMF بورد ارزونې او د اړوندو مرستو توزيع يې ځنډولې. نه دويمه ارزونه، چې لمړی د 2012 د دسمبر لپاره پلان شوې وه، او نه هم دريمه ارزونه، چې لمړی د 2013 د مارچ لپاره پلان شوې وه، بشپړې شوې.[400]

د امريکا د ماليې وزارت په وينا، د افغانستان د پيسو مينځلو په وړاندې/د تروريزم لپار د مالي مرستو په وړاندې تعديل شوی قانون يې لا تر اوسه پارلمان ته ندی وړاندې کړی، او د کميت په اساس يې د وروستيو کمو فعاليتونو په اړه پوره اصلاحي ګامونه ندي اخيستي. د 1391 مالي کال لپاره نورې نه پوره شوي نښې، لکه څنګه چې سيګار ته راپور ورکړ شوی:[401]

- د 1391 مالي کال (د 2012 مارچ څخه د 2012 تر دسمبر) د 85.1 ميلياردو افغانيو نښه، 8.7 ميليارده افغانۍ کم وو.
- د 1392 مالي کال (د 2012 دسمبر څخه د 2013 تر دسمبر) تعديل شويو عوايدو نښې داسې ګمان کيږي چې به لمړيو دوو ربعونو کې ندې پوره شوي.
- مرکزي بانک يا د افغانستان بانک (DAB) د 1391 مالي کال د پای لپاره يې د نړيوالو اسعارو خالصو ذخيرو نښې (نږدې 7.05 ميلياردە امريکايي ډالر) له 575 ميليونو امريکايي ډالرو څخه زيات کمې دي.
- د مرکزي بانک له لورې حکومت ته د خالص کريډيټ لوړه اندازه د 1391 مالي کال د پای لپاره نه وه پوره شوې.

د 1391 مالي کال پای لپاره د کميت په اساس نښې، لکه څنګه چې سيګار ته راپور ورکړ شوی (د پای صفر اندازه شرطونه د افغانستان حکومت له IMF سره د موافقې د يادښت شويو شرطونو څخه هر ګام وړاندې اخيستل منع کوي):[402]

- د ذخيره شويو پيسو لوړه اندازه
- د عامه سکتور له لورې د نوي منځني او اوږد مهال غير امتيازي پور د قرارداد کولو لپاره د صفر لوړه اندازه
- د عامه سکتور له لورې د کم وخت پاتې بهرنی يا تضمين شوي پور لپار د صفر لوړه اندازه
- د خالصو پاتو بهرني تادياتو لپاره د صفر لوړه اندازه
- د عامه تصديو له لورې د حکومت له بانکونو څخه يا مرکزي بانک څخه، يا د حکومت له لورې تضمين شوي پور اخيستلو لپاره د صفر لوړه اندازه بيا جوړښت ته اړتيا لري؛ او
- د حکومت د تضمينونو لپاره د صفر لوړه اندازه

د IMF کارکوونکي به په راتلونکي مالي ربع کې د د غو او نورو ګامونو به اړه د افغانستان د پرمختګ ارزونه وکړي ترڅو دا وګوري چې آيا خپله ارزونه د IMF اجراييوي بورد ته وړاندي کړي.[403]

د دريو کلونو لپاره د 129 ميليونو امريکايي ډالرو ECF پور موافقه چې د 2011 په نومبر کې لاسليک شوې د شرطونو په اساس ده. لکه څنګه چې د IMF د ادارې او د اجراييوي بورد له لورې پريکړه شوې، توزيعات د پروګرام د ارزونو د بشپړولو په اساس دي. سره لدې چې لمړۍ ارزونې د افغانستان اصلاحات کمزوري او ځنډني ګڼلي، IMF د 18.2 ميليونو امريکايي ډالرو دوو توزيعاتو ته، لمړی د ECF په لمړي تاييد کې، دويم د 2012 په جون کې اجازه ورکړې.[404]

**د افغانستان د IMF پروګرام د بې وزلۍ د کمولو او پراختيا وجهي صندوق له لوري تمويليږي، امريکا پدې کې برخه نه اخلي.**

سرچينه: د سيګار د معلوماتو غوښتنې په اړه د امريکا ماليي وزارت ځواب، 6/26/2013.

## د امريکا اقتصادي ملاتړ ستراتيژی

په افغانستان کې د امريکا د اقتصادي سپارلو ستراتيژی هڅه کوي ترڅو په 2014 کې د زياتو نړيوالو ځواکونو د وتلو او د مرستندويانو د مرستو ورته تمه کيدونکي کموالي منفي اقتصادي اغيز کم کړي. دا ستراتيژی پدې لټه کې هم ده چې له افغانستان سره د زيرمو په پراختيا کې د دوامدارې ودې لپاره هم مرسته وکړي.[405] دا عکس 3.32 په هر سکتور کې د USAID مرسته ښيي.

عکس 3.32

**د 2013 د جون تر 30 پورې د USAID پراختيايي مرسته** (ميليون ډالر)




يادونه: شميرې جمع شوي.

سرچينه: د سيګار د 7/10/2013 معلوماتي غوښتنې ته د USAID ځواب.

عکس 3.33

**د بودجې په اساس د USAID مکلف شوې مرسته، 2002 مالی کال - 2012 مالي کال** (میلیون ډالر)




یادونې: شمیرې په تقریبي ډول لیکل شوي.

[a] د 2013 کال د جون تر 25 پورې د 2012 مالي کال د USAID ډیری بسپنه ورکوونه د مستقیم مرستې لپاره نده مقید شوې.

سرچینې: د سیګار د 7/16/2013 او 4/1/2013 پوښتنو ته د USAID ځواب.

## د افغانستان حکومت لپاره د امریکا مستقیمه مرسته

لکه څنګه چې د 2012 د ټوکیو په کنفرانس کې مرستندویانو ژمنې کړې، امریکا په منظمه توګه د هغو پراختیایي مرستو په اندازه کې چې د افغانستان حکومت ته یې په مستقیمه توګه برابروي زیاتوالی راوړی. پدې ربع کې، د 2013 د جون تر 30 پورې، USAID نږدې 235 میلیونه امریکایي ډالر د بودجې په اساس مرسته مکلف کړې، تر ډیرې کچې د تیر مالي کال له مرستو څخه، چې ټوله اندازه یې 2.4 میلیارده امریکایي ډالر ده، او لکه څنګه چې پدې عکس 3.33 کې ښودل شوي.[406]

”په عامه مالي چارو کې بدلون پاملرنې ته اړتیا لري: د بودجې په اساس مرسته/[د] حکومت لپاره د ډیریدونکي بودجې تطبیقول ننګونې منځ ته راوړي.“

نړیوال بانک، ”د افغانستان اقتصادي نوې معلومات،“ 4/2013.

## د سپارلو پلان کول

لکه څنګه چې امنیتي مسولیتونه تر ډیرې اندازې د افغانستان د عامه خوندیتوب ځواک (APPF) ته سپارل کیږي، سیګار په افغانستان کې د امریکا د ټولو ادارو کارکوونکو د خوندیتوب په اړه اندیښنه لري. لکه څنګه چې په 2014 کې د نړیوالو مهاربوي ځواکونو ډیره برخه له افغانستان څخه وځي، سیګار د امریکا د تطبیق کوونکو اداري په اړه هم دا اندیښنه لري چې هغوی وکولای شي د پراختیایي پروګرامونو لپاره اغیزمن نظارت برابر کړي.[407]

د USAID د عمومي مفتش دفتر له لوري په افغانستان کې د USAID د نظارت او ارزونې يوې بياکتنې ويلي وو چې لکه د افغانستان د لوړ تهديد په چاپېريال کې د پراختيايي پروګرامونو مديريت د نظارت ځانګړي خطرونه او ننګونې وړاندې کوي. دې کتنې په افغانستان کې امنيتي اوضاع، "په افغانستان کې د USAID د نظارت او ارزونې پروګرام په وړاندې د/مهم او دوامداره خنډ په توګه تشريح کړی،" او دا احساس په افغانستان کې د دې ماموريت د کارکوونکو له لورې په واشنګټن ډي سي کې همکارانو ته په دوامداره توګه رسول شوی.[408]

مګر، USAID سيګار ته ويلي چې تمه لري د امنيت د سپارلو له کبله هر اغيز به کم وي ځکه چې ټول تطبيق کوونکي ملګري اړتيا لري ترڅو د امريکا حکومت له خدمتونو، پشمول د نړيوالي امنيتي همکارۍ د ځواکونو (ISAF) له لورې برابر شوي خدمتونو څخه په خپلواکه توګه کارونه ترسره کړي. APPF ته د 2012 د مارچ د امنيت تر سپارلو وړاندې، USAID له خپلو ټولو تطبيق کوونکو ملګرو څخه د بيړني امنيت د پلان غوښتنه کړې، او د پروسې په دوران کې يې له هغوی سره په دوامداره توګه اړيکې ساتلې. USAID د سپارلو د پايلو له کبله د هيڅ پروژې د ترلو او د خپلو پراختيايي پروژو کارکوونکو د حرکت نه کميدلو راپور هم ورکړی، او په پوره توګه تمه لري چې وبه کولای شي د دريم ګړي د نظارت له لارې د خپلو پروګرامونو لپاره اغېزمن نظارت او مديريت برابرولو ته دوام ورکړي.[409] پداسې حال کې چې د دريم ګړي نظارت کيدای شي د امنيت په اړه د لاس رسی ځينې ستونزې کمې کړي، د بيلګې په توګه محلي وګړي به تر بهرنيانو د تهديد کمه پاملرنه جلب کړي، سيګار انديښنه لري چې کيدای شي دا کار به د تحقيق، دقيقوالي، اغيزمنتيا او حساب ورکولو نوي ستونزې راپورته کړي.

د خپلو لمړيتوبونو پروژو لپاره، USAID راپور ورکړی که اړتيا وي کولای شي له ساحو څخه ليدنه وکړي.[410]

تر اوسه پورې، USAID د خپلو 31 ملګرو لپاره چې او د APPF له امنيتي خدمتونو څخه کار اخلي د لګښتونو تحليلونه بشپړ کړي: لمړی د 2012 د هغه ربع په جولای کې له سپارلو ډېر ژر وروسته او بل د 2013 په جون کې ترسره شو. د تطبيق کوونکو ملګرو لپاره د APPF د هرې مياشتې اوسط لګښت نږدې 1.4 ميليونه امريکايي ډالر دی.[411]

> ### د سيګار پلټنه
>
> پدې ربع کې، د USAID د بيارغونې او مرستو پروګرامونو په اړوند، سيګار له امنيتي شرکتونو څخه د افغانستان عامه خونديتوب ځواک ته د سپارلو د اغيز په اړه يوه بله تعقيبي پلټنه خپره کړې. په خپلو موندونو کې، سيګار د APPF د احتمالي لوړو لګښتونو په اړه انديښنه ښودلې. د لا نورو معلوماتو لپاره، دويمه برخه، 34 پاڼه وګورئ.

## د افغانستان لپاره د امريکا ملکي-اردو ستراتيژيک کاري چوکاټ

د افغانستان لپاره د امريکا ملکي-اردو ستراتيژيک کاري چوکاټ، چې د وروستي ځل لپاره د 2012 په اکتوبر کې نوی شو او اوس تر تعديل لاندې دی، د افغانستان تر کنترول لاندې په سپارلو به ټينګار وکړي. د امريکا هڅې به له امنيت برابرولو څخه مشورې او د لاسته راوړنو ساتلو ته بدلون وکړي، او کله چې له 2014 څخه وروسته د ايتلاف د اردو وتل ترسره شول، هڅه به وکړي چې د بدلون د لسيزې (2015-2024) په اړه اضافي معلومات لاسته راوړي او د افغانستان د ملي پلان کولو له ستراتيژيو سره په ښه توګه ځان عيار کړي. د امريکا حکومت موخه داده ترڅو د خپلې ملکي اردو ستراتيژۍ کاري چوکات په 2014 کې د ځو کلونو لپاره د هيواد په يوه متحده ستراتيژۍ باندې بدل کړي چې پدې کې به د پاليسی لمړيتوبونو، موخې، او د ترسره کولو وسيلې به شامل وي.[412]

## د قرارداد تړل

د USAID د اخيستلو او مرستې دفتر (OAA) په فعاله توګه د نغدو پيسو مرستې او قراردادونه د تړلو لپاره پيژني. هغو قراردادونو ته لمړيتوب ورکول کيږي چې د تمويل د مرستو لوړه کچه لري ترڅو له مکلفيت څخه خلاص شي، او پدې پسې هغه قراردادونه راځي چې ډير وخت کيږي نيته يې ختمه شوې. په تير کال کې، OAA له 72 څخه زيات قراردادونه تړلي او نږدې 29 ميليونه امريکايي ډالر اضافي مرسته يې له مکلفيت څخه خلاصه کړه. OAA د هغو قراردادونو سره چې نيته يې تيره شوې له ځينو ننګونو سره مخامخ ده، پشمول د تطبيق کوونکي ملګرې د اړيکې د موقعيت پيدا کولو ستونزه، او د پلټنو پاتې اسناد ترڅو دا معلومه کړي چې د تړلو د بشپړولو لپاره به د پای غير مستقيم لګښت نرخ څومره وي. د OAA په وينا، د قراردادونو تړلو ته بايد له تير څخه لوړ لمړيتوب ورکړ شي او دا کار کيږي، او د راپور ورکولو او تعقيبولو له يوه اتومات سيستم څخه بايد کار واخيستل شي ترڅو وکتل شي چې هغه ټول قراردادونه چې د تړلو لپاره ټاکل شوي شميره يې معلومه ده.[413]

## د پور مرسته

افغانستان په اوس وخت کې نږدې 1.16 ميلياره امريکايي ډالر نه تاديه شوی پور لري، چې د بيا جوړښت اړتيا لري يا د پاريس د کلب او د ډير لوړ پوروړي خوار هيواد (HIPC) د نوښت د موافقو په اساس بايد وبښل شي. دا پورونه څلورو هيوادونو، يوه خصوصي بنسټ او يوه خصوصي شرکت ته بايد تاديه شي، لکه څنګه چې پدې جدول 3.10 کې ښودل شوي.[414]

جدول 3.10

**د افغانستان نه تاديه شوي پورونه** ($ ميليون ډالر)

| هيواد | بايد تاديه شي | يادښت |
|---|---|---|
| بلغاريا | $56 | په اصول کې موافقه شوې ترڅو دا پور بيا تنظيم شي. |
| ايران | $10 | |
| د کويټ وجهي صندوق | $22 | |
| روسيه | $1,000 | د پاتو پيسو استازيتوب کوي (او منځ ته راغلې ګټه) د پور مرستې له لمړي پړاو څخه. |
| اروپا – پاسفيک (د چک جمهوريت زور پور) | $68 | يوه خصوصي بنسټ ته سپارل شوی، چې هغه په بريا سره د آلمان په يوه محاکمه کې په افغانستان بانک باندې دعوا وکړه. اوس د مسوليت په توګه ښودل شوی ځکه چې کيدای شي مدعي په بل قانوني صلاحيت کې دعوا وکړي. |
| د فرانسې ټيلکام | $4 | |

يادښت: پيسې تخميني دي.

سرچينه: د سيګار د معلوماتو غوښتنې په اړه د امريکا مالي وزارت ځواب، 6/26/2013.

د امريکا مالي وزارت د تخنيکي مرستو دفتر (OTA) په تير کې له افغانستان سره مرسته کړې ترڅو په برياليتوب سره د HIPC په پروسه کې خپله لار پيدا کړي، او دا يې د 2010 په مارچ کې بشپړ کړ. HIPC د هغو هيوادونو لپاره ډيزاين شوی چې د پور ستونزو ته دوام نشي ورکولای، او د پور دوديزه کموالی يا بيرته ترتيبولو ميکانيزمونه به ورته مناسب نه وي. د HIPC تر سرليک لاندې هيوادونه د پور د ستونزو کمولو لپاره مرسته لاسته راوړي ترڅو پور د دوام وړ شي او وکولای شي فقر کم کړي.[415]

**د پاريس کلب د رسمي کريډيټ ورکوونکو يوه غير رسمي ډله ده، پشمول د امريکا، چې دايمي غړی دی، ونډه يې د پوروړ هيوادونو له لوري د تادياتو د ستونزو لپاره په همغږی سره د حل دوامدارو لارو پيدا کول دي. د حل په لارو کې د پور وخت بيا تنظيمول او د پور د خدماتو په مکلفيتونو کې کموالی دی.**

**د مقايسوي چلند فقره له پوروړو هيوادونو څخه غواړي ترڅو د پاريس کلب څخه پرته يا خصوصي کريډيټ ورکوونکو څخه د پاريس کلب شرايطو سره برابر د پور حلولو په لټه کې شي.**

سرچينه: د پاريس کلب، http://www.clubdeparis.org، لاس رسی، 7/3/2013.

د 1990 د لسيزې له پيل څخه د افغانستان د پورونو لپاره هيڅ تاديات ندي ترسره شوي. د پاريس کلب د ستندردونو او نړيوالو طرزالعملونو په اساس، تاديات تر هغه وخته پورې ځنډول کيږي ترڅو چې کريډيټ ورکوونکی د پاريس کلب/HIPC پرتله کيدوونکی چلند او يوه دوه اړخيزه موافقه لاسليک کړي. OTA د خپل حکومت د پور له توزيع کولو او مديريت له ټيم څخه يو لنډمهاله سلاکار لري او د افغانستان لپاره د پور د مديريت په مسلو کې، پشمول د بښلو، د پور د مديريت د پروسې مسلې او ستراتيژي، او تنظيمولو لپاره تخنيکي مرستې برابروي. دې هڅو لپاره د امريکا ماليې وزارت د 2013 مالي کال تخصيص 38987 امريکايي ډالر دي.[416]

## د پيسو مينځل

پدې ربع کې، د حکومتولی په اړه بازيل انسټيټيوټ د پيسو مينځلو خپل دويم کلنی لست خپور کړ، دا د پيسو مينځلو او تروريستانو د مالي فعاليتونو په خطر کې د هيوادونو ارزونه ده. افغانستان په لست کې د ډير کمزوري هيواد په توګه راغلی، او ورپسې ايران دی، چې په 2012 کې يې لوړه درجه ساتلې وه. درجې د خطر د پنځو برخو په اساس دي: د پيسو مينځل/د ترورېستانو مالي تمويل؛ فساد؛ مالي روڼتيا او ستندردونه؛ عامه روڼتيا او حساب ورکول؛ او سياسي او حقوقي.[417]

د امريکا بهرنيو چارو وزارت د نړيوال مخدره توکو کنترول ستراتيژي راپور په 2012 کې افغانستان د پيسو مينځلو په لست کې د يوه مهم هيواد په توګه راوړی. راپور وايي چې غير قانوني مالي فعاليتونه "اوس هم د افغانستان امنيت او پراختيا لپاره جدي تهديدونه جوړوي." دا تر ډيرې کچې د غير رسمي، د اعتماد په اساس د حوالې د طريقو په اساس د پيسو ليږل دي، پرته لدې چې وليږل شي، اغيزمن کيږي. افغانان د حوالې په شبکو باندې تکيه کوي ځکه چې په بانکونو کې رسمي فساد او کمزوري شتون لري. د مخدره توکو د توليد په ځايونو لکه په هلمند کې بې ليسنسه او غير قانوني د حوالې صرافان د افغانستان په ټول مالي سيستم کې د پيسو مينځلو د ډيرې کچې مسوليت لري. مګر د افغانانو د شرکتونو کنسورسيم چې د حوالو او بانکونو مالکان دي هغوی هم مسول دي، د راپور په وينا، په 2012 کې د ايران د ريال ټيټيدل له افغانستان څخه د نغدو پيسو د قاچاق سبب شو ترڅو د امريکايي ډالرو لپاره د ايران غوښتنې پوره کړي.[418]

## بانکداري او مالي چارې

د خصوصي سکتور پراختيا د يوه کلک مالي سيستم په تاسيسولو پورې اړه لري ترڅو موادو او خدماتو لپاره پانګه او د پيسو بدلولو لپاره آسانتياوې برابرې کړي. مګر، د افغانستان مالي سکتور تر ډيرې کچې اوس هم وده نده کړې، او د خصوصي سکتور په فعاليتونو کې کمه برخه اخلي.[419]

د افغانستان بانکداري او مالي سکتور د 2010 د کابل بانک له نږدې منځه تلو څخه په پوره توګه بيرته په پښو ندي دريدلي، او د پيرودونکو د نه ډاډ څخه ستونزمن شوي. پدې ربع کې د نړيوال بانک يوه خپور شوي راپور په وينا، د افغانستان د مهمو بانکونو پلټنې چې د افغانستان بانک له رسوايي وروسته ترسره شوي، "ټولېزه کمزوري او د بانکداری د حکومتولی او عملياتو په برخو کې يې ټولېزه کمزوری ښودلې ده."[420]

د بانکونو په سکتور کې ټوله شتمنی په 2010 کې له 5.5 میلیاردو امریکایي ډالرو څخه په 2012 کې 4.4 میلیاردو امریکایي ډالرو ته را ټیټه شوې. د غوښتنې په اساس د پیسو ساتلو لپاره نرخ له 2005 تر 2009 80% وه، مګر د تیرو دریو کلونو په ترڅ کې 12.5% را ټیټ شوې. د سوداګرۍ پور په متوسطه توګه په هرکال کې د 2010 له کړکیچ څخه وړاندې 40% وده کړې، مګر له 2010 څخه 20% ته را ټیټ شوې. نړیوال بانک "دا حرکتونه د سوداګریزو بانکونو د خطر په نظر کې د بدلون او د بانکي سکتور د فعالیت کمیدلو" په توګه تشریح کړي.[421] نړیوال بانک په مالي سکتور کې منفي پروسې هم تعقیبوي. نړیوال بانک ویلي چې یو شمیر بنسټونه له هیواد څخه وتلي، نور بنسټونه د افلاس په خطر کې دي، له 2008 څخه د پور د ټولګې وده کمه شوې ده، او د فعالو پور اخیستونکو شمیره هم کمه شوې ده.[422]

## اسعار

د افغانستان پیسې، افغانی (Afs)، په 2012 کې د امریکا د ډالرو په وړاندې 8% را ټیټې شوې. په 2011 کې د یوه امریکایي ډالر اخیستلو لپاره 47.9 افغانیو ته اړتیا وه، مګر په 2012 کې 51.8 وې. نړیوال بانک دا ټیټیدل تر ډیري کچې په 2014 کې د سیاسي او امنیتي سپارلو په امنیتي اندیښنو او د سوداګرۍ سکتور نامعلومه حالتونو پورې اړوند ګڼلې.

تر افغانیو د امریکا ډالرو لپاره غوښتنه ډیره ده. د افغانستان مرکزي بانک یا د افغانستان بانک (DAB)، په 2012 کې د ذخیره شویو پیسو وده په 4% محدوده کړې وه، او په بهر کې د اسعارو د بدلولو د معاملو له لارې د بدلون په حال کې د پیسو بدلولو نرخ اداره کوي ترڅو د اضافي ټیټوالي مخه ونیسي.[423] ټیټوالی معمولاً د هیواد د صادارتو د سیالی نرخ ښه کوي، مګر افغانستان د صادراتو محدود فرصتونه او د کور دننه د ځینو وارداتو لپاره محدود بدیل لري، او په حقیقت کې په 2012 کې یې صادرات کم شول. دا هیواد د حبوباتو په غلو کې خود کفا ندی او ډیر زیات تیل واردوي.[424] تر دې حالتونو لاندې نور ټیټوالی، چې عموماً د سوداګرۍ کسر کموي، کیدای شي ډیر یې کړي.

## کابل بانک

د 2013 د مارچ په 5، د کابل بانک په اړه د ستري محکمې ځانګړې محکمې په تقلب د 21 تورنو کسانو په اړه خپل حکم صادر کړ. د افغانستان د لوی څارنوال دفتر (AGO) د مارچ په 16 د دې حکم په وړاندې د استیناف غوښتنه کړې.[425] لوی څارنوال د تقلب د دوو مشرانو لپاره اوږد مهاله بند او اضافي جزا غواړي، پخوانی رییس شیرخان فرنود او معاون خلیل الله فیروزي، هغه کسان چې د پنځو کلونو د بند کمه جزا ورکړ شوې او ورته ویل شوې چې یوازې محدود تاوان ورکړي.

د امریکا د عدلیې وزارت په وینا (DOJ)، لوی څارنوال د فرنود او فیروزي لپاره د اضافي جزاوو غوښتنه کړې ترڅو د افغانستان د پیسو مینځلو او له جرم څخه د ګټې قوانینو په اساس د اختلاس او پیسو مینځلو جرمونه هم شامل شي، چې د غلا شویو پیسو لپاره د ضبطولو حکم هم لري. لوی څارنوال د پاتو مدافعینو لپاره اضافي جزاوې غواړي، مګر له هغه څه چې محکمې په پیل کې حکم کړی نورې جزاوې نه غواړي.[426]

"د کابل بانک په له منځه تلو کې 21 اړوندو کسانو ته تر زیاتې کچې کمه جزا ورکول نباید پدې رسوایي کې د حساب ورکولو پای ته اشاره وي. کلک او دوامداره عمل، په ځانګړې توګه د شتمنیو په بیرته لاسته راوړلو کې او ښه مالي مقررات، اړین دي. د ښو بنسټیزو او مالي اصولو ژمنو عملي کول به د دوامدارې نړیوالې مرستې د تضمین لپاره اړین وي."

سرچینه: "د ملګرو ملتونو عمومي منشي، په افغانستان کې اوضاع او نړیوالې سولې او امنیت لپاره یې پایلې،" 6/13/2013، p. 15.

کابل بانک د افغانستان د بانکدارۍ د خدماتو تر ټولو لوی برابرونکی وو، او د افغانستان د حکومت په استازيتوب يې د ملکي مامورينو معاشونه توزيع کول. په 2010 کې د بانک نږدې له منځه تللو له 935 ميليونو امريکايي ډالرو څخه زيات د پيسو غلا کول ښکاره کړل، د دې پيسو له 92% څخه زيات 19 انفرادي کسانو او شرکتونو ته تللي. د افغانستان مرکزي بانک، د افغانستان بانک، دا تاوانونه تر پوښښ لاندې رواړل، چې د افغانستان د ناخالصو توليداتو له 5-6% سره برابرِ دي.[427]

## د نغدو پيسو او شتمنۍ بيرته لاسته راوړل: نوي معلومت

د 138 ميليونو امريکايي ډالرو په پرتله چې سيګار ته په اپريل کې راپور ورکړ شوی وو، د 2013 د مارچ په 1 د افغانستان حکومت دا ادعا کړې چې 142.3 ميليونه امريکايي ډالر نغدې پيسې يې بيرته لاسته راوړې. د 2013 د جولای تر 3 پورې، د لوړ پوړو چارواکو د غونډې د ګډ راپور په وينا (د ټوکيو د حساب ورکولو ګډ کاري چوکاټ تطبيقول)، د کابل بانک تصفيې د 173.2 ميليونو امريکايي ډالرو نغدو پيسو بيرته لاسته رواړلو راپور ورکړی.[428] حتی دا ډيرې اندازه پيسې د ټولو غلا شويو پيسو له 20% څخه کمې دي.

## محاکمې: نوي معلومت

له هغې نيټې څخه چې د سترې محکمې د کابل بانک په اړه ځانګړې محکمې د 2013 د مارچ په 5 د 21 تقلب کوونکو په وړاندې خپل حکم صادر کړ، هيڅ هغه نده شوې ترځو نور کسان مسول وګڼل شي. په هغه وخت کې، ځانګړې محکمې د محکمې له شته امر سره د 16 نورو کسانو د نيولو او محاکمه کولو امر ورکړی وو. 13 د کابل بانک لوړ پوړې چارواکي او/يا سهم لرونکي او درې د مرکزي بانک چارواکي وو. د امريکا عدليې وزارت په وينا، د دې 16 ډير له افغانستان څخه تښتيدلي او د افغانستان حکومت هيڅ قطعي هڅه نده کړې ترڅو هغوی تعقيب کړي.[429]

د ځانګړې محکمې حکم د 16 نورو غير قانوني پور لاسته رواړونکو، پشمول د پنځو کابل بانک سهم لروونکو او شپږو اړوندو شرکتونو د تحقيق او محاکمه کولو امر هم کړی وو. مګر د امريکا عدليې وزارت راپور ورکړی چې د لوی څارنوال د فساد په وړاندې په اداره کې د څارنوالانو د تحقيق مشر له کوم پلان خبر نه وو ترڅو نور تحقيقونه ترسره شي. وروسته لدې چې د لوی څارنوال معاون ته د ځانګړې محکمې د حکم کاپي ورکړ شوه، د تورونو او تحقيقونو ژمنه يې وکړه، مګر هغه، لوی څارنوال او د لوی څارنوال په دفتر کې نورو د امريکا عدليې وزارت ته ويلي چې هر نوی تحقيق به په نړيوالو کسانو کار وکړي، هغه کسان چې د افغانستان له قانون پلې کوونکو څخه لرې دي او د هغوی جرمي مسوليت هم تر شک لاندې دی. د 2013 د جون تر 30 پورې، د پيژندل شويو کسانو او شرکتونو په اړه کوم نوي تحقيقونه ندي پرانيستل شوي.[430]

پدې ربع کې يو شمير راپورونو ويلي چې د لوی څارنوال دفتر به هغه څلور شرکتونه محاکمه کړي چې د کابل بانک د 2010 تر کړکيچ څو کلونو وړاندې يې د کابل بانک پلټنه ترسره کړې وه، پدې شرکتونو کې پرايس واټر هوز کوپر او ديلويت مشورتي شرکتونه هم شامل دي.[431] که څه هم د افغانستان د فساد په وړاندې د نظارت او ارزونې ګډې کميټې (MEC) دا شرکتونه متهم کړي چې د افغانستان د قانون په اساس يې د کابل بانک غلط



**د 2013 جون** د سیګار په یوه لیکچر کې، کلیر لاکهارت، د حکومت اغیزمنتیا لپاره د انستیتیوټ ملګرې موسسې، په بیلابیلا موضوع ګانو، پشمول د افغانستان د اقتصاد باثباتولو باندې خبرې وکړې. (د سیګار عکس)

اطاعت تایید کړی، او په بانک کې یې تقلبي فعالیتونو پیژندل او راپور ورکول ندي ترسره کړي، MEC احساس کوي چې دا یوه غیر مسولانه ستراتیژي او له سرچینو څخه کار اخیستل دي. په ځای یې MEC سپارښتنه کوي چې د لوی څارنوال دفتر دې له نورو هیوادونو سره کار وکړي ترڅو ضروري شواهد راټول کړي او د هغو کسانو په تحقیق باندې کار وکړي چې په تقلب کې مستقیمه ونډه لري.[432]

## د طبیعي زیرمو پراختیا

امریکا، د افغانستان حکومت، او د نړیوالې ټولنې مرستندویان د افغانستان د طبیعي زیرمو په پراختیا باندې حساب کوي ترڅو پداسې حال کې چې بهرنۍ مرسته کمیږي، راتلونکې اقتصادي وده پیاوړې کړي. که څه هم کانونو د دې هیواد د ناخالصو تولیداتو په 2% کې برخه اخیستې ده، د افغانستان حکومت تمه لري چې د آینک (مسو) او حاجیګک (خامې اوسپنې) د کانونو، او د افغان تاجیک ډنډ د تیلو او غازو له پانګونې څخه زیات عواید لاسته راوړي.[433] مګر سیګار په دوامداره توګه ویلي چې له احتیاط څخه باید کار واخیستل شي، ځکه چې کیدای شي د افغانستان حکومت د افغانستان له منرالونو، سکرو، پطرولي موادو، او طبیعي غازو سرچینو څخه په نږدې راتلونکي کې ډیر عواید لاسته را نه وړي، ځکه چې د کانونو پراختیا لپاره د زیربنا زیاتې پانګونې ته اړتیا ده.

نړیوال بانک هم دا خبرداری ورکړی چې د کانونو د مستقیمو کارونو پیدا کیدلو امکانات هم محدود دي او د دیموګرافي په اساس غیر منظم دي. افغانستان کولای شي دا تمه ولري چې له تیلو، غازو، او د کانونو له فعالیتونو څخه له 15000 تر 20000 مستقیم کارونه منځ ته راوړي، له 2000 څخه تر 4000 کارونو په لویو کانونو کې او د تیلو او غازو په عملیاتو کې به کم کارونه وي. لدغو څخه به نږدې 70% تخصصي او نیمه تخصصي کارونه وي، او دا به د ښار نفوسو لپاره ګټور وي ځکه چې هلته عموماً تخصصي کارکوونکي ژوند کوي. محلي ټولنې به عموماً د پاتې غیر تخصصي کارونو بستونه ډک کړي.[434]

امریکا، د امریکا دفاع وزارت د سوداګرۍ او ثبات عملیاتونو لپاره وظیفوي ځواک (TFBSO) له لارې، د کانونو په سکتور کې د پانګونې د جلبولو لپاره یې د افغانستان د حکومت هڅو ملاتړ کړی دی. په 2013 کې له ټولو 10.2 میلیونو امریکایي ډالرو څخه، TFBSO د 2013 د جون تر 30 پورې 9.7 میلیونه امریکایي ډالر مکلف کړي. په تیر ربع کې، TFBSO د کانونو ټوله مرسته 6.8 میلیونه امریکایي ډالر راپور ورکړی، چې 4.8 میلیونه امریکایي ډالر یې مکلف شوي.[435] په دې برسیره، ټاکل شوې ده چې USAID به د افغانستان د دوام لپاره د کانونو پانګونې او پراختیا (MIDAS) خپله پروژه پیل کړي، او د 2013 په مارچ کې یې قرارداد وړاندې کړی. د نږدې 41 میلیونو امریکایي ډالرو په لګښت چې د تیر ربع له 90 میلیونو امریکایي ډالرو څخه ګرځول شوي، د کانونو او پطرولي موادو وزارت (MOMP) سره د قانوني او مقرراتي اصلاحاتو، او تخنیکي مرستو، او د وړو او متوسطو تصدیو د پراختیا، په ساحه کې د جیولوجیکي تحقیقاتو مرسته، او د اړتیا وړ نور ملاتړ په برخو کې به ولګول شي.[436] لکه څنګه چې TFBSO له افغانستان څخه وځي، MIDAS به یې ځیني استخراجي پروګرامونه هم جذب کړي.[437]

## د افغانستان په شرکتونو او پانګوالو باندې اغيز

د کانونو، تيلو، او د غازو سکتور پراختيا کولای شي د کورنيو شرکتونو د هڅولو سبب شي. د بيلګې په توګه، نړيوال بانک اټکل کوي چې کيدای شي د آينک د مسو کان او د آمو درياب د تيل او غازو د زيرمو لپاره د 800 ميليونو امريکايي ډالرو په ارزښت مواد او خدمات له کورنيو برابرونکو څخه واخيستل شي. مګر، د افغانستان شرکتونه د نامناسب اقتصادي شرايطو لاندې کار کوي. دا برابرونکي ملاتړ او پانګونې ته اړتيا لري ترڅو دا ډاډ ترلاسه شي چې هغوی د کيفيت وړ مواد په پوره کميتونو سره ورسوي. پداسې حال کې چې د افغانستان توليدات کم دي او په ځينو حالتونو کې يې کيفيت شکمن دی، د مصرف ډيری مواد، ساختماني مواد، او تجهيزات وارديږي.[438]

## د منرالونو نوی قانون: نوي معلومات

د 2013 د جون په 4، د عدليې وزارت په رسمي توګه د منرالونو د قانون مسوده د پارلماني چارو وزارت ته وړاندې کړې ترڅو يې د پارلمان ولسي جرګې ته وليږي. کله چې د دواړو ولسي جرګې او مشرانو جرګې له لورو تاييد شي، بيا به د پای تاييد لپاره ولسمشر ته وليږل شي. د قانون يوه غير رسمي نسخه لا له وړاندې د ارزونې د چټکوالي لپاره ليږل شوې. دا قانون به د نورو شيانو په منځ کې، د تفحص او استخراج حقونو سره يوځای کړي.[439] د امريکا دفاع وزارت TFBSO په تير کې خبرداری ورکړی چې د دې قانون له احکامو څخه پرته ډيری شرکتونه به په نويو داوطلبيو کې برخه وانخلي او په اوسنيو وړانديزونو باندې به قراردادونه لاسليک نکړي.[440] د 2013 د جولای په 1 يوه نوي راپور د کانونو د وزارت له يوه مشاور څخه ويلي چې د حاجيګک (خامې اوسپنې)؛ زرکشان (طلا)؛ بدخشان (طلا)؛ او د بلخاب (مس) څلورو مهمو کانونو قراردادونه د منرالونو د نوي قانون په تمه دي.[441]

د منرالونو د تعديل شوي قانون تاييد د IMF او د ټوکيو د دوه اړخيز کاري چوکاټ يوه نښه ده.[442] د قانون تعديلول دا معنی لري ترڅو د افغانستان زيرمې په ښه توګه خوندي شي، پانګوال وهڅوي، او مقررات له نړيوالو ښو ستندردونو سره برابر کړي.[443] د TFBSO په وينا، پدې قانون کې ځند د خصوصي سکتور پانګونې په مخ کې زيات خنډ راوړي، او دا يې ويلي چې د کانونو شرکتونه تر امنيت، سياسي او قانوني ثبات ته ارزښت ورکوي.[444]

## د افغانستان د کانونو او پطروليم وزارت او د افغانستان جيولوجيکي سروې سره مرسته

پدې ربع کې، امريکا د کانونو او پطروليم وزارت او د افغانستان جيولوجيکي سروې (AGS) سره خپلو تخنيکي مرستو ته د TFBSO او د امريکا د جيولوجيکي سروې (USGS) له لارې دوام ورکړی. دا سازمانونه د منرالونو او هايدروکاربن داوطلبی لپاره ملاتړ او د تيلو او غازو لپاره د معلوماتو اداره کول، پشمول د جيولوجي راپور، د زلزلې معلومات، د څاګانو او توليد اسنادونه برابروي. هغوی د کانونو او پطروليم وزارت او د افغانستان جيولوجيکي سروې سره دا مرسته هم کوي ترڅو د امريکا له کانونو څخه ليدنه وکړي، په رسمي غونډو کې برخه واخلي، او د زيرمو په اړونده نړيوالو کنفرانسونو کې برخه واخلي. د 2013 د جون تر 30 پورې، TFBSO په 2013 مالي کال کې د کانونو سکتور د پراختيا لپاره له 10.2 ميليونو امريکايي ډالرو څخه 9.7 ميليونه امريکايي ډالر مکلف کړي. د دې مرستو ډيره برخه د تخنيکي مرستو او مشورتي خدماتو لپاره ده.[445]

TFBSO په اړوندو موضوع ګانو کې تخصصي مشاورين هم برابروي هغه کسان چې د کانونو او پطروليم وزارت د کانونو او هايدرو کاربن نړيوال داوطلبی پروګرامونو لپاره جيولوجيکي راپورونه، قانوني اسناد، او د مالي معاملو خدمات برابروي. TFBSO د افغانستان له جيولوجيکي سروې سره هم کار کوي ترڅو د راتلونکو داوطلبيو لپاره د خپلو برمه کولو او معلوماتو ټولولو پروګرامونو ته پراختيا ورکړي، او د افغانستان د جيولوجيستانو کدرونو ته وده ورکړي ترڅو وکولای شي د راتلونکو داوطلبيو لپاره ساحې کشف کړي. TFBSO او USGS د افغانستان د جيولوجيکي سروې کارکوونکي د ريموټ احساس کولو په نويو تخنيکونو او د جغرافيايي معلوماتو په کمپيوټري پروګرامونو (سافت وير) کې روزي. TFBSO د شبرغان-مزارشريف د پايپ لاين د طبيعي غازو د خرڅولو لپاره مقرراتي او قانوني کاري چوکاټ جوړولو سره مرسته کړې او په ويلډينګ کولو، ساختماني خونديتوب، د پروګرام مديريت، د تجهيزاتو ساتنه، او د پرمختګ په حال کې د ټرانسپورټ نورو عملياتونو لپاره روزنه برابره کړې.[446]

## د آينک د مسو کان نوي معلومات

د چين د اوسپنې د مطالعاتو شرکت (MCC) ته د لوګر په ولايت کې د آينک د مسو کان د استخراجولو حق قرارداد په 2008 کې ورکړ شوی، مګر تر اوسه يې کيندنه نده پيل کړې. په ساحه کې د کلتوري آثارو پيدا کيدلو، د ځمکې د اخيستلو ستونزو، د اساسي زيربنا نشتون، او امنيتي انديښنو له کبله د کان د پراختيا کارونه ځنډيدلي.[447]

د قرارداد څېړه شوي لنډيز په وينا، MCC موافقه کړې چې حکومت ته به 808 ميليون امريکايي ډالر د ابتدايي فيصدي په توګه او د عوايدو تر 19.5% د فيصدی نرخ ورکړي، د سکرو د بريښنا 400 ميګاواټه فابريکه به جوړه کړي، او د سکرو اړوند کان ته به پراختيا ورکړي. MCC دا اختيار هم لري ترڅو په 2013 کې په خپل قرارداد باندې بيا خبرې وکړي او کيدای شي نوره پانګونه به د افغانستان د 2014 د ولسمشری ټولټاکنو او له ټولټاکنو وروسته د امنيت چاپيريال تر پايلو وځنډوي.[448]

د کانونو او پطروليم وزارت او د اطلاعاتو او کلتور وزارت (MOIC) په آينک کې له نږدې 30 نړيوالو لرغون پوهانو سره کار کوي ترڅو د کان کيندنې له پيل څخه مهم کلتوري آثار وکيندل شي او يووړل شي. د آينک د مسو د لرغون کيندنې دا پروژه د نړيوال بانک د نړيوالې پراختيا ټولنې له لورې تمويليږي، او په افغانستان کې د فرانسې د لرغون کيندنې د هييت له لورې يې ملاتړ کيږي. د لرغون پوهنې کار د 2013 د جولای لپاره پلان شوی او کيدای شي وغزول شي.[449]

## د حاجيګک د خامې اوسپنې کان: نوي معلومات

د حاجيګک د خامې اوسپنې امتيازونو لپاره د قرارداد خبرې دوام لري. د کانونو او پطروليم وزارت د 2011 په نومبر کې درې بلاکونه AFISCO ته، د هندوستان د اوو غړو کنسورتيم ته ورکړي او د حکومت تصدي د هندوستان د فولادو اداري شرکت يې مشري کوي، او يو بلاک يې د کاناډا د کيلو خامې اوسپنې چې د کيلو طلا کانونو فرعي شرکت دی ورکړي. د کيلو خامې اوسپنې په اصولو کې د قرارداد د خبرو له ټولو شرطونو سره موافقه کړې. دواړه شرکتونه له لاسليک کولو څخه وړاندې د پارلمان له لورې د نوي قانون د تاييد په تمه دي. AFISCO اوس هم د شاوخوا زيربنا، پشمول د فولادو د فابريکې او د بريښنا فابريکې باندې خبرې کوي. د TFBSO په وينا،کيدای شي AFISCO به د پانګونې او مالي ستونزو سره مخامخ وي.[450]

## هايدروکاربنونه

افغانستان هڅه کوي ترڅو د آمو درياب او د افغان تاجيک ډنډ، چې دواړه د افغانستان په شمال کې دي، خپلو تيلو او غازو ته پراختيا ورکړي. پدې ربع کې، TFBSO د کانونو او پطروليم وزارت او د افغانستان جيولوجيکي سروې سره خپلو تخنيکي مرستو ته دوام ورکړی.

## د آمو درياب ډنډ توليد: نوي معلومت

د امريکا د بهرنيو چارو وزارت او TFBSO په وينا، د آمو درياب ډنډ هغه درې بلاکونه چې وړاندې شوي، اټکل کيږي چې نږدې 87 ميليونه بيلره خام تيل ولري.[451] د چين د ملي پطروليم شرکت وطن انرژي افغانستان (CNPCI-W)، د 2013 د جون تر 1 پورې، له دريو بلاکونو څخه نږدې 10709 بيلره خام تيل توليد کړي. د افغانستان حکومت د 2013 د جون تر 3 پورې، 4.66 ميليونه امريکايي ډالر فيصدي او د سطحې د کرايې فيسونه لاسته راوړي دي.[452]

د امريکا بهرنيو چارو وزارت راپور ورکړی چې که څه هم CNPCI-W کولای شي توليد ته دوام ورکړي، پداسې حال کې چې د خپل توليد لپاره د اخيستونکي موندلو باندې کار کوي، اوس هيڅ تيل نه توليدوي. CNPCI-W د 2013 په اپريل کې د صادراتو موافقې لپاره د سيمې تصفيې له فابريکې سره خبرې پيل کړې ترڅو د آمو درياب تيل واخلي، او پدې ربع کې داوطلبی تر ارزونې لاندې وي. د آمو درياب څخه د حکومت عوايد به د راتلونکي توليد کچې او د مارکيټ قيمت پورې اړه ولري. پداسې حال کې چې تخنيکي توان لري، تر اوسه د CNPCI-W د توليد ټيټه کچه دا شک منځ ته راوړي چې په 2013 مالي کال کې به خپله قانوني اړتيا 1.65 ميليونو بيلرو توليد اندازې ته ورسوي.[453]

د آمو درياب پطروليم اداره، چې د آمو درياب قرارداد مديريت کوي، د 2013 په پيل کې د افغانستان پطروليم رياست (APD) باندې بدل شو. TFBSO د افغانستان پطروليم رياست د تشکيلاتو نقشې له جوړولو سره مرسته کړې، او د محاسبې، مالي چارو، بشري قوه، او تخنيکي کارکوونکو استخدام لپاره يې مشوره ورکړې. TFBSO د دې رياست د تخنيکي (تيل او د غازو انجنيری)، قانوني (د قرارداد تطبيقول)، او مالي چارې (محاسبه او تحليل) د موضوع ګانو لپاره د متخصصينو ملاتړ هم برابروي، ترڅو د TFBSO له لورې ملاتړ شويو قراردادونو نظارت سره مرسته وکړي.[454]

## کرنه




**د 2013 د مې** په کنفرانس کې برخه **اخيستونکي** د افغانستان اقتصاد لپاره د حرفوي زده کړې د روزنې او د کرنې سکتور اهميت باندې کار کوي. (د يوناما عکس)

له 2002 څخه، USAID د کرنې، اوبو لګولو او مالداری وزارت (MAIL) لپاره نږدې 29 ميليونه ډالر مکلف کړي دي، ترڅو د دې وزارت ظرفيت ته وده ورکړي، مارکيټونو لپاره لاس رسی زيات کړي، او د کوکنارو کرنې لپاره بديل برابر کړي.[455] د افغانستان په اقتصاد کې کرنه مرکزي ونډه لري. د ځمکې يوازې 12% د کرلو وړ ده او تر 6% کمه کرل کيږي، خو 80% افغانان په مستقيمه يا غير مستقيمه توګه له کرنې څخه خپل ژوند تامينوي.[456] د کار د قوې لپاره يې اهميت ته په پام سره، کيدای شي کرنه به د کورنيو ناخالصو توليداتو ودې لپاره يوه وسيله وي.[457] پدې ربع کې د ملګرو ملتونو او نړيوال بانک د کارونو کنفرانس ټينګار کړی چې د افغانستان اقتصادي ودې او دوامداره کار پيداکولو ملي ستراتيژۍ بايد د کرنې په سکتور باندې کار وکړي.[458]

USAID د یو شمیر پروګرامونو له لارې د کرنې سکتور ته مرسته برابروي. د دریو لویو لمړیتوبونو ټول ارزښت له 350$ میلیونو امریکایي ډالرو څخه ډیر دی:[459]

- د کرنې پراختیا وجهي صندوق (ADF) او د کرنې کریډیټ پراختیا (ACE)
- په شمال، ختیځ، او لویدیځ کې—د اقتصادي بدیلو هڅولو امتیازونه (IDEA-NEW)
- سوداګریزه باغداري او کرنیز مارکیټ پیدا کولو پروګرام (CHAMP)

لکه څنګه چې USAID کار کوي ترڅو د کرنې پراختیا پنځه نوي پروګرامونه وړاندې کړي، دا درې پروګرامونه له زده شویو درسونو څخه د USAID لپاره پوهه برابروي.

## د کرنې پراختیا وجهي صندوق او د کرنې کریډیټ پراختیا

د کرنې پراختیا وجهي صندوق او د کرنې کریډیټ پراختیا (ADF-ACE)، د کرنې کریډیټ 150 میلیونه امریکایي ډالره یوه پروژه ده، او دوه ضمیموي فعالیتونه لري چې موخه یې د کرنې وزارت د هڅو ملاتړ او د دې وزارت د ظرفیت وده ده ترڅو پورونه برابر او مدیریت یې وکړي. د بودجې په اساس د 100 میلیونو امریکایي ډالرو ADF د دې لپاره تاسیس شوی ترڅو د بانکونو، د فارم دوکانونو، اجاري شرکتونو، او خواړو پروسس کوونکو، چې بیا په خپل وار سره بزګرانو لپاره کرنیز کریډیټونه برابروي، لدې لارو د کرنیزو اهمیت وړ محصولاتو ټولې لړی لپاره پورونه برابر کړي. ADF-ACE د پور ورکولو نهه نوي مالي محصولات ډیزاین او پیل کړي، چې یو یې د میرمنو لپاره ځانګړی شوی. د 2013 د جون تر 30 پورې، د ADF له 50.4 میلیونو امریکایي ډالرو ټول تخصیص څخه (چې د تیر ربع له 75 میلیونو امریکایی ډالرو څخه کښته تعدیل شوي)، 29 میلیونه امریکایي ډالر مکلف شوي (د تیر ربع د راپور ورکړ شوي 64.6 میلیونو امریکایی ډالرو په پرتله)، او 9 میلیونه امریکایي ډالر توزیع شوي (د تیر ربع د 53.7 میلیونه امریکایي ډالرو په پرتله).[460]

له بودجې څخه دباندې د ACE 50 میلیونه امریکایي ډالر تخنیکي برخې مرسته چې د ADF د پور ورکولو ټولو فعالیتونو مدیریت کوي او د کرنې وزارت د ظرفیت لوړولو سره مرسته کوي. د USAID په وینا، ADF د افغانستان په 34 ولایتونو کې له 20000 څخه ډیر پیرودونکي لري. ټول 67.8 میلیونه امریکایي ډالر د پورونو لپاره تایید شوي دي، لدغو څخه 32 میلیونه امریکایي ډالر توزیع شوي. USAID د پور د نه تادیه کولو نرخ یوازې 4% راپور ورکوي. پدې برياوو برسیره، USAID ویلي چې د افغانستان سیاسي او حقوقي خنډونو د ADF په قانوني ثبت او د پور ورکولو مرستو لپاره په لاس رسي کې یې ځنډ سره مخامخ کړی، چې دې کار بیا د تایید شویو پورونو شمیره او د ګټه اخیستونکو شمیره کمه کړې ده. د 2013 د جون تر 30 پورې، د ACE لپاره د USAID د 68.4 میلیونو امریکایي ډالرو له ټول تخصیص څخه، 43.6 میلیونه امریکایي ډالر مکلف شوي (د تیر ربع له 20 میلیونو امریکایي ډالرو څخه) او په پوره توګه توزیع شوي (د تیر ربع له 5.8 میلیون امریکایي ډالرو څخه).[461]

## په شمال، ختیځ، او لویدیځ کې-د اقتصادي بدیلو هڅولو امتیازونه

په شمال، ختیځ، او لویدیځ کې-د اقتصادي بدیلو هڅولو امتیازونه (IDEA-NEW) د پنځو کلونو لپاره د 160 میلیونو امریکایي ډالرو د همکاری موافقې پروژه ده چې د هیواد د شمال او لویدیځ غوره شویو ولایتونو هغو ځایونو کې چې کوکنار کرل کیږي په ځای یې کرنیز او اقتصادي بدیل برابروي. د 2013 د جون تر 30 پورې، USAID د IDEA-NEW پروګرام لپاره 154.6 میلیونه امریکایي ډالر تخصیص او 131.1 میلیونه امریکایي ډالر مکلف کړي دي (د تیر ربع له راپور ورکړ شوي څخه 4 میلیونو امریکایي ډالر زيات) او 125.1 میلیونه امریکایي ډالر یې توزیع کړي دي (له تیر ربع څخه 6.9 میلیونه

امریکایي ډالره زیات). IDEA-NEW د سوداګریزو فرصتونو، د مالي خدماتو لپاره لاس رسی پراخول، د مهمو سیمه ایزو صنعتونو او سوداګری دهلیزونو لپاره د با ارزښته لړی پراختیا د لاس رسي له لارو له بزګرانو سره مرسته کوي ترڅو قانوني کرنیزو محصولاتو ته مخه کړي. دا پروژه د مارکیټ د معلوماتي فعالیتونو او خرڅولو سره د مرستو له لارو د تولیدونکو، تجارانو، او اخیستونکو ترمنځ د اړیکو آسانتیاوې برابروي.[462]

USAID راپور ورکړی چې 52242 کورنیو له IDEA-NEW څخه ګټه اخیستې (د تیر ربع له 950000 راپور ورکړ شوې څخه تعدیل شوی)، او پایله یې له 46000 څخه زیات د دایمې کارونو او $4.7 میلیونو امریکایي ډالرو کرنیزو صادرات منځ ته راوړل وو. IDEA-NEW د کوکنارو د اغیز ارزوني پلان کوي ترڅو دا وګوري چې، که څه وي، دې پروګرام د کوکنارو په کرلو باندې اغیز کړی.[463]

د USAID د تطبیق کوونکو په وینا، نظارت اوس هم یوه ننګونه ده. که څه هم USAID وایي چې کولای شي د دریم ګړو له لورې نظارت برابر کړي، د سیګار د معلوماتو غوښتنې په ځواب کې، USAID دا منې لکه څنګه چې بهرني ځواکونه له افغانستان څخه وځي، خوندیتوب او لاس رسی لویه اندیښنه کیږي.[464] سیګار د دغو محدودیتونو په اړه په دوامداره توګه اندیښنه ښودلې.

## سوداګریزه باغداري او کرنیز مارکیټ پیدا کولو پروګرام

سوداګریزې باغداري او کرنیز مارکیټ پیدا کولو پروګرام (CHAMP)، د 40 میلیونو امریکایي ډالرو یو پروګرام دی چې په 2010 کې پیل شوی، او موخه یې دا ده ترڅو له بزګرانو سره مرسته وکړي میوه لرونکي ونې کیږدي او د میوو او انګورو هغه باغونه په مخه یوسي چې ډیره ګټه ولري. CHAMP له بزګرانو سره کار کوي ترڅو د محصولاتو کیفیت ښه کړي او د صادراتو او سوداګری دهلیزونو هڅولو سره مرسته کوي. دا پروګرام له سوداګرو سره هم کار کوي ترڅو محصولاتو ټولو، ټړل، سړې خونې، او ترانسپورټ طریقې ښه کړي.[465]

USAID راپور ورکړی چې له 13000 زیاتو کورنیو څخه زیاتو له CHAMP څخه مستقیمه ګټه اخیستې، پداسې حال کې چې له 5000 هکتارو زیاتې ځمکه کې 2.7 میلیونه میوه دارې ونې کښینول شوي. لکه څنګه چې CHAMP د 2014 سپارلو ته نږدې کیږي، دا به له حاصلاتو اخیستلو ورسته د لوړ ارزښت حاصلاتو په سوداګریزه کولو باندې کار وکړي. د دې پروګرام موخه داده چې د مارکیټ پیدا کولو له لارې صادرات ډیر کړي، او د کور دننه د وارداتو لپاره بدیل وهڅوي.

د 2013 د جون تر 30 پورې، له هغو نږدې 37.8 میلیونو امریکایي ډالرو څخه چې USAID د CHAMP لپاره تخصیص کړي، 30.3 میلیونه امریکایي ډالر مکلف شوي دي (له تیر ربع څخه 6 میلیونه امریکایي ډالر زیات) نږدې 26.5 میلیونه امریکایي ډالر توزیع شوي دي (له تیر ربع څخه 3.2 میلیونه امریکایي ډالر زیات). مګر، USAID ویلي چې نا امني اوس هم د CHAMP پوره تطبیقولو او موادو توزیع کولو په وړاندې لویه ننګونه ده. په ځانګړې توګه په کندهار، هلمند، زابل، وردګ، لوګر، او غزني کې د مخالفینو ډلې د CHAMP کارکوونکي او بزګران تهدیدوي.[466]

## ضروري خدمات/پراختیا

له 2002 څخه، امریکا د بیا رغونې لپاره مرستې برابرې کړي ترڅو بریښنا ډیره کړي، سړکونه او پلونه جوړ کړي، او روغتیا او روزنه ښه کړي. دا برخه د امریکا د هڅو د مهمو پرمختګونو

په اړه ده ترڅو د ضروري خدماتو لکه برېښنا، ترانسپورت، روغيتا، او روزنې رسولو لپاره د حکومت وړتيا زياته کړي.



**د افغانستان د برېښنا برابرولو يو کارکوونکی**
د کجکي بند د برېښنا په فابريکه کې د سيګار ټيم ته ښه راغلاست وايي. (د سيګار عکس)

## انرژي

برېښنا د افغانستان پراختيا لپاره اړينه ده. د افغانستان له حکومت سره په ګډ کار کولو سره او د اعلان شويو لمړيتوبونو په اساس، امريکا له 2002 څخه د برېښنا د يوه متحد سکتور پراختيا د بيارغونې له لمړيتوبونو څخه ټاکلې ده. له 2002 تر 2011، يوازې USAID نږدې 2 ميلیارده امريکايي ډالر د ESF لپاره برابر کړي ترڅو جنراتورونه ، فرعي ستيشنونه، او د ليږدولو لينونه جوړ کړي، او دې سکتور لپاره تخنيکي مرسته برابره کړي. او پلان لري ترڅو نږدې 900 ميليونه امريکايي ډالر نور په راتلونکو څو کلونو کې برابر کړي.[467] په دې برسيره، د امريکا دفاع وزارت د برېښنا پروژو لپاره د CERP له لارې 292$ ميليونه امريکايي ډالر او 530 ميليونه امريکايي ډالر د افغانستان زيربنا وجهي صندوق (AIF)، چې د امريکا بهرنيو او دفاع وزارتونو له لورې په ګډه اداره کيږي، له لارې برابر کړي دي.[468] دغو مرستو د هغو افغانانو شميره چې په 2001 کې 5% برېښنا ته لاس رسي درلود، په 2012 کې 30% ته زياته کړې ده.[469]

افغانستان په اوس وخت کې د برېښنا نهه بيلابيل سيستمونه لري. دوه اصلي سيستمونه د شمال ختيځ برېښنا سيستم (NEPS) او د سويل ختيځ برېښنا سيستم (SEPS) دي. USAID درې پروژې لري ترڅو په دواړو سيستمونو کې برېښنا وصله کړي او ډېره کړي، شبرغان؛ کندهار-هلمند برېښنا پروژه، د کجکي د اوبو بند برېښنا شامل ده؛ او د برېښنا د پراختيا او وصلولو پروګرام دی. د افغانستان حکومت له USAID سره له نږدې همغږۍ کوي، دې پروګرامونو ته يې لمړيتوب ورکړی چې موخه يې د شبکې په اساس د مناسب قيمت برېښنا شتون ډيروالی دی.[470]

## د شبرغان پروګرام

د USAID په وينا، د شبرغان پروژه هغه مهم ګام دی ترڅو د غازو زيرمې وپيژندل شي او اداره شي او د افغانستان لپاره کورنی برېښنا اضافه کړي، چې اوس د خپلې برېښنا 70% ارتياوې واردوي.[471] USAID د شبرغان پروګرام خپله برخه د دوو ميکانيزمونو له لارو تطبيقوي: د 90 ميليونو امريکايي ډالرو د بودجې په اساس د شبرغان د غازو پروژه (SGDP)، او د 35 ميليونو امريکايي ډالرو، له بودجې څخه دباندې د شبرغان د غازو توليد فعاليت. د 2013 د جون تر 15 پورې، د SGDP لپاره 30 ميليون امريکايي ډالر مکلف شوي دي، هيڅ توزيع شوي ندي: او د شبرغان د غازو توليد فعاليت لپاره 20.5 ميليون امريکايي ډالر مکلف شوي دي، لدغو څخه نږدې 7.4 ميليونه امريکايي ډالر توزيع شوي دي.[472]

USAID د شبرغان پروګرام 21% تمويلوي؛ د بهرني خصوصي پانګونې شرکت د 300 ميليونو امريکايي ډالرو خصوصي تمويل شوي غازو برېښنا فابريکې مالي ملاتړ کوي (د ټولو مرستو 52%)؛ د آسيا پراختيايي بانک (ADB) د ساختمان او اړوند ليږدولو لينونو (22%) ملاتړ کوي؛ او د کانونو او پطروليم وزارت به پاتې 5% تر پوښښ لاندې ونيسي.[473]

د SGDP د برمه کولو او بيار غونې داوطلبيو دويم پړاو پدې ربع کې لاسته راوړل شو او و ارزول شو. دا پروژه له څلور څاګانو څخه دريو ته کمه شوه. امنيتي او سياسي خطرونو ته

په پام سره، شرکتونه دې کار ته له پانګونې څخه کمه ګټه لاسته راوړلو په توګه ګوري. تمه کیږي چې یو قرارداد د 2013 په اګست کې وړاندې شي.[474] پدې برسیره، پدې ربع کې د قرارداد د منځنی ارزونې څخه وروسته، USAID له خپل اختیاز څخه کار واخیست ترڅو د پرمختللي انجنیری نړیوالو ملګرو لپاره دویم 18 میاشتو اختیار تمدید کړي، چې د کانونو او پطرولیم وزارت او د غازو د سوداګری ریاست، او د افغانستان بریښنا شرکت (DABS) لپاره تخنیکي مرسته برابروي. USAID ویلي چې افغانستان په اوس وخت کې تخنیکي وړتیا نلري چې غاز تولید کړي، د انرژی د خرڅولو خبرې ترسره کړي، او د عملیاتو او ساتنې پروګرامونه تطبیق کړي.[475]

د دې ربع په یوه بل پرمختګ کې، امریکا د TFBSO په مرسته، د کانونو او پطرولیم له وزارت سره د هوکړې دوه یادښتونه (MOU) لاسلیک کړل. یو له شبرغان څخه مزار ته د اوسنې 89 کیلومترو د غازو د پایپ لین بیارغول دي، چې په مزار کې د شمال سرې بریښنا فابریکې ته غاز رسوي. بل د شبرغان او مزارشریف ترمنځ د 94 کیلومترو یو پایپ لین دی، او په یتیم تاق کې د غازو د تصفیې فابریکې جوړول دي. د دې پروژو ټول اټکل شوی لګښت 32 میلیونه امریکایي ډالر دی. اټکل کیږي چې د 2014 په جون کې بشپړ شي، دا پروژې به د حکومت د تصدی، افغان غازو تصدی له لورې تطبیق شي.[476]

## د کندهار او هلمند د بریښنا پروژه


د کجکي د اوبو بند **د بریښنا فابریکې دریم توربین** ځینې برخې څو کلونه دباندې تر ترپال لاندې پرتې وې او د نصبولو په تمه دي. (د سیګار عکس)

د کندهار او هلمند د بریښنا پروژې (KHPP) موخه دا ده ترڅو په کندهار کې بریښنا زیاته کړي او بریښنا ته د خلکو لاس رسي ډیره کړی. دا پروژه د مهمو اړتیاوو لپاره د ډیزل د لنډ مهاله بریښنا ملاتړ لپاره ډیزاین شوې وه، او د دوام وړ اوږد مهاله د اوبو بریښنا زیاته کړي، او پداسې حال کې چې د سویل لیږلو او توزیع سیستم پیاوړی کوي، د ضایعاتو مخه ونیسي.[477] USAID په 2010 کې، بلک او ویتیک ته د 266$ میلیونو امریکایي ډالرو یو قرارداد ورکړی، ترڅو د بریښنا فرعي سټیشنونه ورغوي، د کندهار په ښار کې د منځني ولتاژ توزیع سیستم نوی کړي، په کجکي کې دریم توربین نصب کړي، او یو نوی، مګر لنډ مهاله ډیزل جنراتور نصب کړي. د امریکا دفاع وزارت ژمنه کړې ترڅو د دې او د امریکا د انجنیرانو د قول اردو د نورو نصب شویو جنراتورونو لپاره په 2014 کې تیل تمویل کړي. د تیلو دا سبسایډي به تمدید شي، مګر USAID تمه لري چې دا به هغه وخت کمه شي، کله چې د افغانستان بریښنا شرکت هغه د اړتیا وړ کاموته واخلي ترڅو د تیلو د لګښتونو لپاره د اړتیا وړ عواید لاسته راوړي.[478]

د 2013 جون تر 15 پورې، USAID د کندهار-هلمند بریښنا پروګرام لپاره د ESF له مرستو څخه 229.6 میلیونه امریکایی ډالر مکلف کړي دي، او لدغو څخه یې نږدې 176.6 میلیونه امریکایي ډالر توزیع کړي دي، او دا له تیر ربع څخه 24.4 میلیونه امریکایي ډالر زیاتوالی ښیي.[479]

په تیر ربع کې، USAID د کجکي د دریم توربین نصبول مسولیت د افغانستان بریښنا شرکت ته سپارلی، او ژمنه یې کړې چې د بودجې په اساس یې تمویل کړي. کیدای شي دا توربین 18.5 میګاواټه اضافي بریښنا برابره کړي. د 2013 په می کې، USAID د بودجې په اساس د افغانستان حکومت سره د بودجې په اساس د تطبیقولو یو مکتوب لاسلیک کړ، او د دې پروژې لپاره یې د 75 میلیونو امریکایي ډالرو ژمنه کړې. د افغانستان بریښنا شرکت د دریم توربین د نصبولو او د ساختماني چارو اداري مشاور د وړاندیزونو غوښتنه کړې. داوطلبی به د جون په میاشت کې ترسره شي او اوس تر ارزونې لاندې دي. د بودجې په

اساس د مرستې تطبيقولو ستراتيژي د بشپړولو نيټه يې د 2015 پای ته بدله کړې ده. بلک او ويتيک شتون لري ترڅو د 2013 تر سپټمبر د قرارداد د ختم نيټې پورې تخنيکي مرسته او د ساحې امنيت برابر کړي. د مخالفينو له لورې د کجکي د ليږد په لينونو باندې وروستی بريد د 2013 په مې کې منځ ته راغلی او پايله يې د اتو ورځو لپاره د بريښنا نشتون وو.[480]

په افغانستان کې د امريکا ځواکونه، د امريکا د اردو انجنيرانو قول اردو، او USAID په SEPS کې د بريښنا د اړوند زيربنا په هڅو کې له يو بيل سره نږدې کار کوي. پدې ربع کې د کندهار او هلمند بريښنا پروژې لوژستيکي ستونزو دوام درلود. USAID راپور ورکړی چې د کندهار د متوسط ولتاژ د توزيع د نوي کولو لپاره د اړينو تجهيزاتو دوه کانتينرونه اوس هم په پاکستان کې د نامعلوم وخت لپاره ساتل کيږي. پدې برسيره، APPF چې د SEPS په اوږدو کې امنيت برابروي، په يوه اړخيزه توګه د قرارداد مقررات، شرطونه، او د واحد قيمتونه بدلوي، او دا په قرارګاه کې د رهبرۍ او قرارداد کولو د افسرانو د بدلون له کبله کيږي. د USAID په وينا، په پايله کې د قرارداد او محافظينو معاشونه ځنډيدلي، او ځينې وختونه يې د ساحې امنيت له ستونزو سره مخامخ کړي.[481]

## د بريښنا د ليږد پراختيا او وصلولو پروګرام

د بريښنا د ليږد پراختيا او وصلول (PTEC)، د امريکا له لورې تمويل شوی پروګرام چې د بريښنا د توليد، ليږد، او توزيع سيستمونو لپاره ډيزاين شوی، د افغانستان د ملي پراختيا ستراتيژی د ملي انرژۍ د برابرولو پروګرام څخه په مستقيمه توګه ملاتړ کوي. دا ستراتيژي د بريښنا د بيلونو په وړاندې د پيسو ټولولو کچې او د بريښنا برابرولو ښه والي غوښتنه کوي.[482]

د PTEC مهمه برخه د کابل او کندهار ترمنځ د ليږد د لينونو جوړولو تمويلول دي ترڅو NEPS او SEPS سره وصل شي. دا 530 کيلومتره وصلول، او د کجکي د بريښنا بند د فابريکي بيارغونه، په 2010 کې د يووازې هغې ممکنې او اوږد مهالې حل لار په توګه وپيژندل شوه ترڅو په کندهار کې د ډير لګښت او دوام نه وړ ډيزل بريښنا توليد بدل شي. د NEPS او SEPS د څو مرستندويانو هڅه ده. د آسيا پراختيايي بانک د کابل-ارغندي د لمړي 40 کيلومترو د فرعي ستيشن د وصل مسوليت لري. د امريکا دفاع وزارت د امريکا د انجنيرانو قول اردو له لارې، له ارغندي څخه تر پل علم او ګرديز پورې د ليږد لين جوړوي. USAID به له ارغندي څخه تر غزني پورې د بودجې په اساس د افغانستان بريښنا شرکت سره له مرستې څخه د 120 کيلومترو برخې جوړول تمويل کړي.[483]

USAID پلان لري ترڅو د آسيا پراختيايي بانک د افغانستان د زيربنا وجهي صندوق (AITF) ته د PTEC د پروژې له 814 ميليونو امريکايي ډالرو څخه 417 ميليونه امريکايي ډالر ورکړي، لدغو څخه به نږدې 290 ميليونه امريکايي ډالر له غزني څخه تر کندهار پورې ته د ليږد پاتې لين جوړولو لپاره کار واخيستل شي ترڅو د NEPS او SEPS وصلول بشپړ شي. د آسيا پراختيايي بانک د 2010 په دسمبر کې AITF تاسيس کړ، ترڅو دوه اړخيزو، څو اړخيزو، او انفرادي برخه اخيستونکو ته اجازه ورکړ شي چې لدې بانک سره د زيربنا د پانګونې په تمويل کې ملګرتيا وکړي. AITF به د بودجې په اساس د افغانستان بريښنا شرکت يا د افغانستان حکومت نورو وزارتونو له لارې پروژې تمويل کړي. د AITF په اوسنيو برخه اخيستونکو کې د انګلستان د نړيوالې پراختياه اداره او د جاپان سفارت هم شامل دي. د 2013 د جون تر 6 پورې، USAID د AITF لپاره 180 ميليونه امريکايي ډالر مکلف کړي او 45 ميليونه امريکايي ډالر توزيع کړي.[484]

## د امریکا دفاع وزارت له لورې تمویل شوي پروګرامونه

د امریکا دفاع وزارت په وینا، په افغانستان کې د اعتماد او دوام وړ بریښنا او لیږد د امنیت، ثبات، او اقتصادي پراختیا لپاره ډیره مهمه ده. پدې ربع کې، د امریکا دفاع وزارت د 2012 او 2013 مالي کلونو د AIF له پیسو څخه د بریښنا سکتور د لمړیتوب بیلابیلو پروژو تطبیقولو ته دوام ورکړی. پدې کې دا شامل دي:[485]

- د کندهار بریښنا د وصلولو حل لار
- د کندهار دراني جنکشن د لیږد لینونه
- د چاریکار-بازارک او چاریکار-محمود راقي د لیږد لینونو او د بریښنا فرعي ستیشنونه

## د کندهار بریښنا د وصلولو حل لار

ترڅو چې د کندهار-هلمند بریښنا پروژه بشپړه شي دا پروژه د کندهار په ښار کې د بریښنا ډیزل جنراتورونو لپاره تیل برابروي. د مرستو کچې د تیر ربع په پرتله بدلون ندی موندلی. د 2012 مالي کال د تیلو، عملیاتو او ساتنې مرستو کچه اوس هم 79.8 میلیونه امریکایي ډالر ده. د 2013 مالي کال اټکل شوی لګښت نږدې 100 میلیونه امریکایي ډالر دي، چې پدې کې 90 میلیونه امریکایي ډالر د تیلو او 10 میلیونه امریکایي ډالر د ساتنې لپاره دي.[486] د امریکا دفاع وزارت پلان لري چې تر 2015 مالي کال پورې د تیلو اخیستلو او ساتنو لپاره ملاتړ ته دوام ورکړي.[487] دا وزارت دا بریښنا د مخالفینو په وړاندې د ستراتیژۍ لپاره مهمه ګڼي ترڅو د اقتصادي پراختیا ملاتړ او د وګړو د ژوند کیفیت ښه کولو له لارو کندهار باثباته کړي. د امریکا دفاع وزارت ویلي چې د کندهار د بریښنا وصلولو حل لار د افغانستان د بریښنایي کولو پلان او د افغانستان لپاره د امریکا بهرنیو چارو پراختیایي پلان لپاره مرکزي ونډه لري.[488]

## د کندهار تر دراني پورې د لیږد لینونه

د SEPS د پراختیا له هڅو څخه، دا پروژه تیرو هڅو ته دوام ورکوي ترڅو د کندهار له ښار څخه د دراني تر جنکشن پورې د لیږد لینونه نصب او ورغوي او په میوند او پاشمول کې فرعي ستیشنونه جوړ او ورغوي. د 2012 مالي کال په مرستو کې د دې پروژې لګښت اوس هم 40 میلیونه امریکایي ډالر دی. د لیږد دا لینونه به مرسته وکړي ترڅو د افغانستان په سویل او سویل ختیځ کې د اعتماد وړ بریښنا اړتیاوې حل کړي او دا د SEPS او NEPS د وصلولو لپاره د PTEC د پروژې مهم عنصر دی. د امریکا دفاع وزارت موخه دا ده چې اقتصادي پراختیا، امنیت، ثبات، او د افغانستان بریښنا شرکت د ظرفیت لوړولو هڅو ملاتړ وکړي ترڅو د بریښنا سوداګري ښه کړي چې دا به دې شرکت ته اجازه ورکړي ترڅو په پوره اندازه عواید تولید کړي او د شبکې ښه والی تمویل کړي. د امریکا دفاع وزارت په وینا، د دې پروژې بشپړول اړین دي ترڅو د کجکي په بند کې دریم توربین له لورې تولید شوې بریښنا چې د نصبولو په تمه دی توزیع شي.[489]

## د چاریکار-بازارک او چاریکار-محمود راقي د لیږد لینونه او د بریښنا فرعي ستیشنونه

دا پروژه به له چاریکار څخه تر بازارک پورې او له چاریکار څخه تر محمود راقي پورې د لیږد 83 کیلومتره لینونه نصب کړي، او د NEPS پراختیا لپاره به د بریښنا درې فرعي ستیشنونه جوړ کړي. کانګرس ته د امریکا دفاع وزارت په خبرتیا کې، دې پروژې لپاره تخصیص شوي 48 میلیونه امریکاي ډالر 2013 مالي کال ته وړل شوي او پدې باندې نور

22 ميليونه امريکايي ډالر اضافه شوي، چې ټول اټکل شوی لګښت يې 71 ميليونه امريکايي ډالر دي. د هرکال اټکل شوي لګښتونه 580000$ دي. د امريکا دفاع وزارت کانګرس ته ويلي چې دا پروژه په دريو ولايتونو کې د 1.15 ميليونو افغانانو لپاره د اعتماد وړ بريښنا راوړي او په ځانګړې توګه د کرنې، پروسس کولو، توليد، او کانونو په سکتورونو کې به د خصوصي سکتور له ودې سره مرسته وکړي. د امريکا دفاع وزارت آټکل کوي چې د افغانستان بريښنا شرکت به د ملي شبکې د ساتنې او د زيربنا د بشپړ شوي پراختيا مسوليت په غاړه واخلي او وبه کولای شي دې برخو ته د ډېر عوايد او ظرفيت سره دوام ورکړي.[490] مګر سيګار د بريښنا شرکت د ظرفيت په اړه انديښنې ښکاره کړي، او نورو پلټنو ويلي دي چې افغانستان هغه اړيني سرچيني نلري ترڅو د ساتنو لګښت ورکړي.[491]

## د بريښنا په سکتور کې د CERP پروژې

د امريکا دفاع وزارت د بريښنا د وړو کچو پروژو تادياتو لپاره، لکه د جنراتورونو نصبول، د شمسي تختو سيستمونه، او د بريښنا پايو د CERP له مرستو څخه کار اخلي. د 2013 مالي کال په دويم ربع کې، د CERP له لورې د بريښنا د 10 نورو پروژو لپاره مرستې مکلف شوي (چې ارزښت يې 33240$ امريکايي ډالر) وو. پدغو مکلف شويو نويو پروژو کې تر ټولو لويه پروژه (5000$ امريکايي ډالر) په لوګر کې د شمسي تختو د شپږو پايو نصبول وو چې د سيمې 10000 خلکو ته يې ګټه ورسيدله. په 2013 مالي کال کې له 89553$ مکلف شويو امريکايي ډالرو څخه، د 2013 د مارچ تر 31 پورې، 75836$ امريکايي ډالر توزيع شوي دي.[492]

## ترانسپورټ

د افغانستان د ترانسپورټ زيربنا نشتون د سوداګرۍ او اقتصادي پراختيا په وړاندې خنډ دی. دا هيواد په ټوله نړۍ کې د سړکونو ډېر خراب سيستمونه لري. د نړيوال بانک د تحليل په اساس، دا هيواد له 100 ميلو څخه کم د ريل پټلی لري، او د بهر له نږدې بندر څخه 2000 کيلومتره واټن لري، او دا په وچه کې د پراختيا په حال کې تر ټولو هيوادونو له بندر څخه اوږد واټن دی. دې بانک ويلي چې د ترانسپورټ سکتور بيارغونه د اقتصادي بيارغونې او پراختيا لپاره اړينه ده.[493]

د افغانستان د زيربنا نيمګړتياوې په ځانګړې توګه د خدماتو او کرنې سکتورونو لپاره ستونزمنې دي، چې په اوس وخت کې د کورنيو ناخالصو توليداتو ډېره برخه جوړوي. دا ستونزې د استخراجي صنعت لپاره هم خنډ دي، چې د افغانستان حکومت او نړيوالي ټولنې مرستندويان پدې عوايدو باندې حساب کوي ترڅو د مرستو کميدلو ځای ونيسي.[494] پدې ربع کې، امريکا خپلو د ترانسپورټ د قوانينو جوړولو، د وزارت ظرفيت ډېرولو، او له نړيوالو ستندردونو سره اطاعت په برخو کې خپلو هڅو ته دوام ورکړی.

### ريل

امريکا او نړيوال ملګري يې له افغانستان سره مرسته کوي ترڅو د ريل خپل سکتور ته پراختيا ورکړي، چې موخه يې د يوه ګټور او دوام وړ سيستم جوړول وي. په اوس وخت کې، افغانستان د ريل پټلی کومه مهمه پراختيا، عملياتي تجربه، يا ظرفيت نلري. يوازې د ريل يوه بشپړه شوې پټلی شتون لري، او دا له ازبکستان سره په سرحد کې له حيرتان څخه تر مزار شريف پورې د 75 کيلومترو پټلی ده.[495] دا هيواد اړتيا لري ترڅو د 75 کيلومترو پټلی لين ته پراختيا ورکړي که غواړي د سيمې د اقتصادي اړيکو د وړيښمو د نوي لار ليد ته وده ورکړي.



افغانستان ته **د 2013 د می په سفر کې،** ځانګړي عمومي مفتش ساپکو له ازبکستان سره د افغانستان د ریل وصلول ګوري. (د سيګار عکس)

د ريل پټلی راتلونکې برخه، د افغانستان، ترکمنستان، او تاجکستان ترمنځ د 400 کيلومترو يو بل سره وصلولو پټلی ده، چې پدې ربع کې پرانيستل شوه.[496]

دا ربع د افغانستان لپاره د ملي ريل پلان د خپريدلو شاهد وو. د امريکا حکومت ملکي او اردو کارکوونکو د ريل صنعت له کارکوونکو او اکاديميکو سره کار کړی ترڅو دې پلان ته پراختيا ورکړي.[497] دا په عمومي کچه، د ګمان په اساس پلان د افغانستان ملي او سيمه ايزې زيرمې د دهليز پروګرام ملاتړ کوي، چې يوه برخه يې د سيمه ايزې سوداګرې او ترانسپورت د بيارغونې او نوي کولو غوښتنه کوي، چې افغانستان، پاکستان، ايران، چين او مرکزي آسيا سره وصلوي.[498]

د ريل پلان خپلې سپارښتنې له اقتصادي پلوه د امکان وړ، او له تخنيکي او مالي پلوه مناسب ګڼي، مګر د څو خطرونو د برخو په وړاندې حساس دی چې دا پلان يې د منلو وړ کچې ته را کموي.[499] دا پلان د افغانستان د پراخو خامو اوسپنو او مسو د زيرمو لپاره د دوامداره اقتصادي پراختيا او د ريل د سوداګريزو امکاناتو په اساس جوړ شوی دی. داسې وړاندوينه کيږي چې نږدې 76% د ريل ټوله کارګو به له کانونو څخه وي، او يوازې حاجيګک به نږدې 60% وي. د پلان د مسودې ليکوالانو ويلي چې د هغوی تحليل ښيي چې له 2017 څخه تر 2040 پورې د منرالونو له ترانسپورت څخه د ريل عملياتونو عوايد امکان لري چې 54 ميلياردو امريکايي ډالرو ته ورسيږي او پدغه موده کې به د حکومت عوايد، امتيازونه او ماليې 45 ميلياردو امريکايي ډالرو ته ورسيږي.[500]

مګر، پلان پدې پوهيږي چې د دغو ګټو د حقيقت موندنې لپاره، افغانستان بايد د کم قيمت د خامو اوسپنو له توليدوونکو لکه برازيل او آستراليا سره سيالي وکړي، چې يو ميتريک ټن خامه اوسپنه د $39 امريکايي ډالرو په کمو پيسو استخراجوي، په ريل يې ترانسپورت کوي، او د آسيا مارکيټونو ته يې په کشتي کې ليږي. که د افغانستان خامه اوسپنه سيالي ونشي کولای، عوايد به د ريل د پراختيا او دوام لپاره پوره نه وي. د پلان ليکوالانو دا هم ويلي چې افغانستان بايد بهر بندرونو ته له ښه تنظيم شويو لارو څخه کار واخلي ترڅو د ريل د بيلابيلو اندازو مخه ونيسي، چې دا به د کارګو کښته کولو او سپارلو ته اړتيا ولري او وخت او لګښت به زيات کړي. دا به هم يوه لويه ننګونه وي، ځکه چې افغانستان د ريل پټلی په دريو بيلابيلو اندازو محاصره دی. روسيه (ترکمنستان، ازبکستان، قرغزستان، او تاجکستان)، ستندرد (ايران او چين)، او د هندوستان پراخ (پاکستان او هندوستان)، لکه څنګه چې پدې عکس 3.34 کې ښودل شوي.[501]

دا عکس 3.34 دا هم ښيي چې د خوښې وړ ريل ډيزاين، چې له دوو اصلي لينونو څخه جوړ شوی: د سويل لار چې د کانونو ساحو ته نږدې ده او کولای شي د ايران او پاکستان بندرونو له لارو منرالونه نړيوالو مارکيټونو ته ترانسپورت کړي، چې دا له ستندرد ريل پټلی څخه کار اخلي؛ او بله د شمال لار ده چې د روسيې له اندازې څخه کار اخلي او کولای شي سوداګريزه کارګو ترانسپورت کړي. تمه کيږي چې د سويل پټلی به له اقتصادي پلوه ګټوره وي، چې کيدای شي له 2017 څخه تر 2040 پورې 56.1 ميليارده امريکايي ډالر راوړي. د دې پلان په اساس ايران د صادراتو لپاره غوره دی، ځکه چې دا لار ښه تنظيم شوې او د ايران د ريل زيربنا تر پاکستان ښه وضعيت لري.[502]

د شمال لين به له اقتصادي پلوه کم امکانات ولري چې کيدای شي په ورته موده کې به 12.6 ميلياره امريکايي ډالر لاسته راشي. دواړې پټلی له ايران سره سوداګرۍ ته آسانتياوې برابروي. د شمال لين به د ايران او مرکزي آسيا د جمهوريتونو ترمنځ سوداګرۍ ته پراختيا ورکړي، او امکان لري چې له 2017 تر 2040 پورې 3 ميليونه ميتريک ټنه کارګو ولري، او له

# اقتصادي او ټولنيزه **پراختيا**

عکس 3.34

**د لوړ لمړيتوب ريل د ډيزاين او په سيمه کې د اړيکو اړتيا - د افغانستان ملي ريل**




يادونه: ”ګيچ“ د ريلونو په منځ کې واټن ته وايي.
سرچينه: د افغانستان حکومت د ملي ريل پلان، 7/1/2013.

افغانستان څخه به د چينل په توګه کار واخيستل شي. د ايران، چين، او اروپا په منځ کې اضافي سوداګريز ريل ترافيک لپاره امکانات هم شتون لري.[503]
څرګنده ده چې د ايران په وړاندې به د امريکا راتلونکي پاليسی د ريل د پلان په دواړو برخو وړاندوينو باندې اغيز ولري.

## روزنه

USAID ته د روزنې وزارت د معلوماتو د اداري له سيستم (EMIS) څخه د 1390 تعليمي کال (2011 مارچ تر 2012 مارچ) د شته معلوماتو په وينا، افغانستان ټول 13556 ابتداييه،

متوسطه او لیسي شوونځي لري. لدغو څخه 2204 د انجونو ښوونځي، 4097 د هلکانو، او 7255 دواړه د انجونو او هلکانو ښوونځي دي. له 2002 څخه، USAID د 696 ښوونځیو او یو شمیر د ښوونکو روزنې ښوونځیو جوړول او بیارغول تمویل کړي. د روزنې وزارت په وینا، په 1391 تعلیمي کال (2012 مارچ تر 2012 دسمبر) کې نږدې 500 ښوونځي تر ډیري کچې د جنګ په ولایتونو کې لکه زابل، هملند، د غزني ځینې برخې، وردګ، کندهار، او ارزګان کې تړل شوي. دا احصاییه EMIS ته راپور نده ورکړ شوې ځکه نو تایید کیدای نشي.[504]

د EMIS د 1390 تعلیمي کال معلوماتو په وینا، نږدې 7.6 میلیونه زده کوونکي په حکومتي ابتداییه او متوسطه ښوونځیو، او حکومتي لیسو کې وو، چې لدې څخه 4.6 نارینه او 3 میلیونه ښځینه وو. پدې برسیره، 77600 محصلین په حکومتي پوهنتونونو کې وو، 62800 نارینه او 14800 ښځینه وو.[505] مګر که د روزنې ټول پروګرامونه سره یوځای شي، پشمول د عمومي، دیني، سرحدي، تخنیکي، حرفوي، او د سواد زده کړې زده کوونکي، په افغانستان کې د راپور ورکړ شویو ټولو زده کوونکو شمیره له 8.3 میلیونو څخه ډیره وه، 5.16 میلیونه نارینه او 3.16 میلیونه ښځینه وو.[506]

USAID ویلي ښوونې وزارت د EMIS د معلوماتو په اړه ځینې اندیښنې شته، او دا لدې کبله وو چې د ښوونځیو په معمولي کارونو کې د زده کوونکي له وتلو وروسته هم د هغه نوم د دوو کلونو لپاره ساتل کیږي. په تیر کې، USAID د خپلو پروژو د ساحو احصایي د تطبیقکونکو ملګرو قراردادیانو له لارې تایید کړي دي. لکه څنګه چې د USAID ډیره مرسته اوس د بودجې په اساس ده، USAID د ښوونې وزارت په معلوماتو باندې تکیه کوي.[507]

د 1390 تعلیمي کال د ښوونې وزارت د معلوماتو په وینا، د افغانستان په ټول تعلیمي پروګرام کې 185250 ښوونکو شتون درلود، لدغو څخه 128600 نارینه او 56650 ښځینه وو، ډیری عمومي ښوونې تعلیم ورکوي، او ورپسې دیني ښوونه راځي. د USAID په وینا، د افغانستان ښوونې سیستم اصلي ننګونو کې د ښوونکو کمه وړتیا، د نظارت او مدیریت کموالی، د امنیت نیمګړتیاوې، په صنفونو کې کم مواد، او له ولایتونو سره د وزارت د همغږی کم ظرفیت شامل دي.[508]

د ښوونې په سکتور کې د USAID د لمړیتوبونو په روانو پروګرامونو چې پدې ربع کې د ESF له لارې تمویل شوي دا شامل دي:

- اساسي ښوونه، د سواد زده کړه او تخنیکي حرفوي زده کړه او روزنه (BELT)
- د لوړې زده کړې پروژه (HEP)
- په افغانستان کې د امریکا پوهنتون (AUAF)

USAID د ښوونې او لوړو زده کړو له وزارتونو سره په هراړخیزې همغږی کې او وروسته لدې چې د نورو مرستندویانو په پرتله یې څنګه له پیاوړتیا څخه په ښه توګه کار واخیستل شي او د افغانستان د ملي زده کړې لمړیتوبونه او اړتیاوې پوره شي، دا درې پروګرامونه یې د خپلو لوړو لمړیتوبونو په توګه غوره کړي.[509]

## اساسي ښوونه، سواد زده کړه، او تخنیکي حرفوي زده کړه او روزنه

اساسي ښوونه، سواد زده کړه، او تخنیکي حرفوي زده کړه او روزنه (BELT) د دریو کلونو (د 2011 دسمبر د 2014 اکتوبر) لپاره د 173 میلیونو امریکایي ډالرو د بودجې په اساس پروګرام ده، چې موخه یې د حکومت له لاس رسی څخه لرې ټولنو ته د کیفیت وړ روزنې لاس رسي ښه کول دي. دا پروګرام تخنیکي حرفوي روزنه، روزنه، او د سواد زده کړې پروګرامونه برابروي. د 2013 د جون تر 30 پورې، USAID 20 میلیونه امریکایي ډالر مکلف کړي او نږدې 5.8 میلیونه امریکایي ډالر توزیع کړي دي، دا له تیر ربع څخه 1.1 میلیونه امریکایی ډالر زیاتوالی ښیي.[510]

تخنیکي حرفوي زده کړه او روزنه (TVET) د BELT راتلونکي برخه ده. موخه به یې د افغانستان کوچنیانو لپاره په ځانګړې توګه هغو انجونو ته چې په لرو پرتو سیمو کې دي، د کیفیت وړ ښوونه او روزنه برابره کړي، ترڅو هغوي وکولای شي کار پیدا کړي. USAID او د ښوونې وزارت اوس هم د فعالیت په موخو، د ښوونځو شمیره، ښوونکو، او زده کوونکو باندې خبرې کوي چې په نښه به شي، او که ورته ورسیږي، بیا به د بودجې په اساس توزیع پیل شي. د تطبیق یو مکتوب چې دا موخې، د ارزونې وسیلې، او له هرې موخې سره د اړوندې مرستې اندازه به پکې تشریح شوې وي، باید د 2013 په می کې لاسلیک شوې وای، مګر وځنډېدله.[511]

TVET BELT د بودجې په اساس د دې هڅې یوه بله برخه ده ترڅو د TVET د ښوونکو کیفیت او تخصص ته وده ورکړ شي. موخه یې د فارغینو، ثانوي، او له ثانوي وروسته زده کوونکو لپاره د مهارتونو د رسمي او تایید شوي شهادتنامې برابرول دي، او په ملي کچه به د ښوونې په وزارت کې د TVET سره برابر د رسمي شهادتنامې سیستم جوړ کړي.[512] USAID راپور ورکړی چې پدې ربع کې د پروژې په موخوو، بریاوو او ننګونو کې کوم بدلون ندی راغلی.[513]

مګر، USAID د کابل نړیوال ښوونځي (ISK) لپاره اوسنی قرارداد ، چې د 2013 په اګست یې نیټه ختمیدله، د 2017 د جولای تر 31 پورې تمدید کړ. د 3.1 میلیونو امریکایي ډالرو دا تمدید د دې برخې ټول اټکل شوی لګښت $7.3 میلیونو امریکایي ډالرو ته راوړي. USAID له 2005 څخه د ISK ملاتړ کوي، چې لمړی مرسته یې 9.6 میلیونه امریکایي ډالر وه. ISK دواړه انجونې او هلکانو لپاره دی، د امریکا لخوا تایید شوی، د انګلیسي ژبې، د K-12 ښوونځی دی.[514]

## د لوړې زده کړې پروژه

له هغه وخته چې د لوړې زده کړې پروژه (HEP) په 2006 کې پیل شوې، دې پروژې د لوړې زده کړې وزارت د لوړې زده کړې د ملي ستراتیژي پلان له تطبیقولو څخه ملاتړ کړی دی. د HEP وروستی برخه، چې ټاکل شوې د 2013 په اګست کې ختمه شي، د تخصصي روزنې، د کیفیت ډاډ او شهادتنامې ورکولو، د نصاب ارزونې، له پوهنتونونو سره همکاریو، اکادمیک پالیسیو، او مقرارتو له لارو وزارت ته تخنیکي مرسته برابروي ترڅو د وزارت ظرفیت ته وده ورکړي. USAID په تیر کې ویلي وو چې لکه څنګه چې دا اداره پداسې یوه چاپیریال کې کار کوي چې له لوژستیکي او امنیتي ننګونو څخه ډک دی، HEP د پایلو زیات معلومات نلري ترڅو پدې پروګرام باندې له 13 میلیونو امریکایي ډالرو څخه زیاتو لګول




د افغانستان په امريکايي پوهنتون کې د ميرمنو لپاره د پوهنتون د نوي مرکز **د پرانيستلو په اړه يو وياند ليدونکو** ته خبرې کوي. (په کابل کې د امريکا د سفارت عکس)

شوي اغيز اندازه شي. USAID پدې ربع کې د پروژې د موخو، برياوو او ننګونو په اړه کوم راپور ندی ورکړی.[515] دا روښانه نده چې آيا USAID د HEP د بل پروګرام ډيزاين ارزونې په اړه کوم پرمختګ کړی (2013-2017) چې پدې کې د پايلو اندازه کولو او معلوماتو ټولولو باندې زياته پاملرنه هم شامله وي.[516] د 2013 د جون تر 30 پورې، USAID د HEP لپاره 21.2 ميليونه امريکايي ډالر مکلف کړي او 13.4 ميليونه امريکايي ډالر توزيع کړي دي، چې له تير ربع څخه 1 ميليونه امريکايي ډالر زياتوالی ښيي.[517]

## د افغانستان امريکايي پوهنتون

د پنځو کلونو (2008 اګست-2013 جولای) لپاره د 42 ميليونو امريکايي ډالرو پروګرام چې په افغانستان کې د امريکايي پوهنتون (AUAF) د انګليسي ژبې د 14 صنف فارغينو او د ښوونې د دوام پروګرامونو لپاره، چې پاملرنه يې په آزادو هنرونو باندې ده، د پراختيا ملاتړ لپاره ډيزاين شوی. د 14 صنف په ډيپلوم کې د تجارت اداره، معلوماتي ټيکنالوجي او د کمپيوتر علم، سياسي علم او عامه اداره، او مطبوعات شامل دي. د افغانستان امريکايي پوهنتون د تجارت په اداره کې ماستری ډيپلوم هم وړاندې کوي. USAID پدې ربع کې د پروژې د موخو، برياوو او ننګونو په اړه کوم راپور ندی ورکړی.[518] د 2013 د جون تر 30 پورې، USAID دې هڅو لپاره نږدې 42.1 ميليونه امريکايي ډالر مکلف کړي دي، چې دا له تير ربع څخه د 2.5 ميليونو امريکايي ډالرو زيات راپور ورکړ شوی، او 39.7 ميليونه امريکايي ډالر توزيع کړي دي، چې له تير ربع څخه 2.1 ميليونه امريکايي ډالر زياتوالی دی. USAID هڅه کوي ترڅو د 2013 د جون تر 31 د 40 ميليونو امريکايي ډالرو د همکارۍ يوه نوې موافقه بشپړه کړي، ترڅو دا ډاډ ورکړي چې په ملاتړ کې وقفه منځ ته رانشي.[519]

## کار

د نړيوال بانک په وينا، محدودو او شکمنو معلوماتو ته په پام سره، د افغانستان د کار مارکيټ باندې د مرستندويانو د مرستې او د سپارلو اغيز ارزونه ستونزمنه ده. د بيلګې په

توګه، د 2009 شميرو ښوودلې چې يوازې 6.8% افغانان بيکاره وو، مګر له 48% څخه زيات تر کار کم کار درلود (په اوسط ډول، په هره اونی کې يې له 35 ساعتونو څخه کم کار کاوو) د نړيوال بانک د تحليل په وينا، کم کار په ځانګړې توګه د جنګ په ولايتونو کې ډير دی، او کيدای شي دا به د هغو لنډ مهاله کارونو له کبله وي چې ولايتي بيارغونې ټيمونه (PRT) يې منځ ته رواړي.[520] د ځينو PRT ترړل، او د نورو ترړل تر پلان لاندې دي، کيدای شي پدې ځايونو کې بې کاري زياته شي. له 2011 څخه، نړيوال بانک راپور ورکړی چې 80% افغان نارينوو 15 کلن او پورته په کار کولو کې برخه اخيستې، او 16% ښځينوو برخه اخيستې ده.[521]

## روغتيا

افغانستان له 2002 څخه د روغتيا د نښو په برخو کې ډير پرمختګونه کړي دي. د USAID د افغانستان د 2010 د مړينې مطالعاتو په وينا، که څه هم دا هيواد اوس هم په نړی کې د مور او کوچنې د مړينې د مرګ لوړه کچه لري، د ژوند تمه په اوسط ډول له 62-64 کلونو پورې، تر 20 کلونو پورې ښه شوې.[522] ځينو کتونکو د دې سروې دقيقوالي په اړه پوښتنې کړې دي او د 2013 د می د CIA د نړی د حقيقت کتاب په افغانستان کې د ژوند تمه له زيږيدو څخه تر 50.11 کلونو پورې ښيي. نړيوال بانک چې د ژوند تمه يې 48 ښودلې، په خپلو نړيوالو پرتله کيدونکو تحليلونو کې د افغانستان د مړينې مطالعات ندي راوړي ځکه چې دا مطالعات د تيرو 10 کلونو لپاره د وخت د لړی معلومات نلري.[523]

له 2002 مالي کال څخه تر 2011 مالي کال پورې، د افغانستان د روغتيا سکتور لپاره د امريکا د بودجې په اساس او د بودجې دباندې ټوله مرسته 926 ميليونه امريکايي ډالر ده. د عامې روغتيا وزارت (MOPH) لپاره د بودجې په اساس مرسته کې د امريکا له لورې تمويل شويو تاسيساتو کې د کارکوونکو معاشونه، روغتيايي او غير روغتيايي مواد، په خدمت کې روزنه، د تاسيساتو کمه بيارغونه، روغتيايي تجهيزات، او نظارت او مديريت هم شامل دي. له بودجې څخه دباندې مرستو کې درمل او د حمل مخنيوی درمل شامل دي.[524]

د USAID د دې ربع د روغتيا سکتور په لوړو لمړيتوبونو کې دا شامل دي:

- د روغتيا خدماتو لپاره د همکاری قراردادونه (PCH)
- د روغتيا پاليسی پروژه (HPP)
- د مشری، ادارې، حکومتولی پروژه (LMG)

ټول درې د 2014 د اکتوبر تر 31 پورې تمديد شوي.[525]

### د روغتيا خدماتو لپاره د همکاری قراردادونه

د بودجې په اساس د شپږو کلونو (2008-2014) د 218 ميليونو امريکايي ډالرو د روغتيا لپاره د همکاری قراردادونو (PCH) پروګرام، د عامې روغتيا له هڅو څخه ملاتړ کوي ترڅو په ټول افغانستان کې د روغتونونو خدماتو لپاره اساسي روغتيايي خدماتو او ضروري خدماتو څخه ملاتړ وکړي. امريکا لدغو څخه د 545 تاسيساتو ملاتړ کوي.[526] USAID پدې ربع کې د پروژې د بنو، موخو، ننګونو، برياوو، او اندازو بدلون په اړه کوم راپور ندی ورکړی. د 2013 د جون تر 30 پورې، USAID دې پروګرام لپاره 190.3 ميليونه امريکايي ډالر مکلف کړي او 136.1 ميليونه امريکايي ډالر توزيع کړي دي، دا له تير ربع څخه 14.8 ميليونه امريکايی ډالر زياتوالی ښيي.[527]

PCH له اساسي تر لوړې کچې تشخيصي او معالجوي روغتيايي خدمات وړاندې کوي. او دا پروګرام په ټولنو کې د قابلو روزنو قراردادونو ملاتړ هم کوي، چې دا د مور او کوچني د مړينې کچه کموي. USAID په تير کې د پروګرام د ښه تطبيقولو د ځينو ننګونو، پشمول د ناامنۍ، او تر ډيرې کچې مخ په کميدو هوايي ترانسپورت نشتون ترڅو د حرکت په حال کې ځايونو څخه نظارت وکړي، د PCH په لمړيتوبونو کې سياسي لاسوهنې، او په ټولو پوړونو کې د روغتيا د ښځينه کارکوونکو نيمګړتياوو په اړه راپور ورکړی.[528]

## د روغتيا پاليسی پروژه

د روغتيا پاليسی پروژه (HPP)، د 28 مياشتو (2012 جون-2014 اکتوبر) د 18 ميليونو امريکايي ډالرو پروګرام، د عامې روغتيا وزارت ظرفيت لوړوي ترڅو د اساسي روغتيا اړتياوو لپاره د عامه او خصوصي ملګرتيا له لارې د حل لار پيدا شي. USAID پدې ربع کې د پروژې د بنو، موخو، ننګونو، برياوو، او اندازو بدلون په اړه کوم راپور ندی ورکړی. د 2013 د جون تر 30 پورې، USAID دې پروګرام لپاره 15.5 ميليونه امريکايي ډالر مکلف کړي دي او دا د تير ربع په پرتله 6.7 ميليونه امريکايی ډالر زياتوالی ښيي. HPP د لوړو خدماتو وړاندې کولو لپاره د خصوصي سکتور د ظرفيت پراختيا لپاره کار کوي، د HIV د پاملرنې او مخنيوی پاليسی ښه کوي، او د ټولنيزو مطبوعاتو له لارې د چلند بدلون ملاتړ کوي. د HPP په تيرو کارونو کې د عامې روغتيا په وزارت کې د عامه او خصوصي ملګرتيا رياست کې ټول کارکوونکي ټاکل، د جمهوريت روغتون د سوداګريزې وړتيا او ارزښت ارزونو بشپړول، او د افغانستان د رييسانو د بورد د ټولنيز مارکيټ پيداکولو سازمان لپاره تخنيکي مرستې برابرول شامل دي. د تطبيقولو په وړاندې په ننګونو کې په ولايتونو کې ناامني، د عامه او خصوصي ملګرتيا د ادارې لپاره قانوني کاري چوکاټ نشتون، او د افغانستان په بيوروکراتيک سيستم کې د خصوصي سکتور د لارې پيدا کولو ستونزې شامل دي.[529]

## د مشری، مديريت، حکومتولی پروژه

د 26 مياشتو (2012 سپتمبر-2014 اکتوبر) د 25 ميليونو امريکايي ډالرو مشری، مديريت، حکومتولی (LMG) پروژه د عامې روغتيا او ښوونې وزارتونو سره په ولايتي او مرکزي کچه کار کوي ترڅو د افغانستان د روغتيا او ښوونې په سيستمونو کې د مشری، مديريت، او د حکومتولی ظرفيتونو ته وده ورکړي. د دې پروژې موخه دا هم ده ترڅو د عامې روغتيا په وزارت کې شفافيت او حساب ورکول ښه کړي او له دواړو وزارتونو سره کار کوي ترڅو د بودجې په اساس مرسته اداره کړي. د 2013 د جون تر 30 پورې، USAID دې پروګرام لپاره20.7  ميليونه امريکايي ډالر مکلف کړي دي او دا دې پروګرام لپاره 4.4 ميليونه امريکايی ډالر زياتوالی ښيي.[530]

USAID په تير ربع کې راپور ورکړی چې د LMG ټول برخه اخيستونکي روغتونونه د خپلې بودجې له هيڅ برخې څخه د 76-100% اداره کولو ته پرمختګ کړی. دې ادارې دا هم ويلي چې دې تاسيساتو د اداره کولو کميټې هم تاسيس کړې او په ولايتونو کې د مور او کوچني د روغتيا څلور کميټې جوړې کړې. د عامې روغتيا د حکومتولی لپاره لارښوونې او د ولايتونو او ولسواليو د روغتيا همغږی لپاره د ارزونې وسيلې جوړې کړې، او د وزارت ټول 74 ادارې يې د ستندرد راپور ورکولو په تخنيکونو کې روزلې. USAID په ولايتي کچه د پروګرام لپاره د امنيت کوم ځانګړي تهديد راپور ندی ورکړی، او ټينګار يې کړی چې په ځينو سيمو کې د امريکا له ځواکونو وروسته بايد د امنيت خلاوو نظارت وشي.[531]

## د خصوصي سکتور پراختيا

امريکا د ESF، TFBSO، او CERP له لارو د خصوصي سکتور پراختيا ملاتړ کوي.
د USAID د اقتصادي پراختيا د لمړيتوب پروژې، چې د ESF له لوري تمويليږي، دا دي:[532]

- د تصديو د جوړولو لپاره د افغانستان ظرفيت لوړولو سره مرسته (ABADE)
- د اقتصادي پراختيا او حکومتولۍ نوښت (EGGI)
- د افغانستان د سوداګريزو سازمانونو سره ګړيتوب او آسانتياوې (TAFA) I او II

USAID دې پروګرامونو ته پدې نظر ګوري چې دايمي اقتصادي ګټو له لارې کارونه منځ ته راوړي او عوايد ډيروي. د هر پروګرام ساحه د ستراتيژيک پلان په اړه هم په پام کې نيول شوې وه.[533]

### د تصديو د جوړولو لپاره د افغانستان ظرفيت لوړولو سره مرسته

د USAID د 105 ميليونو امريکايي ډالرو مرسته د تصديو د جوړولو لپاره د افغانستان ظرفيت لوړولو سره مرستې (ABADE) پروګرام په فعالو، په افغانستان کې ثبت شويو، وړو تر متوسطو تصديو بانديې کار کوي ترڅو د عامه او خصوصي سکتور ملګرتيا له لارې کارونه زيات کړي، پانګونه ډيره کړي، او د کورنيو توليداتو او خدمات کچه ښه کړي.
ABADE به د خصوصي سکتور له هغو شرکتونو څخه ملاتړ وکړي چې د دوامدارې اقتصادي ودې لپاره ښه وړتيا لري. د 2013 په فبرورۍ کې د ABADE له پيل څخه، د عامه او خصوصي پنځه ملګرتياوې تاييد شوي او وړاندې شوي، لدغو څخه د ميرمنو په مالکيت دوه شرکتونه دي، او 15 غوښتنليکونه د تاييد په تمه دي. په دې برسيره، پدې ربع کې د تجارت عامه پوهاوي او د حکومت د ظرفيت لوړولو بانديې کار دوام درلود، او د تجارت د پراختيا خدماتو (BDS) سکتور لپاره د عملي پلان پيل، پشمول د BDS و ظرفيتونو او دغسې خدمتونو لپاره نه پوره شوې غوښتنو پيژندلو بانديې هم کار دوام درلود. د تطبيقولو ننګونو په اړه راپور ندی ورکړ شوی. د 2013 د جون تر 17 پورې، USAID د اقتصادي ملاتړ مرستو لپاره 17.6 ميليونه امريکايي ډالر مکلف کړي او نږدې 7.5 ميليونه امريکايي ډالر توزيع کړي دي.[534]

### د اقتصادي پراختيا او حکومتولۍ نوښت

د 92$ ميليونو امريکايي ډالرو اقتصادي پراختيا او حکومتولۍ نوښت (EGGI) پروګرام موخه داده چې د افغانستان حکومت ظرفيت ته وده ورکړي ترڅو وکولای شي عامه مالي چارې په اغيزمنه توګه ترسره کړي. دا پروګرام د ملي بودجې جوړولو، د ماليو اداره کولو، او عوايدو توليد لپاره ملاتړ برابروي. پداسې حال کې چې د EGGI ولايتي روزنې پروګرام د ولايتونو له 88% رياستونو سره مرسته کړې چې د خپلو بودجو لمړی پړاو په وخت وړاندې کړي، او په دويم پړاو کې دې شميرې 98% ته پرمختګ کړی، د EGGI په مرسته د حکومت د بودجې اته ديرشو رياستونو د 2012-2013 خپلې بودجې جوړې کړي او په وخت يې د بودجې کميټې ته وړاندې کړي.[535]

EGGI د ميرمنو لپاره په حکومت کې روزنه برابروي ترڅو په ملکي خدماتو کې د ميرمنو برخه اخيستنه 30% زياته کړي، چې دا د زرکلنې پراختيايي موخه ده. د 2013 د جون تر

5 پورې، د روزنې لدې پروګرام څخه 313 ميرمنې فارغ شوې، چې دا له تير ربع څخه 105 زياتې وې. لدغو فارغينو څخه، 67% د EGGI مرستې له لارې دايمي کارونه موندل. ټاکل شوې ده چې EGGI د 2013 په اګست کې پای ته ورسيږي، او د بودجې په اساس بله تعقيبوونکې پروژه ترپلان لاندې ده. د 2013 د جون تر 17 پورې، USAID د اقتصادي ملاتړ مرستو لپاره نږدې 88.8 ميليونه امريکايي ډالر مکلف کړي او نږدې 69.8 ميليونه امريکايی ډالر توزيع کړي دي.[536]

### د افغانستان لپاره سوداګريزو سازمانونو سره غږيتوب او آسانتياوې I او II

د افغانستان لپاره سوداګريزو سازمانونو سره غږيتوب او آسانتياوې I او II برخه (TAFA)، چې ګډ لګښت يې 83.8 ميليونه امريکايي ډالر دی، دا په حکومت او خصوصي سکتور کې د نړيوالې سوداګرۍ او ترانزيت لپاره د شرايطو ښه کولو له لارو د اقتصادي ودې، پراختيا او پانګونې لپاره ډيزاين شوې. TAFA د افغانستان له حکومت سره په دريو برخو کې مرسته کوي: سوداګرۍ پاليسي آزادول، د ګمرکونو اصلاحات، او د سوداګرۍ آسانتياوې. TAFA په نړيوال سوداګرۍ سازمان کې د افغانستان غړيتوب لپاره د آسانتيا له لارې د نوې ورينمو لار نوښت ملاتړ کوي (په 146 پاڼه کې ورباندې خبرې شوې)، په سيمه کې دوه اړخيزه او سيمه ايز سوداګرۍ موافقو ته پراختيا ورکوي، او د ګمرک او صادراتو طرزالعملونو کې اصلاحات رواړل دي.[537]

ټاکل شوې ده TAFA به د 2013 په اګست کې ختم شي. پداسې حال کې چې تعقيبوونکې پروژه تر پلان لاندې ده، USAID انديښنه لري چې آيا نوې تطبيقوونکې ملګرې به وکولای شي د TAFA مناسبې کچې ملاتړ برابر کړي. د 2013 د جون تر 17 پورې، USAID د TAFA I او II لپاره 83.7 ميليونه امريکايي ډالر مکلف کړي دي، د تير ربع د 19.8 ميليونو امريکايي ډالرو راپور ورکړ شويو په پرتله، پداسې حال کې چې 67.1 ميليونه امريکايي ډالر توزيع شوي دي، د تير ربع د 4 ميليونه امريکايی ډالرو په پرتله.[538]

## مخابرات

د افغانستان د خصوصي سکتور په مشرۍ د مخابراتو سکتور په ډيرې چټکۍ وده کوي او د هيواد د اقتصاد له برياوو څخه شميرل کيږي. نړيوال بانک د 2012 لپاره د پياوړې ثبت شوې ودې تمه لري.[539] په 2011/2010 کې، د تيليفون برخې د حکومت د 45% ماليو په عوايدو کې برخه اخيستې او تمه کيږي چې د راتلونکي اقتصادي کموالي په وړاندې به په کم خطر کې وي.[540] مګر، د افغانستان د تيليفون په يوه سروې کې چې د افغانستان د پانګونې د ملاتړ اداري له لورې ترسره شوې موندلې چې د ماليې لوړ نرخونه د انټرنټ او د ګرځنده تليفون د شبکې برابرونکو په وړاندې اصلي خنډ دی، چې وروسته لدې امنيتي مسلې او د تخصصي کارکوونکو کموالی راځي.[541]

د انټرنټ په قيمتونو کې منظم کموالي سره، د مخابراتو او معلوماتي ټيکنالوجی وزارت (MCIT) تمه لري چې په 2013 کې د ګټې اخيستونکو شميره 2.4 ميليونو ته ورسيږي. د 1 mbps (په يوه ثانيه کې ميګابايټ) لاس رسی قيمت په 2002 کې په يوه مياشت کې 5000$ امريکايي ډالر وو، په 2013 کې په يوه مياشت کې 97$ امريکايي ډالرو ته راټيت شو، لکه څنګه چې پدې عکس 3.35کې په راتلونکې پاڼه کې ښودل شوې.[542]

### د سيګار پلټنه

پدې ربع کې، سيګار يوه پلټنه پيل کړه ترڅو د USAID او DHS پروګرامونو ارزونه وکړي چې د افغانستان حکومت له ګمرکونو څخه د عوايدو ټولولو توان لپاره ډيزاين شوي. د پلټنې په يوه برخه کې، سيګار به دا ارزونه وکړي چې آيا TAFA I او II خپلو اړوندو پايلو ته رسيدلې که ندې. د لا نورو معلوماتو لپاره، دويمه برخه، 40 پاڼه وګورئ.

عکس 3.35

**د 1 میګابایت انټرنټ قیمت/د انټرنټ دویم خدمت، امریکایی ډالر/میاشت**




یادونه: تر 2008 پورې، د مخابراتو خدمات یووازې د قمر له لارې شتون درلود په 2008 کې، د فایبر آپتیک کیبل شتون پیدا کړ.

سرچینې: د مخابراتو وزارت، "د 1 میګابایت انټرنیټ/میاشتینی قیمت،" لاس رسی 6/17/2013؛ مخابراتو وزارت، "د انټرنټ ګټه اخیستونکي،" لاس رسی 6/17/2013.

## ګرځنده پیسې

د 2013 د جون تر 30 پورې، USAID د مخابراتو وزارت لپاره نږدې 15.2 میلیونه امریکایي ډالر د بودجې په اساس مکلف او توزیع کړي دي، مګر اوس لدې وزارت سره کومه مستقیمه یا روانه مرسته نکوي.[543]

مګر، USAID د خپل ګرځنده پیسو پروګرام له لارې د مخابراتو سکتور سره له بودجې دباندې مرسته برابروي، چې موخه یې د ګرځنده ټیلفونو له لارې خوندې مالي خدماتو ته لاس رسی دی، ترڅو له ګرځنده ټیلفونو څخه د پیسو ساتلو، موادو اخیستلو تادیاتو، او د پیسو لاسته راوړلو او لیږلو لپاره کار واخلي. USAID په فعاله توګه د دواړو ګرځنده بریښنا او ګرځنده ښوونکو معاشونو تادیاتو نوښتونو څخه ملاتړ کوي. پدې ربع کې، 200 افغان ښوونکې په کابل کې دې خدمت لپاره ثبت شوي، او د اتصالاتو 100000 پیرودونکي کولای شي اوس په کابل کې د خپل بریښنا بیلونه د ټیلفون له لارې تادیه کړي. د افغانستان بریښنا شرکت، DABS تمه لرې چې د 2013 تر پایه به 200000 نور پیرودونکي ثبت شي.[544]

د USAID ګرځنده حل لارو ټیم د FHI 360 غیر انتفاعي چې نوم یې ګرځنده حل لارو لپاره تخنیکي مرسته او څیړنه ده، په ګډه سره یو پروګرام هم ډیزاینوي، چې دا به له ګرځنده ټیکنالوجې څخه پشمول د ګرځنده پیسو اضافي لاس رسې لپاره تخنیکي مرسته او روزنه برابره کړي. او پدې ربع کې، USAID ګرځنده ټیکنالوجی ته د میرمنو لاس رسي په اړه یوه مطالعه هم خپره کړي.[545]

د امريکا دفاع وزارت د مخابراتو مشورتي ټيم (TAT)، له USAID سره په همغږۍ کې، د مخابراتو وزارت، د افغانستان د مخابراتو مقرراتي اداري (ATRA)، او د تليفون د سکتور ډلو لپاره روانه تخنيکي مشوره او مرسته برابروي. د امريکا دفاع وزارت مرسته کوي ترڅو د مخابراتو په وزارت او ATRA کې ظرفيت ته وده ورکړي، د افغانستان فايبر شبکې او بې سيم پوښښ ته پراختيا ورکړي، د افغانستان د قمر پړاو، او د پلان کولو هڅو اړتياوو ته پراختيا ورکړي. د 2013 په اپريل کې، TAT د کورنيو چارو وزارت ته د هوکړې يادښت يوه مسوده ورسوله ترڅو په 46 ډېرو خطرناکو ولسواليو کې د ګرځنده تليفونونو پايې نصبې کړي. هيله ده چې له ځنډ څخه پرته د ګرځنده تليفون خدمات به پدغو سيمو کې د امنيت او ثبات ملاتړ وکړي.[546]




د افغانانو لپاره د ګرځنده تليفون د تليفون د پيسو معاملو **د بروشور انګليسي نسخه**. (د USAID عکس)

# 4
# د نورو ادارو **خارنيز** فعاليتونه



# د نورو ادارو د ښارنيزو فعاليتونو منځپانګې


**د ښارنۍ بشپړ شوي فعاليتونه 180**

**د ښارنۍ روان فعاليتونه 184**


**تصوير په مخکينۍ پاڼه کې**
د 2013 کال په مې، کې د کابل ولايت د يوې ودانۍ هوايي منظره چې
د يو هليکوپټر څه اخيستل شوی. (د امريکا د دفاع وزارت انځور)

# د نورو ادارو څارنيز فعاليتونه

د سيګار قانوني مسوليت غوښتنه کوي چې د بيارغونيزو پروګرامونو په اداري کې د ستونزو په هکله دفاع او بهرنيو چارو وزارتونو ته خبرتيا ورکړي، او د هر ربعې پای ته رسيدو سره تر يو مياشتې پورې د خپل څارنيزو کارونو او د متحده ايالاتو د بيارغونيزو هڅو په اړه يو رپوټ کانګرس ته وړاندې کړي. په هرو درې مياشتو کې سيګار د نورو ادارو څخه د بشپړ شوو او روانو څارنيزو فعاليتو په اړه د معلوماتو غوښتنه کوي. دا برخه لاندې نوې کوونې لري.

د هغوی تفصيل يوازې د راپور د نورو برخو سره د همغږۍ په موخه (مخففات، تخليصات، په لويو حروفو معياري ليکنه، د اتصال د نښو، نقطه ګذاري، غوره املا او دريم-کس سمونې) پرته په تسليم شوي څېر ښکاري.

دغه اداري په افغانستان کې څارنيز فعاليتونه ترسره کوي او پايلې يې سيګار ته وړاندې کوي:

- د دفاع وزارت د عمومي پلټونکي دفتر(DOD OIG)
- د بهرنيو چارو وزارت د عمومي پلټونکي دفتر(State OIG)
- د دولت د حساب ورکولو دفتر (GAO)
- د متحده ايالاتو د پوځ د پلټنې اداره (USAAA)
- د نړيوالې پرمختيا لپاره د متحده ايالاتو ادارې عمومي پلټونکي دفتر (USAID OIG)

## د نظارت بشپړ شوي فعاليتونه

4.1 جدول د بيارغونې په برخه کې 6 څارنيزې پروژې ښيي چې د شرکت کونکو ادارو لخوا يې څارنه پای ته رسيدلې ده.

4.1 جدول

**په تيره نږدې کې د متحده ايالاتو نورو اژانسونو يا ادارو د نظارت کړنې بشپړې شوي، له 30 جون 2013 راهيسې**

| اداره | د راپور شميره | د خپريدلو نيټه | د پروژې سرليک |
|---|---|---|---|
| DoD OIG | DODIG-2013-095 | 6/27/2013 | د افغان ملي امنيتي ځواکونو لپاره چې د راډيو کوم قراردادونه لاسليک او عملي شوي، اصلاح ته اړتيا لري |
| DoD OIG | DODIG-2013-093 | 6/25/2013 | د امريکا دفاع وزارت اړتيا لري تر څو د افغان ملي پوليسو د روزنې\مشاورت او د لوژستيکي مرستو د قرارداد څخه خپله خارنه زياته کړي |
| DoD OIG | DODIG-2013-094 | 6/24/2013 | د افغان ملي پوځ په ليکو کې د مشرانو روزلو په برخه کې د متحده ايالاتو او ايتلاف د هڅو ارزونه |
| DoD OIG | DODIG-2013-081 | 5/24/2013 | د افغان سرحدي پوليسو د روزنې، تجهيز، او مشورې په برخه کې د متحده ايالاتو او ايتلاف د هڅو ارزونه |
| GAO | GAO-13-381 | 4/30/2013 | د امنيتي ځواکونو سره مرسته: په افغانستان کې د مشاورتي ډلو د لاربنوونې لپاره تفصيلي پلان جوړونې او د معلوماتو د لاسرسي ودې ته اړتيا ليدل کيږي |
| GAO | GAO-13-319R | 4/1/2013 | ملي دفاع: د دفاع وزارت لخوا د Mi-17 ډوله هيليکوپټرو تدارکات |

سرچينې: د سيګار 6/20/2013 معلوماتي غوښتنې ته د DOD OIG ځواب؛ د سيګار 6/14/2013 معلوماتي غوښتنې ته د State OIG ځواب؛ د سيګار 6/22/2013 معلوماتي غوښتنې ته د GAO ځواب؛ د سيګار 5/28/2013 معلوماتي غوښتنې ته د USAAA ځواب؛ د سيګار 6/18/2013 معلوماتي غوښتنې ته د USAID OIG ځواب.

## د متحده ايالاتو د دفاع وزارت د عمومي پلټونکی دفتر

پدې ربع کې، DOD OIG د افغانستان بيارغونې په اړه څلور رپوټونه خپاره کړي.

### د افغان ملي امنيتي ځواکونو لپاره چې د راډيو کوم قراردادونه لاسليک او عملي شوي، اصلاح ته اړتيا لري

(د رپوټ شميره. DODIG-2013-095، د خپريدا نيټه 27جون، 2013)

دا راپور يواځې د رسمي کارونې لپاره ځانګړی شوی دی.

### د امريکا دفاع وزارت اړتيا لري تر څو د افغان ملي پوليسو د روزنې\مشاورت او د لوژستيکي مرستو د قرارداد څخه خپله خارنه زياته کړي

(د رپوټ شميره. DODIG-2013-093، د خپريدا نيټه 25 جون، 2013)

د دفاع وزارت د قراردادونو اداره (DCMA)، په افغانستان کې د ناټو د روزنې ماموريت\په افغانستان کې د امنيتي لېږد مشترک قوماندانې (NTM-A/CSTC-A)، او پوځي چارواکو د افغان ملي پوليسو د قراردادو څخه سمه څارنه نده کړې. دا پيښه ځکه رامنځته شوه چې DCMA خپل نظارتي فعاليتونه يې د پروګرام يا قرارداد کونکي مامورينو سره همغږي کړي نه و، او د کيفيت يقيني کولو په اړه يې هغه شرايط نه و عملي کړي کوم چې د DCMA د ادارې لخوا د قرارداد د بريااليتوب لپاره اساسي ارزول شوي و.

د افغان ملي پوليسو لپار د قراردادي مامورينو نماينده د ياد قرارداد څخه سمه څارنه نه وه کړې. ياده پيښه ځکه رامنځته شوه چې د DCMA پرسونل د COR د پلټنې چيک لست يې نه و کتلي، د بشپړ شوي پلټنو د چيک لست په اړه يې د CORs بيرته ځواب ندی اخيستی، همدارنګه CORs ته يې د څارنې د مسوليتونو په اړه روزنه نه وه ورکړې.

د DCMA او د نړيوال سوله ساتي ځواکونو مشترک قوماندانې د هغو مشاورينو څخه يې سمه څارنه نه ده کړې چې د افغان ملي پوليسو د قرارداد لپاره په ساحه کې ګومارل شوي و. د پيښې دليل دا دی چې د کيفيت يقيني کولو نمايندګانو د CORs څخه

د لاسته راغلو چيک لستونو په اړه يې هميشه روزنه او تعقيب نه دي ترسره کړي.
NTM-A/CSTC-A او د ريږ ريور آرمي ډيپو (RRAD) پرسونل د دفاع وزارت د ځانګړي مفتش د دفتر شپږ تنه CORs ومونده چې د افغان ملي پوليسو د قرارداد څخه يې سمه څارنه نه کوله. دا پيښه ځکه رامنځته شوه چې NTM-A/CSTC-A د ريږ ريور آرمي سره داسې يو تفاهم لاسليک کړی و چې د COR د لياقتونو په اړه څه يادونه نه وه شوې. نو په نتيجه کې، د افغان ملي پوليسو د روزنې په هغو ساحو کې چې ياد شوي شپږ تنه CORs ګومارل شوي و، د قرارداد کړنه سمه نه وه ارزول شوې.

سربيره پردې، پوځ معلوم نه شو کړای، چې آيا قرارداد کونکی ټول 439 ميليون ډالر په خدماتو لګولي، يا يې افغان ملي پوليسو ته سمه روزنه ورکړې که څنګه.

## د افغان ملي پوځ په ليکو کې د مشرانو روزلو په برخه کې د متحده ايالاتو او ايتلاف د هڅو ارزونه

(د رپوټ شميره. DODIG-2013-094، د خپريدا نيټه، 24 جون، 2013)

د افغان ملي پوځ په ليکو کې د مشرانو د روزلو پروګرام چې د ايتلاف لخوا وړاندې کيده په عمومي ډول موثر، او افغانانو ته د ليږد لپاره چمتو دی. د بريدمنانو د قطعي تاسيس، او د دې مشری منصب پورې اړوند دندې او مسوليتونه د افغان ملي پوځ د پخوانيو منصبدارانو او د عمومي سټاف کارکونکو لخوا په بشپړه توګه نه ده منل شوې. د افغان ملي پوځ په ليکو کې د صلاحيت او ورتيا په اساس د ترفيع او استخدام نشتوالی د دې لامل شوی چې د يادو ځواکونو د نوي مشرانو د ودې پر بهير منفي اغيزه وکړي.

افغان ملي پوځ ته د ايتلاف لخوا ګومارل شوي مشاورينو په منځ کې، څه د ښوونځيو په برخه کې او څه په عملياتي ډګر کې، د مشاورت د روزنې لپاره د پوځيانو د ټاکلو په موضوع کې کافي اختلافات و. د ايتلاف د قوماندانۍ د معلوماتو د ارزونې او ډلبندۍ په برخه کې د افغان ملي پوځ د تاسيس نه نيولې تر اصلاح او ودې پورې د ماموريت په تاکيد کې کوم توپير ندی راغلی.

د افغان ملي پوځ د سواد زده کولو پروګرام په خاصه توګه د يادونې وړ دی. په داسې يو هيواد کې چې د ملي سواد کچه يې ډيره ټيټه ده د سواد زده کولو پروګرامونه نه يوازې افغان ملي پوځ ته ګټور دي، بلکه په پای کې يې ګټه ټول افغانستان ته رسيږي، د يو سابقه لرونکي منصبدار په وينا، "...داسې پروګرامونه به د افغانانو سره مرسته وکړي څو ډير په هوښيارۍ ژوند وکړي".

## د افغان سرحدي پوليسو د روزنې، تجهيز، او مشورې په برخه کې د متحده ايالاتو او ايتلاف د هڅو ارزونه

(د رپوټ شميره. DODIG-2013-081، د خپريدا نيټه، 24 مې 2013)

DOD OIG د عراق، افغانستان، او پاکستان د ځواکونو د روزنې او تجهيز په اړه خپل د رپوټونو لړۍ ته ادامه ورکوي. د DOD OIG په وينا که څه هم ځينې کارونه لاپاتې چې بايد ترسره شي، خو بياهم په ځينو برخو کې لکه د ايتلاف سره همغږي، د سرحدونو د همغږۍ مشترک مرکزونه، او د کورنيو چارو وزارت د لوژستيک د سيسټم پرمختګ، د پام وړ پرمختګونه شوي دي. برسيره پردې، DOD OIG اشاره وکړه چې د افغان سرحدي پوليسو په ليکه کې د ښځو استخدام او په شمال کې مسلکي پرمختګ، او همدارنګه د افغان روزونکو تاسيس او کارونه د پرمختګ نورې بيلګې دي. د يادو پرمختګونو په څنګ کې، DOD OIG د پلان جوړونې او اجرااتو په برخه کې ځينو انديښنو ته اشاره وکړه لکه د تشکيل صلاحيت، د کنين پروګرام فنډ، او په سرحدونو کې د اداري فساد شتون.

## د متحده ايالاتو په منځني ختيځ کې د باندينيو چارو وزارت د عمومي پلټونکی سيمه ييز دفتر

پدې ربع کې DoS OIG د افغانستان د بيارغونې په اړه هيڅ راپور نه دی خپور کړی.

## د حکومت د حساب ورکولو دفتر

پدې ربع کې، GAO د افغانستان بيارغونې په هکله دوه رپوټونه خپاره کړي.

## د امنيتي ځواکونو سره مرسته: په افغانستان کې د مشاورتي ډلو د لارښونې لپاره تفصيلي پلان جوړونه او د معلوماتو د لاسرسي ودې ته اړتيا ليدل کيږي

(د رپوټ شميره. GAO-13-381، د خپريدا نيټه، 30 اپريل، 2013)

د دفاع وزارت او ايساف ځواکونه د امنيتي ځواکونو د مرستندويه مشاورينو ماموريت او ستر اهداف يې تعين کړي دي. پهرصورت، د تعين شوي موخو په اساس د افغان ملي امنيتي ځواکونو د فعاليتونو په ارزونه کې د مشاورينو کړنلارې توپير لري. د SFA لارښودونه وايي چې مشاورينو د بريالی کيدو لپاره بايد واضح اهداف، او همدارنګه د لوړې قوماندې د پلان څخه د ملاتړ لپاره موخې وټاکي. د تياتر قوماندانانو د ځانګړو وړتياو لکه لوژستيک، د ودې لپاره موخې ټاکلي دي، چې د دغو موخو ترلاسه کول يې د مشاورينو د چلند پورې تړلي چې د خپلو اړوندو ادارو سره يې کوي. همدارنګه GAO معلومه کړه چې د مشاورينو ډلې د دغو موخو په پام کې نيولو سره خپلو اړوندو ادارو ته ځينې مشوري ورکړي، لکه د خپلو ډلو لپاره مياشتنی اهداف او مهم پړاوونه ټاکل.

GAO د داسې ډلو سره هم مخامخ شو چې لږ تنظيم شوي کړنلارې يې کارولې، لکه د لومړيتوبونو په ټاکنه کې د اړوند ANSF پر معلوماتو تکيه کول او د دې پر ځای چې د سترو موخو د ترلاسه کولو لپاره پلان شوې کړنلاره وټاکي، دغه ياد شوي معلومات د مجبوريت له مخې کاروي. د مختلفو ډلو چارواکو وويل چې د اړوند ANSF د واحدونو د پرمختګ لپاره دوی ته وړاندې شوي لارښودونه د غوښتل شوي او مطلوبو حالاتو په اړه ښکاره څرګندونه نلري. پرته له دې نه چې د ANSF د واحدونو لپاره پلان شوي کړنلاره چمتو او د سترو اهدافو ترلاسه کولو لپاره دغه کړنلاره د نتايجو، موخو، او مهمو پړاونو سره اړيکه ونه مومي، د تياتر قوماندانان نه شي يقيني کولی چې د مشاورينو کمکي ډلې د دغو اهدافو په لوري پرمختګ کوي.

پوځ او سمندري قطعاتو د بيلابيلو کړنلارو په کارولو سره لکه غير موظف شوي غونډونو ته دنده سپارل چې د مشاورينو ډلې جوړې کړي يا د هغه پرسونل په مرسته د مشاورينو ډلې جوړول چې په افغانستان کې توظيف شوي، د SFA د مشاورينو د ډلو لپاره يې غوښتنې ډکې کړي. د پوځ او سمندري قطعاتو د چارواکو په وينا، دغه وړتيا چې کولی شو د غوښتنې څخه يوه رتبه ښکته يا پورته کس توظيف کړو، د يادو ادارو سره مرسته کړې چې د رتبې او مهارت شرايط پوره کړي. پوځ وشو کولی چې د غونډونو د پرسونل په مرسته د مشاورينو د ډلو شرايط او اړتياوې پوره کړي، خو پدې کار سره د غونډونو د مرکزونو څخه د زيات شمير پرسونل د کميدو لامل شو. د دې کم شوي پرسونل د اداره کولو لپاره د غونډ مسولينو داسې پلان په پام کې نيولی تر څو يقيني کړي چې په پاتې پرسونل کې د مشرۍ داسې محراقونه شته دي چې د قوماندې جوړښت او د روزنو مسوليت په خپل ځای خوندي وساتي.

پوځ او سمندري قطعاتو د SFA د مشاورو ډلو لپاره د روزنې پروګرامونه ترسره کړه، خو د مشاورينو ډلې بيا په دې کې سره فرق درلوده چې د توظيف څخه وړاندې د ورکړ شوي معلوماتو څخه د خپل ځان اماده کولو لپاره تر کومه حده ګټه اخلي. د SFA لارښود وايي چې د SFA د پلان جوړونې او عملي کولو لپاره د عملياتي چاپيريال او همدارنګه د بهرنيو امنيتي ځواکونو د لياقتونو په اړه ژور معلومات ډېر مهم دي. د مشاورينو ډلې کولی شي د يو لړ سرچينو له لارې دا معلومات راغونډ کړي، لکه د مخکينيو ډلو سره تصويري تيلي کنفرانس کول، د معلومات راغونډولو لپاره د خوندي شبکو کارونه، يا د توظيف څخه وړاندې د ساحې د سروې لپاره خپل پرسونل استول؛ که څه هم د يادو سرچينو څخه د استفادې په برخه کې د مشاورينو د ډلو چلندونه فرق کوي. د بيلګې په توګه، GAO ومونده چې په داسې حال کې چې اکثر ډلې د روزنې په ساحو کې خوندي شبکو ته لاسرسی درلوده، خو په مرکزونو کې بيا يوازې ځينو ډلو ته دا سهولت چمتو شوی و، تر څو د توظيف څخه وړاندې خپله روزنه او ماموريت تحليل کړي. دغه معلوماتو ته لړه لاسرسي درلودل د دې لامل کيږي چې مشاورينو افغانستان ته د راتګ څخه وروسته د دې لپاره چې د مشاور په توګه خپل موثريت لاسته راوړي، بايد زيات وخت مصرف کړي.

## ملي دفاع: د Mi-17 هيليکوپټرو تدارکات

(د ريپوټ شميره. GAO-13-319R، د خپريدا نيټه، 1 اپريل 2013)

په لنډه توګه، د دفاع وزارت د وزير دفتر خپل سمندري ځواکونو ته امر وکړ تر څو د Mi-17s ډوله 21 ملکي هليکوپټرو د اخيستو مزايده لغوه کړي، ځکه چې د روسيې چارواکو د 2010 کال په وروستيو کې دفاع وزارت ته ويلي چې دوی د روسيې د قانون په اساس دوی يوازې روسوبرونو اکسپورت له لارې هليکوپټر خرڅوي، او ياد شرکت يوازې د پوځي الوتکو کاروبار کوي. د روسيې هيواد د بهرنيو چارو وزارت په ځانګړې ډول، د امريکا سفير د ليکنو په ځواب کې تاييد کړه چې دوی داسې انګيرله چې Mi-17s ډوله الوتکې پوځي وي، ځکه چې د افغان هوايي ځواک لخوا کارول کيده، او د همدې لپاره يې ويلي چې داسې هليکوپټر يوازې د روسوبرونو شرکت د لارې اخيستل کيدای شي، چې په انحصاري ډول د روسيې د پوځي الوتکو کارو بار کوي.

د دفاع وزارت وروسته له هغه چې معلومه شوه د روسيې هيواد يوازې د روسو برونو ايکسپورټ د لارې الوتکې خرڅوي، د Mi-17s ډوله الوتکو د اخيستو لپاره د بديلې لارې په لټه کې نشو. د سمندري ځواکونو د تدارکاتو اصلي ستراتيژي په 2010 کال کې داسې و چې لومړی Mi-17s ډوله ملکي الوتکې واخلي او وروسته بيا په افغانستان کې د کارولو لپاره پکې وسلې نصبې کړي. پهرصورت، د روسيې دولت د ياد غبرګون په پام کې نيولو سره، د دفاع وزارت چارواکو څرګندونه وکړه چې د يادو الوتکو د اخيستو لپاره کومه بديله لاره نه لري، ځکه چې د روسو برونو څخه پرته د هر بل شرکت له لارې که اقدام وکړي د روسوبرونو لخوا يې مخنيوي کيږي، او که چيرته مستعمل الوتکې واخلي د خونديتوب خطرونه لري. که څه هم ځينې بالقوه خريدارانو د دفاع وزارت ته ويلي که چيرته د دوی سره قرارداد لاسليک شي، دوی کولی شي په ټېټه بيه يادې الوتکې چمتو کړي، خو د پوځ تحليل کونکي وايي چې د روسوبرونواکسپورټ بيې مناسبې دي او د هغو بيو سره موافقه لري چې د ورته الوتکو لپاره تراوسه پوري ورکړ شوي دي.

د دفاع وزارت وايي چې روسوبرونو اکسپورټ په خپل قرارداد کې ويلي چې دوی به د الوتکو په اړه د اصلي توليد کونکو لخوا زيات تخنيکي معلومات چمتو کړي، او د Mi-17 د پخوانيو قراردادونو څخه يې د خونديتوب زيات تضمين ورکړی و. پهرصورت، د جعلکارۍ خطر يې کيدای شي د نورو قراردادنو سره برابر وي. روسوبرونو اکسپورټ په 2011 کال کې د پوځ سره خپل قرارداد کې د تسهيلاتو د اصلي توليد کونکي لخوا زيات معلومات چمتو کړي و، او د الوتکي د ډيزاين، ازمويني، او د توليد د پروسې په اړه يې تخنيکي خبرواترو ته زمينه برابره کړې وه. پوځي چارواکو د دغه معلوماتو په مرسته پوه شو چې د هوايي خونديتوب په برخه کې د روسيې هيواد پروسې د متحده ايالاتو د معيارونو سره برابر دي. پهرصورت، روسوبرونواکسپورټ او نورو خريدارانو د وسايل اصلي توليد کونکي څخه يې نوي Mi-17s ډوله الوتکي اخيستي_ د جعل کارۍ د خطر کمولو لپاره آزميښتي الوتنه ترسره شوې. بناء، GAO داسې شواهد ترلاسه نه کړ چې وښيي که چيرته د اصلي توليد کونکي څخه الوتکې واخيستل شي نو روسوبرونو اکسپورټ به د نورو خريدارانو په مقايسه څنګه د جعل کارۍ خطر کم کړي.

### د متحده ايالاتو د پوځ پلټونکې اداره

USAAA پدې ربع کې د افغانستان د بيارغونې په هکله کوم رپوټ ندی خپور کړی.

### د متحده ايالاتو د عمومي پلټونکي دفتر

پدې ربع کې، USAID OIG د افغانستان بيارغونې په هکله کوم رپوټ ندی خپور کړی.

## د نظارت يا څار روان فعاليتونه

د 2013 کال د جون تر 30 پورې، شرکت کونکي اداري د افغانستان بيارغونې په هکله 25 رواني پلټنې خپرې کړې. دغه څارنيز فعاليتونه په 4.2 جدول کې په لاندې ډول يادولای شو:

### د دفاع وزارت د عمومي پلټونکی دفتر

د دفاع وزارت د سيندونو څخه پورې غاړې احتمالي عملياتونو په ترسره کولو لاهم د ننګونو سره مخ دی. د دفاع وزارت د څانګړی مفتش دفتر د دغو ننګونو او سترو خطرونو په اساس خپل لومړيتوبونه يې ټاکلي. په 2013 مالي کال کې، DOD OIG په افغانستان کې د ملاتړو سرچينو په کارولو سره د سيندونو څخه پورې غاړې احتمالي عملياتونو په اړه تمرکز کوي. DOD OIG په افغانستان کې د امنيتي ځواکونو بوديجې، پوځي تاسيسات، د پرسونل مصونيت، اداري او اجرايي کارونو څخه او د ايتلافي ځواکونو په مرسته د قراردادونو اداره او څارنې څخه خپل تعقيب ته ادامه ورکوي. برسيره پردې، DOD OIG په افغانستان کې د ځواکونو ايستلو او د عملياتونو د انتقال مسايلو په اړه هم څارنه کوي.

4.2 جدول

**د 2013 کال د جون تر 30 پورې د نورو امریکایی ادارو د څارنې روان فعالیتونه**

| اداره | د پروژې نمبر | د پیل نیټه | د پروژې سرلیک |
|---|---|---|---|
| DoD OIG | D2013-D00SPO-0181.000 | 6/13/2013 | د متحده ایالاتو د هغو هڅو ارزونه چې د افغانستان اسلامي جمهوري دولت سره د مرستې لپاره د امنیتي مرستو د لیږد مسولیت د دفاع وزارت د چارواکو څخه د کورنیو چارو وزارت چارواکو ته سپاري |
| DoD OIG | D2013-D00SPO-0154.000 | 4/26/2013 | افغان ملي پولیسو ته د روغتیا پالني پایداره ورتیا چمتو کولو په برخه کې د متحده ایالاتو پوځ او د ایتلاف د هڅو بررسي کول |
| DoD OIG | D2013-D000AS-0097.000 | 2/8/2013 | د W58RGZ-09-D-0130-0102 وظیفوي فرمان په اساس د Mi-17 د پیلوټ ځای تغیرات |
| DoD OIG | D2013-D000AT-0083.000 | 1/3/2012 | د ډاترون ورلډ کمونیکیشن.انکارپوریشن لپاره د بیې سموالی معلومول. هغه قراردادونه چې د متحده ایالاتو پوځ د قرارداد کونکې قوماندې لخوا د افغان ملي امنیتي ځواکونو لپاره لاسلیک شوي دي |
| DoD OIG | D2013-D00SPO-0087.000 | 12/18/2012 | د 2014 کال څخه وروسته د افغان ملي امنیتي ځواکونو د مهم پیاوړي کونکي امکاناتو لیږد لپاره د پلان جوړونې ارزونه |
| DoD OIG | D2013-D000FL-0056.000 | 12/3/2012 | د دفاع وزارت لخوا د شمالي اتلانتیک پیمان سازمان (ناټو) د مرسته کونکو هیوادونو د افغانستان ملي پوځ خیریه بودیجې سره د هغو مرستو معاینه چې د پایداره پروژو لپاره د 2012 کال د سپتمبر تر 30 پورې تصویب شوي دي |
| DoD OIG | D2013-D000AS-0052.000 | 11/1/2012 | د شین ډنډ د روزنې قراردادونه |
| DoD OIG | D2013-D000AS-0001.000 | 10/5/2012 | د متحده ایالاتو ترانسپورتیشن قوماندانی لپاره د هغو قراردادونو مراقبتي جوړښتونه چې د افغانستان د ځرخي الوتکو پروګرام څخه ملاتړ کوي |
| DoD OIG | D2012-D000JA-0221.000 | 9/28/2012 | په بګرام هوايي ډګر، افغانستان کې د ځانګړو عملیاتونو ځواکونو لپاره د پوځي ودانیو د پروژو د قرارداد مدیریت او څارنه |
| DoD OIG | D2012-DT0TAD-0002.000 | 2/14/2012 | په افغانستان کې د متحده ایالاتو لخوا د نیول شوي او کنترول شوي پوځي ودانیو بررسي کول چې آیا د اورلګیدنې څخه د محافظت سیسټمونه یې د نړیوالو معیارونو سره سم دي که نه |
| DoD OIG | D2012-DT0TAD-0001.000 | 2/14/2012 | په افغانستان کې د متحده ایالاتو لخوا د نیول شوي او کنترول شوي پوځي ودانیو تخنیکي بررسي کول چې آیا د برېښنا سیسټمونه یې د نړیوالو معیارونو سره سم دي که نه |
| DoD OIG | D2012-D000AS-0075.000 | 12/7/2011 | د Mi-17 الوتکې او د سرپټې ځای د اصلاح په موخه ماموریتي ځواک |
| State OIG-MERO | 13AUD082 | 6/13/2013 | په افغانستان کې د نړیوال مخدره توکو او قانون د حاکمیت چارو اداري د سمون سیستم د ملاتړ پروګرام څخه پلـــــــټنه |
| State OIG-MERO | 13AUD52 | 2/2013 | په بیت المقدس او افغانستان کې د خوځیدنې او سکون امنیتي خدماتو لپاره د 2، 9، 11 وظیفوي فرمانونو په اړه د ډیپلوماټیک امنیت اداري د نړیوال محافظتي خدماتو قرارداد پلټنه |
| State OIG-MERO | 12AUD79 | 12/2012 | په افغانستان کې د پوځي شتون کمولو لپاره د بهرنیو چارو وزارت د لیږد پلان پلټنه |
| State OIG-MERO | 12AUD30 | 12/2011 | په افغانستان کې د مخدره توکو او د قانون پلي کولو نړیوالې اداري د اصلاحي سیسټم د ملاتړ پروګرام پلټنه |
| GAO | 121119 | 3/6/2013 | د بهرنیو چارو وزارت او د نړیوالې پراختیا لپاره د متحده ایالاتو اداري احتمالي قراردادونه |
| GAO | 351798 | 1/18/2013 | په افغانستان کې د تجهیزاتو کمول او د مراکزو تړل |
| GAO | 320962 | 1/14/2013 | افغان داخلي بریدونه |
| USAID OIG | FF100113 | 4/1/2013 | د USAID\افغانستان د ټاکنیز اصلاحاتو او د مدني مرستو د پروګرام پلټنه |
| USAID OIG | FF100712 | 11/28/2012 | د USAID\افغانستان د لیږد پلانونو پلټنه |
| USAID OIG | FF101412 | 10/14/2012 | د USAID\افغانستان لخوا د دریم هیواد د وګړو کارونې بیاکتنه |
| USAID OIG | FF100612 | 10/9/2012 | د اضافي پرداختونو په برخه کې د USAID\افغانستان د اداري کنترول څخه بیاکتنه |
| USAID OIG | FF101112 | 5/1/2012 | د USAID\افغانستان د کندهار برېښنا نوښت پلټنه |
| USAID OIG | FF101712 | 10/25/2012 | د USAID\افغانستان لخوا د ټاکلو پروژو لپاره د قوماندان د بیړنی غبرګون پروګرام فنډ د کارولو بیاکتنه |

سرچینې: د سیګار 6/20/2013 معلوماتي غوښتنې ته د DOD OIG ځواب؛ د سیګار 6/14/2013 معلوماتي غوښتنې ته د State OIG ځواب؛ د سیګار 6/22/2013 معلوماتي غوښتنې ته د GAO ځواب؛ د سیګار 5/28/2013 معلوماتي غوښتنې ته د USAAA ځواب؛ د سیګار 6/18/2013 معلوماتي غوښتنې ته د USAID OIG ځواب.

لکه څنګه چې لاتراوسه په افغانستان کې میلیاردونه ډالر مصرفیږي، یو مهم لومړیتوب دا دی چې د افغانستان امنیتي ځواکونو د روزنې، تجهیز، او پایښت لپاره د ترسره کیدونکو قراردادونو څخه څارنه او نظارت ته ادامه ورکړ شي. DOD OIG د افغانستان امنیتي ځواکونو د تجهیزاتو لکه چورلکې، الوتکې، مهمات، راډیو، او په شپه کې د لیدنې وسایلو د قراردادونو د اداره او څارنې لپاره ځینې پلانونه په پام کې نیولي. DOD OIG به همدا ډول د افغان ملي پولیسو د روزنې لپاره د قراردادونو د اجرااتو او مدیریت په برخه کې د یاد وزارت د هڅو څخه خپل ارزونه او بیاکتنې ته ادامه ورکړي.

لکه څنګه چې په افغانستان کې د پوځي ودانیو جوړونه ادامه لري او د ژوند نوي ځایونه، د خواړه او لوبې ځای، طبي کلینیکونه، د مرکزونو پراختیا، او پولیس سټیشنونه جوړوي، DOD OIG به د قراردادونو ادارې او پوځي رغونیزو پروژو څخه شدیده څارنې ته ادامه ورکوي. DOD OIG به د شتمنیو حساب ورکونې، لکه د قرارداد کونکي په اداره د دولت شتمني او د پوځ ډیر اړین وسایل؛ د افغان دفاع وزارت د مسلکي ظرفیت وده؛ او د مالي اداري پر کنترول باندې خپل تمرکز ته ادامه ورکوي.

DOD OIG د سهیل لویدیځ اسیا پلان جوړونې ګډ ګروپ همغږي او فیدرالي او د DOD OCO پورې تړلې فعالیتونو په اړه څارنه په لاره اچولې ده. DOD OIG د سیګار او نورو همکارو ځانګړې مفتشینو او د دفاعي څارنې د ټولنې د غړو سره یو ځای کار کوي تر څو په افغانستان کې د څارونکو ټولنو لپاره د 2014 مالي کال د څارنې ستراتیژیک پلان جوړ کړي. د 2014 مالي کال د پلان جوړونې یوه اساسي برخه د ځواک وړاندویل شوې بیارغونه\په افغانستان کې د عملیاتونو کمیدنه ده.

## د پلټنې لپاره د مرستیال عمومي مفتیش دفتر

روان فعالیتونه چې د خپلواکۍ پورې تړلې څارنې په لاره اچوي د رغونیزو هڅو په تړاو د پرسونل مصونیت؛ د متحده ایالاتو د پرسونل لپاره د ځواک د ساتنې پروګرامونه؛ د شتمنۍ حساب ورکونه؛ ناسم تادیات؛ د رغونیزو پروژو په شمول د قرارداد اداره او تطبیق؛ د افغان پولیسو د روزنې لپاره د قرارداد څخه څارنه؛ په افغانستان کې د لوژستیکو ویشنه؛ بیرته تلونکې عملیاتونه، روغتیاپالنه؛ د افغانستان امنیتي ځواکونو د فنډونو کنترول او لاسته راوړلو پلانونه بررسي کوي.

### د افغان سرحدي پولیسو د روزنې، تجهیز، او مشورې په هڅو ارزونه چې د افغانستان اسلامي جمهوري دولت سره د مرستې لپاره د امنیتي مرستو د لیږد مسولیت د دفاع وزارت د چارواکو څخه د کورنیو چارو وزارت چارواکو ته سپاري

(د پروژې شمیره. 2013-D00SPO-0181.000، د پیل نیټه، 13جون، 2013)

DOD OIG هغه پلانونه او فعالیتونه بررسي کوي چې په افغانستان کې د امنیتي تعاون او د کمکي فعالیتونو مسولیت د دفاع وزارت څخه کورنیو چارو وزارت ته د سپارلو په برخه کې چمتو او عملي شوي، تر څو د اوسنی امنتي لارښودونو او د امنیتي مرستې د مقرراتو په رڼا کې د بهرنیو چارو وزارت ته د یادو فعالیتونو د لیږد اسانولو او پرمختګ لپاره سپارښتنې وکړي. د دې فعالیتونو ځانګړې موخې دا دې چې معلومه کړي آیا:

a. د متحده ايالاتو د حکومت موخې، اهداف، پلانونه او لارښودونه د دې لپاره کافي دي چې په افغانستان کې د امنيتي مرستي فعاليتونه د دفاع وزارت CSTC-A څخه د بهرنيو چارو وزارت په چوکاټ کې د امنيتي تعاون ادارې ته وسپارل شي.
b. د افغان دولت سره د امنيتي مرستې په برخه کې د متحده ايالاتو هڅې په افغانستان کې د متحده ايالاتو د پوځ ايستلو د پلان د عملي کيدو سره او د ناټو چارواکو ته د ايساف او د ايساف مشترک قوماندانۍ د مسوليت د سپارلو په نتيجه کې زيانمن شوې.

## افغان ملي پوليسو ته د روغتيا پالني پايداره وړتيا چمتو کولو په برخه کې د متحده ايالاتو پوځ او د ايتلاف د هڅو بررسي کول

(د پروژې شميره. D2013-D00SPO-0154.000، د 2013 کال د اپريل په 26 مه پيل شوې)

DOD OIG د متحده ايالاتو او ايتلافي ځواکونو هغه هڅې بررسي کوي چې د روغتياپالنې پايداره وړتيا موندلو په برخه کې يې د افغان ملي پوليسو سره کوي. دا ارزونه به په ځانګړې توګه معلومه کړي چې، آيا:

- د افغان ملي پوليسو لپاره د روغتيا پالنې پايداره وړتيا چمتو کولو پلانونه په موثر ډول رامنځته شوي، او د افغان دولت د هڅو سره همغږی شوي ، او داسې عملي کيږي چې په ټاکلی مهال ويش کې د ليږد موخې تر لاسه کوي.
- د افغان ملي پوليسو د روغتيايي اړتياو پوره کولو لپاره، د روغتياپالنې د خدماتو په برخه کې د مشاورينو سرچينې په نظر کې نيول شوي، او
- داسې پراختيايي پلانونه په پام کې نيول شوي چې افغان ملي پوليسو ته د مناسب طبي خدماتو وړاندې کول يقيني کوي، تر څو د ژوبلې څخه نيولې د ضرورت وړ پاملرنې پورې خدمت وړاندې کړي.

## د W58RGZ-09D-0130-0102 وظيفوي فرمان په اساس د Mi-17 Cockpit بدلونونه

(د پروژې شميره. D2013-D000AS-0097.000، د پيل نيټه، 8 فبروري، 2013)

DOD IG د Mi-17 د چلونکي او سپرو د بدلونونو په اړه د وظيفوي فرمان څخه يو تعقيبوي پلټنه تر سره کوي (د پروژې شميره. D2012-D000AS-0075.000). په دې تعقيبي پلټنه کې DOD OIG معلوموي چې ايا د DOD چارواکو د فيدرالي او DOD مقرراتو او پاليسيو په اساس د Mi-17 ډوله الوتکو د بدلون په اړه، د وظيفوي فرمان 0102، W58RGZ-09-D-0130 شميره قرارداد کې نامعينه انتقال او نامعينه مقدار په سمه توګه قرارداد او اداره کړي که نه. د تيرې پروژې په اساس، DOD OIG د پاکستان په ملکيت Mi-17 ډوله الوتکې د ترميم لپاره هغه قرارداد بياکتنه وکړه چې د 0102 وظيفوي فرمان لخوا لاسليک شوی و.

### د ډاترون ورلډ کمونيکيشن.انکارپوريشن لپاره د بيې سموالی معلومول. هغه قراردادونه چې د متحده ايالاتو پوځ د قرارداد کونکې قوماندې لخوا د افغان ملي امنيتي ځواکونو لپاره لاسليک شوي دي

(د پروژې شميره. 2013-D000AT-0083.000، د 2013 کال د جنوري په 3 پيل شوی)

DOD OIG معلوموي چې آيا د متحده ايالاتو د مخابراتو-بريښنا کونکې قوماندانی د افغان ملي امنيتي ځواکونو لپاره مخابراتي تجهيزات او پرزې د ډاترون ورلډ کمونيکيشن انکارپوريشن څخه په مناسبه بيه اخيستې دي. دا پروژه د يوې لړۍ څخه دويمه پلټنه ده چې د ډاترون ورلډ کمونيکيشن قراردادونو باندې تمرکز کوي. د دې لړۍ لومړی پلټنه D2012-D000AT-0129.000 ده.

### د 2014 کال څخه وروسته د افغان ملي امنيتي ځواکونو د مهم پياوړي کونکي امکاناتو ليږد لپاره د پلان جوړونې ارزونه

(د پروژې شميره. D2013-D00SPO-0087.000، د پيل نيټه، 18 دسمبر 2012)

DOD OIG معلوموي چې آيا د متحده ايالاتو او ايتلاف موخې، اهداف، پلانونه، لارښودونه، او سرچينې د دې لپاره کافي دې چې افغان ملي پوځ او ملي پوليسو ته د مهمو پياوړي کونکو امکاناتو ليږد اداره، او په لاره واچوي. برسيره پردې، DOD OIG معلوموي چې پياوړي کونکي امکانات به د 2014 کال څخه وروسته کومو پرمختياو ته اړتيا ولري. همدارنګه، DOD OIG معلوموي چې آيا کموونکي کارونه په پلان کې نيول شوي او د ANSF مهمو پياوړي کونکي امکاناتو په اړه چې له 2014 کال څخه وروسته دي يا د پراختيا لاندې وي، څه وايي. په اصل کې، DOD OIG بياکتنه کوي چې د پياوړي کونکي ځواک د کارونو لپاره کوم پلانونه او کړنو ته اړتيا شته څو ANSF د خپلواکو عملياتونو په لاره اچونه او ساتنه سرته ورسوي.

### د دفاع وزارت لخوا د شمالي اتلانتيک پيمان سازمان (ناټو) د مرسته کونکو هيوادونو د افغانستان ملي پوځ خيريه بوديجې سره د هغو مرستو معاينه چې د پايداره پروژو لپاره د 2012 کال د سپتمبر تر 30 پورې تصويب شوي دي

(د پروژې شميره. D2013-D000FL-0056.000، د پيل نيټه، 3 دسمبر 2012)

د دفاع وزارت تر واک لاندې (کنترولر)/د مالي مامورينو مشر، DOD [CFO/USD(C)] د دې معاينې غوښتنه کړې ده. CFO/USD(C) پلان لري څو ثابته کړي چې د ټولو موادو په اړه دا لاندې جدول په سمه توګه کارول شوی دی:

- د افغانستان ملي پوځ د خيريه بوديجې سره د مرستندويه هيوادونو د مرستو جدول چې د پايداره پروژو لپاره د 2012 کال د سپتمبر تر 30 پورې تصويب شوي دي
- د افغانستان ملي پوځ د خيريه بوديجې سره د مرستندويه هيوادونو د مرستو د جدول مالي وضعيت چې د پايداره پروژو لپاره د 2012 کال د سپتمبر تر 30 پورې تصويب شوي او د امريکا متحده ايالاتو ته ليږدول شوي دي

DOD OIG معلوموي چې آيا CFO/USD(C) د هغو مرستو سم رسيد او مصارف چې د افغانستان ملي پوځ خيريه بوديجې ته ورکړ شوي دي، چمتو کړي او DOD ته يې وړاندې کړي څو د امريکا او شمالي اتلانتيک تړون او د متحدو ځواکونو د سترو مرکزونو-اروپا د

تفاهم لیک په اساس د افغانستان د ملي پوځ د ملاتړ او پایښت لپاره د دې مرستو څخه اجراات وکړي. برسیره پردې، DOD OIG به د مالي رپوټونو داخلي کنټرول څخه بیاکتنه وکړي، او معلوموي چې د قوانین او مقرراتو سره جوړ راځي که نه. CFO/USD(C) د یادو جدولو مسولیت په غاړه لري. د DOD OIG مسولیت دا دی چې د خپلو معایناتو په اساس خپل نظر وړاندې کړي.

## د شین ډنډ د روزنې قراردادونه

(د پروژې شمیره. D2013-D000AS-0052.000، د پیل نیټه، 1 نومبر 2012)

DOD OIG معلوموي چې آیا کوم قراردادونه چې د شین ډنډ په هوایي ډګر کې د ځرخي او غیرځرخي الوتکو په اړه پیلوټانو ته ورکول کیږي د فیدرال او DOD شرطونو سره سم لاسلیک شوي دي که نه. په ځانګړې ډول، DOD OIG به معلومه کړي چې آیا د قرارداد شرطونه په نظر کې نیول کیږي، او د قرارداد د څارنې اغیزه ارزوي.

## د متحده ایالاتو ترانسپورټیشن قوماندانۍ لپاره د هغو قراردادونو مراقبتي جوړښتونه چې د افغانستان د ځرخي الوتکو پروګرام څخه ملاتړ کوي

(د پروژې شمیره. D2013-D000AS-0001.000، د پیل نیټه، 5 اکتوبر 2012)

DOD OIG د افغانستان د ځرخي ترانسپورټ قراردادونو په اړه د رپوټونو یوې لړۍ څخه دویم رپوټ تر کار لاندې نیولی دی. په عمومي توګه موخه دا ده چې معلومه کړي آیا د متحده ایالاتو د ترانسپورټیشن قوماندانۍ او د متحده ایالاتو د مرکزي قوماندانۍ چارواکي د قرارداد له کړنلارو او بهیر څخه سمه څارنه کوي که څنګه. لومړی پلټنه دا وه "د متحده ایالاتو د ترانسپورټیشن قوماندانۍ لپاره د افغانستان د ځرخي الوتکو د ترانسپورټ قراردادونه" (D2012-D000AS-0031.000).

## په بګرام هوایي ډګر، افغانستان کې د ځانګړو عملیاتونو ځواکونو لپاره د پوځي ودانیو د پروژو د قرارداد مدیریت او څارنه

(د پروژې شمیره. D2012-D000JA-0221.000، د پیل نیټه، 28 سپتمبر، 2012)

DOD OIG غواړي معلومه کړي چې DOD په افغانستان کې د نظامي رغونیزو پروژو څخه مؤثر او اغیزمن څار ترسره کوي او که نه. په ځانګړې توګه، DOD OIG به معلومه کړي، چې آیا د متحده ایالاتو د پوځي انجینرانو قطعه د هغه رغونیزو پروژو د قرارداد او کیفیت ډاډه کولو په اړه سمه څارنه کوي چې په بګرام هوایي ډګر کې د ځانګړو عملیاتونو ځواکونو لپاره جوړیږي.

## په افغانستان کې د متحده ایالاتو لخوا د نیول شوي او کنټرول شوي پوځي ودانیو بررسي کول چې آیا د اورلګیدنې څخه د محافظت سیسټمونه یې د نړیوالو معیارونو سره سم دي که نه

(د پروژې شمیره. D2012-DT0TAD-0002.000، د پیل نیټه، 14 فبروري، 2012)

DOD OIG غواړي معلومه کړي چې په افغانستان کې د امریکا په نظامي تاسیساتو کې د اور وژنې جوړ شوي سیسټمونه د امریکا د مرکزي قومندانۍ د توحید شوو تاسیساتو د معیاراتو او د اور څخه د خوندیتوب د ملي ټولـــــــنې د مقرراتو سره سم رامنځ ته کړل

شوي دي او که نه. DOD OIG به د کندهار په هوایي ډګر، بګرام هوایي ډګر، کمپ ایګرز او د اړتیا پصورت کې د نورو هغه سیمو څخه چیرې چې امریکایي تاسیسات دي ارزونه ترسره کړي. همدارنګه DOD OIG د اورلګیدنې مخنیولو سیستم په اړه د پخوانیو ارزونو د سپارښتنو په ځواب کې د DOD OIG اصلاحي کړنې بررسي کوي. دا پروژه به د بریښنا د معیارونو د بررسۍ سره یوځای کړای شي (د پروژې شمیره. D2012-DT0TAD-0001.000). تمه کیږي چې په جولای میاشت کې یو رپوټ د کندهار او بګرام هوایي میدانونو کې د بریښنا او د اورلګیدنې څخه د محافظت سیستمونه بررسي کړي.

## په افغانستان کې د متحده ایالاتو لخوا د نیول شوي او کنترول شوي پوځي ودانیو بررسي کول چې آیا د بریښنا سیستمونو څخه د محافظت سیستمونه یې د نړیوالو معیارونو سره سم دي که نه

(د پروژې شمیره. D2012-DT0TAD-0001.000، د پیل نیټه، 14 فبروري 2012)

DOD OIG غواړي معلومه کړي چې په افغانستان کې د امریکا په نظامي تاسیساتو کې د برقي جوړ شوي سیستمونه د امریکا د مرکزي قومندانۍ د توحید شوو تاسیساتو د معیاراتو او د برق د ملي قانون د مقرراتو سره سم رامنځ ته کړل شوي دي. DOD OIG به د کندهار په هوایي ډګر، بګرام هوایي ډګر، کمپ ایګرز او د اړتیا پصورت کې د نورو هغه سیمو څخه چیرې چې امریکایي تاسیسات دي ارزونه ترسره کړي. همدارنګه DOD OIG د بریښنایي سیستم په اړه د پخوانیو ارزونو د سپارښتنو په ځواب کې د DOD OIG اصلاحي کړنې ارزوي. دا پروژه به د اورلګیدنې څخه د محافظت سیستم د معیارونو د بررسۍ سره یوځای کړای شي (د پروژې شمیره. D2012-DT0TAD-0002.000) تمه کیږي چې په جولای میاشت کې یو رپوټ د کندهار او بګرام هوایي میدانونو کې د بریښنا او د اورلګیدنې څخه د محافظت سیستمونه بررسي کړي. دویم رپوټ به کابل بیس کلسټر و ارزوي.

## د Mi-17 الوتکې او د سرپټي ځای د اصلاح په موخه ماموریتي ځواک

(د پروژې شمیره. D2012-D000AS-0075.000، د پیل نیټه 7 دسمبر 2011)

DOD OIG معلوموي چې آیا د DOD چارواکو د Mi-17 ترمیم او د پیلوټ ځای د تغیراتو وظیفوي فرمانونه د فیدرال او DOD مقرراتو او پالیسیو سره سم قرارداد او اداره کړي. قرارداد کونکو مامورینو دا وظیفوي فرمانونه د IDIQ قرارداد W58RGZ-09-D-0130 شمیرې لاندې خپور کړ.

## په منځني ختیځ کې د باندینیو چارو وزارت د عمومي پلټونکی سیمه ییز دفتر

State OIG د افغانستان د بیارغونې په هکله یوه پروژه پیل کړې ده.

## د قانون ملاتړ او د مخدره توکو نړیوالې ادارې د کړنو پلټنه چې د افغانستان سره یې د مرستې په چوکاټ کې کوي

(د پروژې شمیره. 13AUD082، د پیل نیټه جون 2013)

دا پلټنه د افغانستان د مخدره توکو په ضد د مبارزې په برخه کې د قانون ملاتړ او د مخدره توکو نړیوالې ادارې مدیریت او څارنه بررسي کوي، تر څو معلومه کړي چې آیا یاده اداره

خپل ټاکل شوي موخې ترلاسه کړي، او آيا د افغانستان د مخدره توکو ضد ادارې سره يې د مستقيمه مرستو د ادارې لپاره داخلي کنترول عملي کړی دی.

## په بيت المقدس او افغانستان کې د خوځيدنې او سکون امنيتي خدماتو لپاره د 2، 9، 11 وظيفوي فرمانونو په اړه د ډيپلوماټيک امنيت ادارې د نړيوال محافظتي خدماتو قرارداد پلټنه

(د پروژې شميره. 13AUD52، د پيل نيټه فبروري 2013)

د پلټنې عمومي موخه دا ده چې د WPS قرارداد 2، 9، او 11 وظيفوي فرمانونو په اړه د وزارت د ادارې او څارنې موثريت معلوم کړي. پلټونکې ډله به په ځانګړې ډول معلومه کړي چې آيا قرارداد کونکی خپل کارونه د قرارداد له شرطونو سره سم کوي، د قرارداد کارونه سم څارل کيږي، د دقت ډاډه کولو او د لګښت بشپړوالي لپاره د صورتحساب بياکتنه او د منلو کړنلارې کارول کيږي.

## په افغانستان کې د پوځي شتون کمولو لپاره د بهرنيو چارو وزارت د ليږد پلان پلټنه

(د پروژې شميره. 12AUD79، د 2012 کال په دسمبر کې پيل شوی)

د پلټنې عمومي موخه دا ده چې په افغانستان کې د پوځي شتون څخه ملکي ماموريت ته د ليږد لپاره د وزارت انتقالي پلانونه وارزوي. OIG به په ځانګړې توګه معلومه کړي چې آيا وزارت د خپل ماموريت او مرستندويه شرايطو لپاره مناسب تعريف لري، خپل پرسونل او بوديجوي اړتيا يې ارزولې، او خپل پلان يې د دفاع وزارت او د متحده ايالاتو نورو اړوندو ادارو سره، د افغانستان حکومت، او نور غير امريکايي ادارو سره همغږی کړی. همدارنګه OIG به معلومه کړي چې آيا په پلان جوړونه کې د عراق له ليږد څخه ترلاسه شوي زده کړې کارول شوي دي.

## په افغانستان کې د مخدره توکو او قانون پلي کولو نړيوالې ادارې د اصلاحي سيستم د ملاتړ پروګرام پلټنه

(د پروژې شميره. 12AUD30، چې د 2011 کال په دسمبر کې پيل شوې)

د پلټنې موخه دا ده چې د يو خوندي، مصؤن، او انساني بنديخانې سيستم په جوړولو کې چې د نړيوالو معيارونو او افغاني کلتور له شرايطو سره سم وي، د INL اصلاحي سيستم ملاتړ پروګرام موثريت وارزوي. په ځانګړې توګه، OIG به وارزوي چې آيا INL د CSSP د دغو اجزاو په عملي کولو سره خپل ټاکلي موخې ترلاسه کوي: روزنه او مشاورت؛ د ظرفيت لوړاوي؛ د مخدره توکو پر وړاندې د مبارزې قضايي مرکز او د امنيتی قضايي واحد مغلق عمليات او ثبات؛ د پل چرخي مديريتی او حفظ او مراقبت ډله؛ د مرکزي زندان رياست د مشارکت او بيايوځای کيدنې ډلې؛ د کندهار د توسعه او ملاتړ ډلـــــــــــه.

## د حکومت د حساب ورکولو دفتر

### د بهرنيو چارو وزارت او د نړيوالې پراختيا لپاره د متحده ايالاتو ادارې احتمالي قراردادونه

(د پروژې شميره. 121119، د 2013 کال د مارچ په 6 پيل شوی)

د بهرنيو چارو وزارت او USAID په عراق او افغانستان کې په پراخه کچه پر قراردادیانو تکيه کوي پداسې حال کې چې په داسې احتمالي عملياتونو کې د قرارداد کونکو کارونه نوې ندي، GAO او نورو موندلي چې State او USAID د دې عملياتونو د قراردادونو په اداره کې له ننګونو سره مخ شوي دي. دا پروژه به معلومه کړي چې د بهرنيو چارو وزارت او USAID تر کومه بريده: (1) د احتمالي عملياتونو د قراردادونو لپاره خپل تنظيمي جوړښت ارزولي او دا يې معلومه کړې چې آيا کوم بدلون ته اړتيا لري، (2) د احتمالي عملياتونو د قراردادونو لپاره خپل د قرارداد او مديريت پاليسي ارزولی او معلومه کړې يې ده چې آيا دې پاليسيو کې کوم بدلون ته اړتيا شته او (3) د احتمالي عملياتونو لپاره يې د قرارداد کونکو په شمول خپل کاري ځواک ارزولې او معلومه کړې يې ده چې آياکوم بدلون ته اړتيا لري.

### په افغانستان کې د تجهيزاتو کمول او د مراکزو تړل

(د پروژې شميره. 351798، د 2013 کال د جنوري په 18 پيل شوی)

DOD ويلي چې له افغانستان څخه د 90000 کانتينر مواد او 50000 نقليه وسيلو ويستلو لپاره لږ تر لږه 5.7$ ميلياره ډالر مصرف کړي. په افغانستان کې د زيات شمير مرکزونو او ستونزمن شرايطو په نظر کې نيولو سره، يو موثر او اقتصادي وتنه دې پورې تړلې ده چې DOD ته معلومه وي څومره تجهيزات په افغانستان کې لري او د ځای په ځای کولو لپاره يې کم لګښته پريکړې ونيسي. مهې پوښتنې: تر کومه حده (1) DOD د تجهيزاتو حساب ورکونې په شمول د مرکز تړلو کړنلارې پلي کړې، تر څو د قوماندې موخې او مهال ويش سره برابر شي؟ (2) آيا له افغانستان څخه د تجهيزاتو د ويستنې موخې او مهال ويش د DOD تسهيلاتو او بهيرونو لخوا ملاتړ شوي؟ (3) آيا DOD د کم لګښته پريکړې نيولو لپاره لګښت او نورو مسايلو معلومات کاروي؟

### افغان داخلي بريدونه

(د پروژې شميره. 320962، د 2013 کال د جنوري په 14 پيل شوی)

د 2007 کال څخه راهيسې د افغان ملي امنيتي ځواکونو پرسونل په وار وار سره د DOD په پرسونل بريدونه کړي. GAO د 2012 کال په اپريل کې، هغه ګامونه تشريح کړ چې د داخلي بريدونو تعقيب، د لاملونو معلومول، او د DOD پرسونل د ژوند خوندي ساتلو لپاره د DOD، ناټو، او ايساف لخوا پورته شوي دي. د داخلي بريدونو تګ ګړندی شوی، داسې چې په 2012 کال کې يې شمير د ټولو تيرو کلونو په پرتله زيات و. مهې پوښتنې: (1) DOD، ناټو، او ايساف تر کومه حده د ANSF لخوا د DOD پر پرسونل باندې د داخلي بريدونو علت معلوم کړی دی؟ (2) د 2012 کال بياکتنې څخه وروسته د داخلي بريدونو په وړاندې کوم ساتونکي ګامونه په پام کې نيول شوي، او څنګه پلي شوي دي؟ (3) DOD تر کومه حده د افغان حکومت څخه د ANSF د پرسونل او نوماندانو د بيومتريک معلومات لاسته راوړلو کې پرمختګ کړی؟

### د متحده ایالاتو د پوځ پلټونکې اداره

پدې ربع کې، USAAA د بیارغونیزو نوښتونو په اړه کومه روانه پلټنه نلري.

### د متحده ایالاتو د عمومي پلټونکي دفتر

### د USAID\افغانستان د تخنیکي اصلاحاتو او د مدني مرستو د پروګرام پلټنه

(د پروژې شمیره. FF100113، د پیل نیټه1 اپریل، 2013)

د پلټنې موخې:

- تر څو معلومه کړي چې آیا د USAID ملاتړ د افغانستان اسلامي جمهوري دولت د تاسیساتو، افغان مدني ټولنې، او نورو ادارو ظرفیت ته دومره وده ورکړې چې په 2014 کال کې د ولسمشرۍ او ولایتي شوراګانو لپاره د اعتبار وړ، جامع، او راتلونکې ټاکنې ترسره کړي.
- همدارنګه معلومه کړي چې آیا د USAID مرستې د افغان دولت هغه اوږدمهاله ستونزو په هواورولو کې برخه اخیستې چې د OIG لخوا د ټاکنیزو مرستو په اړه مخکینی پلټنه کې ورته اشاره شوې وه (د رپوټ شمیره. F-306-11-003-P، 19 جون 2011).

### د USAID\افغانستان د لیږد پلانونو پلټنه

(د پروژې شمیره. FF100712، د پیل نیټه، 28 نومبر 2012)

هدف: آیا USAID\افغانستان په افغانستان کې د متحده ایالاتو د لیږد په بهیر کې د احتمالي پیښو لپاره کوم پلان لري؟

### د USAID\افغانستان لخوا د دریم هیواد د وګړو کارونې بیاکتنه

(د پروژې شمیره. FF101412، د پیل نیټه، 14 اکتوبر 2012)

هدف: معلوموي چې آیا USAID\افغانستان کولی شي په افغانستان کې د متحده ایالاتو د ستراتیژۍ او د عملي کیدو وړ قوانین او مقرراتو سره سم د دریم هیواد وګړي استخدام کړي.

### د اضافي پرداختونو په برخه کې د USAID\افغانستان د اداري کنترول څخه بیاکتنه

(د پروژې شمیره. FF100612، د پیل نیټه، 9 اکتوبر، 2012)

هدف: د دې معلوملو لپاره چې آیا USAID\افغانستان د خپل کارکونکو د اضافي معاشاتو تسلیمول، واک، منل، او تصدیق لپاره د فیدرال وخت او حاضري پالیسیو او کړنلارو په اساس کافي اداره لري.

## د USAID\افغانستان د کندهار بريښنا نوښت پلټنه

(د پروژې شميره. FF101112، د پيل نيټه 1 مې، 2012)

هدف: آيا USAID\افغانستان د کندهار هلمند د بريښنا په پروژه کې د پايښت د فعاليتونو پلان په سمه توګه اداره کوي او په خپل مديريت کې د چاپيريال شرايط په پام کې نيسي که څنګه.

## د USAID\افغانستان لخوا د ټاکلو پروژو لپاره د قوماندان د بيړني غبرګون د پروګرام فنډ د کارولو بياکتنه

(د پروژې شميره. FF101712، د پيل نيټه 25 اکتوبر، 2012)

هدف: تر څو معلوم کړي چې د قوماندان بيړني غبرګون پروګرام بوديجې چې د متحده ايالاتو ځواکونه-افغانستان لخوا د ځانګړو پروژو لپاره USAID ته ورکول کيږي، د خپل ټاکل شوي موخو په اساس او د عملي کيدو وړ قوانين او مقرراتو سره سم کارول کيږي.

# ضمیمې او د پایلیکونو منځپانګې


| | |
|---|---|
| ضمیمه A | 198 |
| ضمیمه B | 202 |
| ضمیمه C | 204 |
| ضمیمه D | 208 |
| ضمیمه E | 212 |
| پایلیکونه | 216 |


**د سیګار رسمي ټاپه**

د سیګار رسمي ټاپه د متحده ایالاتو او افغانستان تر منځ د همغږۍ د هڅو استازیتوب کوي څو د بیا رغونې د فعالیتونو لپاره حساب ورکونه او نظارت برابر کړي. د ټاپې د مرکز په پورتنۍ برخه کې عبارت په دري دی او مانا یې د افغانستان د بیا رغونې لپاره ځانګړی عمومي پلټونکی (سیګار) دی. د ټاپې په منځ کې د کتنۍ غاړې سره عبارت په پښتو کې دی او ورته مانا لري.

# ضميمې
# او پايليکونه

# ضميمه A

## قانوني غوښتنو ته د راپور متقابل مراجعه

دا ضميمه د دې راپور پاڼې د درې مياشتني راپور ورکولو او نورو اړوند شرايطو سره د سيګار د جوړونکي قانون په اساس، د ملي دفاع د اختياراتو قانون د 2008 مالي کال لپاره متقابل مراجعه کوي P.L. 110-181، 1229 § (جدول A.1).

جدول A.1

**د P.L. 110-181، 1229 § په اساس د سيګار درې مياشتنی راپور ورکولو شرايطو ته متقابل مراجعه**

| د عامه قانون برخه | د سيګار توانمنوونکې ژبه | د سيګار عمل | د راپور برخه |
|---|---|---|---|
| مقصد | | | |
| برخه 1229(a)(3) | د دا ډول پروګرامونو او عملياتو د ادارې پورې اړوندو ستونزو او نيمګړتياو په اړه د امريکا د بهرنيو چارو او دفاع وزيرانو ته په خپلواک او هدفمند ډول د پوره معلوماتو ورکول او په بشپړ ډول د هغوی باخبره ساتل او د اصلاحي فعاليتونو د اړتيا او پرمختګ په اړه هغوی ته معلومات ورکول. | روان درې مياشتنی راپورونه | بشپړ راپور |
| نظارت کول | | | |
| برخه 1229(e)(1) | عمومي پلټونکی بايد نيغ په نيغه د بهرنيو چارو وزير او د دفاع وزير ته راپور ورکړي او د هغوی تر عمومي څارنې لاندې وي. | د بهرنيو چارو وزير او د دفاع وزير ته راپور ورکول | بشپړ راپور |
| مسووليتونه | | | |
| برخه 1229(f)(1) | د افغانستان د بيارغونې څارنه —<br>دا به د عمومي پلټونکي وظيفه وي چې د هغو پيسو چې اختصاص شوي او يا په بله مانا په ا فغانستان کې د بيا رغونې لپاره په لاس ورکړل شوي، او د هغو پروګرامونو، عملياتو او قراردادونو هم چې د دې بسپنو په کارولو سره ترسره شوي، د چلند، سمبالولو او لګښتونو څارنه وکړي او د کنترول او تفتيش او تحقيقاتو انسجام يې وکړي، د (A) څخه تر (G) لاندې فرعي برخو په شمول. | د تخصيص شوې/ موجود فنډونو بياکتنه<br><br>د هغو پروګرامونو، عملياتو، قراردادونو بياکتنه چې اختصاص شوې/ موجود فنډونه کاروي | بشپړ راپور |
| برخه 1229(f)(1)(A) | د داسې بوديجو د مسووليت او لګښت د حساب کتاب نظارت | د اختصاص شويو/موجود بوديجو د مسووليتونو او لګښتونو کتنه | د سيګار نظارت بوديجې |
| برخه 1229(f)(1)(B) | د هغو قراردادونو نظارت او کتنه چې د داسې بوديجو لخوا تمويل شوې وي | د بيا رغونې د هغو فعاليتونو کتنه چې د اختصاصونو او خېراتونو لخوا تمويل شوې وي | د سيګار نظارت |
| برخه 1229(f)(1)(C) | د هغو قراردادونو نظارت او کتنه چې د داسې بوديجو لخوا تمويل شوې وي | د هغو قرادادونو کتنه چې اختصاص شوې او موجودې بوديجې کاروي | يادونه 1 |
| برخه 1229(f)(1)(D) | د رياستونو، ادارو، او د متحده ايالاتو د سازمانونو، او شخصي او نادولتي سازمانونو ترمنځ د داسې بوديجو او ورسره تړلي معلوماتو د لېږد نظارت او کتنه | د اختصاص شويو/موجود بوديجو د داخلي او خارجي لېږد کتنه | ضميمه B |
| برخه 1229(f)(1)(E) | د داسې بسپنو د کارولو ثبتونو (ريکارډ) سمبالتيا د دې لپاره چې په راتلونکي کې د داسې بسپنو/ پلټنې او تحقيقات اسان کړي | د پلټنې تاريخچې سمبالول | د سيګار نظارت<br>ضميمه C<br>ضميمه D |
| برخه 1229(f)(1)(F) | د افغانستان تړون او د افغانستان د ملي پرمختيا د ستراتيژۍ په تطبيقولو کې د افغانستان د دولت او نورو مرستندويه هيوادونو سره د متحده ايالاتو د ارتباط د اغېزمنتيا نظارت او کتنه | نظارت او بياکتنه څرنګه چې تشريح شوي | پلټنې |

جدول A.1 (دوام لري)

| د 181-110 P.L. 1229 § په اساس د سيګار درې مياشتنۍ راپور ورکولو شرايطو ته متقابل مراجعه | | | |
|---|---|---|---|
| **د عامه قانون برخه** | **د سيګار توانمنوونکې ژبه** | **د سيګار عمل** | **د راپور برخه** |
| برخه 1229(f)(1)(G) | د اضافي پيسو د ورکړې څيرنه لکه د دوه ځلي پيسو ورکول يا دوه ځله بل او هر ډول احتمالي غيرقانوني يا ناسم عمل چې د فدرال مامورينو، قرارداديانو، يا اړوندو کسانو لخوا شوی وي، او د عدليې ورات ته د دې ډول راپورونو ورکول، کله چې ضرورت وي، داړ ترلاسه شي چې نورې څيرنې، قانوني تعقيب، د اضافي پيسو بيرته ترلاسه کول، او نور جبرانوونکي کارونه ترسره شي. | د تحقيقاتو ترسره کول او راپور کول څرنګه چې تشريح شوي دي | تحقيقات |
| برخه 1229(f)(2) | د نظارت پورې اړوند نورې دندې —<br>عمومي پلټونکی بايد داسې سيستمونه، کړنلارې، او کنټرولونه جوړ، سمبال او تر نظارت لاندې وساتي چې عمومي پلټونکی يې د (1) پاراګراف لاندې د وظيفو د ترسره کولو لپاره مناسب ګڼي | د سيستمونو، پروسيجرونو، او کنټرولونو جوړول، سمبالول او نظارت کول | بشپړ راپور |
| برخه 1229(f)(3) | د عمومي پلټونکي د 1978 کال د لايحې په اساس د عمومي پلټونکې دندې —<br>سربيره پر دې،... عمومي پلټونکی بايد د عمومي پلټونکي د 1978 قانون لاندې د عمومي پلټونکيو وظيفې او مسوولیتونه هم ولري. | هغه وظيفې چې د عمومي پلټونکي په قانون کې مشخص شوې دي | بشپړ راپور |
| برخه 1229(f)(4) | د هڅو همغږی کول —<br>عمومي پلټونکی بايد خپل کارونه د لاندې کسانو سره همغږی او د دوی همکاري ترلاسه کړي: (A) د دفاع وزارت عمومي پلټونکی، (B) د بهرنيو چارو وزارت عمومي پلټونکی، او (C) د نړيوالې پرمختيا لپاره د متحده ايالاتو د اداري عمومي پلټونکی. | د دفاع او بهرنيو چارو وزارتونو او USAID د عمومي پلټونکو سره همغږي | د نورو ادارو نظارت |
| مرکزي ملاتړ او نورې سرچينې | | | |
| برخه 1229(h)(5)(A) | د فدرالي ادارو څخه د مرستې غوښتنه کول —<br>که چيرته عمومي پلټونکی د فيدرالي حکومت د هر وزارت، ادارې، يا موسسې څخه د مرستې او معلوماتو غوښتنه وکړي، نو د اړوندې اداري مشر به هغه صورت کې چې د عمومي پلټونکې غوښتنه د حاکمو قوانينو په خلاف نه وي، مسوليت لري چې ياده مرسته يا معلومات ورته چمتو کړي. | تمه لرو چې د غوښتنې په صورت کې ورسره مرسته وکړي | بشپړ راپور |
| برخه 1229(h)(5)(B) | د مسترد شوو مرستو په اړه راپور ورکول —<br>هر هغه وخت چې د عمومي مفتش لخوا مطالبه شوي معلومات او يا هم مرسته د هغه په باور په غيرضروري ډول مسترد او يا هم منظور شوي نه ده، عمومي مفتش بايد پدې اړه ژر ترژره د قضيې تړاو ته په کتو هغه د بهرنيو چارو وزارت، دفاع وزارت او ياهم د کانګرس اړوندې کميټې ته خبر ورکړي. | راپور نه دی ورکړل شوی | موجود نه دی |
| راپورونه | | | |
| برخه 1229(i)(1) | درې مياشتنې راپورونه—<br>د هر مالي کال د دريو مياشتو د پای ته رسيدو څخه تر 30 ورځو پورې، عمومي پلټونکی بايد د کانګرس اړوندو کميټو ته يو راپور وړاندې کړي چې د دغې دورې، او تر کومه حده چې امکان لري د مخکينی ورته راپور د وخت څخه د دې ريوټ تر موډې پورې په دې مهال کې د عمومي پلټونکي او د هغه د فعاليتونو د هغو پروګرامونو او عملياتو لاندې چې بوديجه او پيسې د افغانستان د بيا رغونې لپاره ورکړل شوې وي يوه خلاصه وړاندې کړي. په افغانستان کې د بيارغونې په اړه د ټولو منل شوو، لګول شوو او عايداتو په ګډون بايد د اړوندې مودې په اړه په هر راپور کې ذکر شوي وي، او بايد د لاندې ټکو درلودنکي وي – | راپور – د هر کال د درې مياشتو د پای ته رسيدو څخه 30 ورځې وروسته<br><br>د عمومي پلټونکي د فعاليتونو خلاصه وړاندې کوي<br><br>او د ژمنه شوي مرستو، لګښتونو او عايداتو په اړه تفصيلي معلومات ورکوي | بشپړ راپور<br>ضميمه B |

جدول A.1 (دوام لري)

| د P.L. 110-181، 1229 § په اساس د سیګار درې میاشتنۍ راپور ورکولو شرایطو ته متقابل مراجعه | | | |
|---|---|---|---|
| **د عامه قانون برخه** | **د سیګار توانمنووونکې ژبه** | **د سیګار عمل** | **د راپور برخه** |
| برخه 1229(i)(1)(A) | د اختصاص شویو/خیرات کې ورکړ شویو بودیجو مسوولیتونه او لګښتونه | د اختصاص شویو/خیرات کې ورکړ شویو بودیجو مسوولیتونه او لګښتونه | ضمیمه B |
| برخه 1229(i)(1)(B) | د هغو لګښتونو یو پروژه په پروژه او پروګرام په پروګرام حساب چې تر دې نېټې د افغانستان په بیا رغونه کې لګول شوي، د دفاع وزارت، د بهرنیو چارو وزارت، او د نړیوالې پرمختیا لپاره د متحده ایالاتو د ادارې، تر کومه چې تطبیقېدونکی وي، د هرې پروژې او پروګرام د بشپړولو لګښتونو د یو اټکل سره ملګرې. | د لګښتونو پروژه په پروژه او پروګرام په پروګرام حساب د هرې پروژې یا پروګرام د نالګول شویو بودیجو لیست جوړول | بودیجې<br>یادونه 1 |
| برخه 1229(i)(1)(C) | هغه عایدات چې د متحده ایالاتو حکومت د کومې ادارې یا وزارت یو پروګرام ته د فنډ برابرولو په موخه د بهرنیو ملتونو یا نړیوالو موسسو لخوا چمتو شوي دي، او د دغو عایداتو ژمنې یا مصارف. | د مرستندویه ادارو د بودیجو عایدات، مسوولیتونه، او لګښتونه | فنډ ورکول |
| برخه 1229(i)(1)(D) | د هغو بودیجو سره تړلې یا شامل عایدات چې هغو پروګرامونو او پروژو ته د بهرنیو نیول شویو یا کنګل شویو شتمنیو څخه ورکړل شوي وي د کومو بودیجې چې د متحده ایالاتو د کوم ریاست یا ادارې لخوا ورکړل شوې وي، او د داسې عایداتو هر ډول مسوولیتونه او یا لګښتونه | د نیول شویو یا کنګل شویو شتمنیو د بودیجو عایدات، مسوولیتونه او لګښتونه | بودیجې |
| برخه 1229(i)(1)(E) | د هغو ادارو یا سازمانونو فعالیتي لګښتونه چې اختصاص شوې پیسې ترلاسه کوي او یا په بله توګه د افغانستان د بیا رغونې لپاره ورکړل شوې وي | د هغو ادارو یا کوم سازمان فعالیتي لګښتونه چې اختصاص شوې بودیجې ترلاسه کوي | بودیجې<br>ضمیمه B |
| برخه 1229(i)(1)(F) | د هر هغه قرارداد، بلاعوضه مرستې، تړون یا د بسپنې د بل کوم میکانیزم په صورت کې چې په (2)* پاراګراف کې یې یادونه شوې —<br>(i) د قرارداد یا د فنډ کوم بل میکانیزم رقم؛<br>(ii) د قرارداد یا د بسپنې د بل کوم میکانزم د طرحې لنډ بحث؛<br>(iii) په دې اړه یو بحث چې څرنګه د متحده ایالاتو د حکومت هغه وزارت یا اداره چې په دې قرارداد، بلاعوضه مرستې، تړون، یا د بسپنې په بل میکانیزم کې کار کوي د مهمو کاندیدانو ورانديزونو پېژندل یا غوښتل چې دغه قرارداد، بلاعوضه مرسته، تړون، یا د بسپنې بل کوم میکانیزم ترسره کړي، د نورو مهمو ادارو یا اشخاصو د یو لیست سره چې د دې وړاندیز ورته شوی یا غوښتل شوی وو؛ او<br>(iv) د توجیه او منظورۍ هغه اسناد په کومو چې د دې پروسو د پرېکړې بنسټ و له هغو پروسو پرته چې بشپړه او پرانستې مقابله وړاندې کوي | د قرارداد جزییات تشریح کړئ | یادونه 1 |
| برخه 1229(i)(3) | د عامه خلکو لاسرسي —<br>عمومي پلټونکی باید په یوه عامه ترلاسه کېدونکې انټرنیټي ویبپاڼه کې د دې ضمني برخې د (1) پاراګراف لاندې هر راپور په انګلیسي او نورو هغو ژبو کې خپور کړي چې عمومي پلټونکی پوهیږي چې په افغانستان کې په پراخه پیمانه ویل کیږي او خلک پرې پوهیږي | لکه څنګه چې په www.sigar.mil کې لارښود شوی، راپور خپور کړل شي.<br>درې او پښتو ژباړې تر کار لاندې دي | بشپړ راپور |
| برخه 1229(i)(4) | بڼه —<br>د دې فرعي برخې لاندې غوښتل شوی هر راپور باید په ښکاره بڼه وړاندې شي، خو کیدای شي محرمې ضمیمې ولري، که چیرې عمومي پلټونکې هغه ضروري وګڼي | د راپور خپرول څرنګه چې یې لارښوونه شوې | بشپړ راپور |

جدول A.1 (دوام لري)

| د P.L. 110-181، 1229 § په اساس د سيګار درې مياشتنی راپور ورکولو شرايطو ته متقابل مراجعه | | | |
|---|---|---|---|
| **د عامه قانون برخه** | **د سيګار توانمنوونکې ژبه** | **د سيګار عمل** | **د راپور برخه** |
| برخه 1229(j)(1) | عمومي مفتش بايد د (i) بند په اساس د امريکا بهرنيو چارو وزارت او دفاع وزارت ته هم راپور وسپاري. | د درې مياشتني راپور تسليمي | بشپړ راپور |

يادونه 1: که څه هم په عادي ډول معلومات د سيګار په ويب سايټ کې موجود وي (www.sigar.mil)، خو هغه معلومات چې سيګار ترلاسه کړي دي په نسبتاً خام شکل کې وي او اوسمهال د سيګار د راټلونکو ټولو موخو لپاره کنټرل کيږي، تحليل کيږي، او تنظيم کيږي.

*پوښښ شوي قراردادونه، بلاعوضه مرستی، موافقتنامې، او د تمويل ميکانيزمونه د P.L. د 1229(i) برخې په (2) پاراګراف کې تعريف شوي. شميره. 110-181 داسې چې —

”هر لوی قرارداد، مالي مرسته، تړون، يا د بوديجې مکانيزم چې د متحده ايالاتو د دولت د هر رياست يا ادارې لخوا پکې برخه اخيستل کيږي، او په هغوی د افغانستان د بيا رغوني لپاره اختصاص شوي او يا بل ډول ورکړ شوي پيسې شاملې وي، که له هر ډول دولتي يا شخصي سازمان سره د لاندې هر مقصد لپاره وي: په افغانستان کې د فزيکي زيربنا جوړول يا بيا جوړول.

د افغانستان د سياسي يا ټولنيزې اداري تاسيس يا بيا تاسيس.

د افغاستان د خلکو لپاره د خدمتونو او توليداتو وراندې کول.“

# ضميمه B

## د متحده ایالاتو فنډونه د افغانستان د بیا رغونې لپاره ($ په میلیون)

B.1 جدول د هغو بودیجو لست دی چې د پرګرام لخوا په هر کال کې د افغانستان بیا رغونې لپاره تخصیص ورکول شوي، د 2013 کال د جون تر 30 پورې.

B.1 جدول

| د متحده ایالاتو د بسپنو سرچینې | اداره | ټولټال | مالي کال 2002 |
|---|---|---|---|
| **امنيت** | | | |
| د افغانستان د امنيتي ځواکونو بوديجه (ASFF) | DOD | 52,776.72 | 0.00 |
| روزنه او تجهيزات (د دفاع وزارت) | DOD | 440.00 | 0.00 |
| بهرني پوځي مالي مرستي (FMF) | State | 1,059.14 | 57.26 |
| نړيواله نظامي ښوونه او روزنه (IMET) | State | 13.32 | 0.18 |
| NDAA برخه 1207 انتقال | نورې | 9.90 | 0.00 |
| **بشپړ امنيت** | | **54,299.08** | **57.44** |
| **حکومتداري او پرمختيا** | | | |
| د قوماندان د بيړني ځواب پروګرام (CERP) | DOD | 3,639.00 | 0.00 |
| د افغانستان د زيربنا فنډ (AIF) | DOD | 1,024.00 | 0.00 |
| د ثبات او سوداګرۍ د کړنو لپاره کاري ځواک (TFBSO) | DOD | 684.59 | 0.00 |
| د اقتصادي ملاتړ فنډ (ESF) | USAID | 16,653.68 | 117.51 |
| پرمختيايي ملاتړ (DA) | USAID | 885.24 | 18.30 |
| د افغانستان د ازادۍ د ملاتړ قانون (AFSA) | DOD | 550.00 | 0.00 |
| د ماشوم بقا او روغتيا (CSH + GHAI) | USAID | 563.00 | 7.52 |
| د توليداتو د اعتبار اردو (CCC) | USAID | 31.65 | 7.48 |
| د متحده ايالاتو د نړيوالې پراختيا اداره (نورې) | USAID | 48.48 | 0.00 |
| د هيڅ ډول ګټې اخيستلو پرته، تروريزم ضد، ماينونه ليرې کول، او اړوند (NADR) | State | 606.29 | 44.00 |
| د ولايتي بيا رغونې ټيم مشاوران | USDA | 5.70 | 0.00 |
| د خزانې تخنيکي مرسته | خزانه | 4.45 | 0.90 |
| **ټولټال - حکومتداري او پرمختيا** | | **24,696.09** | **195.71** |
| **د مخدره توکو پرضد مبارزه** | | | |
| د مخدره توکو نړيوال کنټرول او د قانون تنفيذ (INCLE) | State | 4,147.05 | 60.00 |
| د نشه يي توکو بنديز او د نشه يي توکو پر ضد فعاليتونه (DOD CN) | DOD | 2,640.62 | 0.00 |
| د نشه يي توکيو په اړه د تنفيذ اداره (DEA) | DOJ | 127.37 | 0.58 |
| **ټولټال - د مخدره توکو پر وړاندې مبارزه** | | **6,915.04** | **60.58** |
| **بشري** | | | |
| پي. ايل 480 عنوان I | USDA | 5.00 | 0.00 |
| پي. ايل 480 عنوان II | USAID | 903.69 | 159.50 |
| په مصيبت کې مرسته (IDA) | USAID | 515.67 | 197.09 |
| د انتقال نوښتونه (TI) | USAID | 36.26 | 8.07 |
| د کډوالی او مهاجرينو مرسته (MRA) | State | 834.84 | 135.47 |
| داوطلب سوله ساتنه (PKO) | State | 69.33 | 23.93 |
| د مهاجر او مهاجرت بيړنۍ مرسته (ERMA) | State | 25.20 | 25.00 |
| خواړه د پرمختګ لپاره | USDA | 109.49 | 0.00 |
| 416(b) د خورو کومک | USDA | 95.18 | 46.46 |
| خواړه د تعليم لپاره | USDA | 50.49 | 0.00 |
| ايمرسن بوديجه | USDA | 22.40 | 0.00 |
| **ټولټال - بشردوستی** | | **2,667.54** | **595.52** |
| **د نړيوالو چارو عمليات** | | | |
| نظارت | | 231.30 | 0.00 |
| نورې | | 7,757.00 | 155.60 |
| **ټولټال - د نړيوالو چارو عمليات** | | **7,988.30** | **155.60** |
| **ټولې بوديجې** | | **96,566.04** | **1,064.85** |

يادونې: شميرې په تقريبي ډول ليکل شوي دي. د بهرنيو چارو او دفاع وزارت د 2013 مالي کال د بوديجې شميرې د وړانديز شوې بوديجې د مسودې په اساس ليکل شوي او د کانګرس نهايي تصويب لا پاتې دی. DOD د 2011 مالي کال ASFF څخه 1 ميليارد ډالر بيا پروګرام کړي دي. DOD د 2012 مالي کال ASFF څخه 1 ميليارد ډالر بيا پروګرام کړي دي. پي. ايل 6-113، 1 ميليارد امريکايي ډالر د افغانستان د امنيتي ځواکونو د 2012 مالي کال څخه فسخ کړل. DOD د 2011 مالي کال AIF څخه 101$ ميليونه ډالر د 2011 مالي کال ESF ته انتقال کړه تر څو داسې يو زيربنايي پروژې ته بوديجه ورکړي چې د USAID لخوا پلي کيږي.

[a] د بهرنيو چارو او دفاع وزارتونو په شمول د ډيرو ادارو د 2013 مالي کال د بوديجې نهايي تخصيصات ندي معلوم.

سرچينې: د سيګار 7/22/2013، 7/3/2013، 7/1/2013، 10/22/2012، 10/14/2009، او 10/1/2009؛ معلوماتي غوښتنو ته د DOD ځوابونه؛ د سيګار 7/16/2013، 7/2/2013، 6/27/2013، 10/5/2012 او 6/27/2012 معلوماتي غوښتنو ته د State ځوابونه؛ د سيګار 7/1/2013؛ معلوماتي غوښتنې ته د خزانې ځواب؛ د سيګار 7/19/2013 او 1/4/2013 معلوماتي غوښتنې ته د OMB ځواب؛ د سيګار 7/17/2013، 10/15/2010، 1/15/2010، او 10/9/2009؛ معلوماتي غوښتنو ته د USAID ځوابونه؛ د سيګار 7/7/2009 معلوماتي غوښتنې ته د DoJ ځواب؛ د سيګار 4/2009 معلوماتي غوښتنې ته د USDA ځواب؛ P.L. 113-6، 3/26/2013؛ P.L.112-74، 12/23/2011؛ P.L.112-10، 4/15/2011؛ P.L.111-212، 10/29/2010؛ P.L.111-118، 12/19/2009؛ د 2010 مالي کال د دفاع تشريحي وينا.

| مالي کال 2013[a] | مالي کال 2012 | مالي کال 2011 | مالي کال 2010 | مالي کال 2009 | مالي کال 2008 | مالي کال 2007 | مالي کال 2006 | مالي کال 2005 | مالي کال 2004 | مالي کال 2003 |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 5,124.20 | 9,200.00 | 10,619.28 | 9,166.77 | 5,606.94 | 2,750.00 | 7,406.40 | 1,908.13 | 995.00 | 0.00 | 0.00 |
| 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 290.00 | 150.00 | 0.00 |
| 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 396.80 | 414.08 | 191.00 |
| 1.42 | 1.18 | 1.56 | 1.76 | 1.40 | 1.66 | 1.19 | 0.98 | 0.95 | 0.67 | 0.39 |
| 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 9.90 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 |
| **5,125.62** | **9,201.18** | **10,620.84** | **9,168.53** | **5,608.34** | **2,761.56** | **7,407.59** | **1,909.11** | **1,682.75** | **564.75** | **191.39** |
| 200.00 | 400.00 | 400.00 | 1,000.00 | 550.67 | 488.33 | 209.00 | 215.00 | 136.00 | 40.00 | 0.00 |
| 325.00 | 400.00 | 299.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 |
| 129.84 | 241.82 | 239.24 | 59.26 | 14.44 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 |
| 1,623.15 | 1,836.76 | 2,168.51 | 3,346.00 | 2,073.46 | 1,399.51 | 1,210.71 | 473.39 | 1,287.06 | 893.83 | 223.79 |
| 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.30 | 0.40 | 149.43 | 166.81 | 184.99 | 169.34 | 153.14 | 42.54 |
| 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 100.00 | 150.00 | 300.00 |
| 0.25 | 0.00 | 69.91 | 92.30 | 58.23 | 63.07 | 100.77 | 41.45 | 46.43 | 33.40 | 49.68 |
